# ښځه
# کورنۍ
# او ټولنه

پوهاند رازقي نړیوال

۱۳۹۴ لمریز کال

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه، کورنۍ او ټولنه

پوهاند رازقي نړیوال

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: ښځه، کورنۍ او ټولنه

لیکوال: پوهاند رازقي نړیوال

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوزګر: عبدالواسع تره خېل

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۳۵)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک



| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | تقریظ | |
| ۲ | سریزه | ۱ |
| ۳ | د مور د ګرانښت په وړاندې دهغې درنښت | ۵ |
| ۴ | دمور د حقوقو درناوی اسلامي فریضه ده | ۷ |
| ۵ | د کورني تاوتریخوالي یو لامل د نه رضایت ودونه دی | ۹ |
| ۶ | د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی او سنی نه، بلکې پخوانۍ پدیده ده | ۱۱ |
| ۷ | د مېړه او ښځې متقابله ژوره پېژندنه | ۱۴ |
| ۸ | د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالی د څرنګوالی بررسي | ۱۹ |
| ۹ | د سواد له نعمت څخه زموږ د ټولنې د ښځینه قشر بې برخې توب | ۲۵ |
| ۱۰ | د ښځې په ژوند کې د سولې اغیزمنتوب | ۲۷ |
| ۱۱ | په هرات کې په نشه ایزو توکو د ښځو روږدیتوب | ۳۰ |
| ۱۲ | په افغانستان کې پر ښځو د تاوتریخوالي بعدونه او رقمونه | ۳۳ |
| ۱۳ | د هېواد په یو لړ سیمو کې په ښځو د ډول ډول تاوتریخوالي څو بېلګې | ۳۸ |
| ۱۴ | په غرنیو کلیو ( بانډو ) کې د ښځو د ژوندانه د ښه والی چارې | ۴۱ |
| ۱۵ | د خپلواکۍ د بېرته اخېستلو په جګړو کې د افغاني میرمنو ویاړلې ونډه | ۴۵ |
| ۱۶ | د امیدوارۍ په وخت کې د ښځو خواړه | ۴۸ |
| ۱۷ | د مارچ اتمه د ښځو د نړیوال پیوستون ورځ | ۵۱ |
| ۱۸ | د کورنۍ په اقتصاد کې د ښځو ونډه | ۵۲ |
| ۱۹ | د واده یو شمېر ناوړه دودونه | ۵۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | مور د پوهانو له نظره | ۵۷ |
| ۲۱ | په لویه جرګه کې د ښځو ونډه | ۵۹ |
| ۲۲ | د انتخاباتو په پروسه کې د ښځو ونډه | ۶۲ |
| ۲۳ | په لویه جرګه کې د ښځینه استازو ویاړلی ګډون | ۶۴ |
| ۲۴ | ښځه او ټولنه | ۶۶ |
| ۲۵ | په کورني ژوند کې په سهوی قانع کېدل | ۶۹ |
| ۲۶ | د امیدوارو میرمنو په عضویت کې د © ویټامین کمښت | ۷۰ |
| ۲۷ | ښځه او عصبانیت | ۷۲ |
| ۲۸ | ښځه د عالمانو له نظره | ۷۴ |
| ۲۹ | د نړۍ دود پر دربمه برخه ړندې ښځې دی | ۷۵ |
| ۳۰ | په تخار کې ښځې د زور زیاتې په لمبو کې | ۷۶ |
| ۳۱ | د مور عاطفي مقام | ۷۹ |
| ۳۲ | په هرات کې د یوې نجلۍ وژنه | ۸۲ |
| ۳۳ | په هبواد کې د ښځې د لوړ مقام نمانځنه | ۸۳ |
| ۳۴ | په بشري ټولنو کې د ښځو ځلانده ونډه | ۸۶ |
| ۳۵ | په بشري تاریخ کې د ښځو د قهرمانانه مبارزو ځلانده بېلګه | ۸۹ |
| ۳۶ | د ښځې اجتماعي مقام | ۹۰ |
| ۳۷ | په راتلونکو انتخاباتو کې د زمونږ د ټولنې د ښځو ونډه | ۹۲ |
| ۳۸ | د تاریخ د پاڼو په هیندارو کې د ښځو ټولنیزو ونډه | ۹۴ |
| ۳۹ | د ځان وژنې لاملونه او ډولونه | ۹۷ |
| ۴۰ | د ښځو او نارینه عاطفي مسایل | ۹۹ |
| ۴۱ | مور د ټولنې او حماسو جوړونکې | ۱۰۰ |
| ۴۲ | ښځه او دسترخوان | ۱۰۳ |
| ۴۳ | هوښیاره ښځه | ۱۰۵ |
| ۴۴ | ښځه د مېړه د شخصیت بشپړونکی | ۱۰۸ |
| ۴۵ | مقام مادر از نگاه دین مقدس اسلام | ۱۱۱ |
| ۴۶ | د ښځو اقتصادي خپلواکی | ۱۱۲ |
| ۴۷ | د مېړه او ښځې د ګډ ژوند د بري راز | ۱۱۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۴۸ | د نارینه له خوا پر ښځو، او د ښځو له خوا پر ښځو تاوتریخوالی | ۱۱۷ |
| ۴۹ | په افغانستان کې پر ښځو تاوتریخوالی، د یوې لویې زیان رسوونکی پدیدې په توګه | ۱۲۱ |
| ۵۰ | پر ښځو تاوتریخوالی یوه ناولې عمومي پدیده | ۱۲۳ |
| ۵۱ | د مور ملکوتي مقام | ۱۲۶ |
| ۵۲ | دناموسي وژنو او جنسي تېریو د لاملونو بررسي | ۱۲۸ |
| ۵۳ | پر ښځو د جنسي تیری یو ډېر زړه بوږوونکی شکل | ۱۳۴ |
| ۵۴ | د کورنۍ د سالمې فضا په تامین کې د ښځې ونډه | ۱۳۷ |
| ۵۵ | ښځې او سوالګري | ۱۳۹ |
| ۵۶ | د افغانستان په اساسي قانون کې د ښځو حقونه | ۱۴۱ |
| ۵۷ | په ښځینه پښتو لنډیو کې دهغوئ ځینې حماسې او رزمي بېلګې | ۱۴۵ |
| ۵۸ | زموږ د ټولنې د ښځو د حقونو د نقضولو په اړه د بېلګې په توګه څو پېښې | ۱۵۰ |
| ۵۹ | ښځې او رواني ناروغۍ | ۱۵۸ |
| ۶۰ | د نورستان د ښځو د ژوند ځورونکی حالت د یو رپوټ په حاشیه کې | ۱۶۴ |
| ۶۱ | په ټولنیز ژوند کې د ښځینه قشر فعاله ونډه | ۱۶۶ |
| ۶۲ | په کورنۍ کې د تند خویي د شتون علتونه | ۱۶۷ |
| ۶۳ | د هلکانو زیږونه سخته ده | ۱۶۸ |
| ۶۴ | دوه احساسه | ۱۶۹ |
| ۶۵ | کورني اقتصاد د کور د ښځې د چلند پورې اړه لري | ۱۷۱ |
| ۶۶ | میرمنو ته نه ښایي چې په بې فرصته توګه | ۱۷۳ |
| ۶۷ | د ښځو پر خلاف غوسه او تند خویي | ۱۷۸ |
| ۶۸ | دمور او پلار ترمنځه غیر منطقي دخالت | ۱۷۹ |
| ۶۹ | له کورنۍ سره په ګډه خواړه خوړل | ۱۸۰ |
| ۷۰ | ښځه په پښتو لنډیو کې | ۱۸۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۷۱ | پر ښځو باندې تاوتریخوالي | ۱۸۴ |
| ۷۲ | د کورني ژوند رمزونه | ۱۸۹ |
| ۷۳ | د کونړ په ولایت کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی | ۱۹۴ |
| ۷۴ | تپل شو میني | ۱۹۷ |
| ۷۵ | سلیقه | ۱۹۸ |
| ۷۶ | ښځه یا د طبعیت یو نازولی او غښتلی مخلوق | ۲۰۰ |
| ۷۷ | په افغانستان کې د ښځو رواني ستونزې | ۲۰۴ |
| ۷۸ | مور په کلیو کې | ۲۰۸ |
| ۷۹ | د ماندینې نقش د میړه د شخصیت په تکوین کې | ۲۱۱ |
| ۸۰ | د ښځو د نړیوالې ورځې د را رسېدلو په ویاړ | ۲۱۴ |
| ۸۱ | خشونت که وحشت | ۲۱۵ |
| ۸۲ | د بنولۍ حساسیت | ۲۱۸ |
| ۸۳ | د کوچیانو د ژوند یو کوچنی انځور | ۲۲۲ |
| ۸۴ | پر ښځو د تاوتریخوالی د کرکجنې پدېدې له منځه وړل مهم ضرورت دی | ۲۲۴ |
| ۸۵ | مور د ستایل کېدو او نمانځل کېدو وړ انسان | ۲۲۸ |
| ۸۶ | زموږ ټولنه او بشري حقوق | ۲۳۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) كال په پيل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهير كې به (شل عنوانونه) بېلابېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد كال د كب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ كې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې كړل. ملي تحريك په ياده غونډه كې ژمنه وكړه چې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهير كې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه كار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ كړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي كوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه كړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته كړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليكوالو، ژباړونكو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير كې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا كړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى كړى، د زړه له كومې مننه كوي او كور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

ددې اثر د کمپیوټر شوو مطالبو تر اصلاح کولو د مخه ما فکر نه کاوه چې به مې د «ښځه، کورنۍ او ټولنه» د اثر په اړه دومره علمي – څېړنیز او معلوماتي معلومات لیکلي وي، مګر کله چې مې دا اثر تصحیح کړ نو وپوهېدلم چې په واقعي توګه مې په خپلو بېلا بېلو مقالو کې په هر اړخیز ډول د افغانستان د محکوم، مظلوم او محروم ښځینه قشر روڼ انځور ایستلی دی. او د هغوئ د ژوندانه، څه د کورني او څه د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې پراخه رڼا اچولې او لیکنې پرې شوي دي.

په عمومي توګه د «ښځه، کورنۍ او ټولنه» په دې اثر کې ټول محتویات په متفرقو مقالو کې تر بحث نیولي شوي دي.

په لومړی سر کې د ښځې مقام څه د مور او څه د یوې میرمنې په صفت، څه د لوی خدای د لارښودنو او څه د پوهانو او څه د تاریخ په پاڼو کې جوت او د پوره درناوی او ستاینې وړ بلل شوی دی.

په افغانستان کې په بشري، اسلامي او په مدني قوانینو او میثاقونو په تېره بیا د افغانستان د اساسي قانون په مندرجاتو کې د ښځو هر اړخیز حقونه په ګوته شوي او د عملي کېدو په برخه کې پرې تاکید شوی په دې اثر کې په دې موضوع سربېره دا خبره هم څرګنده شوی چې تر کومه حده، افغان ښځو په دغو حقونو لاسرسي پیدا کړی او برخمنې شوې او برعکس له دغو اړوندو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښتونو څخه د ښځو د بې خبرۍ او بې برخې توب او له دې کبله د ور څېرمه ستونزو په باب بحث شوی دی.

کومه موضوع چې افغان ښځې د تل لپاره د هېواد په هره ليريو او نژدې سيمو کې د تاوتريخوالي د کرکجنې او تباه کوونکي پدېدې له ناوړو لاملونو ، اغېزمينو او پايلو څخه قرباني کېږي په دې حتی په مکرر ډول په څو مقالو کې مستند معلومات وړاندې شوي دی.

د زرو زياتي پراخ او بېلا بېل شکلونه او لاملونه په پوره وضاحت ښودل شوي دي.

کورنی ژوند چې د انسانانو د ژوندانه لومړنې هوسا او له نيکمرغۍ ډک کانون دی، د اولادونو د ښوونې او روزنې، او پالنې خورا په زړه پورې عافطي مدرسه ده. په دې کانون کې ښځه د يوې غورې سرپرستې، او د يو څراغ غوندې سوزي او خپل چاپېريال ته رڼا ورکوي غړيو ته هر اړخيز هوسايي او نيکمرغي ور په برخه کوي او ښځه د مور په دريز کې د هغې له غيږې او له دې لومړنۍ روزنيزې مدرسې څخه بيخې زيات وتلي او نوميالي تاريخي شخصيتونه ټولنې ته وړاندې شوي دي، ددې اثر د محتوياتو غوره برخه هم په دغه تړاو ليکنې تشکيلوي.

ښځه د وطن د مور، د يو ربښتياني اولاد ، د ټولنې د يو اصيل غړي په توګه د تاريخ په اوږدو کې په څومره وتلۍ فداکارۍ او اتلولۍ، دخپلې خاورې، ازادۍ، ملي نواميسو او پتمنۍ څخه د دفاع او ساتلو په لار کې تاريخي ونډه اخيستلې او حتی د هېواد د ازادۍ او دفاع په جګړو کې يې خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

قهرماني ښودلې ده، په دې اثر کې د افغان ښځو د دا ډول ملي رسالتونو په سرته رسولو کې د هغوئ شجاعانه ونډه په ګوته شوې ده.

ښځه نه یوازې د کورنۍ په ټولو اړوند چارو کې فعالانه او مسؤولانه برخه اخلي بلکې د کورنۍ په اقتصادي چارو کې د دې برخه اخستنه هم د پوره اهمیت وړ ده او دغه اهمیت هم په دې اثر کې په ډاګه شوی دی.

د افغان ښځې د خپلې ټولنې او هېواد د برخه لیک د ټاکلو په برخه کې د دموکراسۍ د ارزښتونو په رڼا کې هغوئ د خپلو ورکړ شوو حقونو څخه باید ګټه واخلي خپل دغه ونډې اخېستنې ته یې د هېواد د لویو جرګو او د ټول ټاکنو په بېلا بېلو پروسو کې په دې اثر کې مستندې لیکنې شوې دي.

د مور او بیا ښځې عاطفي مشخصات څه د اولادونو په اړه او څه د کورنۍ او ټولنې د غړو په تړاو په دې اثر کې په ګوته شوی دي.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د انسان د شخصیت جوړېدنې لومړنی کانون، دمور غېږه کورنۍ او ټولنه ده خو په ځانګړي توګه د یو انسان د شخصیت په تکوین کې، دهغه د هوښیارې او مدبرې ښځې نقش پوره څرګند دی، ددې اثر په محتویاتو کې دې موضوع ته هم ځانګړې ځای ورکړ شوی دی.

ښځه چې د بشري ټولنې د جوړښت مهم جوړنیز غړی دی، طبیعي ده چې د تاریخ په جوړولو کې د هغې نقش هم پوره څرګند دی او له دې ځایه په تاریخ ددې د مقام په اړه معلومات په دې اثر کې یادونې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اثر کې زموږ په ملي فرهنګ کې په ځانګړې ډول په پښتو لنډيو او متلونو کې د ښځې يادونې ته ځای ورکړ شوی دی په دې مفهوم چې يوه ښه ښځه او بده ښځه د هغو د اخلاقو په اعتبار زموږ په ټولنه څه درېز لری هم ليکنه شوې ده.

د معمول له مخې د ښځې د صفتونو جالبه اړخ د هغې د صورت ښکلی توب ګڼل کېږي، مګر دا ښکلا هغه مهال ارزښمنه وي چې د سيرت ښکلا ورسره يو ځای وي په دې باب په دې کتاب هم يادونې شته دی د دې اثر په محتويا تو کې د کورني ګډ ژوند رمزونه، نزاکتونه او حساسيتونه، په کورني ژوند کې په زړه پورې او صميمانه فضا د تاملينولو په لارو چارو کې د يوې ميرمنې په اغېزمنې برخې اخېستنې هم بحث شوی دی.

لنډه دا چې په دې اثر کې د ښځو او څه د نارينه لپاره خورا ګټورې لارښوونې او سپارښتنی وړاندې شوی دی. هيله من يم چې لوستونکي به ترې لازمه ګټه واخېستلای شي.

ومن الله التوفيق

خېړنپوه رازقي نړيوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مور د ګرانښت په وړاندې د هغې درنښت

د قرآن مجید په څو مبارکو آیتونو کې اولاد دښمن بلل شوی او د فتنې نسبت ورته شوی دی، بې له شکه په دې موضوع بحث، شانزول او یزداني فلسفې ته مراجعه غواړي، خو دومره ویل په کار دي چې د دې مبارکو ایتونو په ارشاداتو کې بیخې او انکار نه منونکي واقعیت دا دی چې د اولاد په نسبت د مور و پلار په تېره بیا د مور مینه، ګرانښت او عاطفي احساسات هېڅ پوله او سرحد نه لري، دا ځکه کله چې یې اولاد ته څه درد رسېږي او یا د ناخوالیو سره مخامخ کېږي د دې پېښو د اغېزمنتوب په وجه تر حده زیاته د دغې اغېزمنې لاندې راځي.

خوښي او ارام یې له منځه ځي او د ډول ډول اند ېښنو سره لاس او ګریوان کېږي. څومره به ښه وي چې د اولاد سره د مور د دې عاطفانه تړاو جاج له هغه مهال و اخېستل شي چې یې ماشوم لا نړۍ ته سترګې غړولې نه وي او په نس کې یې د فزیکي تشکل مرحلې تیروي. مور د امیدوارۍ په دې حساسو او حسابي مرحلو کې په ناخوداګاه توګه د خپل نازېږېدلي ماشوم په نسبت د څومره ژور او دلسوزانه مسوولیت احساس کوي، په خپلو حرکاتو سکناتو کې له پوره احتیاط څخه کار اخلي چې ګوندې ماشوم ته یې کوم زیان ور څېرمه نه شي.

هیڅوک په دې کې شک کولای نه شي چې مور یو ماشوم د نهو او یا کمو زیاتو میاشتو په اوږدو کې په خپل نس کې لکه خوږ لاس ګرزوي او سالمتوب ته یې پوره پاملرنه کوي تر هغې چې یې د زېږېدلو شېبې را رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشوم د زېږېدلو يانې د دوارو د ژوند د سرنوشت تاکونکې شېبې د دردونو تېرولو د ماشوم په نسبت د هغې د زښته زيات ګرانښت باوري ثبوت دي. چې يې د ژوند په اوږدو کې يوه سخته تکرارېدونکې پېښه بلل کېږي.

د ماشوم تر زېږېدلو وروسته د ماشوم د سلامتيا او له زيانونو څخه د خوندي ساتلو په خاطر د مور کلکه څارنه او پاملرنه د هغې د ناپايه مينې او ګرانښت بل څرګند مثال دی. تر هغې چې ماشوم د خپلې ودې پرله پسې ارګانيکي پړاوونه وهي او په هر پړاو کې دده په نسبت د مور د مينې په کچه کې هېڅ ډول کمي بدلون نه راځي. تر څو چې ماشوم د خبرو کولو، خاپوړو، د شعوري ودې د پړاوونو پېښې تجربه کوي او د تکامل لوړو مدارجو ته رسېږي، د ځوانۍ او پېغلتوب مرحلې ته ور پورته کېږي او د عمر راتلونکې مرحلې تيروي.

په دې تولو تدريجي پړاوونو کې د اولاد په نسبت د مور مينه او ګرانښت په هماغسې حالت کې پاتې کيږي.

لنډه دا چې همدغه ماشوم د مور په مخکې په خپله، مور او پلار ګرځي.

البته د اولاد په نسبت د مور دغسې بيخې ګرانښت او مينې په شتون کې د لوی خدای حکمت او طبيعي رمزونه پټ دي.

په قرآني ارشاداتو کې لوی خدای د يوې مور د اولاد په نسبت دغه مينه او ګرانښت او پرله پسې اوږدې زيار ايستنې، کړاوونه او دردونه يې ارزښته او بې اجراه نه پرېږدي او پر اولاد يې هغومره حقداره ګرځوي چې دا هم هېڅ حد او پوله نه لري او کچه يې تاکل کېدای نه شي. لکه چې په دې اړه په قران مجيد کې د مور دغه حق او ددې په وړاندې د اولاد د مکلفيت سپارښتنه په څومره زيات تاکيد سره شوې ده، چې فرمايي، ژباړه: د مور په مقابل اوف

(c) ketabton.com: The Digital Library

قدرې هم مه کوئ، په غوسه کېږئ ورته مه او په رحيمانه ډول ورسره خبرې کوئ. لکه چې د «سلام» کلمه د لوی خدای رحيمانه قول دی.

نبوي لارښوونه ده چې د مور ملکوتي لوړ مقام پکې په څومره څرګند او عيني توګه ښودل شوی دی او هغه دا چې که څوک جنت غواړي، نو جنت د مور تر پښو لاندې دی او دا ددې مانا لري چې د لوی خدای د رضا او رضامندۍ د حاصلولو لپاره لاره ده چې د ژوند په ټولو چارو او حالاتونو کې د مور رضا ترلاسه شي.

دلته نو هېڅ ډول پوښتنې مطرح کولو ته اړتيا نه پيدا کېږي چې د اولاد په نسبت د مور د مينې او عاطفانه احساساتو په اړه شک وشي او د هغې کوم حقونه چې لوی خدای په قرآن مجيد کې ښودلي دي نا پېژندلي پاتې شي، او د مور په مقابل کې د اولاد د مکلفيت او حتی د زړه د ښو ساتلو په مورد کې تردې يعنې د هغې په مقابل کې «اوف قدرې کول» لا ښه مفهوم وښودل شي.

بختور، نېکبخت او صالح به هغه اولاد وي چې د مور زحمتونه او فداکارۍ هېرې نه کړي، حقونو ته يې د يزداني حکمونو سره سم درناوی او اطاعت وکړي زړه يې لکه د ګل غوندې تازه وساتي، او د هغې د زړه له ناآګاهانه دعا څخه برخمن شي.(۱)

(۱) ميرمن مجله، ۷۲ ګڼه، ۱۳۹۰ کال جوزا

## د مور د حقونو درناوی، اسلامي فريضه ده :

په اسلامي، مذهبي او مدني ټولو قوانيو کې چې د کوم بشري حقونو په لړ کې ورته خورا زيات ارزښت ورکړ شوی دی، هغه د مور ستر مقام ته د درناوي په خاطر حقونه دي، او دا ځکه چې په نړۍ کې هېڅ يو بشري مخلوق ليدل کېدای نه شي چې مور دې ونه لري لکه چې له يو عادي انسان څخه تر پيغمبرانو پورې، له يو فقير څخه تر ستر واکانو، له ناپوهه شخص څخه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوابغو، فیلسوفانو مخترعینو او متبحرینو پورې، له بې زړه او بې شهامته ځخه تر اتلانو او دا ټول د یوې مور درلودونکي دي.

په همدې ترتیب د یو ماشوم د لومړني روزنې، پالنې او شخصیت موندنې پړاو دده تر زېږېدنې دمخه پرته له موره یوه ناشونې موضوع او تر زېږېدنې وروسته هم د هغه د روزنې او پالنې د ودې د پړاوونو تېرولو اغېزمنه مرجع د مور غېږ ده، په پورتنیو دواړه (تر زېږېدنې دمخه او وروسته) حیاتي مرحلو کې تر هغې چې یو ماشوم، د خپل ماشومتوب مرحله تېروي او په خپلو پښو ودرېږي، په دغه موده کې مور د بېخې زیاتو او تر وسې پورته ځورېدنې او رنځونه ګالي او په دې برخه کې بې ساري فداکارۍ له ځانه ښیي او ددې دغه بې سارې او سترې فداکارۍ دي چې یې پر اولاد حقونه په فردي او ټولنیزه کچه بېخې زیات دي.

اولادونه پردې مکلف ګڼل شوي دي چې د یوې اسلامي فریضې او انساني وجیبې په عنوان د مور ټول متل شوي حقونه په کلکه توګه رعایت کړي.

همدا به کافي وي چې په اسلامي ارشاداتو کې اولاد ته ددې مجال نه دی ورکړ شوي چې د مور په مقابل کې حتی اوف قدري ډېر کوچنی عکس العمل له ځانه ونښايي. او یا د حضرت محمد (ص) د لارښوونې په بنا که کوم مسلمان وغواړي چې یې چنت په برخه شي نو هغه دې د خپلې مور په رضایت کې ولټوي.

ښايي یو څوک له ځانه پوښتنه وکړي، کومه زیاتر اېستنه او سرښندنه چې یې مور دده د ژوندانه په پړاوونو کې په پوره صبر او حوصله له ځانه ښیي.

آیا یو اولاد یې بالمقابل د مور په مقابل کې د هغو حق ادا کولای شي؟

زما په عقیده به یې ځواب دا وی: چې نه، هېڅکله نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو چې داسې ده، طبعاً پر اولاد باندې دا بیخې زیاته حقداره ګڼل شوې ده.

بله موضوع چې د یادونې وړ ده هغه دا ، کوم مکلفیت چې یې یوه مور د خپل اولاد په وړاندې لري، هغه پرته د کومې تطبیقونکې قوې په لاره عاطفانه او مشتاقانه ډول سرته رسوي.

له دې ځایه پر اولاد او له هغو نه په جوړه شوې ټولنه لازم دی چې د مور د مقام درناوی وکړي، حتی په ګل یې ونه ولي او د پوره رضایت په خاطر یې ځان د هغې د پښو خاورې کړي.(۱)

(۱) میرمن مجله، ۷۲ ګڼه، جوزا ، ۱۳۹۱ کال.

## د کورنۍ تاوتریخوالي یو لامل د نه رضایت ودونه دي:

په زور او د هلک او نجلۍ له رضایته پرته ودونه هغه ناوړه پدېده ده چې په ټولنه کې د ناوړو ودونو او رواجونو څخه سرچینه اخلي او بیا د دا ډول ودونو یو شمېره د کورنیو جنجالونو او ناخوالیو په رامنځته کېدلو سره د کورنۍ تاوتریخوالي او زیاتره پرښځو د تاوتریخوالي د کچې او څرنګوالي له مخې خورا ځورونکې پېښې رامنځته کوي چې زموږ په دوديزه ټولنه کې یې خورا زیاتې بیلګې لیدل کېږي، چې یوه بېلګه به یې دلته د افغانستان د مدني ټولنې د مجتمع د یوې خپرونې په حواله په دې ډول وړاندې شي:

یو هلک پرته له دې چې د یوې نجلۍ په باب معلومات ولري، مور یې ورته خوښه کړې وه، هلک چې لا واده ته تیار نه و او غوښتل یې چې خپلې لوړې زده کړې پای ته ورسوي، نابېره مور یې مجبور کړ په هر ډول چې کېږي د خپلې مور انتخاب ومني. هلک ورته زیات دلیلونه راوړل چې اوس د ده د واده وخت نه دی او له بلې خوا نجلۍ یې هم په سترګو لیدلې نه ده او د مور له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خولې کوچنۍ او قانوني عمر ته لا نه ده رسيدلې، خو برخلاف مور يې په خپل انتخاب ټېنګار کاوه چې له همدې نجلۍ سره کوژده وکړي.

بيا هم هلک د مور له خبرو سره موافقه نه کوي او بالاخره خبره يې پلار ته رسوي، د هلک پلار هم دده د مور غوندې ورته زيات دليلونه راوړي او ورته وايي چې دده واده يې په ژوند کې يو ارمان دی او غواړي چې په ژوند کې يې د واده مراسم وګوري او همدارنګه د مور غوښتنه يې هم داده. له بلې خوا نه زموږ د خواستګارۍ موضوع هم د نجلۍ د پلار کره مطرح شوې ده، دا کار زموږ د دواړو کورنيو د ابرو او عزت خبره ده او ددې تر څنګه که واده مو ونه شي بيا يو ډول خواشيني، بدبيني او حتی دښمني رامنځته کېږي، تر څو چې هلک له ډېر مجبوريته ددې لپاره چې د پلار او مور ازار وانخلي او خپه يې نه کړي، هغوی ته خپل رضايت ورڅرګند او په پټو سترګو يې د خپل ژوند سرنوشت نامعلومې راتلونکې ته وسپاره.

د مور او پلار په خوښه د هلک کوژده او واده کېږي، چې دغه واده د مور او پلار د ژوند ارمان دی. څرنګه چې واده د دواړو خواوو په رضا او رغبت نه دی شوی، نو داده چې د هلک او نجلۍ ترمنځه نزاکتونه رامنځته کېږي او وروسته په حساسيتونو بدلېږي، تردې چې له يو بل نه په بيزارۍ پای ته رسېږي او د دوی په کورني ژوند کې د تاوتريخوالي تخم را زرغونېږي، وده کوي او خبره وهلو ټکولو يانې د نورو تاوتريخوالو په خوا کې فزيکي تاوتريخوالي ته رسېږي.

ددې لپاره چې د هلک ښځه چې کوچنۍ نجلۍ وه، د مور او پلار کره د تګ په پلمه به يې کور پرېښود او هر څه چې به يې مېړه ورته ويل چې هر کار خپل غواړي دا بايد هم به خپل لازم وخت د پلار کور ته لاړه شي، خو اوس د هغې عادت ګرځېدلی و چې د مېړه له اجازې پرته دغه عادت ته دوام ورکړي. خو هلک له ډېر زغم او حوصلې نه کار واخېست او هغه يې د مورني ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرايطو او د رمزونو پوهېدلو ته رابلله، خو اوس او به له ورخه تيرې شوې وې او د دوی په کورنيو کې «تا ويلي ما ويلي» ناندرۍ هم رامنځته شولې، نجلۍ چې يې پلار ته شکايت کاوه، دا چې پلار به يې حق په جانب نه ګاڼه او هلک يې ملامتولای نه شو، نو يې پلار ته د هغې شکايت څه ګټه نه درلوده.

خو ده فکر کاوه چې د نجلۍ ددې کار يوازينی علت د دوی د عمر ناانډولتوب و چې د هلک د کورني ژوند غوښتنو ته يې لازم ځواب نه شوای ورکولای چې په پای کې يې د دواړو کورنيو ترمنځ يو لوی ګواښ رامنځته کړ او د دوی ژوند هم له يو لوی خطر سره مخامخ شو.

له نوموړي پېښې دا سې څرګندېږي چې په دې جرم کې که هلک يو څه دخيل دی، نو ډېره ګناه يې د پلار او مور ده او يو څه د نجلۍ کورنۍ په دې ملامتېږي چې ولې يې د ماشومې لور په واده کې رضايت ښوده او موافقه يې کوله.(۱)

(۱) ميرمن مجله، ۸۱ ګڼه، عقرب۱۳۹۱کال.

## د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي اوسنۍ نه، بلکې پخوانۍ پديده ده :

دا يو بيخي تجربه شوی او عيني واقعيت دی چې پر ښځو د تاوتريخوالي رېښې پدېده په بېلا بېلو شکلونو يانې د کورنۍ د ناوړو چلندونو هغه چې د کورنۍ د يو غړي په توګه يې حقونه تر پښو لاندې او شخصيت يې تر سپکاوي لاندې راولي لکه د مور او پلار او نږدې خپلوانو کور ته او بهر ته له وتلو څخه مخنيوي کول، لفظي تاوتريخوالي چې د سپکو سپورو له ويلو، رټنې، پېغورورکونې او ښکنځاوو څخه عبارت دي، رواني او جسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـاوتريخوالي چـې وهـل ټکـول، د وېښـتانو شـکول، د غوږونـو او پـوزې غوڅول، په شاقه او اجباري چارو ګمارل پکې شامل دي او داسې نورو خورا ځورونکو مـواردو کـې عملي کـېږي، زمـوږ پـه افغـاني ټولنـه کـې ډېـر زيـات عموميت او لرغونتيا لري.

ددې هر اړخيزه تاوتريخوالو اساسي لاملونه او سببونه ډېر زيات دی چې يو شمېر يې په دې ډول ښودل کېدای شي:

- د ټولنې وروسته پاتې والی
- د ناپوهۍ او بې سوادۍ حاکميت
- د نرواکي اغېزمني
- د ناوړو عنعنو او زړو رواجونو واکمني
- د نرو او ښځو له خوا د هغوی د طبيعي، اسلامي ، مدني او قـانوني حقونو څخه د آګاهي نه درلودل
- اقتصادي کمزورتيا
- په کورنيو کې د معتصبو غړيو شتون
- په ودونو کې د دوه اړخيزو توافقاتو او رضا رغبت ته اهميت نه کول
- تر وخت دمخه يا اجباري ودونه
- د نارينه اولاد نه درلودل
- د رقابتي ودونو او زياتې شتمنۍ له مخې د څو ښځو ودول
- د پور په بدل او بدلي ودونه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ملاتړ د پیدا کولو په منظور او د پخوانۍ خپلوۍ د ټینګولو او نوي کولو په خاطر ودونه
- د نجلۍ د کورنۍ له خوا د هلک له کورنۍ د زیات ولور اخېستل
- د نجلۍ د کورنۍ په ټیټ طبقاتي دریځ کې شتون او داسې نور ...

پر ښځو د تاوتریخوالي موضوع څه نوې خبره نه ده. ځکه ښه مې په یاد دي چې له نن څخه شپېته او یا پنځه شپېته کاله دمخه چې زه په خپل اصلي پلرني ټاټوبي کونړ کې اوسېدم. هلته پر ښځو باندې د تاوتریخوالي د بېلابېلو پېښو د رامنځته کېدو په وجه زما سره زیاتې ترخې خاطرې را پاتې دي.

- په زور او یا تحمیلي ډول د نجونو کوژده او واده کېدل.
- په زور او تحمیلي ډول به کونډې ښځې د مېړه د کورنیو غړیو لکه لېور، وراره او یا نورو ته نکاح کېدلې.
- په بدل کې به لوڼې او هلکان د دوه کورنیو له خوا د یو او بل په نامه کېدلې او ودېدلې.

او داسې یو لړ موارد به وو چې د هغو له پایلو څخه د ځان ژغورنې په خاطر به ښځو پر ځان مړینه منله، ځان به یې سیند ته غورځاوه، زهري مواد به یې خوړل، ځانته به یې اور او زندۍ اچوله، له کوره به تښتېدلې او داسې نورو پېښو ته به یې لاس اچاوه.

او له کوره د تېښتې په پېښه کې به یې د سیمې یو شمېر معتبرو کورنیو ته چې له دوی څخه به یې په لیرېو کلیو کې استوګنه درلوده، پناه وروړله او د یتیمي په نامه به یې د هغوی په کورونو کې خدمت کاوه او د ښو اخلاقو او د یوې کارګرې ښځې په شان به یې په دغه کورنیو کې د کورنۍ د ډېر نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړي په توګه خپل ژوند ته دوام ورکاوه. او چې کله به يې د مېړه کورنۍ په دې پته راغله، نو کومې کورنۍ ته چې به نجلۍ پناه ور وړې وه، پرته له تضمين ورکولو، هغوی ته نه تسليمولهٔ.

لنډه دا چې پر ښځو د تاوتريخوالي پديده نه يوازې او سنۍ کرکجنه پديده نه ده، بلکې د پښتو ښېلګې او ريښې يې ډېره پخوانيو وختونو ته ورغزېږي او دا ناوړه پديده نن سبا نه يوازې په کليو کې عموميت لري، بلکې په ښارونو کې که څه هم تر ډېره حده پکې د هغو د پيدا ښت لاملونه دومره زيات شتون نه لري، هم له پخوانيو وختونو څخه عموميت درلود.

که څه هم چې پر ښځو باندې د تاوتريخوالي کچه را ټيټه شوې او تر ممکنه حده يې مخنيوي شوی دی، خو بيا هم دې ته جدي اړتيا ده چې د هېواد ټول هغه وګړي چې د خدای په وړاندې د مسووليت احساس کوي او هم په هېواد کې د يو سوله ييز ژوند غوښتونکي دي، يو بل ته د مرستې لاسونه ورکړي، تر څو چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي ناوړه پديده له منځه لاړه شي او په پای کې افغانان د يو نېکمرغه ژوند خاوندان شي.(۱)

(۱) ميرمن مجله، ۸۱ ګڼه، عقرب۱۳۹۱.

## د مېړه او ښځې متقابله ژوره پېژندنه :

کورنۍ د هرې ټولنې لومړنۍ بنسټېزه خښته او ډېره ده هغه چې د ټولنيز ژوندانه په پراخو او هر اړخيزو بعدونه او استقامتونو کې پرې د ټولنو ودانۍ جوړېږي په هره اندازه چې کومه کورنۍ سالمه، ګټوره او بې عيبه وي په هماغه کچه ترې صالحې او ګټورې ټولنې رامنځته کېدای شي، کنه د نا سالمو او بې ګټې کورنيو څخه تشکيلې شوې کورنۍ د پوره ټولنيزو نېمګړتياوو لرونکې ټولنې شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې سببه رسالتمندې، هوښيارې او هدفمنې کورنۍ هڅه کوي چې يې غړي د راتلونکې ټولنې وتلي، ګټور او د وياړنې وړ غړي رامنځته شي.

نو دلته چې ډېره مهمه او ارزښتناکه موضوع مطرح کېږي هغه د مېړه او ماندينې ترمنځه نه شليدونکې، صادقانه اړيکه ده چې ددې اړيکې د مثبتو او منفي خواوو اغېزه د دوی پر اولادونو هم پوره اغېزمنه تماميږي او بيا د دوئ ترمنځه د واده پر بنسټ دا اړيکه د يوې او دوو ورځو خبره هم نه ده ځکه دوئ د ژوند د هميشنيو ملګرو په توګه د خپل راتلونکی برخه ليک او مقدراتو په وړاندې طبيعي او ټولنيز مسؤوليت لري.

د مېړه او ښځې په منځ کې ددې رابطی هميشنی ټېنګښت زيات معيارونه لري چې دلته يوازې په يو څو اساسي بنسټيزو معيارونو باندې سرسري بحث ته اړتيا ده.

حضرت جعفر (رض) وايي:

«ښځه د مراد غاړکۍ ده، دقت وکړه چې څنګه غاړکۍ په غاړه کړې.»

له دې وينا څخه دا حقيقت په ډاګه کېږي چې ښځه د مراد او د انتخاب هغه غاړکۍ ده تر څو چې سړی ژوندی وي نو په غاړه کې به يې پرته وي. له دې ځايه مېړه بايد ډېر غور او پام وکړي او هغسې غاړکۍ په غاړه کې واچوي چې نه يوازې پرې بيا تنګ نشي بلکې ښه پرې ښکاره هم شي. چې دلته د معقول او منطقي انتخاب او روحي توافق د ټولو په سر کې ځای لري، کله چې انتخاب علمي جامه واغوندي او د واده له لارې د ښځې او مېړه تر منځ اړيکه ټېنګه شي. نو دلته مېړه او ښځې ته په کار دي چې د ګډ ژوند غوښتنو، خپل منځونو حقونو او د کورني د مناسباتو پرنسيبونو ته ځانګړې پاملرنه وکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د دې تر څنګه د مېړه او ښځې له خوا د متقابلې، ژورې پېژندنې په احساس، مفکورې او عقیدې پوهېدنه ډېر بنیادي او مهم ټکي دي، چې د دې په کلک رعایت سره مېړه او ښځه کولای شي. خپل منځیني اړیکې په زړه پورې او خوږې وساتي او د کوم تصادفي سو تفاهم په تورتم اړولی وي په ډېره اسانۍ سر له منځه یوسي سره له هماغې ورځې چې ښځه او مېړه یوه کورنۍ جوړه وي وایې فریضه ده چې د کورنۍ د ودې او پراختیا لړۍ متقابلې ژورې پېژندنې څخه پیل کېږي.

ښځه باید چې د خپل مېړه په مفکوره او عقیده ځان پوه کړي، د هغه احساس او رواني ځانګړتیاوې درک کړي، د خوی، عادت، ذوق او سلیقې په مشخصاتو یې ځان ښه وپوهوي مثبت او منفي اخلاقي اړخونه یې ځانته جوت کړي او داسې نور...

او بیا وروسته دغه هر یو د یوې برجسته کلیشې او غټ عنوان په توګه په خپل ذهن کې نقش کړي او د کورنۍ چارو په چلندونو کې له هغوئ اغېزمنه ګټه واخلي. د کومو سره چې د مېړه په روحیاتو او روان ناوړه اغېزه کوي ځان ببخې لېرې وساتي. او پوه هغه شي چې د هغوئ په تړاو د مېړه د خواشینۍ، کرکې لاملونه رامنځته نه کړي.

مېړونو ته ښایي له هماغسې متقابل پرنسیب څخه کار واخلي. د موضوع د لا ډېر کافي روښانولو په منظور لاندې یو مثال کافی دی.

« ... یو مېړه د خپلې ماندینې د ځینې وخت د پخلي سره طبع نه لګید له او نه یې خوښېده تردې وخته پورې نوموړې ته دا موضوع معلومه نه وه چې ماندینه یې په سپکو سپور او نورو ګوابښونو دومره نه اغېزمنه کېږي لکه چې ورته وویل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن دی دا خوا ړه خوا ږه نه دي پاخه کړي، نو یوه ورځ په دسترخوان ورته هغسې خوا ږه په مخ کې کېښودل شول، هغه په ناآګاهانه توګه د هغو له خوړلو څخه ډډه وکړه او بې له ځنډه د خپلې ماندینې له سخت غبرګون سره مخامخ شو، هغو مره چې تردې وخته یې ترې طمعه نه درلوده، نو کله چې د موضوع په حساسیت وپوهېده د عمر تر اخره یې د دغسې چلند له تکرار یدو څخه ډډه وکړه او د ماندینې له خوا یې دغسې ناوړه غبرګون هم ونه لیده».

په همدې توګه ښځې ته هم په کار دي چې دغه اصل ته خاصه پاملرنه وکړي د مثال په توګه:

یو مېړه د دې خبرې سره حساسیت لري کوم شي چې یې ماندینې ته ورکړی وي چې یې ورته وساتي او د اړتیا پر مهال یې ورته په لاس ورکړي، مګر د ماندینې څخه یې د هغه د ایښودلو ځای هېر وي او ونه شي کړای چې په خپل وخت کې هغه د مېړه په واک کې ورکړي، په دې توګه د مېړه د قهر او غوسې سبب کېږي او د سخت عصبانیت زمینه ورته برابروي.

نو که ښځه د مېړه دغه حساسیت په جدي توګه په پام کې وساتي او هېڅکله یې پورتنۍ پېښه په کورنۍ کې تکرار نه شي. نو بې له شکه د هغوئ ترمنځه هېڅکله شخړه او خوابدي نه پېښېږي په کورني ژوند کې د داسې پېښو غوندۍ زیاتې پېښې شته دي چې مېړه او ښځه هغوئ ته په کلکه پاملرنه مجبور او مکلف کرځول کېږي.

بله موضوع چې په کورني ژوند کې د ځانګړې اهمیت درلودونکې ده، د مېړه او ښځې له خوا د یو لړ موضوعګانو مطرح کولو د وخت او زمان په پام کې نیول دي چې باید وپېژندل شي د بېلګې په توګه:

ښځه په دې ټکي ښه پوهېږي چې مېړه یې وظیفې ته د تګ پر مهال کله چې له کوره وځي په دې خپه کېږي او د عصبانیت حالت غوره کوي. چې ماندینه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ووايي سرېيه ! نن له بازاره پلاني او پلاني شيونه راوړه ... او يا چې يې کله مېږه ستړی ستومانه له وظيفې کور ته راستون شي. پرته له دې چې د هغه دمه جوړه شي په وره کې ورته پيره کوي تر څو د ځينو ناخواليو د پېښېدو رپوټ ورکړي. يعنې داسې وشول ... داسې او داسې ... طبيعي ده چې په دې شېبو کې د ځينو موضوعګانو يادونه ناوړه او بې ځايه چال چلند ګڼل کېږي مېرمنې کولای شي چې لازم فرصت کې د دغسې پېښنو سره تماس ونيسي.

د مېړه او ښځې د يو اوبل ښه پېژندنه، په احساس او حساسيت پوهېدنه دومره سخته خبره نه ده، بلکې دا ټولې ډېرې اسانې او عادي موضوعګانې دي، مګر يو څه تامل، غور، منطق او ځان پرې روږدی کول غواړي.

که چېرته مېړه او ښځه دغه پورتني او داسې نور اصلونه له پامه وغورځوي او اهميت ورنه کړي او خبره ددې سرحد ته را ورسوي چې، په خپلو منځونو کې له خبرو ډډه وکړي او يا هغوئ ترمنځه دعوې او دنګلې، تاکړي ما کړي... رامنځته کړي. يو يې ځان حق په جانب او مقابل طرف ملامت وبولې او يوازې د خپلو کړو وړو څخه په دفاع تکيه وکړي او ددې پر ځای چې ځان په مقابل دريز کې وګڼي په خپلو نيمګړتياوو او تېروتنو سترګې پټې کړي نو په کورني ژوند کې دا ټول شيان د کورنۍ فضا تر ډېره حده ګډوډوی او د ګډ ژوند صميمانه او عاطفانه اړيکو ته پوره زيان رسوی.

ددغه شانې برخوردونو په صورت کې په کورنۍ کې د مېړه او ښځې تر منځه نزاکتونه او حساسيتونه په حسادت او په عداوت بدلېږي او بالاخره په کورنۍ کې مينه او پيرزوينه له منځه وړي مېړه او ښځې ته په کار دي چې د هميشه لپاره د يو او بل د ژور پېژندلو او د درک کولو له لياري د دواړو خوا او د نيمګړتياوې په نظر کې ونيسي، اعتراف پرې وکړي متقابل اړخ حق په جانب وګڼي او له ټولو ناوړو چلندونو څخه په کلکه ډډه وکوي نو په دې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې د کورنۍ خوشاله، نيکمرغه او هوسا ژوند په برخه شوي وی د صالحو او نافعو اولادونو مور و پلار شوي به وي.(۱)

(۱) ايلبند مجله.

## د ښځو په مقابل کې د تاوتريخوالي د څرنګوالي بررسي:

لکه چې نن سبا زموږ په دوديزه ټولنه کې پر ښځو باندې تاوتريخوالي د هغه د بېلا بېلو شکلونو د عملي کېدلو سره نه يوازې کمښت نه مومي بلکې د هرې ورځې په تېرېدو سره، تر نورو زيات د هبواد په يو لړ سيمو کې صعودي قوس وهي، او حتی زموږ د ټولنې ښځينه قشر د تاوتريخوالي ډېر کرکجن او کرغېجن لاملونه تجربه کوي.

د تاوتريخوالي مهم لاملونه په کوټلي توګه په دې ډول ښودل کېدای شي:

### د قدرت واکي په وجه ودونه:

طبيعي ده چې دا اجباري ودونه پر ښځو د تاوتريخوالي ډېرې زياتې دردونکي پايلې لري.

همدارنګه د پېسو په زور د نجلي کورنۍ مجبوروي چې خپلې لونې پرته له دې چې د چا عمر، روغتيايي حالت او يا يې ناوړه روږدېتوب ته وګوري، هغوئ ته ورکړي په ټولنو کې د ناوړو دودونو د واکمني له مخې ودونه چې له دې دودونو څخه عبارت دي.

- د هلک او نجلي له انتخاب او رضايت پرته د مور او پلار په خوښه ودونه. په دې ډول ودونو کې يا د هلک د مور او پلار د انتخاب په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجه کېږي او ځينې مهال د نجلي د مور او پلار د خوښي له مخې ترسره کېږي.

- هغه دودونه چې هلک او يا نجلي او يا دواړه قانوني عمر بشپړ کړي نه وي او د کوچينوالي په مرحله کې صورت نيسي، داسې هم شوي دي چې د هلک او نجلي تر زيږيدلو دمخه مور پلار هلک او نجلي سره يو د بل په نوم کوي.
- د زيات ولور په مقابل کې ودونه:

دا ودونه په داسې صورت کې کېږي چې د هلک کورنۍ پوره شتمنه وي او يا دا چې د نجلي کورني د زيات ولور د اخېستلو په مقابل کې د غسې ودونه خوښوي.

- **بدلي ودونه**:
- د پور د تاديې په مقابل کې:
- ځينې کسان چې د چا پوروړی او د پوروركولو وسه ونه لري، نو د پور د ورکولو مقابل کې ډيرې کې. ځينې مهال د دې کورني خپلې لونې يو بل په بدل کې ورکوي.
- **د بدو په مقابل کې :**

دا هغه ډول ودونه دي، چې د دو دښمنو کورنيو ترمنځه د دښمني د پای ته رسولو په موخه چې ګونديې د دوئ خپلوليو په وجه يې دښمني په دوستي تبديله شي، صورت نيسي.

- **ناليدلي ودونه :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه ودونه دي چې د مور او پلار له خوا د هلک او نجلي کوژده په داسې حال کې کېږي چې یو بل یې لیدلي نه وي او له یو بله په لیرې ملکونو ژوند کوي.

- **ندري ودونه :**

ډېرې کمې کورني د احتمالي مصیبت څخه د نجات موندنو په خاطر خپلې لوڼي په نذر ورکوي چې دا ډول ودونه نذرې ودونه بلل کېږي.

- **د ملاتړ پیدا کولو په خاطر ودونه :**

ځینې کورني ددې لپاره چې یې په کلي او سیمه کې یې اعتبار لوړ او قوي ملاتړ پیدا کړي نو خپلې لوڼي معتبرو کورنیو ته ورکوي.

- **د تاوتریخوالي ډولونه او څرنګوالي :**

تاوتریخوالي هر هغه چلند ، حرکت او وینا ته ویل کېږي چې د انساني لوړو ارزښتونو سره توپیر ولري او نفي کوونکي یې وګرځوي او د یو شخص د وروسته پاتې توب، ګوښه کېدلو ، سرخوږي رواني ناروغي، ځان وژني، ځانته اوراچونې، سین ته ځان غورځوني او د مړینې یو لامل ښایي په یو بل تعریف کې تاوتریخوالي له هغو اعمالو ، ذهنیتونو او سیستمونو څخه عبارت دي چې د خلکو د سترو وړتیا ګانو په لارکې خنډ ګرځي او ډول ډول زیانونه رامنځته کوي.

په عمومي ډول پر ښځو باندې د تاوتریخوالي شکلونو په فزیکي یا جسمي شکل او روحي یا رواني او د ټولنیز تاوتریخوالي په بڼو تطبیقېږي.

**دفزیکي تاوتریخوالي څرنګوالي :**

د ښځې سره بده رویه کول، هغه وهل ټکول، د ویښتانو راکښل او شوکول، په لغتو ، څپېړه، په لرګي کمربند او یا داسې نورو شیانو وهل، پښې لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړل، ګواښېدل، له وسي په پورته چارو ګمارل، د غوږونو یا پزې پرې کول او داسې نور.

**د رواني تاوتریخوالي شکلونه :**

ګواښېدل او قارېدل، بدچلند کول، بدي ردي ویل، ښکنځل، سپکاوي کول او د نورو په مخکې سپکول، د ښځې کورني سره مناسبه رویه نه کول په خوړو کې فرق کول.

**د ټولنیز تاوتریخوالي شکلونه :**

دا ډول تاوتریخوالي پر ښځو باندې د کور په دننه او یا د باندې چاپېریال کې په دې ډول تطبیقېږي.

د ښوونځي او روغتیایي مرکز او روغتون ته له تګه مخنیوي کول، د پلار او مور کور ته نه پرېښودل همدارنګه د ښوونځي څخه کور ته د راتګ په لار کې د یو شمیر بد اخلاقو کسانو له خوا تعقیبدل، او د دوئ په وړاندې ناوړه حرکتونه او اشاري کول، په ښوونځي کې، د یو لړ شاګردانو او ښوونکو له خوا د وجود د یوې برخې لګول، په زوره لاس ورکول، او مبتذلې خبرې کول کنایې ویل.

**پایلې :**

په هېواد کې پر ښځو د تاوتریخوالي د پورتنیو شکلونو اغېزمنو ښودلې ده چې ښځې په لومړي سر کې ګوښه ییزې کېږي، د ټولنې سره له ناستې ولاړې بیزارېږي، د ډول ډول توهماتو سره مخامخ کېږي، د ګیجې په ناروغي اخته کېږي همیشه د ستړیا احساس کوي، رواني بې حسي احساسوي، په افسرده ګي او اضطراب اخته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونځي له تګه د ډډې کولو له امله له تحصيله محرومېږي او روغتيايي مرکزونو او روغتون ته د نه مراجعې له کبله يې روغتيايي حالت زيانمنې کېږي.

او د جسمي تاوتريخوالي د شدت او حدت په صورت کې لکه چې د مخه وويل شول له دې تاوتريخوالي د ځان ژغورني په خاطر د ځان وژني يو شکل او يا له کوره تېښتي ته لاس اچوي.

حتی له ژونده د بيزاري په صورت کې ځان سيند ته غورځوي، ځان زندي کوي، او يا زهر خوري، او داسې نور موارد شته چې له يادوني يې صرف نظر کېږي.

**وړانديزونه :**

- ښځې بايد د تحصيله له حقه بې برخې نه شي، تر څو چې په خپلو طبيعي، اسلامي او ميثاقي حقوقو پوره آګاهي پيدا کړای شي.
- د ودونو د هغه ډول د عملي کولو څخه کلکه ډډه وشي چې ترمخه ترې يادونه وشوه.
- د کاري ظرفيتونو د برابرولو له لياري، د اقتصادي پياوړتيا له مخې پر ځان متکي شي.
- د عمومي آګاهي په خاطر د ښځو د حقونو د پوهېدنې پراخ تبليغي او ترويجي کار وشي.
- ډېره مهمه داده چې په لومړي ګام کې مور او پلار او بيا د ښځې د مېړه کورني د اخلاقي موازينو او اسلامي ارشاداتو له مخې د ښځې مقام ته د درناوي په روحيه د ښځو د تاوتريخوالي د لاملونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځته کېدو انګیزو ته پیشبین او مخکې له مخکې یې په کلکه مخنیوي او ډډه ترې وکړي.

- د سیمو نفوذ لرونکي شخصیتونه، روحانیون او عالمان دغه ټولنیزه ناوړه پدیده وغندي او د ډېرو ناوړو پایلو په باب د عامه پوهاوي خاطر همیشني هڅې وکړي.

- دولتي اجراییوي ارګانونه په تېره بیا پولیس او امنیتي چارواکي پر ښځو باندې له تاوتریخوالي څخه په کلکه مخنیوي وکړي او د تطبیقېدلو په صورت کې عاملینو ته سخته قانوني سزا ورکړ شي.

- حقوقي او عدلي ارګانونه دي په پوره زړه سوي او د انساني مکلفیت د پر ځای کولو په منظور د ښځو له حقوقو پریکوني دفاع وکړي، او د دوئ د حق د خوندي ساتنې څخه دي ملاتړ وکړي، او تیري کوونکي دي چې په هر مقام کې وي په سخته سزا ورسوي تر څو د نورو عبرت شي.

- دا چې د زور او زرو لرونکي یعني ټوپک لرونکي او یا د هر اړخیز قدرت لرونکي کسان مور، خور او لور لري، نو دوی ته د یو انسان په توګه په کار دي، چې د مور، ماندیني او په مجموع کې د ښځې مقام ته درناوی په خاطر د ښځو په وړاندې له هر ډول تاوتریخوالي او د هغوی له لاملونه د رامنځته کولو څخه په کلکه ډډه وکړي.(۱)

(۱) انیس ورځپاڼه، ۱۷۲ ګڼه، ۱۱/۹ ، ۱۳۹۱ کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سواد له نعمت څخه زموږ د ټولنې د ښځينه قشر بې برخې توب :

سواد يعني د ليک لوست زده کړه د هر انسان، انساني، مدني او ميثاقي حق دی، د اسلامي لارښوونو او د نبوي ارشاد له مخې په هرې مسلمانې ښځې او نارينه د علم حاصلول فرض دي او دا ځکه چې بې له علمه د خدای(ج) پېژندنه کېدای نشي، او له دې ځايه د ليک لوست زده کړه هم له اسلامي فريضو څخه ګڼل کېږي.

د سواد زده کړه په واقعيت کې يوه بينايي ده، د مفاهيمو او کلمو په تعبيرونو پوهېدنه ده، بې سواده انسان که څه هم جسماً بينا او هر څه ليدلای شي خو کلمې او مفاهيم د خپل شکل او ماهيت په اعتبار چې د شعور دوهمه علامه ده که په ظاهر کې يې ګوري خو تشخيصولای يې نه شي.

خبره په خبرو کولو او ګړېدلو کې نه ده، دا ځکه چې طوطي او مينا هم په يو ډول خبرې کولای شي، خو علم ښودلې ده چې د انسان شعور د هغو د مغزو ډېره پرمختللې او پېچلې وده ده او دا په دې مانا که ګوندې حيوان يو شی د هغه د ظاهري څېرې او شکل له مخې پېژني او د ليدلو په مهال د هغو په نسبت غبرګون ښيي؛ د بېلګې په توګه که يو ځاروی، ليوه او يا بل ځېروونکی حيوان وګوري نو ترې تښتي، خو د ليوه او يا بل ځېروونکي حيوان د نوم په يادولو سره له ځانه هيڅ ډول غبرګون نه ښيي او دا ځکه چې د ليوه او بل حيوان دويمه علامه يا مفهوم دی. خو انسان ته لوی خدای(ج) د شعور د ډېر ارزښتناک نعمت په ورکولو سره ددې وړتيا او پياوړتيا ورکړې ده؛ که چېرته زيان رسوونکي حيوان او يا کومه پدېده په خپلو سترګو ګوري، هماغومره يې له زيانمنې څخه ځان ژغوري لکه چې څوک ورته د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم یاد کړي، خو بیا هم دلته د یو انسان شعوري تکامل د علم حاصلول دي او په حقیقت کې دا موضوع په یو ډول بینایي ده او بیا لیک لوست د یو هغسې پولادي کلي مثال لري چې د هر علم د خزانې ورونه پرې پرانېستل کېږي.

نن سبا زموږ په هېواد کې د بې سوادۍ کچه نږدې مخ په لوړتیا او پراختیا ده چې د پخوانې وخت سره د مقایسې وړ نه ده، خو په زیاتي خواشینۍ سره ښایي وویل شي چې بیا هم زموږ د ټولنې ښځې د ښارونو په نسبت په عمومي ډول په لیریو کلیو، قشلاقونو او باندو کې له پخوا نه لا تر اوسه پورې د سواد له حقه بې برخې دي. زما ښه په یاد دی چې د کونړ په ټول ولایت کې په یو څو محدودو کورنیو کې هغه هم د کورنیو معلمانو په برکت ښځو یو څه سواد درلود او د ځینو لویو کورنیو ښځو قرآن مجید تلاوت کولای شو.

او که په اوس مهال کې یوازې په هغو سیمو کې چې ښځینه ښوونځي شتون لري، نو ښځینه نوی نسل د سواد او تحصیل له حقه برخمن کېږي او وخت په وخت ددې ناوړه دود کمپله مخ په ټولیدلو ده چې د ښځو تحصیل او د سواد زده کړې لوی عار بولي. خو دا موضوع بیا هم اوس یو عیني واقعیت دی چې د هېواد په لیریو پرتو کلیو او قشلاقونو په تېره بیا باندو او غرنیو برخو کې چې کوچیانې کورنۍ هم په دې ډله کې شاملې دي، چې د ښځینه ښوونځیو د تاسیسېدلو امکانات لا نه دي برابر شوي، په عمومي توګه ښځې بې سواده او د تحصیل له حقه محرومې دي او نجونو ته د تعلیم او تربیې په پروسې لاسرسي یوه ډېره ستونزمنه موضوع ګڼل کېږي او په همدې وجه نه یوازې ددغو سیمو ښځینه قشر د سواد له حقه بې برخې دي بلکې د خپلو اسلامي او انساني پراخو حقونو څخه د محرومیت ناخوالې ګالي، چې له دې جملې نه د ناوړو دودونو او ضد بشري رواجونو د پایلو قربانې کېږي، د تاوتریخوالي په سرو لمبو کې سوزي، د یو څاروي او متاع په څېر خرڅیږي، پراخ او هر اړخیز مظالم پرې تحمیلېږي، د ځان زندۍ کولو، اور ته د ځان اچونې څخه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان سوزونې پورې ځان وژنو ته مجبورېږي او حتی له کوره تېښته یې د دغو مرګونو مظالمو څخه نجات ورکولای نه شي.

نو له دې ځایه د ښځو په فردي او ټولنیز ژوند کې بې سوادي او له علم څخه بې برخې توب د دوئ د ټولو بدبختیو لوی لامل ګڼل کېږي او کېدای شي چې په ډېرې جدي پاملرنې سره د دوی په ژوند کې نیمګړتیا له منځه یوړل شي.(۱)

(۱) ارشاد انسوان، ۷۹ ګڼه.

## د ښځې په ژوند کې د سولې اغېزمنتوب :

د لوي خدای (ج) په نزد چې د سولې د سپېڅلې مفهوم مقام د خیریه غوره کلمو تعبیر شوی دی په حقیقت کې یوه بې سارې ښېګڼه او یزداني پېرزوینه ده چې د هر انسان له لومړنیو حقونو څخه ګڼل کېږي، او هر څوک او حتی حیوانات او الوتونکي او نور ساکښ مخلوقات د سولې بختورو شرایطو ته اړتیا لري.

خو د دې ټولو په سر کې په اخص ډول د سولې سره مینه او تړاو درلودل د ښځینه په ختړه او خلقت کې یوه اخښل شوې پدېده ده او هره ښځه اړتیا لري چې په یوه سوله ایزه فضا کې ژوند وکړي او دا له دې امله چې ښځې د یو عاطفي مخلوق او لطیف جنس په توګه له شخړو، جګړو، تاوتریخوالو او داسې نورو ناوړو پېښو څخه کرکه کوي چې په شکل د شکلونو یې تر زهرجنې اغېزمنې لاندې راولي او بې له شکه د نارینه په نسبت ښځې د سولې سره ژوره مینه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په عمومي ډول سوله یوه رڼا ده چې د سوکالۍ او پرمختیا رانه افق ته لارې پرانیزي او د یو ټاکونکي لامل په توګه په بشري ژوند کې، د هر اړخیزو بریاوو، پرمختګونو او نوښتونو زیري راوړنکې ده، خو ددې تر څنګه د ښځو ټاکونکې برخه ښځې زیاته ده او دا له دې امله چې په سوله ییزو شرایطو کې یوه ښځه په مطلوب ډول د کورني ژوند د ټولو اړونده چارو په سرته رسولو لاسرسي لري. ښځه چې د کورنۍ د هستې او د ټولنې جوړونکې ده او حتی په بشري ټولنه کې ویاړلې برخه اخیستلې شي، او دا تاریخي رسالتونه یوازې او یوازې هغه مهال ترسره کولای شي چې د سالمې کورنې، سالمې ټولنې په ایجادولو کې یې بریالیتوب ور په برخه شي او ددې بریاوې د سوله ییزو شرایطو په شتون پورې تړاو لري.

یو څه به وړاندې لاړ شو، د یو انسان حقونه د هغه د ماشومتوب او حتی تر زېږېدنې دمخه شرایطو سره غوټه کېږي او سالمه او مطلوبه روزنه او پالنه یې هم له دغه مهال څخه پیل کېږي او بیا دا ټول د سوله ایزو شرایطو سره نه شلیدونکي تړاو لري.

په دې مفهوم چې د یوې مودې امیدوارۍ په مرحله کې مور کولای شي چې جسمي او رواني روغتیا څخه برخمنه وي او تجربو ښودلې ده چې په جګړه ایزو ناورینونو او له هغې څخه د را پیدا شوو لاملونو لکه د سپکو او درنو ګولیو د ویشتلو او لګیدلو هیبت ناک غږونه، د دوړو، اور او لوګیو زړه بوګنوونکې صحنې، له ژوبلې او مړینې څخه خبرېدنې او په مستقیم ډول په دې یو ډول د کورني اخته کېدنې د یوې امیدوارې مور رواني روغتیا ته پوره زیان ور رسوي او بیا پر مور دغه ناوړه حالت اغېزه کوي، ددغه ماشوم لومړی سالم فزیکي تشکل او د سالمې ودې بهیر ته پوره زیان رسوي او د ماشوم د زېږیدنې په وروستیو پړاوو کې هم جګړه ایز کړکجن حالات د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشوم را تلونکې سالمې ودې ته زيان رسوي او د شخصيت د سالم توب مخه يې نيسي.

او دا مور له وسې پورته ده چې په دغسې ناوړو شرايطو کې خپل رسالت سرته ورسوي.

خو برعکس د سولې په شرايطو کې که له يوې خوا د مور د جسمي او رواني سلامتيا په وجه سالم ماشوم نړۍ ته راځي، نو ترديې وروسته په ډاډمنو سوله ايزو شرايطو کې د سالم شخصيت که جسمي او يا معنوي وي په متکامل ډول بنسټ اېښودل کېږي.

که د بشري تاريخ لرليد ته وکتل شي ډېر کم به وليدل شي چې ښځو جګړې پيل کړې وي او يا د جګړو لامل ګرځيدلي وي او دا ځکه چې د ښځې فطري خلقت د جګړې سره په هېڅ ډول جوړښت نه لري او که فرضاً په کومه جګړه کې يې برخه اخيستې وي هغه هم په خپل هېواد کې د سولې د تامين او ملي نوامسو د دفاع او هېواد پورې اړوندو حقونو د ترلاسه کولو لپاره به وي.

ډېره مهمه موضوع چې د يادونې وړ ده ښځه د نارينه په نسبت د جګړې د زهرجنو لاملونو څخه زيا ته اغېزمنه کېږي که څه هم اوس چې په هېواد کې د ډاډمنې سولې او امن بشپړ لمنه لا خپره شوې نه ده، او هره ورځ او هره ګړۍ د هېواد په هره ګوښه او ګوټ کې د وينو، د اور د لمبو، د ويجاړېدنو د دوړو زړه را لړزونکې صحنې لا ليدل کېږي او دا ټولې هغه تراژيدۍ دي چې نورې د ګاللو وړ نه دي او په تېره بيا د هېواد ښځې نورې د تحمل وس نه لري، دا ځکه چې د جنګ د ناورينونو په وجه مور کونډه کېږي، بوره کېږي، مور بې سرپرسته کېږي او د کورنۍ ناخوالې ورته ور په غاړه کېږي، نو داده چې زموږ د هېواد د هرې کورنۍ او ټولنې د هرې ښځې لوی ارمان دادي چې کله به په هېواد کې ډاډمنه سوله او امن تامين شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی به وکولای شي چې په لومړي سر کې د خپلو ماشومانو د مطلوبې ودې او روزنې د دروند مسؤولیت له عهدې څخه ووځي او ورسره جوخت د هېواد د ودانۍ، د خلکو د سوکالۍ او د ټولنې د پرمختیا او هراړخیزو بریاوو په خاطر په پراخو فعالیتونو کې په ډاډمن زړه کار او پیکار وکړي او د نارینه وو سره څنګ په څنګ په ټولو کارونو کې برخه واخلي او په خلص مفهوم یوه بختوره او پرمختللې ټولنه رامنځته کړي.(۱)

(۱) میرمن مجله، ۷۹ګڼه سنبله، ۱۳۹۱کال.

## په هرات کې په نشه ییزو توکو د ښځو روږدیتوب:

روږدېتوب یوه ټولنیزه کړکجنه پدېده ده چې له بدمرغه د افغانستان زیات شمېر کسان یې په دې ستونزه اخته کړي دي او د هرې ورځې په تېرېدلو سره یې لمنه پراختیا مومي. هرات د افغانستان لویدیځ ولایت په دغسې ستونزو اخته دی او ددې معتادانو شمیر ورځ په ورځ زیاتېږي او هرات ته د مهاجرینو راستنیدنې دغه شمېر ته لا زیاتښت ورکوي.

د مخدره توکو سره د مبارزې د هرات ولایت رییس د وینا له مخې د هغو څېړنو پر بنسټ چې د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت له خوا تر سره شوي دي په اوسمهال کې د هېواد تر یو میلیون زیات کسان په مخدره توکو معتادانې شته دي چې په سلو کې د ۱۳ رقم تشکیلوی که څه هم دغه ریاست هڅه کوي چې ددغه شوم عمل د لاودی مخنیوي بالخاصه د ښځو په منځ کې وکړي.

په دې عمل د روږدو ښځو د درملنې د کلنیک ( شهامت سنتر ) مسؤولې ډاکترې منیژې واحدي به په دې اړه د خپل تشویش د څرګندونې په ترڅ کې ویلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وروستيو کې په لويديځه حوزه په تيراه بيا د هرات په ولايت کې به نشه ايزو توکو د روږدو ښځو شمېر مخ په زياتښت دی چې د پوره اندېښنې وړ دی. ددې د ځرګندونې له مخې په هرو ۴۵ ورځو کې تر ۳۵ تنو زياتې معتادې ښځې او ماشومان په دې مرکز کې بستري کېږي او په وړيا توګه يې درملنه صورت مومي. چې تراوسه پورې د زيات شمېر ښځو او ماشومانو درملنه شوي او له دغه ناولې عمل څخه ژغورلي شوي دي.

د ښوول شوو رقمونو کې مخې چې په دې ولايت کې د مسؤولو نهادونو له خوا چې وړاندې شوي، په اوسمهال کې په نشه ايزو توکو د روږدو ښځو شمېر له پنځو زرو تنو زياتو ته رسيدلی دی، دا په داسې حال کې دي چې د همدې رقمونو له مخې په هرات کې د معتادانو شمېر د ۲۰ زرو تنو په شاوخوا کې اټکل کېږي.

د هرات د ښځو د چارو د رياست د کارمندې محبوبې اسامي په وينا هغه بررسي چې په دې اړه ترسره شوي دي په سلو کې (۱۵) تنه معتادانې ښځې دي نو که چېرته ددې ځرګندونه دقيقه وي په هرات کې د روږدو ښځو شمير په مراتبو سره بايد له (۵۰۰۰) تنو لا زيات وي.

په هرات کې د روږدو ښځو د شمېر زياتښت د کورنيو په منځ کې پراخې اندېښنې رامنځته کړې دي، په عين حال کې دکتور معروف رحيمي د څلويښت بستريز روغتون سلاکار د هرات ولايت د معتادانو درملنه د نګرانۍ وړ بللې ده. او وايي چې ددې وضعيت ادامه په ددې لامل شي چې د روږدو ښځو په ليدلو سره، دا روږدیتوب د هغو ښځو په منځ کې چې د کورنيو ستونزو سره مخامخ دي او د حل بله لياره نه ويني، پراختيا ومومي.

په دې توګه په هرات کې کارپوهان که څه هم په دغه ولايت کې ټولنيزې او اقتصادي ستونزې د روږدېتوب د پراختيا لاملونه بالخاصه د ښځو په منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ګڼي، خو د ایران سره هم سرحد توب یې اصلي لامل دي چې ښځې یې په دغه ناولې عمل روږدې کړې دي.

په هرات کې د ښځو له ټولنیزو فعالانو څخه یوې تنې میرمنې فوزیه نسیم وايي: په دې ولایت کې د ښځو د روږد ښتوب پد بده زیاتره د هغه ښځو په واسطه له ایران څخه را وړل کېږي چې هلته مهاجرې دي ددې چارواکو د څرګندونو پر بنسټ په داسې حال کې چې د هېواد په ځینو ولایتونو کې د ښځو د روږد ښتوب شمېر د هرات په پرتله بیخې زیات دی خو هلته د معتادو ښځو شمېر بیا بېخې کم دي.

یو شمېر روږدې ښځې اعتراف کوي چې د دوئ د مېړونو د روږد ښتوب او د ټولنیزو او اقتصادي ستونزو په سبب یې په نشه ایزو توکو روږد ښتوب ته مخه کړې ده. په داسې حال کې چې ددې عمل د کمښت لپاره په هېواد کې هلې ځلې روانې دي، د روغتیا وزارت او د مخدره توکو په مقابل کې د مبارزې وزارت او یو شمیر نورې موسسې او نړیوال نهادونه په دې تړاو فعالیتونه ترسره کوي خو بیا هم په اوسمهال کې د معتادانو شمېر مخ په زیاتوالی دی.

د هرات په ولایت کې په مخدره توکو د روږدو شمېر په داسې حال کې مخ په زیاتښت دی چې د کار پوهانو په عقیده تر اوسه پورې د هېڅ نهاد له خوا د روږد ښتوب د پد بدې د کمښت په خاطر هېڅ ډول اغېزمن کار نه دي تر سره شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په افغانستان کې پر ښځو د تاوتریخوالي بعدونه او رقمونه :

په افغانستان کې پر ښځو باندې د تاوتریخوالي ناولې پدېده هېواد شموله بعدونه لري او د هېواد هېڅ یوه داسې سیمه او ګوښه او حتی کورنۍ به ونه لیدل شي چې په شکل د شکلونو په کې د تاوتریخوالي د دردونکې اغېزمنې تجربه شوي نه وي، چې په دې اړه د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون د اړوندو څانګو له خوا مطالعې، څېړنې، بررسي او ارزونې ترسره شوي دي او په رپوټونو کې ورته انعکاس ورکړ شوی دی، چې په دې لړ کې « د ښځو او ماشومانو د حقوقو څېړنیز نهاد» هلې ځلې د پوره یادونې وړ دی، چې په افغانستان پر ښځو د تاوتریخوالي د هر اړخیز اړخونو په باب د هېواد په کچه د یو شمېر اړوند د دولتي ارګانونو په همکارۍ څېړنې، بررسۍ او ارزونې ترسره کړې او په ترتیب شوو شمېرو او جدولونو کې یې د هغو پایلې وړاندې کړي دي، چې دادی په دې لیکنه کې ددې نهاد له خوا « په افغانستان کې پر ښځو باندې تاوتریخوالي» ترسرلیک لاندې له رپوټ څخه ګټه اخېستل شوې ده.

او تردې دمخه په کار دي چې ښځو باندې د تاوتریخوالي د لاملونو او شکلونو له نومونو څخه یادونه وکړو.

۱. اجباري ودونه

۲.بې سوادي

۳.اقتصادي نیستي

۴.د ناوړو رواجونو تسلط

۵.په زیات لګښت واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ـ د ښځو په تعداد**

او داسې نور موارد .

- ❖ چې له دې جملې نه به د هغه رپوټ نه په ګته‌ې اخېتسنې د اجبارې ودونو د شمې یوه ګوښه وړاندې شې چې « په افغانستان کې پر ښځو باندې تاوتریخوالې» په اړه د ښځو او ماشومانو د حقونو د څېړنیز نهاد له خوا په ۱۳۸۷هـ کال کې برابر او چاپ شوی دی.
- ❖ د بدل ودونه چې د اجباري ودونو یو شکل دی په سلو کې ۳۰/۳ ودونه بدلي ودونه او د ۷۵ ودونو له منځه په سلو کې ۱۷/۲ ودونه په بدو کې ودونه او پرته د هلک او نجلۍ له رضایت نه د مور او پلار او یا د کورني دنورو واکمنو په خوښه په ۲۴ ودونو کې په سلو کې ۱۹/۳ ، او د پور په بدل کې په ۵۵ ودونو کې په سلو کې ۱۲/۲ او د مور و پلار په خوښه په ۵۴ ودونو کې په سلو کې ۱۲/۳ ودونه تشکیلوی له دې ارقامو څخه پوره جوته ده چې په افغاني ټولنه کې د هلک او نجلۍ له خوښې پرته د اجباري ودونو د پور تنیو شکلونو فیصدی ډېره لوړه ده.
- ❖ په دولتي قوانینو او بشري قوانینو کې د واده عمر د هلک او نجلۍ لپاره ټاکل شوی دی خو لکه چې په افغاني ټولنه لیدل کېږي، دا ډول ودونه د قانوني عمر څخه دمخه او یا د دواړو خواوو عمر د نه انډول توب په صورت کې ترسره کېږي چې د پورتني رپوټ له مخې د واده د قانوني عمر په اړه په ۳ نمبر جدول کې په دې ډول رقمونه ښودل شوي دي.
- ❖ د زیات مهر اخېستل هم پر ښځو باندې د تاوتریخوالي هغه لامل دی چې نن سبا زموږ په ټولنه په تېره د هېواد په لېرې پرتو سیمو کې پوره عمومیت لري چې د پورتني رپوټ په ۴ نمبر چوکاټ کې رقمونه داسې ښودل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| جزییات | نمبر | په سلو کې |
|---|---|---|
| رسم او رواج | ۲۲۷ | ۴۶,۹ |
| هر کله چې مې طلاق واخېست، راکړ شو | ۱۱ | ۱,۹ |
| خلک فکر کوي چې د مهر په اخېستلو سره خپل طلاق غواړم | ۳۲ | ۲,۳ |
| نه پوهېږم | ۱۵ | ۲,۲ |
| کورنۍ مې مهر واخېست | ۱۴ | ۲,۴ |
| بدله یم مهر نه لرم | ۲ | ۱,۰ |
| مېره د هغه د تادیه کولو وسه نه لري | ۲۲۴ | ۳۸,۹ |
| ټول | ۵۷۲ | ۱۰۰ |

له پورتنۍ جدول څخه پوره جوته ده چې په مجموع کې د **۵۷۲** تنو ښځو سره چې د مهر په اړه مرکې شوي دي د فیصدي له مخې يې په جدول کې خپل نظر ښکاره کړی دی، او څرګند ده چې د مهر ورکولو او اخېستلو په تړاو هم په حالاتو کې پوره توپیر لېدل کېږي.

- ❖ پر ښځو باندې د مېړه او یا مېړه له کورنۍ له خوا د کوره له وتلو د بې ځایه بندیز لګول هم پر ښځو د تاوتریخوالي یو بل لامل دي.

لکه چې په دی تړاو هم په پورتني رپوټ کې ویل شوي دي. تر واده وروسته د مېړه او ښځې په مناسباتو کې د یادونه له وړ پایلو څخه په دوو اړخیز اړیکو کې د مېړه توافق غوښتنه ده په زیاترو کورنیو کې ښځه له کوره د باندې د هر ډول فعالیتونو د سرته رسولو لپاره باید له مېړه څخه اجازه واخلي او ددې تر څنګه پر دی فعالیتونو سربېره چې ښځه پکې بوختیا لري د بندیزونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خنډونو رامنځته کېدل تر واده وروسته پیل کېږي په سلو کې ۵۸,۷مرکه کېدونکي هغه ښځې ښودل شوي دي چې د واده ترمخه په یوه طریقه یې د ( کارمند ، زده کوونکی، محصلی ) مصروفیت درلود او له دې منځه په سلو کې ۲۷,۸ ښځو څرګنده کړه چې تر واده وروسته یې بیا هم وظیفو ته دوام ورکړي دی خو په سلو کې ۷۱,۹ له دې ښځو څخه تر واده وروسته وظیفې پرېښې دي. دا چې څوک له کوره د وتلو اجازه نه ورکوي په دې جدول کې به یې فیصدی وګورو :

مېړه یې اجازه نه ورکوی له ۵۴۳ ښځو له منځه په سلو کې ۹۳,۹ د مېړه کورنۍ یې اجازه نه ورکوي له ۱۲ تنو ښځو څخه په سلو کې ۲,۱ ، په بدو کې ورکړی شوي ښځې ته اجازه نه ورکول د ۲ تنو له جملې نه په سلو کې ۱,۴ او دا چې سواد نه لري په ۱۵ تنو کې په سلو کې ۲,۲ تنه.

لکه چې لیدل کېږي په دې رقمونو کې پر ښځو له کوره د وتلو د بندیز لګونکو په منځ کې مېړه لوی رقم تشکیلوی.

❖ پر ښځو فزیکي تاوتریخوالي په بېلا بېلو څورونکو او دردونکو شکلونو عملي کېږي زموږ په هېواد کې کومه نوی پدېده نه ده. او د پورتنې رپوټ د ارزیابي له مخې چې د مرکه شوو ښځو په پایله کې ترې یادونه شوې ده، په سلو کې ۴۲,۹ ښځو ویلي دي چې په کورني کې د مېړه او د مېړه د کورني له خوا تر فزیکي تاوتریخوالي لاندې راغلي دي چې د دې رپوټ په ۲ نمبر جدول کې یې د فزیکي تاوتریخوالي پایلې په دې ډول ښودل شوي دي. د هغو ښځو له ۷۲ تنو ښځو چې د بدن غړی یې مات شوی دی په سلو کې ۱۲,۵ او هغه شمېر ښځې چې له ۳۸ رقم تشکیلوي په سلو کې ۲,۲ همیشنۍ دی په ۲۲,۲ او ۳۳۸ تنه ښځې چې د وهلو ډبلو په وجه یې زخمونو شین توب رامنځته شوی دی په سلو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۸,۷ رقم تشکیلوي او حتی ددې فزیکي تاوتریخوالي په پایلو کې یو شمېر د جنینو د سقطیدلو سره هم مخامخ شوي دي.

❖ د ښځو تعدد یو بل لامل دی چې د مېړه له خوا د نفقې په برابرولو کې لکه کالی، خواړه، استوګنځای درمل او داسې نورې اړتیاوې د ښځو ترمنځه پکې نابرابري او تبعیض موجودی دی او یا هم دې چارو ته د رسیدلی وسه نه لري په مجموع کې په سلو کې ۲۷,۵ لو مړنی ښځه په سلو کې ۲۷,۱ دوهمه ښځه او په سلو کې ۱۸,۲ دریمه ښځه تشکیلوي ښایي وویل شي چې پر نجونو زده کوونکو باندې له کوره تر ښوونځي او د بېرته را ستیندنې په لار کې، د نامنظمې حاضري او د زده کړې د لازمو امکاناتو، د بریالیتوب او نه بریالیتوب د لاملونو، په ښوونځي کې د فزیکي او رواني تاوتریخوالي او حتی جنسي ځورونې په اړه معلومات وړاندې کېدای شي.

او د ډېرې خواشینې خبره داده چې پر ښځو باندې په روغتیا د لاسرسي په ډګر کې ډول تاوتریخوالي هم عملي کېږي چې به دې رپوټ کې یې په بېلا بېلو جدولونو کې فکتورونه او رقمونه ښودل کېدای شي.

او د ښځو د امیدوارۍ په مهال په روغتیا، په روغتیایي مرکزونو د هغوئ په لاسرسي او د جنینو د سقط والي د لاملونو په برخو کې او بالاخره د کار په چاپیریال کې هم پر ښځو د تاوتریخوالي د عملي کېدو په باب مستند رپوټونه وړاندې کېدای شي.(۱)

(۱) د ښځو او ماشومانو دحقوقو د څېړنیز نهاد خپرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هېواد به يو لړ سيمو کې پر ښځو د ډول ډول تاوتريخوالي څو بېلګې :

تاوتريخوالي لکه د يو لړ ناروغيو غوندې او سني ناولې پديده نه ده، بلکې له ډېرې پخواني زماني څخه چې بشري ټولنو کې يې شتون درلود، چې له دې جملې نه په افغاني ټولنې کې يې په شکل د شکلو ريښې درلودلې دی. هغه چې د زورواکي زياتې شتمنۍ درلودلو، علمي نيستي، له خپلو حقونو له نا آګاهي، ناوړو دودونو، پر ښځو او نارينه د برترۍ درلودلو، تبعيضونو، د مور و پلار خود کامګيو، او داسې نورو څخه يې سر چينې اخېستلې دي، چې دادي په دې ليکنه کې به د عيني او د مطبوعاتي اثارو د ريسرچ له مخې يې د هېواد په يو لړ سيمو کې څو بېلګې وړاندې شي:

### د تخار په ولايت کې :

د انيس ورځپاڼې د ۱۳۸۴ کال د ۸ /۱۷ نېټې په ۱۹ ګڼه کې د تالقانو د ښځينه لومړی نمبر ليسې د مديرې اغلې نازيه عادليار سره د مرکې په ترڅ کې راغلي دي:

زموږ په هېواد کې د وروستيو جګړو داوږدو کلونو ناورينونو زموږ د ټولنې ښځې تر ټولو زياتې زيانمنې کړې دي او له حده وتلي او له داسې پورته مصيبتونو يې تحميل کړې دي چې په دې موده کې تر اندازې ښځې زيات د ښځو حقونه تر پښو لاندې شوي دي.

د تخار په ولايت کې د يو عيني واقعيت په توګه لکه چې اسلامي قوانين او بشري قوانين ايجابوي د ښځو حقونه تر پښو لاندې کېږي يوازې د ښځو يوه ناڅېزه فيصدي چې کافي نه شمېرل کېږی په ناڅېز او نسبي ډول له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوقو څخه برخمني دي هغه هم ددې ولايت ښاري ښځې په دې دله کې شمېرل کېدای شي خو د کليو او قشلاقونو ښځې له خپلو حقونو څخه بالکل محرومې او په خواشينوونکو او ځورونکو شرايطو کې ژوند کوي او د کورنيو له خوا د ډول ډول تاوتريخوالي لکه د تعليم او تربيې، روغتيا او داسې نورو حقونو څخه بې برخې کول يې مثال را وړلای شو.

دا يو څرګند واقعيت دی چې د تخار ولايت په کليو او قشلاقونو کې د ښځو په وړاندې تاوتريخوالي او د بشري حقونو پر ضد چال چلند په ډېره بې رحمانه توګه عملي کېږي چې له دې جملې څخه اجباري ودونه، د ماشومانو او قانوني عمر ته د نارسېدلو نجونو ودونه، پر ښځو باندې هر اړخيز مظالم، وهنه، ټکونه تر فشار او شکنجې لاندې نيول، له ښوونې او روزنې، روغتيا، طبيعي او مدني حقونو څخه بې برخې توب جنسي تيرې، ځان وژنې او ځان سوزونې هغه بېلګې دي چې زموږ په ټولنه کې په تېره بيا زموږ د هېواد په لېريو پرتو سيمو او له دې جملې نه د تخار په ولايت کې په لوړه کچه او پوره پراختيا لېدل کېږي.

د اصلاح ورځپاڼې د ۱۳۸۸ کال د ۲۹ / ۱۱ نېټې د ۱۸۲۷ پرله پسې ګڼې د رپوټ په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

آقای زيدالله پيوند ، رييس دفتر ساحوی کميسيون مستقل حقوق بشر، در زون شمال شرق توضيح داد که:« در کندز، تخار و بغلان در سال روان ۱۳۸۸ هـ ش با رويکرد امار موارد مختلف پايمال شدن حقوق بشر و ايکسر برملا ساخت و ګفت تا اين تاريخ ۲۲۴موارد تحميل خشونت های عمده را که در سطح بغلان، تخار و کندز پديده آمده است که از جمله در تخار ۱۵۲ مورد تحميل خشونت عمده بوقوع پيوسته است».

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا رنګه په بدخشان کې د یو ښځې د سنګسار کېدو په اړه د ۱۳۸۴ د ثور د ۷ نېټې د یوې ورځپاڼې په حواله چې یادداشت مې ترې نه و اخېستلی او د انټرنټ دویچه ویلې له صفحې څخه په اقتباس شوی لیکنه کې راغلي دي.

د افغانستان پولیسو د یکشنبې په ورځ د ثور په څلورمه نېټه اعلان وکړو چې په دې هېواد کې یوه ۲۹ کلنه ښځه سنګسار شوی ده...

دا پېښه د بدخشان د لېرې پروت ولایت، د مرکز فیض آباد د لویدیځ د «ارغو» په سیمه کې رامنځته شوی ده او ددې حکم د صادرولو مرجع هم معلومه نه ده، خو د پولیسو یو افسر جنرال شاه جهان د فرانسې یو خبرنګار ته ویلي دي، چې سنګسار د جمعې په ورځ شوی. ده وویل چې ده ته خبر ورکړ شو چې د جمعې په ورځ یوې ښځې د زنا په تور د ملا محمد یوسف په نوم د یو ملا له خوا د سنګسار په جزا محکومه او په ارغو کې یې حکم عملي شو له بلې خوا نه د فرانسې د خبر ورکولو مرجع د رپوټ له مخې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ویندوی له خولې یو ځانګړې هییت د پېښې ځای ته لېږل شوی او ویل شوی دی چې دا ښځه سنګسار شوی نه ده بلکې د مېړه له خوا دد غه نامشروع تور په وجه وژل شوی ده.

د رویټر د اژانس یو خبریال د عیني شاهد له قوله ویلي دي چې ښځه د دولتي چارواکو او د مېړه له خوا د پلار له کوره په زور ایستل شوی او بیا سنګسار شوې ده او هغه سړي چې دا جرم یې کړی تر سلو دورو وهلو وروسته ازاد شوی دی.

د پولیسو او د بشري حقونو د کمیسیون د استازو په وینا د نوموړې ښځې مېړه چې تر پنځو کلونو وروسته نوی له ایران څخه را ستون شوی و او ښځې ترې د نفقې نه ورکولو په وجه طلاق غوښتي و خو مېړه او کورنۍ یې متوجه کېږي چې خبره په نفقه کې نه بلکې د ناوړې اړیکې په ټېنګولو کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر صورت په دې سیمه کې د دولت نماینده حاجي شمس الرحمن ویلي و که دې تور واقعیت درلودلای نو دا د عدلي ارگانونو دنده ده نه د یو ملا چې دغسې غیر قانوني اقدام وکړي.

او دا هم د خوست په ولایت کې په سپو د ښځې او ماشومانو د خوړولو د پېښې په باب د اصلاح ورځپاڼې د ۱۳۸۷ کال د جدي د لومړۍ نېټې په گڼه کې د ښاغلي حیات الله حلیم د لیکنې څخه ځو برخې:

پورتنې عنوان څخه پروپاگند نه دي بلکې هغه واقعیت دي چې د ځو شپو را په دې خوا یې داخلي او بهرني رسنۍ په پرله پسې توگه خبرونه خپروی او د هېواد ولسمشر حامد کرزي هم ددې پېښې غندنه کړي او د پراخې پلټنې حکم یې ورکړی دی. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د بشري سر غړونو د څارنې او پلټنې امر شمس الدین احمدزی په دې اړه ویلي دي:

دا د هر ډول انساني کرامت څخه لرې خبره ده او هېڅوک دی ته روا او موجه دلایل نه شي وړاندې کولای.

نوموړي په خوست کې دا پېښه د هغه چا کار وباله چې انساني کرامت او عاطفه ونه لري ماشومان ساتنې او عاطفې ته اړتیا لري نه دا چې په سپو وخوړل شي.(۱)

(۱) د ښځو او ماشومانو څېړنیز نهاد خپرونه.

## په کونړونو کې د ښځو د ژوندانه د ښه والي چارې :

لکه څنگه چې د کونړونو ولایت د هېواد یوه غرنې، له مرکزه لېرې او یوه وروسته پاتې سیمې ده نو طبیعي ده چې یې د اوسیدونکو د ژوند کچه ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټېټه او بالخاصه ښځینه قشر یې زیاتو حقونو څخه یې برخې دي، چې له دې جملې نه د ښځو د سواد او علمي پوهې کچه ډېره زیاته ټېټه او د ناوړو دودونو تسلط یې په شکل د شکلونو د ژوندانه په زیاتو اړخونو ناوړه اغېزې ښندي او په واقعیت کې د کونړ ښځینه قشر ته د ژوند په ټولو زمینو کې خدمت کول او د پراخو ستونزو لېرې کولو ته پاملرنې ته پوره اړتیا ده.

هلته په لېرېو کلیو، او د غرونو په باندو کې ښځې حتی په بد حالت کې ژوند کوي ښځې له ټولو اسلامي، طبیعي، میثاقي او قانوني حقونو څخه محرومې چې حتی په مفهوم یې هېڅ خبرې نه دي، نو هغوی ته خدمت کول تر بلې هرې سیمې زیات محسوس او تجسم یې ځلانده دي.

د کونړو د ښځو چارو ریاست چې دولت په اداري تشکیل ورته په ۱۳۸۲هـ ل کال کې ځای ورکړ شوی او په کال ۱۳۸۴ هـ ل د یوې ازادې سیالۍ (PRR) له لارې یې ټول پرسونل ټاکل شوی دی د ښځو چارو وزارت د پالیسې په رڼا کې د هغه ریاست له خوا یې رهبري کېږي.

اغلې نسیمه شفیق سادات چې د کونړونو د ښځو چارو د ریاست مشري ور په غاړه ده د ریاست د تشکیل په باب وویل:

ددې ریاست په تشکیل کې لس تنه رسمي کارمندان او څلور تنه اجیران دي او د اداري او مالي، جنسي، اقتصاد، د فرهنګي چارو، د حقوقو، جندر د زده کړې د نشراتو، روغتیا او ټولنیزو چارو په مدیریتونو کې خپلې دندې تر سره کوي چې د ټولو په سر کې د یوې کلیې په مفهوم د مطروحه ستراتېژۍ په رڼا کې د ښځو د حقونو په ښځو د تاوتریخوالي له منځه وړلو، د ښځو د ژوندانه د ښه والي، د لیک لوست، د زده کړې د ښځو د ظرفیتونو د لوړولو په برخو کې خپل فعالیتونه متمرکز کوي.

اغلې نسیمې سادات وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کونړ د ښځو چارو د ریاست د مقام له خوا ، د پرسونل لارښوونه او اداره، د مالي او اقتصادي چارو څارنه او د ښځو د ژوندانه د ښه والي په خاطر د دونرانو جذبولو ته لومړی ځای ورکړي، په اقتصادي برخه کې ولایت د مقام د انجوګانو د مرستو جلبول، د ولایت د مقام او یونیسیف (WFP) د موسسو په همکارۍ لویانو ښځو ته په مرکز او ولسوالیو کې د سواد د زده کړې د کورسونو جوړول، د ښځو، د پوهاوي لپاره او د ښځو د ظرفیتونو د لوړلو په خاطر، د یو لړ موسسو په مرسته سیمینارونو ورکشاپو جوړول د دې ریاست له مهمو دندو څخه ګڼل کېږي چې یې سرته رسوي.

د ښځو چارو رییسې په هغه ولایت کې د تاوتریخوالي په اړه وویل:

تر کومه ځای چې معلومه ده. نن سبا زموږ په هېواد پر ښځو تاوتریخوالی یو هېواد شموله ناوړه پدېده ده چې لاملونه یې په بېبخې زیاته کچه کېدل کېږي او زموږ ټولنې دا محکوم مظلوم او محروم قشر په هر اړخیزه توګه ځوروي، د کمبختیو سره یې مخامخ کوي کورني پیوندونه ورته شلوي، څرنګه چې د کونړونو خلک مسلمان، مدین او علم دوست وګړي دي او د دوئ په مرسته او ملاتړ په کومه کچه چې د هېواد په نورو ولایتونو کې پر ښځو باندې د تاوتریخوالي تجربې په پراخه کچه عملي کېږي په دې ولایت کې دا شومه پدېده بیا په هغو مره اندازه نه ده.

ښایي وویل شي چې د ولایت په لېرېو سیمو کې د تاوتریخوالي یو څه شکلونه لکه په بدو کې د نجونو ورکول، په بدل کې دودنه، د زیات ولور اخېستنه، پر ښځو باندې د شاقه چارو سرته رسول، د ناوړو دودونو شتون او نفوذ تر یوه حده د تاوتریخوالي د رامنځته کېدو له لاملونو څخه دي. د هغې احصاییې له مخې چې زموږ سره ده په ۱۳۹۰ کال کې د تاوتریخوالي کچه را ټېټه شوی او یوازې ۱۲ پېښې یې زموږ سره ثبت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمن نسیمي سادات د ولایت د اړوندو ادارو په مرسته ددې ریاست په اړوندو چارو کې د همکارۍ او همغږۍ په اړه وویل:

موږ په هره میاشت کې د ښځو چارو په ریاست کې د ولایت د مقام، ولایتي شورا، څارنوالي ریاست، ملي راډیو تلویزیون، عدلي ریاست، د یوناما دفتر، د حقوقو بشر آمریت، امنیه قوماندانی، حج او اوقافو ریاست د استازو په ګډون میاشتنۍ نوبتي غونډه او د میډیا سره ګردې میز جوړوو.

همدارنګه د تاوتریخوالي په اړه برنامې ترتیب او د مختلفو اخبارونو له لیارې یې خپروو.

په ولسوالیو او نورو محلاتو کې د جامع جوماتونو د ملا امامانو سره همغږي رامنځته کوو او په دې برخه کې د هغوئ ملاتړ را جلبوو.

میرمن نسیمي سادات په اخر کې د ریاست د اړوند ستونزو په باب وویل: ریاست ترانسپورتیشن نلري، په کافي اندازه بودجه مو نشته، د پرسونل کمښت موجود دی، په ریاست او ولسوالیو کې وظیفو ورکشاپونه نشته، زموږ وړاندیز دادی چې ددې ستونزو د لرې کولو لپاره په کار دي چې دې ګوښه ولایت ته له هره بابته دلسوزانه پاملرنه وشي تر څو ددې سیمې مظلومو او محرومو ښځو ته مو د هغوئ د ژوند د ښه والي په اړه د یو خدمت مصدر وګرځېدلای شو.(۱)

(۱) د ښځو او ماشومانو دحقوقو څېړنیز نهاد خپرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خپلواکۍ د بېرته اخېستلو په جګړو کې د افغاني مېرمنو وياړلې ونډه :

ښځينه قشر د ټولنو د نيمايي برخې په توګه د ژوندانه په ټولو ټولنيزو ډګرونو کې فعاله او حتی وتلې برخه اخېستلای شي، که زموږ د لرغونې تاريخ سندونو او مدارکو ته مراجعه وشي او يا دا چې سيمه ييزې فلکوريکې کيسې وکتل شي نو په داسې بېخې زياتې بېلګې په ګوته شي چې حتی له آريايي دورې راهيسې ښځو د نارينه وو سره خوا په خوا قهرمانانه برخه اخېستلې ده په فرهنګي، علمي ټولنيزو، په رزمي، پوځي، سياسي، اقتصادي، مذهبي او داسې نورو اړوندو ډګرونو کې يې له ځانه حماسې او تلپاتې يادګارونه په وديو پرېښي دي. چې د دې ټولو له منځه د افغان - انګليس په لومړۍ جګړه کې او تر هغې دمخه د ميوند په اورجنه سره دښته کې د انګليسي دښمن په مقابل کې هغه هم په ډېرو حساسو او سرنوشت ټاکونکو شېبو کې يعنې د ماتې او برې په حسابي مهال کې چې د يو ملت د مرګ او ژوند مساله پکې مطرح وه د پښتنې پيغلې ملالې تاريخي قهرماني په هېڅ مهال د تاريخ له پاڼو محوه او زموږ د ملي فرهنګ له ذهنه به هېره نه شي.

هو کې د ماتې خوړونکې افغاني لښکر او پر مځکه باندې د ټپي شوي بيرغچي له لاسه د لويدونکي توغ په ډېرو نازکو شېبو کې د غازيانو له منځه هغې قهرماني ملالې وروډانګل او په خپلو نازکو لاسونو يې خپل ملي توغ را پورته کړ او پر غازيانو باندې يې په مهيج او غيرت پاروونکي اواز داسې غږ وکړ.

**که په ميوند کې شهيد نه شوې**

**خدايږو لاليه! بې ننګۍ نه دې ساتينه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته دا یوه افغاني غوره عنعنه ده چې د همیشه لپاره افغاني مېړمنو په تېره بیا پښتني پیغلو د نارینه وو سره ځنګ په ځنګ د جګړو په ډګرونو کې سرښندونکی او قهرمانانه ګډون کړی دی.

دا خبره هم د یادونې وړ ده که افغاني ښځو ټوپک او نوره وسله نه کارولـه دا بیله موضوع ده خو کومه خبره چې په جبهه کې د هغې پیاوړتیا ده هغه د جبهې شانه د لوژستیکي خدمتونو سرته رسول او د تامیناتو رسول دي چې دغه عقبي خدمتونه د عسکري فن له مخې د جګړې په دوه اړخیز سرنوشت ټاکلو کې خورا زیات اهمیت لري په دې مانا که دا خدمتونه د مطروحه پلان له مخې په خپل وخت او زمان او په دقیقه توګه عملي شي بې له شکه په جګړه کې د بریالیتوب ضمانت کوي، برعکس په جګړه کې د ماتې لاملونه رامنځته کوي چې د دوهمې نړیوالې جګړې په ترڅ کې د الماني قواوو لپارد د اکمالاتي کرښو اوږدوالي او د عقبي خدمتونو په ټپه ودربدل یې ډېره ښه بېلګه راوړل کېدای شي.

د هېواد د استقلال په جګړه کې دا عقبي خدمتونه او یا لوژستیکي تامینات هغه هم د افغاني مېرمنو لپاره د ډوډۍ پخول او د اوبو په شمول هر غازي ته په مرچلونو کې له ورسولو څخه عبارت وو.

په عنعنوي توګه په ټولو جګړو کې چې د انګریزانو په مقابل کې شوی دی افغاني مېرمنو دغه قهرماني کړي او د مردکیو په باران او د اور او لوګیو په منځ کې یې په خورا وتلي سرښندنه خوراکي ټوکې هر غازي ته رسولې دی چې تاریخ به دوئ دا شهکاري هېڅکله له یاد ونه باسي په همدې نږدې کابل کې د جګړو په مهال چې انګریزې دښمن په وړاندې شوي زیات شمېر افغاني قهرمانو ښځو نه یوازې دغه لوژستیکي خدمتونه ترسره کړي حتی یو شمېر په جګړو کې سماسم ګډون کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د تاریخ په پاڼو کې دا په عیني توګه د بي بي مهرو(ع) د زیارت شتون هغه تلپاتې بېلګه ده چې حماسوي یادګارونه به یې هېڅکله هیر نه شي.

د خپلواکۍ په جګړه کې به د کونړ د ارنوۍ د جګړې یعنې محاذ چې په ځلورمه جبهه هم شهرت لري د پښتنو مېړنو د فعالې برخې اخېستنې څخه یادونه هم کیدای شي.

د کونړ په دې جبهه کې چې چترال ته نږدې پرته وه ملېشه لښکرو چې شمېر یې زرګونو تنو ته رسېده او د کونړ هغې خوا ودې خوا د سرحدي سیمو یو شمېر روحانیونو، ساداتو، قومي مشرانو او داوطلبو غازیانو پکې ګډون درلود هغوئ ته د ډوډۍ، اوبو او نورو خوراکي توکو پخول مرچلو ته رسول د پښتني مېرمنو په غاړه وو.

هغوې د کلیوالي شرایطو سره سم دغه ډوډۍ په تنورونو او نغریو کې پخولې او په شکریو او خواږه به یې په دیګونو کې او له اوبو څخه یې ډکو لوښې یې د غازیانو ډلو ته رسول البته دا عادي خبره نه ده د خوراکي موادو پخول خو پر ځای پرېږده چې د یو لښکر لپاره خورا ستونزمن کار دی مرچلونو ته د هغوی وړل خورا قهرمانانه عمل دی ځکه چې د مړینې تر پولې پورې قربانیو ته ځان ورکول دي.

باید زیاته شي چې د ښځو په دې جانانه کډون سره د نوموړي دندې تر څنګه هلته د دوئ په ورتلو د غازیانو پر احساساتو او معنوی قوت سماسه اغېزه کوله.

که له یوې خوا د پښتني مېرمنو په دې قهرماني کې د ملي جذبې، رزمي احساساتو د ازادۍ سره د مینې د جذباتو او که د دښمن په نسبت د سختې کرکې د احساساتو څخه کار اخېستل کېدای شي او له بلې خوا د دغو احساساتو له امله د ښځو حضور هم پر غازیانو سماسمه اغېزه کوله. داوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په دغه جبهه کې انګريزي قوتونه که څه هم د زيات شمېر او مدرنو وسلو لرونکي وو پـه ډېـره بـې شـرمۍ تـر چترالـه وزغلـول شـو او تـاريخي بـرې د غازيانو په برخه شو. او يو ځل بيا ثابته شوه چې پښتني مېړمنې هم پـه جګړو کې د برې لپاره لازمي زمينې برابرولای شي.

## د اميدوارۍ پر وخت د ښځو خواړه :

وايي چې: ښايي د ماشوم روزنـه نهـه مياشـتې د هغـه د زېږېدنې څخـه دمخـه پيل شي دا يو ډېر لوړ ذهنيت دی چې کلکه پاملرنه ورته په کار ده.

زموږ په هېواد کې چې له يوې خوا په ډېره ټيټه اقتصادي سويه کې پراتـه يـو او له بلې خوا د هېواد ډېرې ښځې د سواد څخه محرومې پاتې دي او دا دواړه ددې سبب کېږي چې زموږ د ټولنې ډېر زيـات ماشـومان لکـه د سـارا ګـلان را زرغونېږي او په تصادفي توګه د هر اړخيزو رنځوريو او افتونو څخه پـه امـان پاتې کيږي، او بيا دا ماشومان هم ډېر کم د پوره سلامتيا او روغـتيا څښـتنان کېږي.

اوس چې نړۍ د نور په چټکتيا الوتل غواړي نو په دغه لاره کې د ښـځو طبقـه هـم ورسـره ملګـري ده او ورځ پـه ورځ د ښـځو لـه غـاړو څخـه د غلامـي او محرومـې ځنځېرونـه شـلېږي او وينـو چـې همـدا اوس د ژوندانـه پـه چـارو او ټولنيزو فعاليتونو کې فعاله ګډون کوي.

زموږ په ګران هېواد کې د بختوره جمهوري نظام په راتګ به چې د جمهوريت موسس زموږ ملي لارښود ښاغلي محمد داود پـه افغانسـتان کې د ښـځو د نهضت منځته راوړونکي دي ډېر ژر دغه ډله د خپلو انسـاني حقونو لرونکي شي.

زموږ ماشومان چې زموږ د هېـواد او تـاريخ رښـتيانې وارثـان دي هم پـه پـوره روغـتيا نړۍ ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي لپاره چې د ماشوم روزنه مو د پورتني اصل له مخې چې ( ماشوم روزنه ښايي نهه مياشتې د هغه د زېږېدنې دمخه پيل شي ) پيل کړی وي په کار دی چې د نورو خبرو سره جوخت خوارو ته توجه وشي.

د حاملګي په وخت کې د ښځو خواړه د اهميت وړ دي او غوره داده چې دا خواړه مکلف او بشپړ وی او د سره لازمي اندازې څخه تيری ونه کړي.

اميدواری ښځې په ورځ کې کولای شي چې د ليوالتيا په صورت څو کرته خواړه وخوري په داسې حال کې چې له ميوې او سبو څخه هم ګټه واخېستل شي.

ميوې او سابه ښايي تازه او پاک وي نه دا چې اصلي اوصاف يې له منځه تللي وی. دا ځکه چې د ګټې پر ځای ضرر پېښوی او د پيچش سبب کېږي او دا ناروغي د اميدواری ميرمنې لپاره ډېر خطرناکه ده که چېرته دا پيچش له حده زيات او دوامداره شي نو په نتيجه کې اميدواری ښ ميرمنې ته دوه ضرره ور رسوي.

يو يې د جنينو د سقط سبب کېږي او دوهم يې تر ټاکلي مودې دمخه د زېږېدنې عامل ګرځي.

د اميدواری په وخت کې که د مېرمنې روغتيا ښه وی نو ښايي چې خپل عادي خواړه ژر ژر بدل کړای شي که چېرته اميدواری ميرمنې پرهيز کولو ته اړ شي نو داسې پرهيز دی ونه کړي چې د هغې د غذا اندازه کمه کړي کومه چې د يوې اميدواری ښځې لپاره ضروري ده د ماشوم په نورماله وده کې که اميدواره ښځه تازه ميوې، سابه او پروتين لرونکي مواد وخوري ښه رول لوبوي.

البته کوچ، شيدی، مستې او پيروی په زياته اندازه د پروتين درلودونکی دی د غوښو او کبانو خوړل هم د اميدواری ښځې لپاره زياته ګټه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیدوارۍ په دوی نیمې برخه کې ښایي د چرګ او یا د غوښو ښورو او خوړل شي هغې میرمنې چې له غوښې پرهیز وي په کار دی چې د سبو او حبوباتو ښوروا او د وریجو اوړه استعمال کړي.

د امیدواري ښځې لپاره شکره او کلیسم هم پوره ضروري دي باید په شپه او ورځ کې دا مواد تر ټاکلي اندازې کم نه شي په سبو کې د ګازرۍ، لبلبو او سالاتي خوړل زیات اهمیت لري.

د امیدواري ښځې د وچې ډوډۍ اندازه ښایي ۴۰۰ ګرامه وي چې ۲۰۰ ګرامه یې نشایسته او ۲۰۰ ګرامه یې سبوس وي.

په دې مرحله کې د تازه او وچې میوی او به هم ډېر ګټه لري.

د امیدوارۍ په وروستنې میاشت کې ښایي مربا باب او شکره کمه استعمال شي، او ډېر غوړي هم ښه نه دي او که خوړل کېږي د غوا شیدی، پیروی او کوچ ډېره فایده لري په دې موده کې ښایي د مایعاتو استعمالول تر دوه لیترو زیات نه شي.

ښکاره ده چې ویتامین د هر انسان لپاره حیاتي ارزښت لري خو په خاص ډول د امیدوارو او یا هغو میرمنو لپاره چې ماشومانو ته شیدی ورکوي ډېر زیات اهمیت لري، او دا ددې لپاره چې د زیږیدنې دمخه او یا وروسته د میندو وجود مختلفو مرضونو په مقابل کې تقویه کړي او معافیت ورکوي.

لکه چې پروتین لرونکي خواړه دامیدوارو ښځو لپاره ضروری دي همدا شان اولاد لرونکو میندو ته د هغو استعمال زیاته ګټه لري په دا سې موسم کې چې تازه میوې او سابه نه پیدا کېږي میندي کولای شي چې د ډاکتر د لارښوونې په اساس مربوط ویتامین له درملتونونو څخه لاسته راوړي.(۱)

(۱) دانجمن رهنمایی خانواده د خپرونې ۴۹ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مارچ اتمه د ښځو د نړیوال پیوستون ورځ :

هر کله چې د مارچ د اتمي نېټې څخه یادونه کېږي، نو خامخا د هغه چا په ذهن کې چې په دې اړه یې مطالعه کړې وي، د ۱۸۵۷م د مارچ د هغې ورځې تراژیدیکه پېښه په عین حال کې په مېړانه او اتلولۍ د حق غوښتنې د غږ د پورته کولو د خاطرې یاد ګرځي چې په بشري تاریخ کې یې د لومړي ځل لپاره د یوې تلپاتې حماسي بڼه پیدا کړه.

البته دا یو له تعجبه ډکه حادثه او فاجعه دامریکا د نیویارک د ښار د اوسیدونکو د پوره پاملرنې وړ ورګرځېدله.

پېښه په داسې ډول وه چې د یوې فابریکې کارګرو ښځو په داسې حال کې چې کارګرې کالې یې اغوستي وو د ښار له واټونو ددې شعارونو په ویلو چې موږ مناسب مزد غواړو په یوه ورځ کې لس ساعته کار عادلانه نه دي، په مارشونو تېرېدل او چې بیا کله د ښار مرکز ته ورسېدل د پولیسو د غیر انساني مقاومت سره مخامخ شول.

د دوئ سوله ییزه مظاهره په وحشیانه توګه وټکول شوه او د یو شمېر یې ونیول شول، که څه هم د حکومت دا ډول بې رحمانه چلند د نارینه کارګرانو د اعتراض وړ وګرځید خو واکمنو مقامانو ورته هېڅ ډول اعتنا ونه کړه البته دا هغه انګېزه شوه چې د څو کلونو په تېرېدلو ددې ورځې د یادولو په ترڅ کې د ټولې نړۍ د ښځو د نړیوال پیوستون د ورځې عنوان پیدا کړ او ددې مفکورې د ایجادیت او عملي کېدو افتخار په لومړي سر کې، د الماني، « کلارا زتکین» یعنې د المان د کارګري غورځنګ د ډېر پیاوړې رهبرې، او د ښځو د نړیوال نهضت د بنسټ ایښودونکې د نوم سره سماسم انتساب لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلاراز تګین تر زیاتو هلو ځلو او مبارزو وروسته په ۱۹۰۷ د سوسیالستو ښځو په لومړني کنفرانس او په ۱۹۱۰ م د سوسیالستو ښځو په دوهم کنفرانس کې په ګډون سره چې د نړۍ د اوو هېوادونو د سلو تنو په شاوخوا ښځو په کې برخه اخېستلې وه، ددې په وړاندیز د مارچ اتمه د نړۍ د ښځو د نړیوال پیوستون ورځ په رسمیت وپېژندل په یو لړ نورو هېوادونو کې د مارشونو او مظاهرو په ترڅ کې ولمانځل شوه او تر اوسه پورې د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې د خورا پرتمینو مراسمو په ترڅ کې نمانځل کېږي ښایي وویل شي چې په دې مبارزه کې د نومورې په خوا کې د الماني «روز لوکزامبورګ» نه ستړې کېدونکې هلې ځلې هم د ښځو په نړیوال تاریخ کې د لوړ مقام لرونکې دي.

مبارک دې وي د نړۍ ټولو ښځو ته د دوی د پیوستون دا بختوره ورځ.(۱)

(۱) اصلاح ورځپاڼه‌ و د ۱۳۸۷کال د حوت ۱۹ مه نېټه.

## د کورنۍ په اقتصاد کې د ښځو ونډه :

کورنۍ د ټولنې د بنسټیزې پخې ډبرې حیثیت لري، چې غړی یې د جوړښتي توکو په توګه او ښځینه غړی یې خورا مهم توکي تشکیلوي او دا یو انکار نه منونکې واقعیت دي چې بې له ښځو د شتون څخه هیڅ یوه کورنۍ جوړېدای نه شي، ښځه که په کورنۍ کې مور، خور، لور او یا انګور او مېرمن ده او هر یو یې د خپل فامیلي دریز په اعتبار د کورني په چارو کې مناسبه برخه لري، خو د دوئ په منځ کې ښځه د مور په عنوان او که مور نه وي هره ښځینه مشره د کورنۍ د سرته رسولو او سنبالښت په غاړه لري، چې له دې منځه یې اقتصادي چارې ډېر مهمې ګڼل کېږي.

ځکه چې که ښځې ته په یوه تاریخي دوره کې د موروا کي او مادرسالارۍ د مقام درلودلو افتخار ور په برخه شوی دي، خو ددې واکمنې سره سره یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ مشرتوب په غاړه درلودلی او د اقتصادي چارو په سنبالښت کې یې فعالانه او اغېزمنه برخه اخېستلې ده او د یوې عنعنې په توګه یې تر اوسه پورې دغه مسؤولیت په غاړه دي.

ښه مې په یاد دي چې یو مهال یو مامور د خپلو هم مسلکانو او همردیفانو په منځ کې د ټاکلي معاش په درلودلو د یوې مدبرې مېرمنې او د کورنۍ چارو مدیریت چلوونکې په توګه د ښار په یوه سیمه کې د کور خاوند شوی و ددې سبب دا و چې ماندینې دده معاش د یو ټاکلي او سنجول شوي حساب له مخې کاوو او د کورنیو اړتیا وو د پوره کولو په خوا کې د عاقبت اندیشۍ له مخې یې د معاش یوه اندازه روپۍ پس اندازیه کولې، د پورتنۍ موضوع له یادونې څخه دا نتیجه ترلاسه کېدای شي چې که د کور مېرمن د ورځنۍ او یا میاشتني خرڅ په لګولو کې فضول خرچي ونه کړي او د معاش او یا له نورو سرچینو ترلاسه شوی روپۍ بېځایه ونه لګوي هېڅکله به د اقتصاد ستونزه سره مخامخ نه شي.

دا یوه منطقي خبره ده چې وایي هغه لګښت چې د کورنۍ عاید په سنجول شوی لګښت کې ترلاسه کېږي په بله لاره، لاس ته نه شي راتلای.

په کورنیو چارو کې د ښځو له خوا د عاید د لګولو له لیارې د پانګې د درلودلو مانا داده چې ښایي ښځې باید فضول خرچي ونکړي، د لباس په برابرولو او د خوراکي توکو په رانیولو او لګولو کې له زیاتې خرڅې څخه ډډه وکړي.

څرنګه یو شمېر ښځې د خپلوانو او یا ګاونډیو ښځو سره د خوراک او پوښاک په برخو کې له رقابتۍ اوهم چشمۍ له چلندونو څخه کار اخلي او دا دوئ اقتصادي حالت ته سخت زیانمن تمامېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه بله موضوع چې په کورنۍ اقتصاد کې د ښځو د اغېزمنې ونډې د رلودلو اهميت په ډاګه کوي هغه د شغلونو د لرلو له لياري، په تشبثاتو کې ګډون کول دي هغه ښځې چې له کوره بهر کوم رسمي ماموريت ونه لري، نو دوی کولای شي چې د خياطۍ، خامک دوزۍ او يا نورو شغلونو په وجه په کورنۍ په اقتصاد کې خپلې ونډې اخېستلو ته تبارز ورکړي.

لکه چې څرګنده ده په کليو او قشلاقونو کې ښځې د نارينه سره د بزګرۍ چارې پر مخ بيايي، يا شپون توب کوي او يا د قالينو او ټغرو د اوبدلو له لياري د يادونې وړ عايد ترلاسه کوي که پر موضوع بحث را ونغاړل شي نو څرګنده ده چې د کورنۍ د اقتصادي څرخ په ګرځولو کې د ښځو برخه اخېستنه پوره برجسته او اغېزمنه ده او ښايي چې په هېڅ صورت کې ترې سترګې پټې نه شي.(۱)

(۱) ارشاد انسوان جريده، ۲۴ګڼه د ۱۳۹۰کال د ثور مياشت.

## د واده يو شمېر نور ناوړه دودونه :

ښځينه جنس يا قشر د بشري ټولنې نيمايي مهمه برخه تشکيلوي او د يو انسان په صفت له ټولو هغو حقونو درلودونکې ده چې يو نارينه يې لري که طبيعي حقونه دي اسلامی او يا ميثاقي حقونه دي حتی د اسلام په مقدس دين کې د نارينه په نسبت ښځې له څه زياتو حقونو لرونکې ګڼل شوي دي. چې د ميراث او مهر حق په اړه يې بېلګه جوته ده خو له بده مرغه نه يوازې د نړۍ په وروسته پاتې ټولنو کې بلکې په پرمختللو ټولنو کې ښځې د يو متاع او بازيچې په عنوان ګڼل کېږي.

دا يو څرګند واقعيت دي چې په هره ټولنه کې ښځه د هغې د مېړه او د مېړه د کورني له خوا په شکل د شکلونو تر تاوتريخوالي او ظالمانه حاکميت لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، او ددې تر څنګه يې ټول طبيعي، اسلامي او ميثاقي حقونه يې تر پښو لاندې کېږي او حتى د اخلاقي موازينو پر خلاف چلند ورسره کېږي.

چې ددې ناوړه پدېده د لاملونو په منځ کې د زياترو پېښو، سندونو او څېړنېزو مدارکو په شهادت ناوړه دودونه ستره برخه لري او د ښځو او ماشومانو دحقونو څېړنيز نهاد له خوا د څېړنيزو رپوټونو په ترڅ کې پرې تر بلې هر يو نهاد، پراخ تحقيقاتي کار شوي او د عيني شواهدو له مخې ترې په هيڅ صورت انکار کېدای نه شي او بيا ددې ناوړه او د کورنيو د پيوندونو د پاشونکو او بربادونکو دودونو له جملې نه د اجباري ودونو زيات ډولونه دي لکه په زور سره او داسې نور ودونه يې بېلې راوړل کېدای شي خو دلته به د ناوړه دودونو د واکمني او اغېزمن توب په اعتبار له هغو د دونو د واکمني او اغېزمن توب په اعتبار له هغو ودونو څخه يادونه وشي چې تراوسه پورې پرې هېڅ بحث شوی دي چې په لاندنې ډول دي:

**نذرانه ودونه :**

دا ډول ودونه هغه دي چې لور يا خور له يو مصيبت څخه د کورنۍ د يو غړي په امان او خوندي پاتې کېدنې په وجه تر هغې دمخه نذرانه کېږي او په لاندينيو پېښو کې يې بېلې وړاندې کېدای شي:

**۱.له يو مصيبت څخه د نجات موندنې په خاطر :**

ښه مې په ياد دي زموږ په کلي کې د کونړونو ولايت په نرنتهک کې چې په پخوانيو وختونو کې د توت ونو عموميت درلود او کليوال به ونو ته ختل او پاس په ونو کې يې توت خوړل، يوه نجلۍ هم چې له عمره کوچنۍ وه د توب ونې ته ختلې وه او د را کوزېدو په مهال په کې بنده پاتې شوه په دې وخت کې د کلي يو هلک چې هلته و، نوموړي نجلۍ يې له ونې را کوزه کړه، د نوموړي نجلۍ مور پلار چې هلته ولاړ و، دا چې لور يې له ونې څخه د را لوېدو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجه له صدمې څخه وژغورل شوه، دا وه چې د هلک د مور و پلار په مخکې يې نجلۍ د هغه زوی ته نذرانه او په نامه کړه بيا وروسته چې لويه شوه سره واده شول او همدا اول دواړه نيکه او نيا شوي دي.

په همدې توګه په ځينو کورنيو کې چې يې نازولې غړي ناروغه وي او يا په خپله يوه نجلۍ ناروغه وي او يا دا چې يې اولاد نه کېږي، نو د ناروغ د روغېدو او يا چې يې نجلۍ په کور کې وزېږېږي هغه نذرانه کوي او هر څوک چې يې خوښ شي د هغه په نامه کوي يې او په عامه اصطلاح سره دغې نجلس ته نذرې ويل کېږي.

**۲.د ميراث په خاطر د نجلي نومول :**

دا ډول ودونه هم په بېلا بېلو مواردو کې ترسره کېږي.

« که دوه ورونه وي او د يو نارينه اولادونه شي او د بل په کور کې نارينه اولاد پيدا شي، د زوی نه لرونکي ورور ته او يا د تره زوی ته ميراث ورکوي، نو ددې لپاره چې د ميراث ورور، يا د تره زوی ته ورسېږي، ميراث ورور خپله لور د زوی لرونکي ورور زوی يا د زامنو په نوم کوي او ودوي يې دا ډول ودونو مواردو هم زيات دي چې يوه څرګنده بېلګه يې په دې ډول وړاندې کېږي.

زمونږ په کلي کې دوه سکه ورونه وو چې د يوه درې زامن او بل چې مشر و درې لونې يې شوي، کله چې د دواړو اولادونه غټېدل سره ودونه يې کول، داوه چې د ميراث ورور د ميراث د مستحق کېدو په خاطر درې واړه لونې د کشر ورور درې زامنو ته واده شولي.

زه په خپله د همدې رواج قرباني يم زما کاکا چې ميراث و او ددې لپاره چې د هغه له ميراثه زما د کاکا نور زامن مستحق نه شي، نو پلار يې د هغه لور په بيخې زيات کوچنيوالي کې چې زه هم بيخې کوچنی وم حتی په خاړپوځو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په نامه کړه او کله چې موږ لوی شو دهغې سره زما واده وشو، ما په کابل کې تر لوړو تحصیلاتو پورې زده کړې پای ته ورسولې، خو ماندینه مې بې سواده وه او نه یوازې په سواد کې مو سره تفاوت درلود ددې تر څنګه زما د ښاري کلتور سره مینه وه او د هغه یو کلیوالي فرهنګ لرونکې وه.

ددې دواړه د توپیر په شتون سره دا چې ما د ښځو د حقوقو د رعایتولو سره خاصه مینه درلوده او ملاتړ کاوه نوم مې خپله ځوانۍ په دې خاطر یوې بې سوادې او کلیوالې ښځې د نیکمرغې لپاره قرباني کړه او ددې په ژوند کې مې دوهم واده ونه کړ.(۱)

(۱) د واقعیت مجله، د ۱۳۸۷کال د ۱۱-۱۴ میاشت.

## مور د پوهانو له نظره :

له کومه وخته چې بني آدم د حضرت آدم صفی الله او بي بي حوا په وجود کې د خاورې له جنسه نړۍ ته راغلی دی له هغه دمه، تردې دمه او تر څو چې انسان د ځمکې پر مخ خلیفه او موجود وي، تر هغه مهال به مور په بشري تاریخ کې لوړ مقام او د نمانځنې او ستاینې سپېڅلې دربځ ولرلای شي، دا ځکه چې مور ته د هغې د خلقت له وخته لوی خدای د احسن التقویم د مقام په خوا کې لاهوتي او ناسوتي خورا لوړ مقام ور په برخه کړې دي.

دا ځکه له یوې خوا انساني مفهوم د مور د مفهوم سره نه شلېدونکې اړیکې لري له بلې خوا نه د بشري نسلونو د نه غوځېدونکی تسلسل د مور د شتون پورې طبیعي تړاو لري، او همدا دلیل دی چې مور د تاریخ په بېلا بېلو پړاوونو کې د خپل دغه خورا ارښتناک مقام د لرلو له مخې د ټولو نسلونو او د بېلګې په توګه د دوئ له منځه د پوهانو، فیلسوفانو، سترو پاچهانو او د تاریخ د غورو شخصیتونو له خوا په غورو لقبونو او مفاهیمو یاده شوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د بېلګې په توګه به یې د نړۍ د یو څو تنو وتلیو شخصیتونو په ویناوو او نظریو د مور د ستاینې او نمانځنې لوړ مقام جاج وښودل شي: د «مور» تعریفونکې کلمه هغومره پاکه او سپېڅلې ده چې د بشر د ژبې په قاموس کې یې ساری نه لیدل: «هاوف» وایي:

ای د مور مینې چې له ډېرو زښتو زیاتو سپېڅلو مینو څخه یې، ستا د آسماني برم له ستاینې څخه زما ژبه عاجزه ده.

اناتول فرانس وایي:

ای مهربانې مورې! هر کله چې د خپل عمر د دفتر پاڼې د خپلو خاطرو په ګوتو اړوم او چې څومره نور هم ورپسې ورځم نو ستا نوم زیات ګورم او حتی هغسې ځای ته رسېږم چې پرته ستا له نوم څخه نور هېڅ نه لیدل کېږي.

نومړي بیا د مور د رضایت د یزداني ارزښمندۍ په اړه وایي:

مور د حق جلوه او ځلا ده، ددې رضایت د خدای رضایت دی، نو په کار دی چې ددې د رضایت له لیارې د لوی خدای رضایت حاصل کړو.

و مستر یو بل عالم مور آسماني پرېښته بولي په دې توګه دا مفهوم افاده کوي. مور آسماني پرېښته ده چې لوی خدای په موقتي ډول په رعایت سره ورته جسم ورکړی دی.

شامیسو یو بل عالم وایي چې په دوست درلودلو او نېکمرغه کېدلو باندې یوازې او یوازې مور پوهېږي نه بل څوک او د هغه نارینه په حال افسوس کوي چې په دې راز نه پوهېږي دا مفهوم به د نوموړی په دې وینا کې ګورو.

یوازې یوه مور د مینې درلودلو او نیکبختۍ په مفهوم پوهېدای شي چې دا څه دي؟ زړه مې د نارینه په حال سوزېږي چې د یوې مور نیکمرغۍ حس کولای نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبه ګورو چې ګوته یو پېژندل شوی عالم د ماشوم او د هغې تر منځه د روحي پیوستون په اړه څه ښه وایي:

هېڅوک د مور غوندې د خپل اولاد سره روح پالونکی نه دی، او هېڅ شی د مور د درناوي او سپېڅلتیا حس، د مور غوندې چې د خپلو بچو غوندې یې را نغښتلی ده پیدا کولای نه شي.

او د یو بل عالم کلویچ له نظره چې وایي:

مور حتی د هغې تر مړینې وروسته هم د نړۍ د ژوند یو موجوداتو له ډېرو سپېڅلو څخه ده.(۱)

(۱) ارشاد النسوان جریده، د ۱۳۹۰ کال دجوزا میاشت، ۲۵ګڼه.

## په لویه جرګه کې د ښځو ونډه:

د افغانستان ددې وروستیو دوولسیزو د جګړو تداوم ته یوازې د بن د تاریخي کنفرانس د پایلو او د هغې فیصلو ته د پای ټکی کېښود په دې مانا چې ددې کلیدي پرېکړو پر بنسټ د افغانستان موقتي اداري ته دولتي واکمني وسپارل شوه او ورسره جوخت په هېواد کې د ملي اضطراري لویې جرګې چې په عنعنوي شکل زموږ د ټولنې د را خبرمه ستونزه د حل کولو اغېزمنه نسخه ده د جوړېدو مسله د خپل اهمیت له مخې تجویز شوه چې دادی له نیکه مرغه د هغې د راغونډېدو پروسه د خپل تکامل وروستني پړاوونه وهي او ښایي په پوره صراحت سره وویل شي چې ددې تاریخي جرګې چې په ماهیت کې لومړۍ جرګه ده مطلوبو نتیجو ته په ملي او نړیوال کچ هر څوک په پوره خوشبینۍ سترګې په لار دي.

خو ددې ټولو په سر کې د افغانستان جګړو ځپلې، مظلومې، محرومې او محکومې کورنۍ ددې جرګې مطلوبو نیتجو ته زښته زیاته امیدواري لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځکه چې د دوئ راتلونکي سرنوشت په واقعي ډول د جرګې د فیصلو سره نه شلیدونکي غوټې خوړلې دي او بیا تر هر چا زیات په عمومي صورت چې د ګردو جنګ ځپلو قشرونو او طبقو په منځ کې چې د بن د فیصلو څخه په ملاتړ او د هغو پر مبنا د لویې تاریخي جرګې پریکونې او ټاکونکې نقش ته خاص قیمت ورکوي هغه زموږ د هېواد ډېرې ځورېدلې او رنځېدلې ښځینه قشر دی او دا له دې کبله چې تر بل هر چا د تنظیمي جګړو د غمیزو درانده بارونه د دوئ په اوږه بار و د جګړو ناتارونو له دوئ څخه مېړونه، اولادونه ورونه، خویندې او عزیزان اخېستي په شکل د اشکالو یې مادي شتمني له لاسه ورکړي او حتی په پټ او آبرو یې ناوړه لوبې شوي دی په تېره بیا زموږ د هېواد هغه ښځې چې له هېواد څخه یې د وتلو وس نه درلود او یا یې نه غوښتل چې خپل سرنوشت د خپلې مورنۍ خاورې سره وشلوي دوئ وو چې د هر اړخیزو بیوسیو، محرومتیاوو، رنځونو او جګړو مظالم یې ګاللي دي.

او لا د طالبانو د دورې د منځنیو پېړیو ژوند ته ورستنېدنو د دوی حقوق په جابرانه توګه تر پښو لاندې کړي وو د تحصیل کار او په ټولنیزو چارو کې یې له ګډون څخه منع کړی او د کورنۍ د سرپرستۍ بار یې ورته لا دروند او کمر ماتوونکی کړی و.

یا په خلص مفهوم زموږ د هېواد ښځې دلته د جګړو له ناتارونو او بې امنیتیو څخه تر بل هر چا زیاتې زیانمنې شوې دي.

او دا چې ښځه مور ده ښځه ماندینه ده او خور ده نو د ظریفانه عاطفي احساس په بنا دوئ د راتلونکې ملي جرګې څخه زیات توقعات لري او بېدریغه ملاتړ ترې کوي او تر هر چا زیات د هېواد د راتلونکي بختور برخه لیک سره خاصه علاقمندي لري لکه چې د ښځو د پورتنیو ملحوظاتو ته په قیمت ورکولو د بن د فیصلو په رڼا کې د افغانستان د راتلونکي سرنوشت په ټاکلو کې د ښځې نقش ته زیات اهمیت ورکړل شوی دی خو اساسي موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ده چې د دوئ د مظلومتيا او محکومتيا آواز هر څوک جګولی نشی او د دوئ د حقوقو د دفاع په منظور هر څوک جوګه کېدای نشي لا چې زموږ د هېواد د مدني ساحې نه ليرې په يوه ګوښه کې د يوه محکوم او مظلوم انسان په حيث ژوند کوي او په همدې توګه لکه چې لازمه ده هغې ښځې چې هېواد ته راستنېږي د يو اوږده وخت لپاره د هېواد د ښځو د ژوند سره د عاطفي رابطې په شليدو سره په هېڅ صورت نشي کولای چې د دوئ واقعي حالات درک کړي او همدا شان هغه ښاري ښځې هم د خپلو کليوالو او بانډ والو ښځو د ځورونکې بدوي ژوند څخه په کافي اندازه آګاهي نلري نو دلته دا پوښتنه رامنځته کېږی چې داسې ده نو څوک به د هېواد د ښارو څخه د هغوئ د حقوقو د دفاع آواز پورته کړي او زمه واري به يې په غاړه واخلي زما په عقيده چې لويې جرګې ته ښايي هغه ښځې ځان کانديد کړي او انتخاب شي چې له يوې خوا ورسره انساني عالي احساس او افغاني عنعنوي درونډ کرکتر موجود وي او د بلې خوا د جګړو ځيلو کورنيو څخه دې او يا ورته انتساب ولري، هېڅ ډول عقيدوي، تنظيمي، سمتې، نژادې او ژنبي ... نور تعصب ونه لري، يا په دې مفهوم چې يوازې د خپلو انفرادي ګټو په خاطر په ملي ګټو خاورې را واړوي او د ښځو د حقوقو د دفاع په آواز پورته کولو او په کاذبانه او دروغجنو وعدو ځان سياسي مدارجو ته ورسوي.

له نيکه مرغه زموږ ټولنې د تاريخ په اوږدو کې تاريخي نامتو او اتلې ښځې درلودلې دي او همدا نن د هغوی څه کمي نشته دی، خو دلته وجداني قضاوت په کار دی چې څنګه دوئ د خپلې ټولنې په منځ کې تثبيت او حق ورکړو چې په لويه جرګه کې ګډون وکړي.

بايد ووايو چې ښځې زموږ د ټولنې نيمايي برخه ده، د هېواد په سرنوشت کې سره شريکې دي او دوئ کولای شی چې د خپلو مېندو او خوېندو واقعي نماينده ګې وکړي نو دا يو زماني ضرورت دي چې په لويه جرګه کې د هېواد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو له منځه هغه ښایسته د لسوزي، د انساني عالي احساس لرونکي با اعتباره او د افغاني کرکتر خاوندی ښځې ګڼون وکړي چې د جګړو قربانې بې ورکړي وي دردمني شوی او د هېواد د پرګنو د ښځو سره کلک او عاطفي پیوندونه لري او په واقعي ډول د هغو له حقوقو نه د دفاع غږ پورته کولای شي او د راتلونکي برخه لیک ټاکلو کې نقش لوبولای شي.(۱)

(۱) ملالۍ مجله، د ۱۳۸۱ کال ۴ ګڼه.

## د انتخاباتو په پروسه کې د ښځو ونډه :

د افغانستان هر تبعه که ښځې وي که نر د موضوعه قوانینو په وړاندې مساوي حقوق لري او د هېواد په سرنوشت سازو پرېکړو کې د ارادې، نظر بې او غوښتنو د څرګندلو او د رای ورکولو د حق لرونکي دي.

له دې ځایه ښځه هم د نارینه غوندې دا حق لري چې په جرګو او لویو جرګو کې ځان کاندید کړي او یا دا چې بل چاته خپله رای ورکړي.

مګر اساسي موضوع دلته داده چې آیا له دې ټولنیز او مدني حق څخه افغاني ښځې ګټه اخېستلای شي که نه؟ البته زموږ په هېواد کې د ښځو د ټولنیز او مدني حالت په څېړلو کې پورتنۍ پوښتنې ته ځواب ورکول کېدای شي که زموږ د هېواد د ښځینه قشر حالت وڅېړل شي نو د دوئ دا حالتونه یو له بله بیخې متفاوت دی په دې مانا چې په کومه اندازه چې ښاري ښځې له خپلو حقوقو څخه دفاع او ګټه ترلاسه کولای شي بیا په هماغه اندازه د کلیو او بانډو ښځې نه یوازې د مدني او ټولنیزو حقوقو څخه محرومي دي بلکې د خپلو انساني حقونو څخه هم بې برخې او بې خبرې دي او حتی په ځینو مواردو کې د یو خاروي او یوې متاع او یا د ژوند د یوې وسیلې په توګه ورڅخه استفاده کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه شخصاً د دې عيني حالت شاهد يم چې زموږ د کونړ په غرنيو او د نورستان په سيمو کې ښځې د نارينوو درنـدې چارې لکـه دهقـاني او شپونتوب او لـه غرونو د لرګيو راوړل په غاړه لري او په مقابـل کې نارينـه د کـور دننـه سپکې چارې ترسره کوي.

دا يوه طبيعي خبره ده پـه دغسې سيمو کې چې نارينـه د سـواد او علـم څخـه آګاهي ونلري نو ښځې خو هېڅکله له دغه حياتي نعمت څخه برخمني کېدای نه شي، د هوارو سيمو ښځې هـم د سـواد او زده کـړې څخـه ډېـرې ليـرې پـاتې دي.

ممکن ښاغلي لوستونکي به را سره هم عقيده وي چې حتا د کابـل پـه ښـار کـې چې هېواد د ټولو نورو سيمو په پرته يې زياتو ښځو تعليم او تربيـه ليـدلې او د تحصيلاتو لرونکې دي او د نارينوو سره يو ځای په ښوونځيو، روغتونونو او دفترونو کې دندې لري بيا هم داسې کـورنۍ شـته چـې د ښـځو د ژونـدانـه مدني حالت يې د کليو د ښځو د ژوندانه سره دومره توپير نه لري.

نو د پورتنۍ لنډې څېړنې لـه مخـې پـه بـاوري توګـه ويـل کېدای شي چې آيـا زموږ د ټولنې ښځې څنګه کولای شي چې د هېواد پـه انتخابـاتي پروسـو کـې فعاله برخه واخلي په دولتي ارګانونو او لـوړو دولتـي بسـتونو کـې د ښـځو او نارينوو د ترکيب له مخې پوهېدای شو چې پـه دې ترکيـب کـې د ښـځو برخـه بيخې کمـه او يـا نـاڅېزه ده، چې خبـره داسې ده نـو څنګـه کېدای شي چې د نارينوو په تناسب ښځې په انتخاباتو کې برخه واخلي. او يا کوم شمېر ښځې چې د ملت د استازو او د ښـځينه قشـر پـه وکالـت ځان کانديـدوي هغـه هـم د ګوتو پـه شـمار دي او ددې تـر څنـګ هغـوئ د دريـځ لـه مخـې د نـورو محرومـو ښځو د ژ،ندانه د څورونکي حالت ستونزې او ناخوالې هېڅکله احساسولای هم نـه شي پـاتې د هغـوی د ګټـو او ارادو انعکاسـولو تـه پـورتنۍ نـاخوالې او نيمګړتياوې ددې خبرې ستر لامل دي چې د هېواد په ليريو سيمو کې او يـا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار په ځینو کورنیو کې ښځې نه یوازې ځان کاندید ولاي نه شي بلکې نورو کاندیدانو ته رای هم ورکولای نه شي البته دا هغه تاریخي تریخ واقعیت دي چې د حل لیار یې اوږده او خورا پېچلې ده، او تر هغې حل کېدای نه شي تر څو چې د کلونو کلونو وروسته د متوازن معارف د اهدافو په تطبیقېدلو سره د هېواد ټولې ښځې د تعلیم و تربیې له نعمته برخورداره او په خپلو حقوقو وپوهېږي.

خو په اوسني وخت کې ددې لپاره چې په نسبي توګه ښځو د انتخاباتو په پروسه کې برخه اخېستلې وي نو له یو ې خوا دې داسې زمینه مساعده شي چې ښځې د نارینه په اندول دومره کمې انتخاب نه شي او له بلې خوا نه، کومې ښځې چې انتخابېږي هغه دې لږ تر لږه د هېواد د ځورېدلو، محرومو او مظلومو ښځو د حالت سره هم حساسه وي او د هغوئ دردونو او آرزوګانو ته یو څه انعکاس ورکړ شي. نه دا چې د هغوئ په نامه او مدني ځورونکي حالت سوداګري وکړي او دا ځکه چې زماني واقعیتونو په ډاګه کړې ده، چې یو شمېر ښځو په دې نامه او د خپلو هم ځینو ښځو پر سرونو ځانونو لوړو دریزونو ته رسولې او حتی د هغوی حقوق یې د پښو لاندې کړي دي چې د ځینو حساسیتونو په وجه یې مثال راوړلو ته ضرورت نه وینم.(۱)

(۱) زن و قانون مجله، دوهم کال، شپږمه ګڼه.

## په لویه جرګه کې د ښځینه استازو ویاړلی ګډون :

زموږ د ګران هېواد د لویو جرګو په لړ کې دادی د افغانستان د اساسي قانون د تصویب لپاره تاریخي مهال یعنې د لویې جرګې له پېچلتیا او له تاوتریخوالی ډک بهیر تېر شو.

زموږ هېوادوال او نړیوال ددې لویې جرګې د جریاناتو پوره شاهدان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دلته نه غواړم چې د دې لويې جرګې د جرياناتو او پايلو ارزونه وکړم ځکه چې دا ډېر اوږد بحث ايجابوي، کومه موضوع چې دلته پرې غواړم يو څه بحث وکړم هغه داده چې په دې لويه جرګه کې د ښځو ګډون يعنې د هغو د استازو مشارکت په لنډه توګه وارزول شي.

د جرګې جرياناتو په ډاګه کړه چې زموږ د ټولنې ښځې هم کولای شي چې د خپل هېواد د راتلوونکي سرنوشت په ټاکلو کې فعاله او اغېزمنه برخه واخلي.

د مثال په توګه د جرګې د مشرتابه په ترکيب کې دوو مېرمنو ته هم ګډون ومنل شو، ومو ليدل چې د دغو مرستيالانو ښځو د خپلو وروڼو تر څنګه په ښه ځومره ښايستګۍ او پياوړتيا برخه واخېستله، هغه چې د ډېرو لپاره د انتظار خلاف ده همدا شان موږ وليدل چې په دې لويه جرګه کې د بيانيه وړکوونکو وکيلانو په ډله کې ښځينه استازو هم خپل افغاني شهامت او وتلې ښايستګي او پوره نوونښتونه وښودل چې حتی په نړيوال کچه ترې تود هر کلی او ملاتړ وشو.

کومه خبره چې حتی په دې تاريخي او د پوره ځانګړتياوو لرونکې جرګه کې د ښځو ګډون او فعاله برخې اخېستنې ته ځانګړې او ممتاز خصوصيت ورکړ هغه دا ؤ چې د دوئ په منځ کې لکه د ځينو نارينه وکيلانو غوندې چې ملي يووالی، افغاني او اسلامي ورورولۍ ته يې د يادونې وړ زيات زيان ورساوه او د خپلو ګروپي، تنظيمي، سمتي، ژبني او تبعيضي غوښتنو، پيشنهادونو، ګوته نيونو او د مفکورو په وړاندې کولو سره د لويې جرګې فضا چې نړيوال ورته پوره په ځار وو، بيخي زيات کړکيچن حالت او بحراني مرحلې ته ورسوله او د دې پر ځای چې د ملي مصالحو ملي يووالي، د جګړو ځپلې ولس ځوربدلی ژوند، کنډواله شوی هېواد په پام کې ونيسي او د غم ځپلو هېوادوالو په زخمونو پټۍ کېږدي، په هېواد کې د ډاډمن امنيت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثبات، ټېنګولو د بيارغاونو او نوی ټولنې د جوړونې چارو ته ارجحيت ورکړي، په نانديريو، طعنو ورکولو او د تېرو ترخو واقعيتونو په تکرارولو او په داسې ناوړو چلندونو سره يې يو له بله د ليرې والی زمينه رامنځته کړه، د ملي اتفاق پر ځای کې د عمومي نفاق اچونې زمينه برابره کړه.

مګر ښايي په پوره وياړ سره وويل شي چې زموږ خويندو وکيلانو چې تر هر وطنوال زيات يې د دې دوو وروستيو کلونو د جګړو د تراژيديو، مصيبتونو او افتونو آثار په غوښه او پوستکې احساس کړي دي په هېڅ صورت يې په دغه زهرجنه تخريبي او سبوتاژي او نفاق اچونې په پروسه کې ګډون ونه کړ.

کوم شهامت، پښتني متانت او معقوليت چې ښځينه استازو په دې جرګه حتی د ځان تېريدنې تر سرحد پورې په اثبات ورساوه بيخې بې ساری او د پوره افتخار وړ دی.

په دې جرګه کې د افغاني ښځو دا قهرمانانه، مبتکرانه، فداکارانه او وړتيا لرونکی ګډون يو ځل بيا موږ ته ډاډ راکوي چې دوی د ګران هېواد د سرنوشت په ټاکلو کې خپله ملي او تاريخي دنده اخېستلی شي، د هېواد د بيارغاونه او د نوی ټولنې د جوړونو ګردو چارو ته په پوره وړتيا او پياوړتيا اوږې ورکولای شي او له دې ملي مکلفيت او تاريخي رسالت له عهدې څخه بريالی او سرلوړی راوتلی شي.(۱)

(۱) مجله زن و واقعيت، دوهم کال، اوومه ګڼه.

## ښځه او ټولنه :

په بشري ټولنو کې د ښځې مقام ډېر لوړ او له وياړونو ډک دی او بيا مور د ستاينې او نمانځنی وړ مخلوق دی تر آدم(ع) نه تر دې مه پورې ښځه په همدغسې لوړ مقام کې وياړلی پاتې شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه نه یوازې په نړۍ کې د سترو مادي او معنوي ارزښتونو هستوونکې ده بلکې د هغو ساتونکې، پالونکې او د یوې تاریخي ودیعې په توګه تاریخ ته د هغې سپارنکې ده.

د بشري نسلونو د تسلسل هره کړۍ د ښځې یعنې مور په پستو لاسونو سره تړل کېږي ښځه د انساني تاریخ جوړونکې، د حماسو او کارنامو ایجادوونکې ده د انسان مفهوم د مور د ویاړلې نوم سره نه شلیدونکی تړاو لري که مور نه وای نو هېڅ یوې انساني ټولنې به د نړۍ پر مخ انساني ټولنې به د نړۍ پر مخ شتون نه درلودلای، علمي ودیعې فرهنګي او معنوي ارزښتونو او هنري ښېګڼې او د دا ډول شتمنیو لرونکې میراثونه به هم له « پرون» څخه«نن» او له نن څخه « سبا» ته ونه سپارل شي که مور هر ماشوم زیږوي او روزنه ورکوي هغه له ذاته او له فطرته د یو نیک بختور انسان دی او دا چې بیا وروسته ترې څه ډول انسان رامنځته کېږي دا د مور اراده او نیت نه دي.

د یو حدیث شریف مفهوم دی چې وایي هېڅ یو انسان له موره بدبخت، او شریر نه دی پیدا شوی بلکې د هغه ټولنه ده چې له هغه څخه بدبخت، مریې او شریر انسان جوړوي.

مور تر بل هر یو انسان څخه یوه مهربانه، با عاطفه، دلسوزه، بردباره او فداکاره انسان دی ښځه یوه مور، ښځه یعنی د ژوند وفاداره او همکاره ملګرې، ښځه یعنې پیرزوناکه همشینۍ په زړه پورې تمثال، ښځه یعنې په ټولنه کې یو هغسې نازولی مخلوق چې انساني ژوند ته هر اړخیز خوند او رنګ وربخښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه یعنې کور، کور ودانې او د کورنۍ وریښمین پیوند هغه کور ودانې او د کورنۍ پیوند چې د بشري ټولنو د ایجادیت او تکامل پخه تېږه او بنسټ بلل کېږي.

د تاریخ په اوږدو کې او د زمانې په بېلا بېلو پړاوونو کې ښځه د لوړو او ژورو منزلونو وهلو وروسته، بیا هم د انساني ټولنو کې د لوړ مقام درلودونکې ده د ښځې تاریخي رسالت نه یوازې د کورنۍ په پولو کې بلکې د ټولنو او حتی په نړیوالو بشري تولنو کې زښته زیات ارزښتناکه او غیر محدود اهمیت لري.

همدا ده چې ښځه د فرهنګ او تمدن په ایجادولو او تکامل کې د حماسو او ویاړونو په هستونو کې او بالاخره د تاریخ او د تاریخي ارزښتونو په منځ ته راتللو کې فعاله برخه لري تر څو پورې چې دا نړۍ ودانه وي ښځه به ژوندۍ او مور به تلپاتې قهرمانه وي نوم به یې پرتمین او د مقام به یې لا لوړ او ځلیدونکی وي.

تر څو چې تاریخ وي د هغه په پاڼو کې به د ښځې په تېره بیا د مور نوم او کارنامې به په زرینو کرښو لیکل کېږي.

او تر هغې پورې چې انساني زړه وي په هغه کې به د ښځې مینه او د مور ګرانښت موجود وي او تر څو چې د انسان په رګونو کې وینه بهېږي په هغې کې به ددې نازولې انسان د مینې او ګرانښت تودوخه وي. هغه مینه چې د انساني ژوند د بقا او پایښت یوازینې عالم پاتې وي.

د اسلام سپېڅلې دین چې یو پوره مکمل او کافي بشپړ دین دی ښځې ته په ډېر لوړ مقام او حیثیت قایل دی او د درناوۍ وړ مخلوق یې بولي، هو کې د اسلام سپېڅلې دین ښځې ته زیات حقونه ور په برخه کړي. د مورواله لوړ تاج یې ددې پر سر ایښودلی او جنتونه یې ددې تر پښو لاندې ګڼلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په کورنۍ ژوند کې په سهوې قانع کېدل :

په مطلقه توګه هېڅ مېړه او ښځه بې سهوې او خطا نه وي ځکه چې د کورني ژوند زيات مسؤوليتونه او مکلفيتونه هر اړخيز او پراخ دي او د لا پيچلو خصوصيتونو لرونکې دي، نو خامخا د هغوئ د ترسره کولو په بهير کې په شکل د اشکالو د يو لړ نيمګړتياوو سره مخامخ کېږي خو د دې لپاره چې د مېړه او ښځې په خپل منځنی مناسباتو يې ناوړه اغېزه کړې نه وي او د هغوئ د مينې، پيرزوينې، او ګرانښت د فضا خړ پړتيا عوامل يې نه وي برابر کړي ښايي چې په دې برخه کې د سالم چلند او معقولو برخوردونو څخه ګټه واخېستل شي.

که موضوع ته يو څه وضاحت ور کړ شي هغه به داسې وي. کېدای شي چې د کورنۍ ژوند په اوږدو کې که له مېړه او ښځې له يوه، په کوم مورد کې اشتباه او فراموشکاري وشي يعنې ماشومان بې سببه تهديد کړي، د يو بل په مقابل کې غير دوستانه او په بې تفاوتی برخورد وکړي. يو شي مات کړي. يو کار چې مېړه ورته ويلي وي ترې هېر شي، يا په يو شي کې سهل انګاري وکړي او داسې نور...

نو په کار دي چې هغوئ په خپلو دغو اشتباهګانو او نيمګړتياوو اعتراف وکړي او پرې قناعت ولري او ملامتيا پر ځان ومني.

بې له شکه چې دا ټول يو ډول اخلاقي شهامت دي او هغه خصيصه ده چې هره ښځه او مېړه يې لرونکې نه دي. په تېره بيا په کورنۍ ژوند کې دا يو شريفانه عمل دي او که په متقابل او دوه اړخيزه توګه ورته جدی پاملرنه وشي او رعايت شي هېڅکله به د مېړه او ښځې په خپل منځنی روابطو کې د ناوړو اغېزو عوامل رامنځته نه شي او که معموليت ولري نو کله چې د ښځې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمګړتیا او یا اشتباه سره وهي او پرې قانع کېږي او له مېړه معذرت غواړي، نو خامخا ترې هغه ګذشت کوي او هیڅ ارزښت ورته نه ورکوي.

خو که چېرته له یوه نه مثلاً له ښځې نه یوه اشتباه وشي او یا ناوړه چلند وکړي او بیا یې ارتکاب پر ځان ونه مني او یا ځان حق په جانب وګڼي او پرې ټینګار وکړ یاو که مېړه یې ورته متوجه کړي. خو هغه بیا هم په خندا سره د معذرت غوښتلو پر ځای له عصبانیت څخه کار اخلي. نو طبیعي ده چې د مېړه حساسیت راپاروي او مجبورېږي چې د هغې په شوی ناوړه عمل ګوته نیونه وکړي، او بیا هم د هغې د شله توب او انکار په صورت کې خبره مشاجرو او ترخو او حتي د کورني ژوند د متقابلو حقوقو په نه مراعاتولو پای ته رسېږي او په نتیجه کې د یوه بل صمیمانه احساسات زیان مومي او جریحه دار کېږي نو که خبره لنډه شي، ممکن دا به ومنو چې د ډېرې کوچنۍ موضوع څخه لویې خو ناوړې موضوعګانې رامنځته کېږي او دا د یو مېړه او ښځې لپاره عیب دي چې ولې په خپل لاس د خپلې کورنی د خوښۍ او نیکمرغۍ نه ډکه فضا په کرکه او بدبینۍ ککړوي.

په کورنۍ ژوند کې په اشتباه اعتراف او قانع کېدل عیب څه، لکه چې د مخه وویل شول د هغوی غوره صفت او اخلاقي شهامت دی.(۱)

(۱) هېوادورځپاڼه، ۲۳۷ ګڼه د ۱۳۸۱ کال د جدی ۱۴ نېټه.

## په امیدوارو مېرمنو کې د ویتامین سی کمښت :

په امیدوارو ښځو کې د © ویتامین کمښت د بې وخته زیږیدنې سبب کېږي هغه ښځو چې د امیدوارۍ په وخت کې او تر هغې د مخه په بشپړه توګه د © له ویټامین څخه ګټه نه وي اخېستلې نو د بې وخته زیږېدنې او د جنینو د پردې د شلیدو د خطر له زیادښت سره مخامخ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښځو د ناروغیو یو طبیبه وایي: د سي ویټامین د کلاژن په جوړښت کې د جنینو په پرده کې ونډه لري او د هغه نشتوالي د جنینو د پردې د لا زیاتو کمزورتیا لامل ګرځي.

هغه ښځې چې د دې ویټامین کمه اندازه لګوي زیاتره ورته د جنینو سره د تړلې پردې څېرېدل پېښېږي چې په بې وخته زېږېدنې پای ته رسېږي.

پوهانو د سي ویټامین د جذبولو په اړوند او د جنینو د پردې د څېرېدلو او د بې وخته زېږېدنې په باره کې په زیاتو ښځو کې ارزونه کړې ده، له دې ښځو څخه د امیدوارۍ نه دمخه او د هغې په دوهمه او دریېمه میاشت کې د ډول ډول خوړو په باب پوښتنې شوې وې چې په نتیجه کې یې په خوړو کې د دې ویټامین د کمښت اغېزه او د جنینو د پردې د څېرولو دخطر موضوع کشف کړه.

هغه ښځې چې د امیدوارۍ په دوهمو درې میاشتو کې یې ډېره کم د سي ویټامین مصرف کړي و یعنې په ورځ کې یې له ۲۰ ملي ګرامو څخه په کمه اندازه مصرف کړي و ۷۰ فیصده د جنینو د پردې د څېریدلو او د بې وخته زېږیدنې له خطر سره مخامخ شوې وې.

همدا شان یو بل عامل چې په دې برخه کې یې پوره برخه لرلې وه هغه د نشه یي موادو استعمال، عمر او د نژاد مساله ده په دغه څېړنه کې ولیدل شول چې یوازې په سلو کې ۲۸ ښځو تر امیدوارۍ دمخه د سي ویټامین په بشپړه توګه مصرف کړي دي او په سلو کې ۸۰ ښځو تر ډېرشمې اونۍ پورې مولټي ویټامین ترلاسه کړی دی.

د دې څېړنې پایلې ښایي چې تر امیدوارۍ وروسته د ویټامینونو مصرفول د جنینو د پردې د څېرېدلو او د بې وخته زیږېدنې د خطر د مخنیوي لپاره بسنه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې پوهان په اتفاق سره ښځو ته دا سپارښتنه کوي چې ښايي تر زيږېدنې نهه مياشتې دمخه خپلې مطلوبې زيږېدنې او د سالم ماشوم زيږېدنې ته په غور سره پاملرنه وکړي.(۱)

(۱) هېواد ورځپاڼه، ۱۳۸۱کال د جدی دريمه نېټه.

## ښځه او عصبانيت :

ښځه په طبيعي خلقت کې د عاطفي خصوصيتونو او غريزو يوه په زړه پورې بېلګه ده کله چې د ښځې نوم اخېستل کېږي د سړی ستر ګو ته د هغې د مقبوليت تر څنګه د هغې ښځينه مظاهر لکه مينه، مهرباني، ګرانښت، دلسوزي او په زړه پورې خوږوالی نيغ ودرېږي. همدا وجه ده چې زشتې او بد خلقه څېره د هغې ښځينه زړه وړونکې ارزښت له منځه وړي.

بدخلقي، عصبانيت او تريو تندي د هغې ظريفانه صبغه په ګردونو پټوي د ښځې عصبانيت هغه اور ته پاتې کېږي چې په يوه شيبه کې د کورنۍ سالمې فضا ښېګڼې سيزي او د کورنۍ په ماحول کې د کرکې، بدبينې، خواشينۍ، نوميدۍ او بيزارۍ زهر شندي.

دا د هوښيارې ښځې خاصه نه ده چې په کوچنۍ خبره محترقه شي، د مرچو په څېر کښېنې او په ژبه زهر واچوي او د کورنۍ وچ او لامده له يوې مخې لولپه کړي. زما په نظر کې کومه ښځه چې له عصبانيته کار واخلي، محترقه شي، د کورنۍ غړو ته په بدو ردو پيل وکړي.

يو شی پر بل ووهي، خپل ماشومان په وهلو، ټکوولو ويده کړي، بالاخره پيريان پر ځان راولي، خپل سر له ډاګې ډاګې ووهي، خپل ويښتان وشکوي بې له شکه پر ته له دې چې په يوه شېبه کې يې د کورنۍ عادي وضع ګډه وډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بحراني کړي وي بل څه به نه يې نه وي کړي. او طبيعي ده چې ښځه په کورنۍ کې په دې محشر جوړولو سره د خپل ميړه په ذهن د قهر او غوسې غشي وروليي، د هغه عواطف جريحه دار کوي او په زړه کې ورته د کرکې او بيزارۍ احساس ايجادوي او که د ميړه له خوا د هغې ارامول کومه نتيجه ور نه کړي او هغه خپل ليونتوب ته دوام ورکړي، بې له شکه ددې حادثې عواقب به ډېر ناوړه او خطرناک وي. نو د کورنۍ ژوند سپارښتنې حکم کوي چې ښځه بايد تر هر څه بردباره، حوصله منده او مهربانه وي او هېڅکله د پېښو سره په غير مسوولانه برخورد سره د خپل عصبانيت په وجه د کورنۍ د نيکمرغۍ درمن ته اور وانچوي او د کورنۍ سرنوشت برباد نه کړي.

## نوي و ميندو شويو ته څو مشورې :

که چېرې ستاسې تيونه «سيني» د زېږېدنې په لومړيو ورځو کې شيدې ونه لري او يا ستاسې ماشوم له شيدو خوړلو ډډه کوي، نو مه نااميده کېږئ، په دې مرحله کې له يو سلاکار سره مشوره وکړئ ځکه تجربو ښودلې چې د شيدو ورکولو او شيدو خوړلو په اړه د سالمو مشورو د عملي کولو په صورت کې دا نيمګړتياوې لېرې شوي دي په دې مرحله کې مور او ماشوم دوه ډوله ستونزې لري.

يا دا چې د مور د تيو سرونه هوار وي.

او يا خو د ماشوم ژبه په کافي اندازه لوړه نه وي تر څو د مور سينه پرې ورودلی شي.

دلته ښايي تيو ته پوست پوښ وروا غوښتسل شي چې د تيو سرونه را پورته کړي شي او ماشوم ته بايد د سيني رودل هم ورزده کړي شي. بې له شکه تر يوې مياشتې به دا تجربه مثبته نتيجه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څرګنده ده چې په ټوله نړۍ کې له يوې تر څلورمي برخې پورې ميندې د زيږيدنې په لومړي اونۍ کې خپلو ماشومانو ته د شيدو ورکولو په برخه کې ستونزه لري او زياتره شکايتونه يې د سينې د سر له خوږو د ماشوم د تي د نه ردولو ، د ماشوم د وزن د کمښت او د مور د شيدو ورکولو د څنډ له امله دي، خو طبي سلاکارانو د ميندو او ماشومانو ددغو ستونزو د ليرې کولو لپاره لازمي مشورې وړاندې کړي دي بې له شکه ددې ډول ميندو لپاره ډېره نږدې او اغېزمنې سلاکاري، هغه زړې ميندې دي چې په دې او نورو برخو کې زياتې ګټورې تجربې لري او د ميندو سره ددې ډول ستونزو په ليرې کولو کې په زړه پورې مشورې وړاندې کولای شي.(١ )

(١ ) هېواد ، ۵۷ګڼه، ١٢٨سد ، ١٣٨١ کال.

## ښځه د پوهانو له نظره :

هېڅ ژوندي مخلق بې له مور او پلار نه پيدا کېږي خو د مور مقام ځکه لوړ دی چې د اولاد په زيږولو او روزلو کې يې ډېر زيارونه او دردونه ګاللي دي.

همدا وجه ده چې په ټولو اديانو کې د مور مقام ته سر ټېټ شوی ستاينه او درناوی يې شوی دی.

د انجيل په مقدس کتاب کې د مور او پلار درناوي ته داسې ارزښت ورکړل شوی دی. « د مور او پلار درناوی وکړئ په هغه ځمکه کې چې پاک خدای ستاسو په برخه کړې ده ستا عمر به زيات شي».

مور د انسان د شخصيت جوړوونکي ده لکه چې جان راسکين وايي :

زما مور زما د شخصيت په جوړولو کې د بادونې وړ اغېزه لري.

هېڅ اولاد بايد د مور د ناپايه احسان کفران ونه کړي او د هغې حق ادا کړي په دې باب نيکلسن وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر هغه څه چې مې هڅه او هيله ده هغه دا چې بايد د پربښتې صفتي مور د احسان پور وړی يم.

د مور په لاس د ماشوم د زانګو زنګول د جهان خوزول دي، دا علمي خبره: د زياتو پوهانو له خولې د عباراتو په کم توپير سره راوتلې ده لکه چې د «د بليو او آر والاس» هم وايي هغه لاس چې زانګو زنګوي، په نړۍ واکمني کوي.

د مور مينه او محبت او ګرانښت بې پايه دي، توصيف او تعريف يې هم ډېر ګران دی همدا ده چې د مور مقام په زړونو کې دی لکه چې وايي:

مور د ماشومانو د شونډو پر سر او د هغوی په زړونو کې ځای لري (ويليام. ام. تاکري).

هر ساز ډېر خوږ دی خو هغه ترنم چې د مور په للو للو کې دي ساري نه لري او د خوب جهان ته يې بيا يې لکه چې يو عالم هنري وارد بيچر وايي: د مور په للو ماشوم په زانګو کې په زړه پورې خوږه فضا کې قرار لري او يا دا چې اليبرابت چيپس وايي:

زانګو مې وزنګوه مورې تر څو چې ويده شم زانګو وزنګوه !(۱)

(۱) ملالۍ مجله، د ۱۳۸۲ کال د وري مياشت، ۲ ګڼه.

## د نړۍ دوه پر درېيم ړانده ښځې دي :

د نړي پر کچه د نړيوالو څېړنو مقايسه ښايي چې د ړوند والی اخته توب په ښځو کې تر نارينه وو زيات دي او د کليو او سيدونکی هم د ښاريانو په پرتله زياتره په ړوند والی اخته کېږي.

د ښځو په هکله دا سې خيال کېږی چې د هغوئ ډېر زيات ټيټ ټولنيز موقعيت په بېلا بېلو ټولنو کې د نرانو په انډول د هغو تر سلو زيات ړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

والی پورې تړاو لري د یوې نړیوالې څېړنې پر بنسټ په ګوته شوی ده چې ړوند توب له نېستي سره سماسمي اړیکې لري.

د بېلګې په توګه د امریکا په هېواد کې د شتمنو پر نسبت بېوزلی خلک په سلو کې د برش په ړوندوالی اخته کېږي همدا شان په زیاترو وروسته پاتې هېوادونو کې ښځې په سلو کې ۴۰ تر نرانو زیاتې په ړوندوالی اخته دي.

البته په صنعتي هېوادونو کې هم احتمال شته چې په سلو کې تر ۳ زیاتې ښځې د نرانو په انډول په ړوند والی اخته شي.

له بلې خوا نه د ښځو د ژوند ډېر ټیټ شرایط او نیمګړی زده کړه هم د ړوند والی د خطر د یوه عامل په توګه مطرح ده. په سلو کې زیات ړوند والی په چین – هند او افریقا کې لیدل کېږي چې په دې منځ کې یې کلیوال د ښاریانو پر نسبت دوه برابره د ړوند والی سره مخامخ کړی دی.(۱)

(۱) هېواد ، ۳ګڼه، ۱۳۸۲/۱/۵ کال.

## په تخار کې ښځې د زور زیاتی په لمبو کې :

افغاني ټولنه د نړۍ وروسته پاتې ټولنې په توګه د بشري حقونو د رعایت په برخه کې یو لړ زیاتې ستونزې لري چې دغه ستونزې د اقتصادي پلوه د هېواد د وروسته پاتي والي، د ښوونې او روزنې او د علم له نعمت څخه د بې برخې توب، د ناوړو او ناغورو عنعنو او رواجونو د پریکونې حاکمیت او اغېزمن، د انسان د طبیعي، مدني او بشري حقونو څخه د نارینو او ښځو د خبرتیا د ټیټې سطحې څخه سرچینه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید وو ایو چې د بشري حقوقو نه رعایت او نه درناوی په ټول هېواد کې په یوه کچه نه دي، ځینې ولایتونه او سیمې تر نورو څخه په لوړه درجه کې قرار لري.

د ښځو په وړاندې د زورزیاتی کرکجنه او ناولی پدېده چې په پوره اندازه پکې بشري حقونه تر پښو لاندې کېږي او د انسان لوړ مقام او خدای بخښلی کرامت ته سپکاوی کېږي چې نن سبا یې په ټول هېواد کې بېلګې لیدلای شو، چې دلته د دغو پېښو یو څو بېلګې د تخار په ولایت کې ګورو، هغه چې د یوې مرکې په ترځ کې د تخار ولایت د ښځو چارو رییسې محترمې رزم ارا حواش یې معلومات ورکړي دي.

د ښځو چارو محترمې رییسې د یوې پوښتنې په ځواب کې وویلې:

لکه چې څرګنده ده په افغانستان کې د تباه کوونکو جګړو د ناورینونو له کبله د ښځو پر حقوقو باندې ډول ډول تیری سرته رسېدلی او د هغوی انساني مقام او پتمنی ته د یادونې ور سپکاوي اړول شوي دي، لکه چې د نږدې یو کال په اوږدو کې پر ښځو باندې د تاوتریخوالي او د هغوی پر حقوقو د لیریو په اړوند تر ۲۰۰ زیاتې فقرې د عریضو په توګه د تخار ولایت د ښځو چارو ریاست ته وړاندې شوي دي چې ډېر لوړ رقم ښایي.

محترمی رزم آرا حواش د خپلې ادعا د ثبوت لپاره یو څو یې د مثال په ډول داسې معرفي کړې؟

- «ګ» نومې یوه ۶ کلنه نجلۍ چې په اجباري ډول یو ۳۰ کلن سړی ته واده شوی او اوس چې د ژوند په چارو پوه شوې نو د کورنۍ د تاوتریخوالی له امله د خپل مېړه سره د ژوند دوام نه غواړي.
- «ف» نومی یوه ۱۳ کلنه نجلۍ چې ۳۵ کلن سړی ته په زور واده شوی چې اوس د هغه سره ګډ ژوند نه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ۱۲ کلنۍ ( ر ) نومې نجلۍ د کورنۍ د زور زیاتي او له تحمله پورته فشار په وجه له کوره تېښتې ته مجبوره شوه او د ښځو چارو ریاست ته یې پناه راوړې ده.
- ( م ) نومې یوه مېرمن چې د ترور د زامنو او د ترور د لور د مېړه له خوا په ډله ایز ډول تر جنسي تیرې لانديې راغلې ده.
- یوه نهه کلنه نجلۍ چې د یو خپل سره واده کېږي که څه هم مېړه یې له خپلوانو څخه ؤ بیا هم د دوئ د نه توافق له مخې ورځ په ورځ پرې د مېړه له خوا تاوتریخوالی زیاتېږي تر څو چې څلور کاله وروسته پرې بن راولي او د هغې ژوند له بده بتره کېږي او داسې حالت ته رسېږي چې په کور کې د یو بې ارزښته متاع بڼه نیسي. له ډېرو شکنجو او فشارونو په وجه ولسوالۍ ته عارضه کېږي، ولسوالي یې له مېړه تعهد اخلي چې نور به ددې په نسبت له تاوتریخوالي لاس اخلي، مګر له هغه ځایه د راوتلو سره سمه یې په ردو بدو ویلو او وهلو شروع کوي.

دا چې ګواکې د ناوړې عنعنې خلاف عارضه شوې ده، نو د کورنۍ ټول غړي پرې د ډول ډول شکنجو نظریې ورکوي، پښې او لاسونه یې تړي او په سره کړي سیخ یې داغوي او غوږنې ورته په امبور رانیسي، درندی چارې پرې اجرا کوي، څو ځلې یې د ځان وژنې هڅه کړېده. خو بریالۍ شوی نه ده، تر اوسه پورې د اولاد مور شوې هم نه ده، له کوره یې بهر هم نه پرېږدي، نوموړي وایي که د مور د عریضې په واسطه چې د ښځو چارو ریاست ته یې مراجعه کړی د مېړه له خوا طلاق ورنه کړ شي نو پرته د ځان وژنې بله لاره ورته نه ده پاتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخار د ښځو چارو رییسی محترمی رزم ارا حواش په ډېره خواشینۍ سره په هغه ولایت کې د ښځو په نسبت د اسلامي او انساني ضد د یو ډېر کرکجن او شرمناک عمل په باب داسې وویل:

-یوه ۵۵ کلنه ښځه د یوې نهایت جانې ډلې په واسطه له کوره اېستل کېږي او ۱۳ تنه پرې جنسي تیری کوي، نوموړې دوې ورځې بې هوښه وه او تر ۸ ورځو پورې د خوځېدو نه وه، تر هغې چې د ښځو چارو ریاست ته راوړل شوه، له معاینې او درملنې وروسته خپلې کورنۍ ته ستنه شوه، یوه اونۍ لا تېره نه وه چې بیا د هماغو جنایتکارانو ۱۲ کسیزې ډلې پرې جنسي تیري وکړو ... او بیا د مرګ تر پولې ووهل شوه. ۸ ورځې وروسته روغتون ته یو وړل شوه او له هغه ځایه د ښځو چارو ریاست ته راوستل شوه.

که څه هم ددې پېښې په اړوند قضیه د ولایت مربوطو ارګانونو ته محول شوې ده، خو زما په عقیده هغو جانیانو ته به هیڅ سزا ورنه کړ شي.

په پای کې محترمې رزم ارا حواش وویل:

چې تر خپلې وسې پورې به په هر وسیله چې کېږي د ښځو په وړاندې د بې شمېره تاوتریخوالي او په دې ولایت کې د بشر دحقونو د تیرو پېښو لاندې کولو د مخنیوي په لار کې په خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي.(۱)

(۱) دحقوق بشر مجله، دربیم کال، اتمه ګڼه، د رازقي نړیوال مرکه.

## د مور عاطفي مقام :

هر انسان چې کله نړۍ ته سترګې وغړوي او په نړۍ کې د دوهم پړاو ژوند ساه واخلي نو تر هر چا چې لومړی څوک وپېژني هغه یوازې او یوازې مور ده او نه یوازې دا مور خپل نازېږېدلی ماشوم د نهو میاشتو په اوږدو کې په خپل نس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ګرځولو ډېرې زياتې ستونزې ګالي بلکې په دغه موده کې يې د خپل وجود د وينې په يوې برخې تغذيه کوي... نو حق لري چې مور ته د مينې او ګرانښت د مجسمې، د مهربانۍ، پيرزوينې او خوا خوږۍ د تمثال او ناپايه ښيګڼو د سرچينې نومونه ورکړ شي.

همدا لامل دی چې د يو واقعي انسان په توګه د مور مقام هغو مره لوړ دی چې ستاينه يې اسانه خبره نه ده او انسان يې له پالنې څخه عاجز دی، تر هغې چې اولاد پر ښو بدو پوهېږي د خپلې جسمي ودې او ذهنۍ تکامل پړاوونه تيروی مور يې يوه زړه خوږۍ ملاتړې او رښتينی مدرګاره ده. مور ته له دې پرته چې د لوی خدای له خوا ملکوتي مقام ورکړ شوی د هغې رضا د خدای رضا او جنت د مور تر پښو لاندې بلل شوی. د نړۍ د پوهانو او سترو شخصيتونو له خوا ددې د ډېر ستر شخصيت او زښته لوړ مقام په باب نظر يې وړاندې شوې دي چې هر يوه يې، په دې اړه لکه د ناپليون خبره «مور په يوه لاس زانګو زنګوی او په بل لاس نړۍ» په بشري حافظه کې لکه د کاڼي کرښه حک پاتې دي او تر څو چې نړۍ وي تاکونکي اهميت او اغېزمن ارزښت له لاسه نه ورکوي.

هوکې ! د داسې لوړ مقام په درلودلو سره د مور ستاينه د انسان له وسې نه بهر خبره ده لکه چې وايي: «د مور کلمه هغومره سپېڅلې او ښکلې ده چې د بشريت د ژبې په قاموس کې يې ساري نه ليدل کېږي».

«و. هاوف» مور ته په خطاب کې وايي: «ای مهربانې مورې ! د زښتو زياتو سپېڅلو مينو څخه يې، ستا د اسماني عظمت له ستاينې څخه، زما ځمکنۍ ژبه بېوسې ده. هر انسان د مينې او محبت مفهوم په يو شکل سره تعريفوي او تفسيروی او د هر چا د مينې کچه يو له بله سره ښکاره توپيرونه لري، خو په دې ټولو کې د هغې مينې مدارجو ته رسيدای نه شي چې د مور سره د مينې رښتيانې جاج ترې اخېستل کېدای شي. په دې اړه د نړۍ يو پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

« شامپسو » څه ښه ویلي دي « یوازې یوه مور کولای شي وپوهېږي چې ګرانښت او نیکبخت کېدل څه شی دی؟ څومره زیات مې په نارینه زړه سوځي چې د مور خوشبختي احساس کولای نه شي...

هو کی ! دا واقعیت په یوه پښتو متل کې څومره ښه توجیه شوی دی چې وایي « د مور زړه په اولاد دی او د اولاد زړه په تېږه».

« ګوته» د نړۍ پېژندل شوی او عالم شخصیت د مور د بې ساري لوړ ملکوتي مقام په اړه چې یې د عروج څوکې ته په کتلو د انسان له سره خولۍ لویږي دا سې نظر په وړاندې کوي: هېڅ شی د مور په اندازه د خپل اولاد سره روح پالونکی نه دی او هېڅ شی د هغی مور په اندازه زمونږ د درناوی، عزت او تقدیس حس ویښولای نه شي.

چې د خپلو بچیانو سره یې احاطه کړې دی. « انسان چې د خپل عمر په هره مرحله کې وي حتی که د پلارولۍ او نیکه مقام ته رسیدلی وي، د مور په نسبت قدر شناس او حق پېژندونکی وي بیا هم د مور سره مینه لري او د ځان د هغې د حقونو پالونکی بولي او د قران مجید د احکامو له مخې د هغې په مقابل کې چې ګوندې وریښمین زړه یې د اولاد د غیر عاطفۍ چلند له بابته ونه ځوریږي.

اف قدري هم نه کوي راشي د پورتنۍ ادعا مصداق د نړۍ د یو بل ستر شخصیت اناتول فرانس په لاندې وجیزه کې وګورو : « زه پنځه د برش کلنۍ ته رسیدلی وم، یو ځل هم شوی نه دی چې کور ته زما تر راستنیدلو دمخه مې د مور سترګو ته خوب ورغلی وي» خو کاشکې چې هر اولاد د مور دا احساس درک کړي، د بچیانو په نسبت د هغې د ګرانښت پته ولګوي، مقام یې وپېژني او د هغې د درناوي او سپېڅلتیا لپاره د یوې واقعي حقدارې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه ورته د ستاینې او نمانځنې په خاطر سرتېټ کړي او جنت د هغې تر پښو لاندې ولټوي(۱)

(۱) هېواد ، **۱۳۸۵**د جوزا **۲۴**.

## په هرات کې د یوې نجلۍ وژنه :

د هرات په ښار کې د یوې پیغلې نجلۍ د جسد موندنه ددې ولایت د ښاریانو د اندېښنې لامل شو او د هغوئ خبرداری ورکړی دی که چېرته دا ډول پېښې تکرار شي نو خپلې لوڼې به کورسونو او حتی ښوونځیو ته ونه لېږي.

خو امنیتي چارواکی ادعا کوي چې هلته امنیت تامین دی او هغوئ به د **۴۸** ګړیو په اوږدو کې ددې نجلۍ قاتل ونیسي.

د **۱۷** کلنې نجلۍ سعیدي جسد د سلواغې په **۱۵** نېټه د هرات ولایت د امنیه قومندانۍ د ځواکونو په واسطه د ولایت له مخامخ پارک څخه موندل شو او د پولیسو او ددې نجلۍ د کورنۍ په وینا نومړې د کرندي په واسطه د سر له برخې وژل شوی ده او له کوره له وتلو څخه یوه ورځ وروسته ورکه شوې ده.

ددې نجلۍ پلار سید سرور سادات پژواک ته وویل: «زه په خپله په اسلام قلعه کې کار کوم او کله چې له کاره راغلم نو ماندینې مې راته وویل چې لا تر او سه پورې سعیده له کورسه نه ده راستنه شوې او بیا کله چې زه کورس ته ورغلم هغوې وویل چې سعیده د مازپښین تر **۳** بجو پورې همدلته وه».

نومړې زیاته کړه: چې امنیتي مسؤلینو د شپې په **۹** بجو ورته خبره ورکړ چې د سعیدي جسد یې د ولایت له مخامخ پارک څخه موندلی دی مګر ضیأ الدین محمودي د هرات ولایت امنیه قوماندان پژواک ته وویل: د نجلۍ پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادعا کوي چې لور يې په کورس کې ده. خو د کورس مسؤولين وايي چې دا انجلۍ درې ورځې کېږي چې کورس ته نه وه راغلې».

دا په داسې حال کې دي چې د هرات د شېږمې ناحيې او سيدونکې چې دا نجلۍ پکې اوسېږي، ګواښ يې کړی دی که چېرته د دې ستونزې ته يې رسېدنه ونه شي نور حاضر نه دي چې خپلې لوڼې د درسونو لپاره ولېږي.

**۴۳** کلن غلام سخي چې د دې ناحيې اوسيدونکی دی وويل: «که چېرته زموږ د اولادونو ژوند په خطر کې وي موږ به پرې نږدو چې زموږ لوڼې د سعيدي په برخه ليک اخته شي».

**۴۵** کلنه بي بي ګل د دې ناحيې يو بله ښاري څرګنده کړه: «زموږ امنيت تامين نه دی او دولت تر اوسه پورې قاتل نه دی پيدا کړی که چېرته داسې بې امنيتي وي زموږ لوڼې به څنګه وکړای شي چې په ارامه زړه درس ووايي».

امينتي مسؤولينو د څرګندونې له مخې د هرات د عامې روغتيا د رياست د تاييد له مخې دا انجلۍ تر تيرې لاندې نه ده راغلې.(۱)

(۱) واقعيت مجله، لومړی کال، لومړۍ ګڼه.

## په هېواد کې د ښځې د لوړ مقام نمانځنه :

د ښځې د وتلې شخصيت او لوړ مقام نمانځنه، د ښځې د نړيوال پيوستون له ورځې يعنې د مارچ له اتمې نېټې څخه په پرتمين ډول پيل کېږي. هغه د مارچ اتمه نېټه چې يا د ۱۸۵۷م کال راهيسې د امريکا د نيويارک په ښار کې د ښځينه کارګرانو له تاريخي جانبازانه پاڅون څخه يې مبدا اخېستلې ده او ورسره جوخت د دوو الماني ښځينه مبارزو او قهرمانو شخصيتونو يعنې کلارازتکين او روزالو کزامبورګ د وياړليونو مونو سره نه شلېدونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکې لري او بیا د زمانې په تېریدلو سره یې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې یو د بل پسې په شاندارو مراسمو او مارشونو نمانځنې پیل شوې.

اما افغانستان د نړۍ له ډېرو زیاتو وروستنیو هېوادونو څخه و چې د ښځې د دغې پرتمینې ورځې نمانځلو ته یې اقدام وکړ... یعنې د هېواد د ژوندانه د هر اړخیز اړخونو په ټولو ډګرونو کې د زمانې د غوښتنو سره سم د نووښتونو سره د افغانستان د ویاړلې تاریخ د ځلیدونکي څپرې پر سر د نه ښکته کېدونکي تاج غوندې عصر وتلي شخصیت د اعلیحضرت امان الله خلاقیتونه د پوره ویاړنې وړ دي.

چې یو یې هم د هېواد د ښځو په ټولنیز سیاسي، فرهنګي او مدني ژوند کې د خلاقانه بدلون راوستل دي.

هغه مهال چې اعلیحضرت امان الله خان پاچا شو او له انګلیسي دولت څخه یې د هېواد خپلواکۍ واخېستله، نو دده په عقیده دده د نورو پلانونو تر څنګه په افغانستان کې کورني موجود نظام یو ډول مربي توب و او دا ځکه چې په دې وخت کې د افغانستان په ځینو سیمو کې ښځې د پېسو په بدل کې خرڅېدلې او له همدې کبله ښځه مجبوره وه چې د مېړه د ټولو مظالمو مظاهر وګالي نو دا وه چې په ۱۹۲۰ م کې یې له ښځو څخه د ملاتړ په خاطر د خپلې خور (کبري جان) په سرپرستي یوه ټولنه تاسیس کړه او نوموړې ته یې دنده ورکړه چې ښځې وهڅوي چې د خپلو مېړونو د بې عدالتۍ په وړاندې اعتراض وکړي لکه چې د پغمان جشن په مراسمو او داسې نورو محفلونو کې یې ښځې وهڅولې چې د خپلو مېړونو د مظالمو او تاوتریخوالي په مقابل کې سرسختانه مقاومت وکړي.

ددې موسسې په چوکاټ کې د ارشاد نسوان په نامه یوې جریدې هم په ۱۳۰۰ هـ ل د ملکې ثریا په مدیریت په خپرېدلو پېل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان د ښځو د نهضت د ودې په مقابل کې د خنډونو لرې کولو ته د ښځو تشویقول و د ښځو مشروعه او دموکراتیکه آزادی د اعلیحضرت امان الله خان په نزد د پوره اهمیت ور وه او دا ځکه چې په شعوري او آګاهانه توګه یې په هېواد کې د ښځو نهضت رامنځته کړ او دا کار یې د لومړی ځل لپاره له خپلې کورنۍ او له درباره پیل کړ، چې ملکه ثریا د اعلیحضرت امان الله خان ماندینه او د افغانستان د ژونالیزم د پلار محمود طرزي لور د دې نهضت په سر کې ولاړه وه.

متاسفانه د اعلیحضرت امان الله خان له زمانې را وروسته د محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ تر وخته پورې د ښځو د غورځنګ د ودې او پرمختیا په لار کې هېڅ ګام پورته نه شو تر څو چې په ۱۳۲۰ هـ ش کې د ښځو نهضت یو څه وده وکړه او د یوې عینې ټولنیزې اړتیا له مخې په ۱۳۲۵هـ ل د هېواد د ښځو د سیاسي، فرهنګي او ټولنیزې کچې د پورته بیولو په خاطر د ښځو موسسه یعنې د میرمنو ټولنه بیا تشکیله شوه، په لومړي سر کې هغه نجونې چې چټې پیغلې (د پاخه عمر درلودونکي) وي. د دې ټولنې په مسلکي لیسه کې منل کېدلې.

د میرمنو ټولنې په دې مسلکي لیسه کې چې د «مستوراتو» په نامه یادېدله پر عمومي مضمونونو سربېره، تایپ، د لاس ګنډنې صنعتونه هم تدرېس کېدل.

د دې ټولنې د مېرمن د مجلې په نوم یوې مجلې فعالیت کاوه چې په هره میاشت کې یوه پلا خپرېدله.

د میرمنو ټولنې ریاست د معمول له مخې د پاچاهي کورني د یو غړي په غاړه و چې په افتخاري توګه یې دا دنده پر مخ بیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې د پاچاهي نظام د طبقاتي نظام د ماهيت په بنا د مارچ د اتمې ورځې په ځای د جوزا ۲۴ نېټه د مور د ورځې په نامه په خورا شانداره مراسمو نمانځل کېدله.

ددې ورځې د نمانځلو په مناسبت د شعر، نثر، داستان کانکور په کار اچول کېده او هر يوه ممتاز او جايزه وړونکې اثر درې (۱-۳) نقدي جايزې او تصديق ليکونه ورکول کېدل، ددې په خوا کې د ټول هېواد په کچه درې تنه ممتازه ميندې د غوره شوو معيارونو له مخې انتخابېدلې له نيکه مرغه زه په خپله د پښتو د شعر لومړي جايزه وړونکې وم او د والاحضرتي ميرمن خاتول له خوا راته لومړي درجه نقدي جايزه او تصديق راکړ شو.

د محمد ظاهر شاه تر پاچاهي وروسته ميرمنې ټولنې، د ښځو د پيوستون او د مور د ورځې په نمانځلو کې د رژيمونو د سياست له مخې بدلونونه رامنځته شول.

تردې چې د بن د تاريخي کنفرانس نه را وروسته ميرمنه ټولنه د ښځو چارو وزارت ته ارتقا وکړه، او دادي سږ کال د مور ورځ د جوزا په ۲۴ مه نېټه ونمانځل شوه، خو متاسفانه د مېرمن مجله او ارشاد النسوان جريده په پخواني حالت او کيفيت نه خپرېږي.(۱)

(۱) انيس، ۲۸/ ۳/ ۱۳۸۲کال

## په بشري ټولنو کې د ښځو ځلانده ونډه :

د بشر د پيدا ايښت راهيسې چې د ښځې يعنې له موره زېږنده ده لکه چې په قران پاک کې دا موضوع صراحت لري چې وايي اې خلکو ما تاسې ټول لومړي له ښځې او نارينه څخه پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوکې له آدم (ع) تر دې د مه ښځه د بشري تاریخ په هر پړاو او هره دوره کې خورا و تلي مقام لري لکه چې بیا هم د ښځې دا مقام په نبوي حدیث کې داسې جوت شوي دي « ستاسې بهترین اولاد ستاسې لوڼې دي».

لوڼې چې ښځې او بیا دا ښځې د خپلې ټولنې په منځ کې د ټاکونکي او اغېزمن نقش لوبونکي دي، په ټولنیزو ، اقتصادي، فرهنګي، پوځي، سیاسي، علمي او د ژوندانه په داسې ټولو ډګرونو کې یې ونډه څرګنده ده چې د بېلګې په توګه د پخوانیو ملتونو په تېره بیا زموږ د لرغونې فرهنګي بډایه میراثونو د موروواکي (مادر سالاری) د دورې ویانده بېلګه ده او د دې تر څنګ په دغو فرهنګي میراثونو کې د ښځې ټولنیزه او مذهبي منزلت هم خورا ارزښتمن دي لکه چې د مور واکي په دوره کې د ښځې د دریځ ممتاز توب په لاندینو څو ټکو کې په ښه توګه په ګوته کېدای شي.

د اور ساتنه، چې مذهبي تقدس یې درلود ، یوازې د محدودو کسانو دنده وه او ښځې ترې د ګټې اخېستنې حق درلود.

ښځه د مینې محبت او باطني صفایي د درلودلو په وجه د ټولنو په منځ کې د سولې او پخلاینې مظهر ؤ.

په دغه دوره کې ښځه د ختېنو لوښو ، د ټولنې د اړتیاوو اسبابونو او د آلاتو د جوړولو په فن او هنري نووښتونو کې پوره پیاوړتیا درلودله.

د کورنې سرپرستي او د چارو مسؤولیت ورته ور په غاړه و د اولاد زیږول، روزنه، د ناروغیو او د ناوړو پېښو په مقابل کې د هغوئ ساتنه د دې وظیفه وه.

د کرنې او شپونتوب په چارو کې یې پوره لاس درلود او په ځینو کارونو کې به یې د نرانو سره همکاري درلودله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم ښځه د تاریخ په ټولو پړاوونو کې د دغه لوړ او له مسؤولیت نه ډک مقام تر اخره پورې ځانته مختص ساتلې دي، خو ګورو چې په هر پړاو کې یې خپل تاریخي اهمیت هم له لاسه نه دي ورکړي.

تر کومې اندازې پورې چې د لرغوني افغانستان په اوستایي عصر کې په تېره بیا د زردشتي آیین په تبلیغ او تعلیم کې د ښځې نقش ځلانده دي هغومره د کوشانیانو په غوړېدلي دوره کی یې هم دغه مقام له پاملرنې نه دي غورځېدلي.

همدا شان تر کومې اندازې پورې چې تر اسلام دمخه ټولنو کې ښځه تر یوه حده د درناوي وړ او د ویاړلې مقام لرونکې وه په اسلام کې د هغې مقام لا غوره او درناوي وړ ګرځېدلی دي زموږ په ګران هېواد کې د ژوندانه په هره برخه کې بې شمېره ښځېنه وتلې شخصیتونه د بېلګې په توګه ښودلای شو چې کارنامې او شهکاري یې نه یوازې د تاریخ په پاڼو کې خوندي دي بلکې د ژبو پر سر او د زړونو په منځ کې ځانګړې ځای لري چې یادونه یې ددې بحث له حوصلې څخه وتلې خبره ده.

خو کاشکې زموږ د ټولنې ښځې د هغې مقام او نقش درلودلو سره سره د خپلو حقه حقونو یعنې اسلامي، مدني او ټولنیزو حقونو څخه لکه چې ښیي برخمنې وای او د ټولنې یو مظلوم، محکوم او محروم قشر ته منسوب نه وای.(۱)

(۱) انیس، ۲۲۸ګڼه، ۱۷/ ۱۲/ ۱۳۹۴ کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په بشري تاريخ کې د ښځو د قهرمانانه مبارزو ځلانده بېلګه :

له کوم وخته چې د بشري تاريخ لرليد ته پام ور وګرزول شي ثرګندە ده چې له هماغه وخته ښځينه قشر د نارينه سره د يو طبيعي جوړه ايز موجود په صفت ملګري او مددګاره او د ژوندانه په ټولو اړوندو ډګرونو او برخه ليکونو کې ورسره هر اړخيز ګډون درلودلې دی، که چېرته د لرغوني زماني ټولنيز، اقتصادي فرماسيون ( جوړښت ) مطالعه شي نو د مورواکۍ ( مادر سالارۍ ) دوره يکې خورا ځلانده او له پرتمه ډکه دوره ګڼل کېږي. له دې واقعيت څخه دا حقيقت په ډاګه کېږي چې ښځه د نارينه سره يو ځای او يو شان د ژوندانه په ټولو مقدراتو کې فعاله برخه او ټاکونکي نقش لري.

لکه چې تقويمونه ليدل کېږي په هغوئ کې يو شمېر تاريخي ورځې ورځې څخه د سترو او وياړلو پېښو له مخې او څه د شخصيتونو د اتلولۍ او فداکاريو او څه د ځانګړو ورځو له مخې د هغوئ د درناوي او ياد و بود په خاطر تجليلېږي، چې د نارينه وو قهرمانو شخصيتونو د ورځو په خوا کې د قهرمانو ښځو ورځې هم د تاريخ په پاڼو کې د سروزرو پر کرښو نقش او د حماسو قدرداني يې په ځانګړو مراسمو سره کېږي.

که د دواړو اتلولي سره پرتله شي. نو د بېلګې په توګه ګورو چې که د نارينه وو په ډله کې روسي فضا نورد يوري ګامارين د لومړني انسان په توګه د لومړي ځل لپاره پورته فضا ته له تعجب او تهيج ډک سفر وکړ او دغه کيهاني سفر يې په نړۍ کې د قهرمانۍ نوی ريکارډ قايم کړ، خو بيا ګورو چې دده پسې روسۍ ميرمن تريشکوا هم دغه بالمثله حماسه له ځانه په يادګار پريښودله او دا يې په اثبات ورسوله چې ښځې هم کولای شي لکه د نارينه غوندې له اعجازه ډکې کارنامې وهستوي که په بشري تقويم کې د مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشتې لومړۍ نېټه د نړۍ د کارګرانو د پیوستون ورځ، هغه تاریخي ورځ ده چې په دوهم انترناسیونال کې په کال ۱۸۸۹م کې تصویب او په ۱۸۹۰ کال په ټول جهان کې یې د تلینونو قدرداني پیل شوله او ددې ترڅنګه د مارچ اتمه نېټه هم د ښځو د نړیوال پیوستون هغه تاریخي ورځ ده چې د ۱۸,۵۷ کال د مارچ په اتمې نېټې د امریکا د نیویارک د ښار د کارګرو ښځو، د خپل حقه حقونو د ترلاسه کولو په خاطر له مارش کوونکو مظاهرو څخه یې منشا اخېستې وه او د «کلارازتکین» الماني مبارزې ښځې د پرله پسې مبارزو او تلاشونو په نتیجه کې، ددې د وړاندیز په تایید او د آلماني بلې مبارزې ښځې په ملګرتوب په ۱۹,۱۰ م کال په کوپنهاګن کې د سوسیالستو ښځو په دوهم جوړ شوي کنفرانس کې چې د نړۍ له ۷ هېوادونو څخه د سلو تنو په شاوخوا کې د مارچ اتمه د نړۍ د ښځو د نړیوال پیوستون په توګه په رسمیت وپېژندل شوه او د تجلیلولو پروسې یې کال په کال پراختیا وموندله او بالاخره نړیواله پراخه صبغه یې ځانته ونیوله.

زموږ په هېواد کې د ښځو د نړیوال پیوستون د ورځې تجلیلېدل دومره لرغونتیا نه لري ځکه چې د دولتي چارواکو د تبعیضي ذهنیت پر بنا یې نه غوښتل چې دا ورځ تجلیل کړي، تر څو چې په دې وروستیو کلونو کې، ښځو ته یې د هغوی لوړ مقام ته د درناوۍ په خاطر په هېواد کې د ښځو د نړیوال پیوستون د ورځې تجلیلېدل پیل شو او دادی نن سبا موږ ددې ورځې د لمانځلو په درشل کې یاستو. (۱)

(۱) میرمن مجله، ۷۲ګڼه، جدی، ۱۳۹۰ کال.

## د ښځې اجتماعي مقام :

د کوم وخته چې انسان په نړۍ کې ژوند پیل کړي تر دې وخته پورې ښځه د نارینه نه جلا نه ده پاتې شوې د تاریخ په مختلفو دورو کې یې خپل ټولنیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريز ساتلی د ژوند او نړۍ په جوړولو کې يې د نارينه و سره يو ځای اوږه په اوږه فعاله برخه اخيستلی چې د نمانځنې وړ ده د تاريخ پاڼې شاهدي دي چې نارينه نه يوازې په ښځو حاکم بلکې ظالم هم تېر شوی حتی د موروا کمنې په زمانه کې هم له دغه وضعې يې اغېزه نه وه پاتې شوي او ښځې د علم او هر ځای حاصلو ته لاس اچولی او په اجتماعي چارواکې يې فعال ګډون کړي دي ښځه د طبعيت نازولی مخلوق هغه انسان دی چې د نارينه وو له لاسه يې بيرحمي او بې عدالتي پر ځان ګاللی ترخه محروميتونه يې پر ځان زغملی دي.

همدا ښځه ده چې مور کېږي په يو لاس زانګو او بل لاس جهان زنګوي دا چې ... يې جنت او شيدی جهاني ويني دي چې هر چا ته ژوند ور په برخه کوي.

څه وخت چې په نړۍ کې بيوګرافيکې ټولنې جوړې شوي او د حقونو د اعلاميې په ترڅ کې دغه محروم مخلوق ته انساني حق ورکړ شو نو يې په ښکاره سره په ټولنيزو چارواکې ګډون شروع کړ له هغه وخته تردې وخته د ژوندانه په هېڅ يوه برياليتوب کې ښځه بې برخې او بې روله نه دي پاتې شوي.

د نارينه وو د جګړې ميدان ته ځغاستلی دي د اور د جګړې قهرمانه نوی که په کيهاني الوتنو يې لاس پورې کړې دي دا ورسره هوا له ختلی همدا اوس په ټولنيزو چارو کې ښځه له هر پلوه برياليۍ ده بزګره، انجينر، ډاکتر، ښوونکې پوهه فيلسوفه سربازه، پيلوټه فضا نورده او داسې نور هغه هم په برياليۍ توګه شوی ده.

ښځه په قريحه استعداد او هر ډول وړتوب کې له نره هيڅ کمه نه ده.

ځينې وايي کوم کار چې نارينه کوي ښځه يې نشي کولای... خو د ليکونکي په عقيده دا حقيقت نه لري ځکه د ګران هېواد په ختيځو برخو کې ما د سر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګو لیدلی دي چې ښځه د نرانو کار په موفقانه توګه کوي او البته نارینه د ښځو وظیفې ترسره کوي.

اوس ګورو چې ښځه شپنه، بزګره ده او د کور د باندې وظیفې سرته رسوي او نارینه د کور کار لکه کالیو پریمنځل د غوا لوشل او شاوخوا نور کوي...

نو له دې ځایه حکم کېدلای شي چې په نړۍ کې په هیڅ یو داسې کار نه وي چې نر یې وکړي او ښځه یې سرته ونه رسوي.

دا چې وا یې ښځه د نیمګړې، سد خاوند ده هم دومره به وویل شي چې ولې یې حتی تر نرانو درندی وظیفې ترسره کړې دي.

آیا لیلا خالد او جمیله ښځې نه دي چا چې د ګران وطن د آزادولو لپاره د سرو لمبو سره لوبې وکړې د بېره نژدې ملالۍ د دې خاورې نه وه چې د غلیم د تېریو په مقابل کې یې د خپل ثبات جنډه نیغه وساتله.

ممکن همدا مثالونه په کفایت وکړي نو ښکاره ده که ښځه د چا له نظره ... که څه هم پوره سدنلري مګر د ډېر هغو کسانو څخه غوره او د بشر لپاره ګټور کارونه کوي څوک چې پوره عقل لري.

لنډه دا چې ښځه قهرمانه ده هغه چې تاریخي شهکاري کوي او فنکاره ده هغه چې نړۍ جوړوي او نیکمرغه ژوند منځ ته راولی.(۱)

(۱) هېواد ، ۷۸ګڼه، ۸/۱۲/ ۱۳۵۳ کال.

## په راتلونکو انتخاباتو کې زموږ د ټولنې د ښځو ونډه :

ښځې زموږ د هېواد د زیات متسضعف قشر په توګه د همیشه لپاره د خپلو انساني او ټولنیزو حقوقو څخه محرومې پاتې شوی دي دا موضوع نه یوازې په کلیو او بانډو کې بلکې د ښارونو او حتی د کابل په ښار کې صدق پیدا کوي چې ډېر مهم لامل یې د تحصیل او مدني حقوقو څخه محرومیتا ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا لکه د نارینه غوندې په ټولنیزو او سیاسي چارو کې د هغوئ نه ګډون دي. حال دا چې ښځینه قشر زموږ د ټولنې تر نیمایي زیاتې برخې په توګه ښایي دهېواد د لوړتیا پرمختیا او د خلکو د سوکالۍ په خاطر د خپلو ټولنیزو، ملي او تاریخي سرنوشتونه په ټاکلو کې فعاله برخه واخلي.

له بده مرغه زموږ د ټولنې زیاتره ښځې نه یوازې د نارینه وو سره خوا په خوا د چارو د سرته اصولو سره مینه او علاقمندۍ لري بلکې د خپل سرنوشت د ټاکلو د تاریخي پروسې سره هم پوره یې تو پیره دي او له دې ځایه ده چې منورې او تحصیل کرده ښځې نه شي کولای چې نه یوازې د هېواد د نورو محرومو ښځو د حقوقو د تامینولو غږ پورته کړي بلکې د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو په خاطر هم د هېڅ هڅو او مبارزې جوګه کېدای نه شي.

اوس چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د بیارغاونې اونوو جوړونې چارې پیل شوې او د ټولنیز ژوندانه په هر ډګر کې د یادونې وړ بدلونونه رامنځته شوي دي نو په کار دي چې ښځې له دې طلایي فرصت څخه اعظمي ګټه واخلي چې یوه یې دا وخت امکان لري چې ښځې هم په انتخاباتي پروسه کې فعاله برخه واخلي په انتخاباتو کې د داسې مطلوبې برخې اخېستلو په منظور لومړني لپاره د انتخاباتو لپاره د رای ورکولو د کارت اخېستل دي نو که ښځې غواړي چې په خپله ټولنه همداسې مظلومي محرومې او محکومې پاتې نه شي باید ځان د ټولنې د یو فعال، ګټور او سرنوشت ساز غړي په توګه احساس کړي، په دې ونه شرمېږي چې د رای ورکولو کارت اخلي او له دې لیارې په انتخاباتي پروسه کې ګډون کوي رای چې د انسان د وجدان او شرف حیثیت لري هغه چاته ورکولای شي چې په واقعي توګه د دوئ د ګټو د تامینولو ممثل او له هر اړخیزو ناخوالیو څخه د دوئ د ژغورلو متضمن وي او دوئ و کولای شي چې د دوئ په نسبت د خپلو ذمه واریو په باب ترې پوښتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې خبرې يادونه بيخې ضروري ده چې ايا زمونږ د هېواد ښځې چې د راى ګيرۍ کارتونه اخلي د چاپه ګڼه يې وکاروي، دا څرګند واقعيت دى که دوئ د کانديد شوى شخصيت که اهليت، تقوى، شايستګى او د اخلاقي موازينو د ممزاتو څخه سترګې پټې کړي او د خپل کارت په کارولو کې ژبنيو، قومي، سمتي، ګروپي، ګوندي او داسې نورو تعصبات ته اعتبار او ارزښت ورکړي، دا موضوع نه يوازې د ښځو د قشر په زيان تمامېږي بلکې د ټولنې او هېواد په حق کې څرګند تيرى تلقي کېږي او پايله به يې داوى چې د ښځو د ملي او ټولنيز ژوند په دورنما کې چې کومه روښنايي په ځليدلو راغلي هغه به پراختيا ونه مومي او ښځې به هماغسې د ناپوهي، محرومتيا او محکوميت په تورتم کې پاتې شي.

لنډه دا چې په دې اوسنيو مناسبو شرايطو کې چې د افغانستان د اساسي قانون د ارزښتونو په رڼا کې چې ښځو ته د نارينه وو سره سم برابر حقونه ورکړ شوى دى او دوئ ولې د ټولنې د يو مستقل، اغېزمن، فعال، معتهد او شايسته غړي په توګه له دې چانس او فرصته او دوخت د ايجاباتو څخه په خپله ګټه استفاده ونه کړي.(۱)

(۱) ميرمن مجله، ۲ ګڼه، جوزا، ۱۳۸۳ کال.

## د تاريخ د پاڼو په هېنداره کې د ښځې ټولنيزه څېره :

په پخوانيو زمانو کې په تېره بيا تر اسلام د مخه دورو کې د نړۍ يو زيات شمېر پوهانو فيلسوفانو او نوابغو که څه هم يې د علم په بېلا بېلو زمينو کې له تبحر څخه ډک او فوق العاده مبتکرانه اثار په ميراث را پريښودلي دي، خو ددې ټولو تر څنګه يې زياترو ته يوازې د ښځو د ستر مقام او ټولنيز شخصيت درناوى نه دي کړي بلکې که څه هم هغوئ له يوې مور څخه پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی دی بیا یې هم په سپکه سترګه ورته کتلي دي چې په لاندې ډول یې بېلګې وړاندې کېدای شي.

افلاطون نامتو فیلسوف وایي:

« له خدایانو شکر ګزار یم چې ماته یې او ه ښېګڼې را بخښلي دي، چې لومړی یې داده چې زه نړۍ ته ازاد راغلی یم او نه مریي او دوهم دا چې نارینه پیدا شوي یم نه ښځه ...»

او یا میلتون لیکي:

« سړی د خدای لپاره پیدا شوی دی او ښځه د نارینه لپاره ».

همدا شان بالزاک د فرانسي بورژوا ستر لیکوال چې په خپل کتاب « د واده فیزیولوژی» کې لیکلي دي: « د ښځې برخه لیک او د دې یوازېنې سر لوړی او ویاړ دادی چې د نارینه زړه په لړځېدو راولي... ښځه هغه ملک دي چې د قبالې او د یو تړون یا قرارداد په واسطه تر لاسه کېږي، ښځه د کور د سامان غوندې ده... او د ښځې په اړه سم وو ایم: نو ښځه د نارینه یوه ضمیمه ده او یا دا چې نوموړی په خپل یو بل کتاب « خاطرات دو زن و شوهر جوان» کې لیکي:

« واده نه شي کولای چې د مینې او علاقمندۍ پایلې ولري ځکه چې د یو واده لپاره یوازینې توښه او یوازینې شی چې لازمي دی په دې لاندینو دوو کلمو کې نغښتې دي سړه سینه او فداکاري».

فیثاغورث، شوپنهاور، نیچه، ویني فرانسوي شاعر، ژاک کریسیستم سن توماس او داسې نور ستر پوهان لکه څنګه چې د ښځو د ستر او ویاړلې مقام سره ښایي، په هغسې مناسبو کلمو او توجیهاتو یې نه معرفي کوي او یا ناپېژندلې توګه او په ټېټو سترګو د هغې د شخصیت په اړه قضاوت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو بل عالم «ترتولین» لیکنې ته به ځېر شو چې پکې ښځه داسې مخاطب کوي:

«ای ښځې ته د یوې ملغلرې غوندې یې، چې د شیطان پر مخ بېرته کېږي نو ته باید همیشه د صبر او شکیبایي زاړه زاړه کالی واغوندي».

په هر صورت ځینې نورو پوهانو که څه هم غوښتل یې چې ښځه له دې ډول سپکاویو څخه وژغوري، خو بیا یې هم له لاسه یې هیڅ څه شوي نه دي، او له دې سپکاویو څخه یې د هغوئ د ژغورنې لار او چاره نه ده مشخصه کړې.

حتی د کلیسا رهبران هم په پریکوني ډول د ښځو د سپکاوي په لار کې ولاړ وو په پېړیو پېړیو ښځه په ټولو ټولنو کې، د یوې ترلې شوې، وینځې د خوند او خوش ګذراني، اولاد زیږونکي، ټیټ او ناقص مخلوقو نسبت ورته شوی او په ډېرو ټولنو کې یې تر زور زیاتې او مظالمو لاندې ژوند کړي دي او په سپکه سترګه ورته کتل کېږي.

تر څو چې د پاریس لومړنی کمون د خپل پاینښت په ډېره لنډه دوره کې ښځو ته په لازمو حقونو قایل شو، مګر د کمون تر ماتې وروسته بیا هم د ښځو حقونه تر پښو لاندې پاتې شول او درناوی یې ونه شو.

چې ډېرې ښکارندې او انکار نه کېدونکي بېلګې یې تر اسلام څخه د مخه په خپله په عربو کې د نجونو او حتی د خپلو لوڼو په مقابل کې د بې سارو او کرکجنو مظالمو مظاهر ګورو، لکه چې په کورنیو کې د نجلۍ په زیږېدنې شرمېدل، او یا د هغوئ په خاورو ژوندۍ ښخول چې په خپله د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له یارانو څخه یوه یې تر مسلمان کېدو د مخه خپله لور ژوندۍ په خاورو کې ښخه کړې وه او یا دا چې نجونې د نذر او یا په بل عنوان پو سلل شوی د نیل سیند ته ویدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نیکه مرغه د اسلام د سپېڅلي دین په راتلو سره د ښځو د ژوندانه په تیاره او ډاروونکي ماحول کې، روښنايي خپره شوه، ښځې او نارینه د ټولنې مساوي غړي او د متقابلو مساوي حقونو لرونکي وبلل شول د هغوی طبیعي او میثاقي حقونه مشخص شول او د ستاینې او پالنې وړ شخصیت یې د درناوی وړ و ګڼل شو او حتی په ځینو برخو کې ورته تر نارینه زیات امتیازات ورکړ شول.

هوکی د پلار سره یو ځای د مور تر پښو لاندې جنت وګڼل شو او د هغوی په مقابل کې د اولاد د اوف قدری ویل هم ګناه وبلل شوه. په همدې ډول په یو شمېر قراني سپېڅلو ارشاداتو کې تر بل هر وخت زیات د مور یعنې د ښځې مقام برجسته، د درناوی او پاللو وړ وګرځېد.

## د ځان وژنې، لاملونه او ډولونه :

بشري حقونه هغه ستر ارزښتونه او د لوی خدای بې ساري پېرزوینې دي چې په طبیعي او قراردادي توګه د هر انسان له نامه سره که ښځه وي که نر، ماشوم وي که بوډا، نیستمن وي که شتمن، هر څوک چې وي او په هر ټولنیز او معنوي دریځ کې چې وي پرته له هر ډول، توپیر، امتیاز او تبعیض څخه تړاو لري.

لکه څنګه چې په کورنۍ او ټولنه کې او په نړیواله کچه د بشري حقونو مقام خورا لوړ دی او د انساني ژوند د جوړښت پاخه بنسټونه ګڼل کېږي، په هماغه اندازه یې د تحقق او عملي کولو پروسه څه ساده موضوع نه ده او پېچلتیا یې په دې کې نغښتې ده، چې په دې لار کې یو لړ خنډونه شته دی چې له منځه وړل یې زیاتو هڅو او هاند ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د بشري حقونو نوم اخېستل کېږي د ټولو په سر کې د ژوند حق راځي او له دې حق څخه بې برخې کول که د هر چا له خوا وي کبیره ګناه ده، حتی که په خپل لاس هم وي.

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې په عمومي ډول ښځې له داسې غمیزو سره مخامخې دي او د بېلا بېلو لاملونو له مخې په ځان وژنې لاس پورې کوي.

که د موضوع لا وضاحت په پام کې ونیول شي، نو ددې ځان وژنو اساسي لاملونه، ټولنیزې بې عدالتۍ او ناروا وې، د ښځو په مقابل کې تبعیض او تاوتریخوالي او په ټولنه کې لاسبري ناوړه دودونه او رواجونه دي، چې په یوه کلېمه کې افغاني ښځې دهغې قرباني ګرځي. دا لاملونه داسې شمېرلې شو:

اجباري او پرته له رضا او رغبته ودونه، په بدو کې ودونه، درونډ ولور، بدلي ودونه، د نجلۍ او سړي ترمنځه د عمر زیات تفاوت، د نذراني او فالي ودونه، د پور او جوارۍ او د هیروییننو په معاملو کې ودونه، د مېړه له خپلوانو سره د کونډې نکاح، کورنۍ تاوتریخوالي، مېړه او ښځې تر منځه نه توافق، د کمزورۍ اقتصاد فشار، حقوقي او عدلي ارګانونو ته د اړوندو ستونزو د شکایت په باب د ښځې له مراجعې څخه مخنیوي.

البته دا ټولې هغه ناولې پدېدې دي چې انساني ژوند له خاورو سره برابروي او دا په خپله نه اسلامي عمل دي او نه بشري.

را به شو دې خبرې ته چې زموږ په تولنه:ې ځان وژنې په کومو شکلونو صورت نیسي ؟

دځان زندۍ کول او یا ځان په دار ځړول، ځان سین ته، له بامه او یا له یوه جګ ځایه غورځول، د زهرو خوړل یا د نشه يي توکو کارول، د نه خوراک او څښاک په وجه، ځان ته اور اچول، په ګولۍ ځان ویشتل او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې دا ځان وژنې که له هرې انګیزې او لامل څخه رامنځته کېږي او یا په هر شکل چې صورت نیسي د اسلام د مقدس دین له حکمونو او د ټولنیزو قوانینو او نړیوالو نورمونو سره پوره تضاد لري، چې باید لاملونه یې وڅېړل شي، د حل لاره یې وموندل شي او انساني ژوند یې وژغورل شي.

تر څو چې د دغو ځان وژنو د لاملونو اساسي جرړې ونه لټول شي او د هغه د حل لپاره کوټلی ګامونه وانخېستل شي، نو په پوره باور به د ښځو د ځان وژنو لړۍ چې د هېواد په ځینو ولایتونو کې را پیل شوې، پراخ اړخونه پیدا کړي او په یو بل انساني ناورین به بدل شي.(۱)

(۱) حقوق بشر مجله، دریم کال، شپږمه ګڼه.

## د ښځو او نارینه و د عاطفي مایل :

آیا ښځې او نارینه د عواطفو د کیفیتونو څخه یو شان برخوردار ه دي؟

تراوسه پورې ویل شوي چې ښځې تر نارینه زیاتې د احساساتو د کیفیتونو تر اغېزې لاندې راځي، ژر عصباني کېږي، ډېرې حساسې دي او په ډېره انساني سره مینه او کرکه پیدا کوي، خوشالېږي او خپه کېږي.

خو د شخصیت د اروا پوهې په برخه کې وروستیو څېړنو دا موضوع ثابته کړې ده چې د حېرانتیا وړ ده او هغه داده چې ښځې او نارینه یو شان د عاطفي کیفیتونو تر اغېزې لاندې راځي په داسې حال کې چې ښځې دا کیفیتونه ډېر زیات ښکاره کوي.

دامریکا د مشیګان د اروا پوهې د پوهنتون استاد «یال کامرون» په دې عقیده دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

« چې ښځې او نارینه د ورځې په اوږدو کې یو شان او په یوه اندازه مثبت او منفي عواطف احساسوي. داکتر کامرون دا علمي څېړنه په (۱۲۰۰) تنو باندې د دوه نیمو کلونو په اوږدو کې ترسره کړې او دې نتیجې ته رسیدلی چې د تېر وخت کلي اصل یې باطل کړي دي تر هغه ځایه چې نور نه شو ویلای ښځې تر نارینه وو زیات او په لنډ وخت کې د عواطفو حالات پیدا کوي ځینې نورې نتیجې چې د دې علمي څېړنې څخه په لاس راغلي دا دي چې د ورځو په اوږدو کې هر نارینه او ښځه له شلو دقیقو څخه تر دېرشو دقیقو پورې د عواطفو د حالاتو د اغېزې لاندې راځي د دی حالاتو په منځ کې د عاطفي مثبت اړخ د خوشالی، خواشینی، سرګرمي، مینې، حق پېژندنې لېوالتیا او نورو کلي تحریکاتو او نفساني غوښتنو څېره ډېره زیاته، ښکاره کېږي خو منفي اړخ یې ډېر لږ د ډار، بې حوصلګی، قهر، عصبانیت او ټکنی توب په توګه پېښېږي.(۱)

(۱) هېواد ورځپاڼه.

## مور د ټولنو او حماسو جوړونکی :

مور تر هر څه ډېر سپېڅلې قدرمنه او پورته ده، په هېڅ تعریف او کلمو زه د مور لوړ مقام ستایلې او ستر شخصیت یې نمانځلی نه شم.

مور جسماً انسان دی خو د معنوي شخصیت له مخې، د ګرانښت، مینې، پیرزوینې او فداکاری پرېښته ده. هغه چې توده غېږه یې په دې نړۍ کې د جنت په شان د نیکمرغۍ او خوښې ځاله او پستې څنګلی یې د دې جهان د ډېرې سوکالی او هوساینې محل دی.

انسان د ټولو ښکلو پدیدو او ښېګڼو سره بنیادي مینه لري خو د دې له منځه د مور سره انساني مینه ډېره توده او زیاته ده او بیا د خپل اولاد په نسبت د مور مینه تردې هم زیاته او دایمي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور مینه واقعي او طبیعي پدیده ده چې د هغې له وینو مور موجودیت هسته تشکیله شوی، د هغې په وینو بیا د غې هستۍ تکاملي مرحلې بشپړې کړې او زموږ د وجود ټول غړي ترې پیدا شوي دي او تر زېږېدلو وروسته بیا هم تر ډېره وخته پورې مونږ د دې نازولی مخلوق په سرو او تودو وینو هغه هم په پاکو او سپینو شیدو تغذیه شوي یو، جسمي او ذهني وده مو ترې موندلې ده او پرې روزل شوي یو.

له دې ځایه دا کله کېدلای شي چې څوک دې د چا له وینو او غوښو پیدا وي او د هغه دې نه شلیدونکې مینه ونه لري.

هو کې بیا هم مور زموږ سره مینه لري چې موږ وایو مور راته ګرانه ده. کاشکې هر انسان د مور آبدي مینه نه هیرولای.

که مور د یوې خوا د بشري تسلسل یوه نه شلیدونکې ټېنګه کړۍ ده نو له بلې خوا د تاریخونو ارتباطات او علایق هم د مور د موجودیت څخه پرته نور څه نه دي څه ښه وایي:

مور په یوه لاس زانګو زنګوي په بل لاس نړۍ ته حرکت ورکوي.

هو کې مور قهرمانه او شهکاره ده دا ځکه چې د تاریخ په اوږدو کې یې تاریخي قهرمانان او جهاني شهکاران روزلي او پاللي دي.

مور ده چې د بشري تمدن او بقا زیربنا او روبنائي تشکیله کړي او تکامل یې ورکړي دي.

هو کې مور دا مادي او معنوي پانګې مینځ ته راوړي دي او بیا دا قیمتداره ثروتونه او ابدي شتمني یې له یوه نسل څخه بل نسل ته او له یوې زمانې څخه بلې زمانې ته په متکامله او مترقي توګه امانت سپارلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور غېږ او خوا د نیکمرغیو ټاټوبي، د ښوونې او روزنې، لویه مدرسه او د مینې او عاطفې ستر کانون دی.

مور نه یوازې مور ده بلکې ښوونکې او لارښوده هم ده مور مونږ ته د ژوند د بقا د ژوندانه د کمال او جمال لوست را کوي.

زمونږ خاپوڅي، قدم اخېستل، خبرې کول،... د مور د ډېرې مینې او پیرزوینې په پلوشو کې شوی دی.

مور زمونږ د روغتیا، سلامتیا، آرامی او ژوند په خاطر خپله روغتیا او ژوند په خاطر خپله روغتیا او آرامي هیره کړي او حتی خپل خوږ ژوند یې په خطر کې اچولی دي...

د مور د کمزوري وجود بې غوښو هډونو او کم وینو رګونو په برکت دا ټول پیاوړي او غښتلي شخصیتونه تاریخي صحنې ته راغلي او نه مړي کېدونکي کار وایي ګانې یې په یادګار پرېښودلی دی.

د کومو چې نن ورځ د بشریت د ویاړنې او پند سبب کېږي دا خو یو منونکي واقعیت دي چې د نننۍ جهان پرمختللی او متکامله بڼه د هغه سره ډېر توپیر لري لکه د بشریت د موجودیت په لومړیو دورو کې چې ده او د نړۍ دا ډېره ښکلی بڼه یوازې او یوازې د مور د شته والي او قرباني لویه نښانه ده.

که مور نه وای رښتیا ده چې دا بشریت به هم نه وای او بشري تاریخ به هم او بالاخره د جهان دا متکامل سر و صورت او ابدی افتخارات به نه وای.

د نړۍ په علمي، اقتصادي، فرهنګي، اجتماعي، هنري... او نورو داسې ساحو کې د انسانانو دا بې ساري بریالیتوبونه، علمي او عملي پر مختګونه پرته د مور د فداکارۍ، لوړ همت او سترتوب څخه نور څه نه شي کېدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوکی مور بیا هم مور ده. که په هرې ژبې، هرې وینې او نژاد ، هر آیین او سیمې ته منسوب وي.

مور د تاریخ مور ده او په تاریخي دورو کې د مور په لوړ مقام کې پاتې شوی ده. ځکه وایو په هره کلمه چې خوله خوږېږي، زړه او دماغ خوشالېږي د مور سپېځلې او خوږه کلمه ده.

مور دا د مینې او محبت مظهر دا عظمت او پیروزینې ښکارندویه هغه څوک ده چې تر څو پورې دا نړۍ اباده او بشریت موجود دی، ددې د مینې او لویې سندرې به هم د انسانانو د ژوندانه په ګردو اړخونو کې ازانګې وي.

هوکی مونږ ته ښایي چې نه یوازې د مور پر لوی نوم باندې وویاړو بلکې په عملي توګه یې د زیار ایستنو او فداکاریو نمانځنه وکړو. ددې د درندو حقونو د ادا کولو په خاطر هسې یوه ټولنه او نړۍ ورته سنبال کړو چې دا راتـه د یوې روښانې ډیوې غوندې لکه چې په یوه کور کې بله وي بلېږي او مونږ یې په ابدي پلوشو کې په یوه زړه یوه خوله، د ورونو او خویندو په شان د خپلې ابرو مندي بقا او شرافتمند ژوند لپاره د مینې، آزادۍ او سولې سندرې ووایو د ورورولی او برابري حرکتونه وکړو.(۱)

(۱) هېواد ، ۲۵/ ۳/ ۱۳۵۲ کال.

## ښځه او دسترخوان :

ښه سلیقه د ښځې ښکلا او د هغې د دروني شخصیت ښکارندویه ده او د ښځې دا ښه سلیقه، ښکلیتوب او اهلیت د هغې په دسترخوان کې ځای ښکاره کوي، زه به په دې هکله د خپل ژوند یوه تېره خاطره را یاده کړم:

زه یو وخت کې د یو شتمن سړي مېلمه شوم، لویه حجره او ښه دېره ډنډه یې درلودله، د ښه نوم او رسوخ خاوند ؤ ، نوکران او حاضرباشان یې درلودل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې كليوالى سيمې او سيد ونكې ؤ ، كه څه هم زما د دغسې بډايه خلكو سره مناسبات نه خوښېدل ځكه چې په دوستۍ كې مې ورسره د مهمان نوازۍ سيالى كولاى نه شوه ، خو دا چې زه له كابله ورغلى مېلمه وم نو دده د ټېنګار په وجه مې د هغه مېلمستيا ومنله.

داوړې اوږدې ورځې وې او زه يې د غرمې له خوا مېلمه كړې وم څه دروغ به درته وايم د لوږې احساس د ښو خوړو لېواله كړې وم تر څو چې يې كوزه او چلمچي راوړل، دسترخوان هوار شو ، او په پوره مينه او خوند مې ډوډۍ وخوړله، كله چې دسترخوان ټول شو او چاى ورپسې راوړل شو نو مې په ټوكه خپل مېلمه پال ته وويل:

اشنا : كه خپه كېږې نه زه درځنى څو پوښتنې لرم، خداى مه كړه چې ستاسې د دود سره په ټكر كې واقع نه شي هغه وويل: مهرباني وكړه :

- ما ورته وروره ! ته درې ښځې لرې؟
- ويل يې، هو
- كتغ او نور خواړه دې يوې ښځې پاخه كړي؟
- ويل يې هو.
- وچه ډوډۍ دې په تنور بلې ښځې پخه كړې؟
- ويل يې هو.
- او چاى دې هم د درېيمې ښځې وظيفه ده؟
- ويل يې هو.
- نو يې په تعجيب سره زما څخه پوښتنه وكړه.
- دا زما د كور دننه حال درته چا وو ايه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ما ورته په خندا وویل، ستا دسترخوان، دا ځکه چې هر څه یې په خورا سلیقه پاخه او برابره شوي وو.

زما مطلب د دې خاطرې له یادولو څخه دا هم دی چې ښځه نه یوازې د کور ښایست دی بلکې تر دې ډېره مهمه د مېړه د شخصیت بشپړونکې او د هغه د حیثیت ساتونکې ده، کنه که زما د نوموړي دوست د خوړو په لوښي کې یا په ډوډۍ او یا په چای کې ویښته او یا بل شی وای، نو تاسې ویلای شي چې د هغه د کورنۍ ژوند او بهرني شخصیت په باب به مو څه فکر کړای وای.(۱)

(۱) هېواد، ۲/ ۳/ ۱۴۲۲ هـ ق.

## هوښیاره ښځه :

ځینې ښځې پرته له دې چې مېړه ته د یوې موضوع د مطرح کولو مناسبې شېبې په نظر کې ونیسي په بېځایه تلوار او بې موقع وخت خپلو مېړونو ته د ځینو پېښو په هکله آګاهي ورسوي په تېره بیا په هغسې یو لنډ مهال کې چې مېړه یې نه یوازې د دغې خبرېدنې ته روحاً آماده ګۍ نه لري غوږ ورته نیولای او قبلولای یې نه شي بلکې د حساسیت عامل یې ګرځي او اعصاب یې متهیج کوي او په ناآګاهانه توګه د ښځې په مقابل کې سخت عکس العمل ښيي او په یوه شیبه کې د دواړو ترمنځه لفظي مشاجره په یو ډېر خوابدوونکې حالت بدلون مومي او حتی یو له بله په بېرازۍ یې تمامېږي.

موږ په کورنۍ ژوند کې د داسې عاقبت نااندیشنه او مناسبې موقع نه درکوونکو ښځو چې ځان هم ملامتیا ته نه ورکوي زیات مثالونه لرو، چې د دوئ په دغسې نامعقول برخورد سره د کورنۍ خوږ شېبې د مخه د صمیمیت او محبت نه ډکه فضا د خواشینۍ او کرکې په ماحول تغیر مومي لکه چې ځینې ښځې شته دي کله چې یې مېړه له وظیفې او یا له کاره سترې ستومانه راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخوا تردې چې دمه يې جوړه شي د واره ورته په کور کې دده په غياب کې د يوې ناوړې موضوع د پېښېدلو خبر ورکوي.

او يا دا چې کله چې سهار له کوره وځي، په همدغه مهال ورته فرمايشونه ورکول کېږي، حال دا چې د مخه ورته په دغه باب هېڅ نه وي ويل شوي.

د پورتنيو نزاکتونو د رامنځته کېدلو په تړاو او دې ته ورته مثالونه ډېر دي چې له هغې جملې نه په يوه داسې مثال بسنه کېږي چې يوه هوښياره او با نزاکته ښځه ځنګه کولای شي چې د يوې زيانمنې پېښې څخه خپل مېړه خبر کړي.

دا خو يوه معمولي خبره ده چې ځينې مېړونه کله کله عادت لري هغه کالي واغوندي چې ورته په زړه پورې وي د همدې عادت لرونکي يوه سړي يوه ورځ خپلې ماندينې ته وويل: چې زما پلانې يخن قاق راوړه چې نن هغه اغوندم.

ميرمنه يې ځی د هغه په عوض يو بل نوی يخن قاق ورته راوړی، او ورته وايي چې نن به زما په زړه دا کميس واغوندې مېړه ورته وايي: دا ډول نوی کميس خو مانه درلود له کومه دی کړ؟ ښځه ورته د ښځولی د ظرافت په لهمه وايي:

دا مې درته مور څه موده دمخه راوړی ؤ او نن غواړم چې د هغه... کمېس په عوض يې واغوندې.

مېړه هغه اغوندي او په پوره خوشالۍ له کوره وځي.

په دې منځ کې يو څه موده تېرېږي، يوه ورځ د دوئ کره دده د ښځې مور او نوره کورنۍ مېلمانه دي، ټوکې ټکالې دي او د صميميت او خوشالۍ له جذبو توده فضا موجوده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه د دې مناسبې موقع څخه استفاده کوي او د یوې عملي ښې په شکل د خپل مېړه د کمېس کیسه داسې پیل کوي:

ګل آغا ( د دې همسر ) یو عادت لري چې ځیني یخن قاقونه یې زیات خوښېږي او کله کله یې په خاصو مواقعو کې اغوستل غواړي هغه بله ورځ یې هم غوښتل چې دغسې کمېس واغوندي، خو ما د هغه په عوض بل نوی کمېس پرې واغوست او ... اصلي خبره خو داسې ده، چې ما دغه کمېس تر پریمنځلو وروسته اتو کاوه نه پوهېږم چې څه پېښ شو زما پام ورته نه ؤ چې د هغه یوه برخه رانه سوې وه. ما د ګل آغا احساس ښه درک کولای شو نو دواړه په همدې ورځ ښار ته لاړم او په خپل ذوق مې ورته نوی کمېس واخېست او د مې ساته تر څو چې یې هغه بله ورځ رانه پخواني کمېس وغوښت چې وایې غوندي، خو ما یې پر ځای نوی یخن قاق ورکړ او په دې خبره مې تېر کړ چې مورجانې مې ورته رانیولی دی ښځې کېسه په دې ځای پریښودله، درپ یې وهل او د کور له یو کونج څخه یې هغه سوزیدلی کمېس په لاس کې نیولی راوړو او په خندا یې ټولو ته وښود:

او په خندا یې وویل:

اوس د ګل آغا جان خوښه چې د خپل سوزول شوی کمېس له خاطره له ما سره څه کوي...

مېړه ورته په پوره مینه وویل: ډېر داسې کمېسونه دې ستا له سره ځار شي ښه دی چې په اتو دی ځان سیزلی نه دی.(۱)

(۱) هېواد ورځپاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښځه د سړي د شخصيت بشپړوونکې :

ښځه او نارينه د انساني ټولنې دوه جوړوونکي، لازم او ملزوم او نه جلا کېدونکي اړخونه لري هغه دوه مهم او ضروري اړخونه چې يو پر بل متقابله او متناسبه اغېزه لري.

« الفونس دورلاريتي» يو عالم وايي:

« د ښځو ( د مور ) غېږ د بشر لومړني ښوونځي او د سړي جوړولو لومړنۍ کارخانه ده.

له دې ځايه موږ د نړۍ زيات شمېر نامتو شخصيتونه پېژنو چې د ښځې په مرسته او موثريت يې خوراغوره ټولنيز او نړيوال شخصيتو ر په برخه شوی دی. او د ژوندانه په زياتو ډګرونو کې يې نوم او نشان د يادونې وړ څرګندوالی موندلی دی.

حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) زموږ ستر لارښود فرمايلي دي:

« په کوم کور کې چې ښځه نشته، هلته خوښي او روښنايي نشته، نو له دې امله ښځه د کور ډيوه او څراغ دی».

ما له يو چانه چې د فکر او قلم خاوند ؤ او د ښځو په اړوند يې پراخه مطالعه درلودله او د هغوی له حقوقو پوره خبر ؤ او لا په فرهنګي ډګر کې يې د هغوی له حقونو په کلکه دفاع کوله اوريدلي ؤ:

کله چې د هغه د زياتې برخې د عمر د ژوند ملګري مړه شوه نو نومړي د يو هغسې رواني او روحي حالاتو سره مخامخ شو چې نه يې د کوم عالم له خولې څخه په دغه هکله څه اوريدلي ؤ او نه يې په کوم کتاب کې دغه موضوع مطالعه کړې وه، نومړي د ور پيښې شوي مجردۍ په موده کې کله چې به په کور کې ؤ، د کور ماحول، فضا او د کورنۍ د غړيو په منځ کې يې خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردې احساسوو او د کورنۍ د چارو سره يې هيڅ علاقمندي او دلچسپي نه درلودله، د کورنۍ د غړيو سره د مشغولا او خبرو پر ځای يې مطالعې او خپلو ليکنو ته ترجيح ورکوله او په ډېره کوچنۍ خبره او نامطلوبه پېښه به ورته اورجن عصبانيت ورپېښېدو، او د يو ډول نوميدۍ احساس به يې کاوه او د کورنۍ څخه د باندې محيط يې چندان نه خوښېده، کله چې به د کوره د باندې ؤ د چاپېريال او د خپلې ټولنې په منځ کې به ورته ځان يو څه سپک، بې تمکينه او بې ارزښته ښکارېده، هميشه به يې زړه تنګي احساسوله، ددې تر څنګ له هر چا څخه به يې په خپل نسبت د همرازۍ او خواخوږۍ توقع کوله، له خپلوانو او دوستانو څخه به دده په دې احساس د نه درکولو په وجه ګيله من کېده او حتی بيزاري به يې ترې ښووله، په کورنۍ کانون او بهرني چاپېريال کې دغو رواني حالاتو ډېر ځور اوه او خبره يې دې حدته رسيدلې وه چې کله ناکله به حتی د خپل ژوند د ژواک سره بې مينې کېده پاتې لا د ژوندانه د ورځينو چارو د اجرا کولو سره هميشه يې خپل روغتيايي حالت په زړه پورې نه احساساوه او هميشه د خپل عمر پوخوالي هم خوراوه...

خو بيا چې يې له نيکه بختنه دوهم واده وکړه نو بيرته خپل پخواني عادي حالت ته را وګرزيد رواني وضعې يې بدلون وموند او ګويا خپل مطلوب ژوند يې له سره پيل کړ.

له کورني چارو څخه نيولې، تر ټولنيزو او رسمي چارو، دغو ټولو سره يې علاقمندۍ او زړه تړنه پيدا شوه، روغتيايي حالت يې بيخي ښه شو، رنګ او رخ يې تازه د عمر پوخوالي ورته له پوره تمکينه او له درښته ډک ښکارېده.

پورتنۍ عيني موضوع دا خبره په ثبوت رسوي چې ښځه د سړي د ډېرې ګرانې جوړې او د ژوند د رښتيانۍ او خواخوږۍ ملګري په توګه د هغه په شخصي او اجتماعي ژوند کې پوره اغېزناکه او د هغه په رواني وضعې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې د پرېکونې اغېز غورځونې درلودونکی ده او حتی د هغه عقیدې او ارادې ته بدلون ورکولای شي او لا چې پوهه هوښیاره رسالتمنده، هدفمنده او هم احساسه ښځه د چا په برخه وي.

یوازې ښځه ده چې په مهربانه او دلسوزانه لهجه خپل مېړه د ناوړو خصلتونو او عادتونو له امله تنبه کوي او په ډېره موثره ژبه یې له هغو منع کړي.

په یو مبارک حدیث کې د نیکو کارې او پرهیزګارې ښځې په باب داسې راغلي دي:

« نړۍ او هر څه چې په نړۍ کې شته دي ټول ښکلي دي، مګر دینداره او پرهیزګاره ښځه تر ټولو زیاته مقبوله ده».

کورنۍ محیط د ښځې په شتون په زړه پورې دی او که له کوره بهر را پیدا شوې ناخوالۍ، ستونزې او ستړیاوې هم د ښځې په لطیفانه برخوردونو او رویو له منځه ځي او یا یې د ځوربدنې کچه را ټیټېږي لکه چې ژان ژاک روسو وایي:

« که چېرته د نړۍ ټول نعمتونه له منځه لاړ شي، په داسې شرط چې ښځه د ژوند په صحنه کې موجوده وي بیا هم هغه د تحمل وړ دی».

که په لنډه توګه وویل شي نو هغه به دا وی چې سیموند یو عالم وایي:

« هېڅ نعمت او پیرزوینه د یو سړي لپاره له یوې ښې ښځې څخه غوره نشته دی».

او بیا کله چې د ښځې سره د مور مفهوم هم یو ځای شي مقام یې لا لوړې درجې ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مقام مادر، از نگاه دین مقدس اسلام :

چون دین مقدس اسلام که یک دین کامل، جامع و پر فیض است، بدون شک و تردید تامین کننده و تضمین کننده تمام حقوق و امتیازات انسانی و اسلامی جوامع بشری میباشد.

از نگاه دین مقدم اسلام هیچ قوه و قبیله بر قوم و قبیله دیگر و هیچ جنسی بر جنس دیگری تفوق و برتری نداشته، و اگر نزد خداوند متعال کسی از منزلت مقام عالیتری برخوردار باشد همانا از جمله کسانی اند که دارای تقوا آنهم به مفهوم واقعی آن که عبارت از تقوا کردار، تقوا در گفتار و تقوا در پندار و در مجموع حایز تقوای ظاهری و باطنی بوده و طبیعی است که زن و مرد یکسان و هم برابر، تابع این مشخصات تقوا میباشند.

ارزشهای حقوقی زن نسبت به هر دین و آیین جوامع بشری در دین مبین اسلام، مامون، مصئون تر و متجلا ترند ، و دین اسلام است که زن را از تمام اشکال و انواع شقاوت ها ، محرومیت ها ، محکومیت ها ، برده گی ها و سایر مظالم اجتماعی نجات داد و ظلمت کشنده جهل و بیعدالتی که زیادتر زنان از آن تا حد زیادی متضرر بوده توسط درخشیدن نور جاویدانی خویش از جهان برچیده و به زن ارج و مقام همگون و مساوی با مرد اعطا فرمود و از آن زمان به بعد زن توانست که در تمام عرصه های حیات انسانی دوشادوش مردان نقش های متنوع را به عهده بگیرد حتی در معرکه ها و غزوات به خاطر پخش و نشر دین پر فیض اسلام در امور اکمالاتی و خدمات عقبی و ترغیب نمودن رزمنده گان نبرد اسلام خود گذری و فداکاریهای شایانی را از خود نشان داده اند.

دین مقدس اسلام به زن این مادر و همسر یعنی همسفر و همیار زنده گی انسانی حقوق و امتیازات و مزایای چشمگیری قابل بوده، بوضاحت کامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

به واقعیت های تلخ و رقتباری برخواهیم خورد که چگونه حیثیت و منزلت زن در درجه پاییینتری قرار داشته و پدیده حقارت زجر دهنده نگریسته می شد.

عطیه های حقوقی دین مقدس اسلام، به زن بسا امکاناتی مهیا ساخت که در زمینه های مختلف زندهگی خویش سزاوار آن شد تا با مردان یکجا همسری کرده و سهیم گردد و با مرور زمان شخصیتش متکاملتر و مخلوق مورد احترام و تمجید محسوب گردید.

در تاریخ بشری در تمام عرصه های حیات اجتماعی، شخصیت برازنده و بالنده زنانی را سراغ داریم که همردیف مردان قابل ستایش و مباهات بوده و حماسه آفرینی های آنها جاویدانی میباشد.

پس پی انصافی خواهد بود که مقام و شخصیت زن را هر آنچه دین مبین اسلام به او ارج داده کمتر و نازلتر قابل شد و موجود فاقد تمام حقوق و امتیازات بشری پنداشت، چه زن یک بال بشریت و نیمی از پیکر جامعه آفریده شده است.

## د ښځو اقتصادي خپلواکي :

ځرنګه چې په افغانستان کې ښځو اقتصادي خپلواکۍ تر سرلیک لاندې د ښځو او ماشومانو دحقونو څېړنیز نهاد له خوا د یوې څېړنیزې پروژې متن چاپ شوی او زما له خوا په پښتو ژباړل شوی دی او دهغه د یو شمېر ژباړل شوی دی او د هغه د یو شمېر کوټلیو برخو په اقتباس سره چې د اهمیت وړ بلل کېږي دا مقاله ولیکل شوه.

په افغاني دودیزه ټولنه کې په عمومي ډول د ښځو څخه د «نفقه خور» په عنوان یادونه شوې ده کورنۍ په تېره بیا بیوزلې کورنۍ خپلې لوڼې د اقتصادي پلوه د «اوږو بار» په نامه ډېر ژر ودوي، هلکانو ته د اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک او د کورنۍ ډوډۍ راوړونکو په سترګه ګوري یا د خوړو غوره امکانات د هغوئ په واک کې ورکوي، هلکان د نجونو په پرتله زیاتره ښوونځیو ته ځي، ځکه دا سې ګڼل کېږي چې ښوونځي ته د نجونو ورتګ کورنۍ ته عاید نه په برخه کوي او په عوض کې که چېرته هلکان د علم او کمال سره را لویې شي، د اقتصادي اړخ له پلوه د کورنۍ سره مرسته کولای شي په تېره بیا که چېرته قرار وي چې ښوونځي ته د هلک نو زیاتره هلکانو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

د او سني تصور له مخې ښځې پرته له دې چې په کورني اقتصاد کې ونډه نه لري بلکې زیاتره د لګونکې په نامه یادېږي په دې سربېره دا سې تصور کېږي څرنګه چې نارینه د کورنۍ ډوډۍ راوړونکي دي نو ځکه د کورنۍ تصمیم نیونه د دوئ پورې تړاو لري یا نارینه باید دا وټاکي چې څه چارې او کوم کارونه ترسره شي، که څه هم ښځې په دودیزه توګه د کورنۍ ورځنی لګښت خو په عمل کې په زیاترو حالتونو کې چې اقتصادي لویې تصمیم نیونې کې چې مطرح کېږي ښځې کلیدي ونډه نه لري.

د هغو ښځو زیات شمېر چې له کوره بهر کار کوي، د خپل عاید د لګولو د طریقې په اړه د تصمیم نیونې قدرت نه لري او له بلې خوا هغه شمېر ښځې چې له کوره د باندې بوختیا نه لري او یوازې د کور په چارو کې بوختې دي، نو یې په کورنۍ کې د برخې اخېستنې ارزښت نه پېژندل کېږي، نو دا مېرمنې د خپلو لومړنیو اړتیاوو د تامینولو لپاره ښایي په کراتو مراتو له مېړه او یا ورور څخه پېسې وغواړي.

د ښځو له اقتصادي خپلواکۍ څخه مقصد په مشخص ډول په اقتصادي امکاناتو د ښځو د لاسرسۍ پیاوړتیا او په دې خپلواکۍ سربېره، په خپله د دوئ له اقتصادي عاید څخه ګټه اخستنه ده، په د ې مقصد ښځې د اقتصادي سرچینو د برابرولو ظرفیت او یا په بل عبارت د اقتصادي عاید د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلاسه کولو ظرفیت لري او د هغه د لګښت په طریقه کې په خپله د تصمیم نیوونکی ونډې لرونکي وي.

د ښځو د اقتصادي خپلواکی اهمیت یوازې له مادي پلوه په نظر کې نه نیول کېږي بلکې هغه ښځې چې له اقتصادي خپلواکی څخه برخمنې دي له هغو ښځو څخه ځو ځلې زیاتې د ټولو انساني حقونو د برخمنتوب د ځواکمنی درلودونکی دي چې له داسې حقونو څخه محرومې دي. هغوئ چې په کورني چارو کې د تصمیم نیونې له مخې په یو مناسب موقعیت کې قرار لري او ډېرې کمې تر تاوتریخوالی او زور زیاتې سره مخامخ شي په یو ډېر ښه دفاعي موقعیت کې دربېږي.

د اسلامي شریعت، کورنیو قوانینو او په نړیوالو میثاقونو کې د ښځو د اقتصاد د تامینولو لپاره سرچینې ټاکلې شوې چې یوازې د نومونو په راوړلو یې سره بسنه کېږي د ښځو بوختیاوې، میراث، د مهر حق، نفقه او داسې نورې سرچینې.

د اسلام دین د ښځو د اقتصادي سرچینو د تامینولو لپاره ځرګندې او ځانګړې لارښوونې لري او په هره برخه کې یې ښځې هڅولې دي چې په اقتصادي چارو کې په فعاله توګه برخه واخلي.

د ښځو کورنۍ چارې په ظاهر کې کم ارزښته ښکاري خو په واقعیت کې بنسټیز اقتصادي ارزښت دی چې د هغه په شتون د کورنیو اقتصادي نظام ډېر زیات زیانمن کېږي.

د افغانستان قوانین په خپلو مندرجاتو کې د ښځو د اقتصادي ودې لپاره نسبي ضمانتونه لري او هیڅ ډول حقوقي څارنه د فقیرو، بې سرپرستو ښځو څخه نه وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې او سني بېلا بېل رسمونه او عنعنې د ښځو د اقتصادي ودې لپاره مناسب فرصتونه له منځه وړي او یا یې محدود وي او له بلې خوا نه دا عنعنې د ښځو د بوختیاوو او شغلونو ساحه را تنګوي.

## د مېړه او ښځې د ګډ ژوند د بري راز :

یو سړي چې له واده څخه یې تر ځلوېښتو کلونو زیاته موده تېره شوې وه او د خپلې ماندینې سره د ګډ ژوند خوږې ترخې او تودې سړې یې تېرې کړې وي د یوې ګڼورې زده کړې په توګه د هغو د یو لړ پایلو په باب وایي:

که غواړې چې په کورنیو مجادلو او جنجالونو کې ګټونکی شی نو د بایلودنې په هنر یې ځانونه وپوهوی.

په دې وخت کې اروا پوهان د دغه دوه اړخیزې مسالې د حل لپاره لیاره ښیي:

یعنې هغه طریقه چې په دې مجادله کې مېړه او ښځه دواړه ګټونکی شي نو د واده په چارو کې د بریالیتوب رمز په «بایلونکی – یایلونکي» کې نغښتلی دی ځکه چې په مینه کې د یو څه لاسه ورکول هیمشه تاسې ته د یو بل څه سوغات درکوي او هغه مینه او ګرانښت دی.

نومورې زیاتوي: د واده په لومړي وخت کې زما او ښځې تر منځه د کوټې پر دننې دیوال د یوې تابلو د ځړولو په سر جنجال رامنځته شو زما یو ډول تابلو خوښه وه او د هغې بل ډول تابلو په سلیقې او ذوق برابره وه. زموږ ترمنځه د یو لړ شخړو او جنجالونو وروسته مو یوه داسې تابلو انتخاب کړه چې د دواړو پرې موافقه راغله او دغه تابلو زموږ د ګډ ژوند په اوږدو کې د کورنې ژوند د شخړو د حل کولو ډېره اغېزمنه لپاره وه موږ همیشه خپل جنجالونه د همدغه فورمول له مخې اوارول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سړی وايي: ما هڅه کوله چې ماندينه مې کنترول کړم او دې احساس زما له ويرې، ناباورۍ او د امنيت د احساس له نشتوالي څخه سرچينه اخستله، خو ډېر ژر مې دغه ټکي ته پام شو چې ماندينه مې هېڅ ډول کنټرولولو ته اړتيا نه لري او يا دا چې هغه مې په پرله پسې ډول کنترولای نه شوه او که فرضاً ما دې کار ته دوام ورکړی وای زموږ تر منځه يې بې اعتمادي راوستله او په نتيجه کې يې زموږ د ګډ ژوند او مينې پيوند شکاوه.

په کورني ژوند کې بايد وپوهېږو چې په يوه مباحثه يا مشاجره کې هېڅکله ګټونکي بريالي نه ګڼل کېږي او دا په دې معنا که چېرته کوم يو په لفظي شخړه کې ګټونکی شي نو خامخا مو، ماندينه مسله تاسې ته سپاري چې تصميم ونيسی چې په اصل کې تاسې بايللې ده، نه هغې په کورني ژوند کې بايد دا ټکي په پام کې ونيسو چې څه غواړو؟ دا چې دا راته ګرانه وي او يا هغې ته ګران واوسم او دا چې دواړه د بې غمۍ او خوشالۍ احساس ولرو نو بايد دا احساس يو بل ته ور انتقال کړو او کله چې دغه احساس وده او تکامل ومومي نو د ګډ ژوند د ناپېژندل شوو ټکو لکه د شخصيت ډاډمنه او صميمي پناه ګاه مو پېژندلي ده په ګډ ژوند کې يو عاطفي رابطه يوې باغچې ته ورته ده چې موږ په کې د يو ګټور شي تخم کرو خړوبوو يې او بيا ترې ډېر ارزښتناک حاصل يعنې خپل ځان اخلو او په همدې ترتيب زموږ ماندينه هم د ډېر ښه حاصل لپاره ښه خاوره انتخابوي او ډېر ښه تخم په کې کرې دا هم غواړي چې ډېر ښه حاصل ترلاسه کړي.

خو موږ نه شو کولای هغه چې څه غواړو ترلاسه يې کړو، مګر دا کولای شو هغه څه چې مو ماندينه غواړي ورته ويې بخښو که مو ماندينه د کومې موضوع په سر عصباني شي نو ښايي مېړه فکر وکړي چې ښځه يې حق په جانب ده چې عصباني شي او که موږ هم هر څومره عصباني شو نو بيا هغومره زيانمن کېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عصبانيت يوه وسله نه ده چې ډکه او تشه شي، قار ممکن د درد ځواب وي د يو ډول پټ درد. نو کله چې ورته مېرمن په عصبانيت ځواب ورکوي تاسې ښايي شخړه پای ته ورسوی او دا ډېره اسانه خبره ده هڅه وکړي چې دهغې د قار زور کينې، نو کله چې يې اعصاب ارام شي نو په خوږه لهجه ورته وواياست زه پوهېږم کله چې عصباني کېږي دا له دې کبله دی چې يو څه دې ځوروي، زه به هڅه وکړم دغه عامل لېرې کړم؛ ته ماته ګرانه يې او زه نه غواړم چې تا وځوروم، کېدای شي چې دا ورته د خپل عصبانيت عامل وښيي بيا هم کرار ورته غوږ ونيسه او هغه ډاډه کړه چې دغسې پېښه به بيا تکرار نه شي او که برعکس تاسې پرې هم عصباني شي نو ستاسې دا متقابل چلند نه يوازې هغه اراموالی نه شي بلکې عصبانيت يې لا اورجن کوي. نو هڅه وکړي چې په قار او په غوسه غلبه ولرلا شی او د عصبانيت د لامل له تکراريدو څخه په کله مخنيوي وکړي په دې توګه به موږ د کورنيو شخړو د رامنځته کېدو مخه نيولې او په کورني ژوند کې به مو د مينې، پېرزوينې او اعتماد فضا خپره کړې وي.

دا موضوع هم د پوره پاملرنې وړ ده چې بايد په متقابل ډول ښځې هم د ګډ ژوند دغه رمز ته په کلکه پاملرنه وکړي.

## د نارينه له خوا پر ښځو او له ښځو پر ښځو تاوتريخوالي:

تاوتريخوالي يوه ډېره ناوړې، کرکجنه او تباه کوونکي ټولنيزه پديده ده چې تاريخي ريښې يې ډېرې پخوانۍ زمانې ته ورغزيږي او ډېره دردوونکي پېښه يې تر اسلام دمخه هغه مهال چې دعربستان پر خاوره د جهالت او وحشت تياري خپره وې د کورنيو له خوا نوي زيږيدلې نجونه به ژوندۍ تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاور لاندې کېدلې تر څو چې په دغه سيمه د اسلام د پلوشو په ځلېدلو سره د ښځينه ماشومانو مقام ته په درنه سترګه وکتل شو او ځانګړي حقونه يې تثبيت شول.

خو بيا هم په غير اسلامي او اسلامي ټولنو کې د اسلامي ارشاداتو، مدني او ميثاقي ارزښتونو خلاف د ښځو حقونه تر پښو لاندې او د تاوتريخوالي د لاملونو او شکلونو څخه يې د قربانۍ تجربې وليدلې چې په دې اړه په زياته کچه بحثونه او ليکنې شوې او په ځانګړو ورکشاپونو کې تجربوي ارقام ښودل شوي.

خو کومه موضوع چې ښايي غور پرې وشي، د جنسيتي تاوتريخوالي يوازې په دې کټه ګوري مطلق کېداى نه شي او دا ځکه چې جنسيتي تاوتريخوالي په دې دريو برخو کې د بحث وړ دي.

۱.د نارينه له خوا پر ښځو تاوتريخوالي.

۲.د ښځو له خوا پر ښځو تاوتريخوالي

۳.د ښځو له خوا پر نارينه تاوتريخوالي.

۱.د نارينه له خوا تاوتريخوالي:

لکه چې څرګنده ده نن سبا د هېواد په ټولو اړوندو موسسو، نهادونو او رسنيو کې په پراخه کچه د نارينه له خوا پر ښځو باندې د تاوتريخوالي لاملونه او شکلونو ته انعکاس ورکول کېږي او دلته پرې له بحث څخه صرف نظر کېږي.

۲- د ښځو له خوا پر ښځو باندې تاوتريخوالي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ښځو باندې دا ډول جنسيتي تاوتريخوالي کومه نوي خبره نه ده، زموږ د هېواد په ټولنيز ژوند کې د دا ډول تاوتريخوالي يو شمېر لاملونه او شکلونه په ګوته کېداى شي چې ډېر عمومي يې له دې قراره دي.

الف: د خواښې له خوا پر انګور تاوتريخوالي.

ب: د اندريندو ( ننو ) له خوا پرور نداری تاوتريخوالي.

ج: د مور، خويندو او د کورنۍ د نورو خپلوانو ښځو له خوا پر نجونو تاوتريخوالي په دې اړه چې ماد تخار او کندز په ولايت کې په ښځينه ښوونځيو کې د ورکشاپونو په ترڅ کې د يو ريسرچ له مخې نتيجه ترلاسه کړې، د يو شمېر ښځو ښوونکو د نظر يو په اعتبار د اندريياندو له خوا په خپلو ورندارانو تاوتريخوالي په لومړۍ درجه کې ښودل شوي دي.

۳ـ د ښځو له خوا پر نارينه تاوتريخوالي خداى مه کړه چې په دې ډول جنسيتي تاوتريخوالي بحث کول زموږ د يو شمېر خويندو د حساسيت او حسادت لامل نه شي، خو ښايي دې واقعيت ته غاړه کېښودل شي چې زموږ په ټولنه کې د ښځو له خوا پر نارينه و د تاوتريخوالي زيات موارد عملي شوي او لا تجربه کېږي هغه چې د متاثرو کورنيو صميمانه فضا يې مختله کړې او د يو شمېر کورنيزو ستونزو لامل ګرځېدلي دي.

د دې ډول تاوتريخوالي يو څو بېلګې په لاندنيو مواردو کې وړاندې کېداى شي. د مېړه او ښځې ترمنځه د عمر نه انډولتوب او دا په دې مفهوم چې ښځه ځوانه او مېړه د بوډاتوب په عمر کې وي. د شتمنۍ او اقتصاد له پلوه د مېړه او ښځې تر منځه توپير.

کله چې ښځې له شتمنۍ کورنۍ او يا په خپله شتمني وي او مېړه يې بيا له غريبې کورنۍ او يا په خپله اقتصادي پياوړتيا ونه لري نو د ښځې له خوا پرې تاوتريخوالي عملي کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېړه او ښځې تر منځه د زده کړې نا انډولتوب دا یو واقعیت دی چې زموږ په ټولنه کې ځینې ودونه د تحصیلي کچې په پام کې د نه نیولو له مخې کېږي یعنې یوه تحصیل کړده ښځه، بې سواده او یا کم تحصیله سړي سره ودېږي، په دې صورت کې ښځه د تحصیلي لوړې کچې د لرلو په وجه په خپل مېړه د برترۍ احساس کوي او د دې روحیې د تسلط له مخې پر مېړه تاوتریخوالي ترسره کوي.

دعایداتو د درلودلو توپیر:

کله چې یوه ښځه د خپل مېړه په نسبت د زیات عاید لرونکې او د کورنۍ د لګښتونو زیاته برخه د ښځې له عایده تامینېږي نو دا مساله هم د ښځې له خوا پر مېړه تاوتریخوالی رامنځته کوي.

د روغتیا له مخې توپیر:

هغه شمېر ښځې چې د خپل مېړه په نسبت د روغتیا څخه برخمنې وي او برعکس یې مېړه ناروغ، علیل او حتا عقیم وي او د هغې د اوږو بار او ورسره جوخت یې غریزوي غوښتنو ته ځواب ورکولای نه شي نو خامخا د خپلې ښځې د تاوتریخوالي لاندې راځي.

همدارنګه هغه شمېر ښځې چې په لوړو بستونو کې کار کوي او د تحصیلي موسسو آمرانې او یا ښوونکې وي خپل زیرستان او زده کوونکي تر تاوتریخوالي لاندې راولي.

زموږ په ټولنه کې که څه هم په کمه کچه وي خو په ځینو کورنیو کې داسې ښځې هم موندل کېدای شي چې د خپلې کورنۍ په چاپیریال کې د پوره رسوخ خاونده د یوې واکمنې او حاکمې حیثیت ولري. نو د کورنۍ دغړیو په اداره کولو کې د دې د خودمختارۍ په وجه د کورنۍ پر ښځو سربېره نارینه هم تر تاوتریخوالي لاندې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې د دې تریخ واقعیت په باب لا زیات بحث او د بېلګو وړاندې کولو ته اړتیا شته خو د لته ترې د مقالې د لنډیز په خاطر صرف نظر کېږي.

## په افغانستان کې پر ښځو تاوتریخوالي د یوې لویې زیان رسونکې پدیدې په توګه :

په افغانستان کې د نړۍ د هېوادونو غوندې پر ښځو تاوتریخوالي د بشري حقونو په تړاو د پراخو موضوعګانو د زیاتو اندېښنو موارد جوړوي، د ملي او نړیوالو سازمانونو له خوا خپاره شوي رپوټونه په دې اړه مخ په زیاتېدو دي. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ۲۰۰۷ کال د رپوټ له مخې، چې پر ښځو د تاوتریخوالي په باب ثبت شوې پېښې په سلو کې **۵۹** پېښنو ته رسېدل. په داسې حال کې چې د دې کمیسیون د خپاره شوي رپوټ له مخې د ۲۰۰۸ کال تر لومړنۍ څلوریزې پورې اړه لري پر ښځو د تاوتریخوالي د ثبت رقمونه د تېر کال په انډول زیاتو پېښنو ته رسېږي.

او که وویل شي اوس چې ۲۰۱۳ کال مخ په خلاصېدو دئ نو خامخا پر ښځو د تاوتریخوالی د ثبت په شمېر و کې د یادونې وړ ډېروالي لیدل کېدای شي.

لکه څرنګه چې څرګنده ده په افغانستان کې پلرونه، مېړونه او وروڼه پر ښځو د تاوتریخوالي له خورا ډېر عاملینو څخه ګڼل کېږي خو ټولنیز او دودیز موجود نورمونه څه د واکمن نظام په چوکاټ کې او یا په عرفي او قبیلوي جوړښتونو کې لکه جرګې او شوراګانې د دوي څواکمنۍ ته مشروعیت ورکوي، پوځي او غیر مسؤول کسان هم پر ښځو د تاوتریخوالي د لویو عاملینو په ډله کې شمېرل کېږي چې له دې ډلې څخه په ډله ایزو جنسي تېریو کې زیات شمېر ګڼون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کورنیو کې د ښځو په ځینو پېښو کې پر ښځو باندې د تاوتریخوالي په برخه کې نارینه هم ګډون لري او په زیاترو پېښو کې د تاوتریخوالي د ترسره کوونکو په نوم لړ کې هم شامل دي. خو په هر صورت په ټولنه او کورنۍ کې نارینه پر ښځو د تاوتریخوالي مطلق زیاتښت جوړوي، دا هم یو ښکاره واقعیت دئ چې د ښځو له خوا پر ښځو د تاوتریخوالي موارد هم دومره کم نه دي چې له دې ډلې نه د خواښې، بنې او ندرور له خوا پر ناوې« نګور» د تاوتریخوالي زیاتې بېلګې وړاندې کېدای شي.

دا چې په افغانستان کې ددې نامشروعې پدېدې د مخنیوي لپاره کوم میثاقي موارد شته او کنه؟ نو څرګنده ده چې د افغانستان پر ښځو باندې د تبعیض د ټولو بڼو لېرې کول د نړیوال میثاق له ذمه واریو څخه دي او په دې سربېره د افغانستان د اساسي قانون په سریزه او په اوومه ماده کې د هېواد ټول وګړي نړیوالو تړونونو ته په پاملرنې، درناوي او پلي کولو مکلف شوي دي، جنسیتي برابري او د تبعیض له منځه وړل د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ د پنځو توکونو بنسټیزه موضوع جوړوي.

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره د دولت په تېره بیا د ښځو چارو وزارت او اړوندو موسسو د بنسټیزو هڅو په لړ کې د نکاح لیک د سمون او بیا چاپېدلو په اړه له اقدام او پر ښځو د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون د تصویب لپاره د افغانستان د سترې محکمې له هڅو څخه یادونه کېدای شي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت نوي اعلان کړی چې پر ښځو باندې د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو د کنوانسیون د پلي کولو په تړاو د لومړي ریپوټ د برابرولو په موخه په ۲۰۰۹ کال کې یې اقدامات پیل کړي دي، ښایي وویل شي په دې تړاو د دولت چارې امیدواره کوونکې نه دي، چې په دې باب د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا هم څرګندونې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتون لري، د دې کميسيون د رپوټونو له مخې د ښځو د وضعيت په تړاو له اندېښنو ډکې شمېرې بيان کړای شوي دي، پدې رپوټونو کې ځرګنده شوې ده چې کورني تاوتريخوالي په ټولنيزو فعاليتونو کې د ښځو د ګډون د مخنيوي، له کوره شړل، ځان سېزنې، د ښځو د وجود د غړو ماتول، د جنسي تېري او انساني کرامت د تر پښو لاندې کولو د مهمو پېښو په توګه ثبت شوې دي. وهل، ټکول، پر ښځو فزيکي تاوتريخوالي په افغانستان کې له ډېرو زياتو ټوليزو تاوتريخوالو له ډلې څخه دي.

د افغانستان د ښځو چارو وزارت د خپلې پاليسۍ په پيروۍ هڅه کوي چې د واکونو او ځواکمنۍ په پولو کې په افغانستان کې د تاوتريخوالي د ټولو ډولونو مخنيوي وکړي او تر ممکنه بريده د تاوتريخوالي له ناوړو پېښو د قربانيانو سره مرستې او داد رسي وکړي.

## پر ښځو تاوتريخوالی يوه ناوړې عمومي پدېده :

پرښځو باندې تاوتريخوالی هغه ناوړې او ناوړه عمومي پدېده ده چې په اسلامي ارزښتونو کې تل رټل شوې او غندل شوې ده او په مدنی ميثاقونو او د افغانستان په اساسي قانون کې د يوې ټولنيزې زيان رسونکې پدېدې په توګه ګڼل شوې ده.

دا چې تاوتريخوالی څه او پر ښځو باندې تاوتريخوالی يانې څه؟ پېژندګلوي يې په دې ډول کېدای شي:

پر ښځينه قشر باندې تاوتريخوالی چې فزيکي، جنستي، رواني او اقتصادي تاوتريخوالي په کې شامل دئ د معمول له مخې دا ټول د جنسيتي تاوتريخوالی په نامه يادېږي او دا ځکه چې دا ډول تاوتريخوالي هغه عملونه دي، چې ښځې په شکل د شکلونو د زيانونو سره مخامخ کوي او خامخا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو باندې په کورني چاپېريال کې د کورنۍ دغړيو او يا د ټولنې د وګړو له خوا پلي کېږي.

لکه چې څرګنده ده په نړۍ کې له هرو دريو ښځو څخه يوه يې د تاوتريخوالي له زياترو ډولونو لاندې راځي. په ډېرو وختونو کې هغه کسان د تاوتريخوالي عاملين ګرځي چې په دې ډله کې د ښځو د کورنيو غړي يا نږدې خپلوان وي.

د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي په زياتېدونکې کچه مخ په پراختيا دئ او د بشري حقونو د ارزښتونو څخه د سرغړونو په برخه کې له زياتېدونکو انديښنو سره مل دئ. پر ښځو باندې د هر ډول تو پير د له منځه وړلو نړيوال اعلاميه د بشري حقونو لومړني سند دئ چې پر ښځو د تاوتريخوالي موضوع يې په پوره صراحت او وضاحت سره مطرح کړې ده.

دا اعلاميه په دې خبره ټينګار کوي چې پر ښځو تاوتريخوالي د ښځو بشري حقونو ته پوره زيان رسوي او حتی هغوئ ترې بې برخې کوي او د اساسي آزاديو په لاسرسي کې يې خنډونه رامنځته کوي.

دا اعلاميه د جنسيت له مخې د تاوتريخوالي مشخصه پېژندنه وړاندې کوي او هر مهال يې يو داسې ناوړه عمل ګڼي چې ښځو ته فزيکي، جنسيتي او رواني زيانمني رسوي او په دې برخه کې يو ګواښ ګڼل کېږي. د يو داسې ګواښ او يا کړنې په توګه چې د خصوصي او يا ټولنيز ژوند په ساحه کې له ازادي څخه يې بې برخې توب په کې شامل دئ.

دادې پېژندنې د نوموړې اعلاميې په دويمه ماده کې بيا له سره پوخوالی موندلی دئ لکه هغه برخې چې پر ښځو باندې تاوتريخوالي په ټولنيزه توګه رامنځ ته کېږي په دريو برخو وېشل کېږي:

۱ـ فزيکي تاوتريخوالی

۲ـ جنسي تاوتريخوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳.رواني تاوتريخوالی

دا درې واړه برخې په کورنۍ چاپيريال کې رامنځته کېږي.

په دې ټولو کې وهل، ټکول، جنسي تېري، پر کوچنيو نجونو د ودونو په تړاو او دهغه د جهيز يې او لګښتونو په اړه د تاوتريخوالي په ګډون د مېړونو او د هغو د ودونو په واسطه چې پر ښځو د تاوتريخوالي لامل ګرځي، او د ناوړه ګټې اخېستنې په اړه تاوتريخوالی.

په ټولنه کې فزيکي، جنسي او رواني تاوتريخوالي، د جنسي تېريو، د جنسي ګټې اخېستنې، د ازارولو او ځورولو او د کار په سيمه کې، تحصيلي موسسو او په نورو ټولو ځايونو کې، د ښځو قاچاق او بدکاريو ته د مخې کولو په ګډون تاوتريخوالي هغه فزيکي، جنسي او رواني تاوتريخوالي چې د دولت د اقدام او يا د سترګو پټولو په پايله کې هر چېرته رامنځته شوي دي.

پر ښځو باندې تاوتريخوالي هغه موضوع ده چې نور، دهغه د پای ته رسولو لپاره ښايي وخت ته انتظار ونه اېستل شي په ښځو د تاوتريخوالي شمېرې هم دا موضوع تاييدوي چې لږ تر لږه يو زيات شمېر ښځې تر وهلو، ټکولو لاندې راځي، د مور په ګېډه کې د ماشوم د جنسيت د ټاکلو نه په ګټې اخېستنې سره چې د ماشومو نجونو زيات شمېر نړۍ ته د سترګو غړونې قابو نه مومي. واقعيتونو ښودلې ده چې هيڅ يوه ښځه، ياني که بوډۍ وي او که ځوانه، په هېڅ يوه هېواد کې او په هيڅ يوه فرهنګ کې له تاوتريخوالي څخه خوندي پاتې نه ده.

پر ښځو باندې د تاوتريخوالي په اړوند، د جنايتونو په زياترو برخو کې هغوی بې مجازاتو پاتې کېږي او عاملين يې په ازادانه ډول ژوند کوي.

اوس هغه وخت را رسېدلی دئ چې ټولې ښځې يو شان د نن او سبا لپاره د خپل ژوند، خپلو حقونو او آزاديو څخه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مور ملکوتي مقام

که بنیادم پرېښته کېدلای شوای نو بې له شکه به مور پرېښته وای، او دا چې د غورو انساني صفتونو، لوړو اخلاقي موازینو، رښتیني مینې، محبت، پېرزوینې، فداکارۍ او د یو واقعي انسان د لوړ مقام د لرلو په وجه یو انسان د پرېښتو سپېڅلي مقام ته رسېدلای شي او بیا مور چې د دغو غورو ځانګړتیاوو درلودونکې ده نو په حقیقت کې مور هغه رښتیانی انسان دی چې د پرېښتو مقام ته یې نسبت کېدلای شي.

دا موضوع نه یوازې د انساني ټولنو په فرهنګونو کې د اهمیت وړ بلل کېږي بلکې د اسلام په سپېڅلي دین په تېره بیا د لوی خدای په نزد په قرآني مبارکو آیتونو کې هم پوره جوته ده، او په قرآن مجید کې د اولادونو له خوا نه د مور د رضایت او خاطر ساتلو په اړه په تکرار او تاکید سره لارښوونه او سپارښتنه شوې چې د مور په وړاندې نور ناوړه چلندونه لا پر ځای پرېږده نه یوازې ( اف قدرې ) کول هم لویه ګناه ده، بلکې په مقابل کې یې بې ادبي کول، حساسیت ښودل، په قاربدل، سپکاوي کول او ګواښېدل، د هغې ځوروني او داسې نور لویې ګناوې دي چې د بخښلو وړ نه دي.

له همدې ځایه ده، چې د مور خوښې او رضایت او د هغې زړه ساتل، د اسلام په دین کې ځانګړې اهمیت لري، او دا چې ددې په حق کې د لوی خدای له خوا د ملکوتي مقام پېرزوینه شوې او هم د خدای رسول فرمایلي دي چې جنت د مور او پلار تر پښو لاندې دی یو انکار نه منونکي واقعیت دی.

د بشر تر پیدا ښته تراوسه پورې ( او تردې وروسته ) د تاریخ په بېلا بېلو دورو کې د انساني ټولنو په تاریخي سرنوشت ټاکلو او مقرراتو کې، مور پرېکوني نقش لوبولی دی چې بې شمېره او بې ساري مثالونه یې ښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شي او په هره تاریخي دوره کې د بشریت په تکاملي پړاوونو کې د مور سرنوشت ټاکونکي نقش خورا ځلانده دي.

مور نه یوازې ښځینه جنس او قشر دی، خور او خپلوانه ده، ماندینه، د ژوند همکاره او همسفره ده، معشوقه او د مینې تمثال دی، یعنې د مینې عاطفي او ګرانښت پرېښته ده او ددې د امینه او ګرانښت دي چې د طبعیت ښکلاوو او رنګنیو ته او د فطرت استه تیکی مظاهرو ته خوند او رنګ او زړه راښوونکی کیفیت ورکوي؟

ددې تر څنګ مور د ژوند ملګري ده، د انساني ټولنې نیمایې ارزښتناکه اړخ دی او که انساني ټولنه د یو الوتونکي په توګه دوګڼو نوکه یو وزر یې نارینه دي بې له شکه یې دوهم وزر ښځه او مور ده او طبیعي ده چې الوتنه په دوو وزرونو کېدای شي نه په یوه وزر د مور غېږه د سپېڅلې مینې، ګرانښت او پېرزوینې تود کانون دی، د مور غېږه د انساني ټولنو د ښودنې او روزنې یوه ډېره مهمه مدرسه ده، هغه چې په تاریخ کې د بشري ژوند په ټولو ډګرونو کې د پیغمبرانو، د لاوتلیو متبحرینو اتلانو، عالمانو نووښتګرو او تلپاتې نامتو شخصیتونو زیږونکي، روزونکي او پالونکې ده.

اما د مور ددې لا لوړ ملکوتي مقام او د تاریخ په اوږدو کې د بشري ژوندانه په ټولو برخو کې د ټاکونکې نقش د درلودونکې په صفت بیا هم په انساني ټولنو او حتی په ځینو انساني کورنیو کې د هغوئ دغه لوړ مقام ته نه یوازې د درناوی او لمانځنی په خاطر سر نه ټیټېږي او د هغوی مورنیو او د بشري او مدني حقونو ته په درنه سترګه نه کتل کېږي.

بلکې د هر اړخیزو تاوتریخوالي د ډول ډول پدیدو په وجه قرباني ورکوي، سپکاوی یې کېږي، رټل کېږي او حتی د اولادونو له خوا ښکنځل کېږي، وهل او ټکول کېږی... او ددې تر څنګه دولتي اړوند ارګانونو په تېره بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو چارو وزارت او په ولايتونو کې د هغه رياستونو لکه څنګه چې شايد او بايد دی د اړتيا وړ لازمو مالي او مادي امکاناتو او د هغو سره د نورو اروګانونو د لازمي مرستې او ملاتړ د نشتوالې له کبله په شکل د شکلونو د مور طبيعي حقه او ميثاقي حقونه نقض کېږي، چې د هېواد په هره برخه په کليو، قشلاقونو حتی په ښارونو کې يې بيخې زياتې بېلګې وړاندې کېدای شي، چې له دې جملې نه ځان وژني ځان سيزنې او يا د خپلوانو او نورو له خوا وژنې او داسې نورې زړه دردونکې پېښې يې مثال راوړلای شو.

ځومره به ښه وای چې د مور ملکوتي مقام ته لکه څنګه چې ښايي د درناوی سر ورتېټ کړو او ټولو طبيعي، اسلامي، مدني او ميثاقي حقونو ته يې د زړه له کومې درناوی وشي.(۱)

(۱) دوطن جريده، د قبايلو وزارت.

## د ناموسي وژنو او جنسي تېريو د لاملونو بررسي :

### سرېزه :

په دې وروستيو کلونو کې ناموسي وژنې او جنسي تېري له پيچليو او د اند ښنې وړ موضوعګانو څخه ګڼل کېږي او د دې پروسو زياتښت هميشه د بشري حقونو او مدني ټولنې د دفاع کوونکو نهادونو د تاکيد او بررسي وړ ګرځېدلي دي.

لکه چې د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کميسيون په دې تړاو او د هغو د علتونو او لاملونو دموندلو او د بررسي په موه او د دې ناوړو پدېدو د لا زياتښت د مخنيوي او کمښت په خاطر د مناسبو او منطقي لارو چارو د موندلو لپاره فعاليتونه پيل کړي دي او د هغو څېړنو له مخې چې د قربانيانو او د هغوی د کورنيو د غړيو د بشري حقوقو د کميسيون او مدني ټولنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهادونو، رسنیو او دولتي ارګانونو او آګاهو شخصیتونو له نظره په ټول هېواد کې ترسره شوي او په هغه رپوټ کې چې په دې برخه کې برابر شوي دي دا هڅه شوې چې د ناموسي وژنو او جنسي تېريو په پدېدو کې د لا مهمو او غېزناکو لاملونو برخې تر بررسۍ لاندې ونیسي.

ددې څېړنې له مخې ددې ناولو پدېدو د سرچینو او لاملونو څخه په دې ډول ښودل شوي دي چې په دوو برخو کې بحث، څېړنې او بررسي وړ دي.

اقتصادي لاملونه او غیر اقتصادي لاملونه:

چې دلته به اقتصادي لاملونه تر څېړنې او بررسي لاندې ونیول شي چې په دې ډول دي:

۱.بیکاري

۲.نیستي

۳.د ښځو د شغل درلودلو په وجه ګوابنونه

۴.د ودونو بېخې زیات لګښت او د واده په تجملي مراسمو تاکید

۵.هغه بدلي ودونه چې د اقتصادي لاملونو له مخې وي.

۶.په نشه ایزو توکو د کورني د نارینه غړیو روږدیتوب

۷.په بوډاګانو او د ځو ښځو په لروکو د لونړو خرڅول.

۸.د ښځو د میراث حق په جبر سره

۹.د نارینه د کورنۍ له خوا د ښځو د اقتصادي ګټې او معاش اخېستل.

۱۰.په کورنۍ کې د ښځو کمزوري اقتصادي دریځ.

چې دا هر یو په دې ډول د څېړنې او بررسي لاندې نیول کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-بیکاري یا بې روزګاري:

بیکاري همیشته ستونزې رامنځ ته کوي او په هغو ناوړو اغېزو سربېره چې په اقتصاد، اخلاقو او په مجموع کې د کورنۍ پر ژوند یې غورځوي، ددې لامل ګرځي چې وزګار نارینه او ښځې هغه فرصت چې تر بل هر وخت زیات د جنسي تمایلاتو او اړتیاوو د پوره کولو لپاره ولري نو بیخې زیات جنسي ارضا ته لاس اچوي څېړنو ښودلې ده بیکاره نارینه زیاتره وختونه د کورنۍ او یا د ګاونډیانو پر نجونو او ښځو جنسي تیري کوي، همدارنګه لکه ښودل شوې ده ددې تېریو قربانیانې ددې د پېښې د پېښو او د کورنۍ د ابرو د خوندي ساتنې، تر تیري وروسته وژل شوې دي او دا له ناموسي وژنو څخه عبارت دي.

د څېړنو د رپوټونو له مخې په سلو کې **۵۳** د جنسي تېریو پېښې د هغو کسانو له خوا رامنځته شوي دي چې د قربانیانو سره یې په یو ډول د خپلولۍ اړیکې او یا خاص نسبت درلودلی دي چې دا کسان د قربانۍ شوې د پلار، ورور او کاکا څخه عبارت دي، همدارنګه د ناموسي وژنو په لړ کې د قربانۍ شوې خپلوان ډېر لوړ رقم تشکیلوي د قربانیانو د لاملونو په سلو کې **۲۱** او خپلوان یې په سلو کې **۳۵** دي.

۲-نیستي:

نیستي هم د بیکارۍ غوندې یو ځورونکي لامل دی چې زیاتې ستونزې رامنځته کوي څېړنو ښودلې ده چې د هغو کسانو زیات شمېر چې د ناموسي وژنو او جنسي تېریو جرمونه یې کړي دي د بېوزلو یا منځنیو کورنیو څخه دي، چې له دې جملې نه یې په سلو کې **۷,۳۷** له نیستمنو کورنیو څخه او په سلو کې **۲,۳۲** له منځنیو کورنیو څخه دي او یوازې په سلو کې **۹,۲۵** پاتې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کسان دي چې په سلو کې ۸ د اقتصادي ځواکمني لرونکي او په سلو کې ۹٫۱۷ یې د سیاسي قدرت لرونکي دي.

د څېړنیزو رپوټونو په سلو کې ۲٫۵۸ له قربانیانو څخه د فقیرو له کورنیو او د قربانیانو په سلو کې ۷٫۳۲ د متوسط الحالو کورنیو څخه دي او یوازې په سلو کې یو له قربانیانو د سیاسي ځواکمنو کورنیو پورې تړاو لري.

**۳.د ښځو د پاره د بوختیا لرلو له کبله ګواښونه:**

زموږ په هېواد کې بیکاري د یو عمومي افت په توګه له مصیبته ډکه ستونزه ده، په تېره بیا ښځې له دې آفته بیخې زیاتې اغېزمنې دي او دا ځکه چې د مرد سالاري عنعنې کورنیو ته دد دې اجازه نه ورکوي. چې ښځې او نجونې یې له دې امله چې په ټولنه بې باوره دي له کوره بهر د کار اجازه نه ورکوي، دا چې له بده مرغه دا کورنۍ چې د ټولنې زیاته برخه رانیسي له کوره بهر د ښځو او نجونو شکل خپله بې آبرویي او حتی د کورنۍ د بې عفتي لامل بولي نو دا وجه ده چې د دوی زیات شمېر تر هر چا زیات د شخصي ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره په ځانګړې ډول نقدو روپو ته ضرورت لري او دا موضوع ده چې دوی زیاتې د جنسي تېریو لاندې او یا د ښځو او لوڼو د بې ابرویې د مخنیوي لپاره وژل کېږي.

**۴.د ودونو بیخې زیات لګښت او د واده په تجملي مراسمو تاکید :**

بې له شکه دا موضوع د زوم د کورنۍ لپاره د هغې د اقتصادي کمزورتیا په وجه یو ډېر ملا ماتونکې ده یو شمېر کورني په دې وجه له ودونو څخه کرکه کوي چې د زیات ولور او د واده د تجملي مراسمو په وجه د بیخې درانده اقتصادي لګښت د بار لاندې راغلي دي او دد دې کورنیو واده شوې نجلۍ د کورنیو د غړیو له خوا د تاوتریخوالي لاندې راځي او یا دا چې د مېړه او یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمنې د کورنۍ د غړو له خوا ځان خرڅونې ته کومارل کېږي او د جنسي تيري لاندې راځي.

**۵. بدلي ودونه:**

زموږ په ټولنه کې يوه ډېره پخواني عنعنه د نيستمنو کورنيو ترمنځه د يو ساده رواج په توګه بدلي ودونه دي، چې په دې ډول ودونو کې د تاوتريخوالي زمينې ډېرې برابرېږي، په دې ډول که يوه ښځه مېرمنې په کور کې تر تاوتريخوالي لاندې راشي، د کسات اخېستلو په عنوان هم متقابل ډول تر تاوتريخوالي لاندې واقع کېږي او حتی وژل شوې هم دی.

**۶. په نشه يي توکو د کورنۍ د نارينه غړيو روږديتوب:**

که څه هم نشه ايزو توکو په خلاف د مبارزې هلې ځلې رواني دي خو بيا هم په ټولنه کې دا ناوړه پديده د دې پر ځای چې کمښت په کې راشي لا زياتښت مومي لکه کال په کال يې رقم لوړېږي نو يې شمېر د اوږدې کورني، ښځې او لوڼې د خپل عايد د يوې منبع په توګه بدکاريو ته مجبوروي چې د هېواد په کچه يې بېلګې وړاندې کېدای شي لکه د غور په ولايت کې يوه مېرمن د روږدې مېړه له خوا بدکارۍ ته مجبوره شوه او که چېرته د دا ډول مېړونو ښځو د دوی له غوښتنې سرغړولی دی د دوی له خوا وژل شوي دي.

**۷. په بوډاګانو او د څو ښځو په لرونکو د لوڼو خرڅول:**

دا ډول ودونه چې د شرعي حکمونو سره هېڅ رابطه نه لري د دې ډول ودونو يو شمېر ښځې، د دې ډلې کسانو سره د واده د نه رضايت په وجه، د مېړه سره تر اخره ژوند ته دوام ورکولای نشي نو واده چې د تاوتريخوالي د رامنځته کېدو لامل ګرځي، او د دې ترڅنګه د دې اجبارې ودونو قرباني شوي ښځې د تاوتريخوالي د ببخې زيات زياتښت په وجه، حتی د مېړه د کورنۍ له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژل کېږي او یو شمېر ښځې د کسات اخېستلو په توګه د مېړه د کورنۍ د یو غړي له خوا د جنسي تېري مورد ګرځي.

بل مهم علت دادی چې دا ډل مېړونه د خپلو مېرمنو جنسي غریزې د ارضا کولو وس نه لري نو بې پیغلې مېرمني جنسي تېري ته غاړه ږدي.

۸ـ د ښځو د میراث حق:

زموږ د هېواد ښځې د قانون او شریعت له مخې د میراث حق لري، په ځینو مهالونو کې دا حق ددې لامل شوي چې حق غوښتونکې ښځه د پلار د کورني د غړیو له خوا ووژل شي او حتی په ځینو مواردو کې د جنسي تېري لاندې راځي.

۹ـ د نارینه د کورني له خوا په جبر سره د ښځو د اقتصادي ګټې او معاش اخېستل:

زموږ په ټولنه کې ځېنې کورنۍ شته چې د مور او یا د کورني د نجلۍ د عاید له لیارې ژوند کوي او حتی ځېنې نارینه له دې امله هېڅ کار نه کوي او که چېرته دا ښځې خپل عاید خپل مېړه او یا کورني نارینه ته ورنه کړي، نو تاوتریخوالي رامنځته کوي د وژلو او یا جنسي تېرې لاندې راځي.

۱۰ـ په کورني کې ښځو د کمزوري اقتصادي حالت درلودل:

دا موضوع په ځینو کورنیو کې د جنسي تېري او ناموسي وژنې لامل شوی دی چې په دې اړه یو لړ بېلګې هم وړاندې کېدای شي.(۱)

(۱) ارشادالنسوان، ۹۰ ګڼه د زمری میاشت ۱۳۹۲ کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پر ښځو د جنسي تېري يو ډېر زړه بوګنونکی شکل :

د خپلواکۍ مجلې د مدير په وينا : څو کاله د مخه د تخار ولايت د تالقانو ښار ته د افغانستان د مطالعاتو د مرکز له خوا د يوې ټولنيزې دندې د اجرا کولو لپاره تللي وم، يوه ورځ چې د هغه ولايت د ښځو چارو د مشرې سره د هغې په دفتر کې ناست وم نوموړې تر حده زياته خواشيني او په عين حال کې عصباني وه، دې وويل: ددې رياست د امن خونې ته د دوهم ځل لپاره يوه مېرمن په ډېره ناوړه صحي حالت کې راوړل شوې وه چې دوهم ځل پرې ډله ايز جنسي تېرې شوي وو، زما د پاره ددې موضوع بيخې نويوالي درلودلو ځکه چې تردې وخته پورې په هېواد کې پر ښځو د تاوتريخوالي دا ډول کرکجنې پېښې نه وې ليدل شوې. خو په ډېرې خواشينۍ ښايي وويل شي چې په دې وروستيو کلونو کې لکه څنګه چې د ډله ايزو رسنيو په واسطه خبرېږو، زموږ د هېواد په يو شمېر سيمو کې پر ښځو د جنسي تېرې دا بې شرمانه شکل په نړيواله کچه بې ساری دی، نه يوازې په کې کمښت راځي بلکې له يوې ورځې نه بلې ورځ ته په کې زياتښت راځي.

زما په عقيده هغه څوک چې د سالم وجدان او انساني ضمير درلودونکې وي هغوی به په دې تړاو حتی د خبرو اوريدو تحمل هم ونه لري.

د پوره حيرانتيا او افسوس خبره ده چې په يوه افغاني او اسلامي ټولنه کې يو شمېر ځناور خويه، خو يوازې په شکل انسانان دغسې ډېر فجيع او له شرمه ډک عمل ته هغه په پوره افتخار اقدام کوي، يو هغسې تيرې کوونکې عمل ته چې په ځنګل کې د يو زور ور ځناور له خوا په نورو وحشي حيواناتو د عملي کېدو ببلګې يې وړاندې کيدای نه شي، نو څرګنده چې په دغسې يو چا د انسان د نوم انتسابول په انساني کرامت له توره به بل څه نه وی او ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري چې دغه شيطان فطرته او شيطان کرداره موجود انسان په جامه کې يو شيطان وبلل شي.

دلته ددې زياته اړينه ليدل کېږي چې ددغې ټولنيزې ننګينې پړ بډ ې په لاملونو يو څه رڼا واچول شي:

- په هېواد کې ټوپکسالارۍ او زورواکي ددې پديدې مهم لامل ګڼل کېږي دا ځکه دغسې زورواکان د هېڅ ډول ټولنيزو ضوابطو او حقوقي قوانينو او اسلامي ارزښتونو ځان تابع نه ګڼي، له هيڅا حتى د خداى (ج) څخه نه ډارېږي او غواړي چې د جنسي تېريو يو نوي ريکارډ قايم کړي، د دوی زورواکي او تهديدونه پوره اغېزمن دي په تېره بيا هغه مظلومې کورنۍ چې د دوی تر تجاوز لاندې راغلي دي کله د دوی د مقابلې وسه لري.

- د زور او شتمنۍ واکمني: دا ډله کسان د پريمانه شتمنۍ او قارونې بډاينې په وجه خامخا پر مځکه له هر ډول موازينو څخه په نه پيروتۍ بغاوتونه کوي، نو دوی په دې فکر کې کېږي چې له خپلې شتمنۍ څخه څنګه ګټه واخلي، دوی دغه شتمنۍ په نامشروعه ډول او نامشروعو ليارو کار وي، دوی ته د خپلې ټولنې د يوې کورنۍ ابرو او پتمنۍ هېڅ ارزښت نه لري او ښه ډاډه وي چې دا شتمني د دوی هغه کاري وسله ده چې هر څوک پرې مغلوبولای شي.

۱. ځينې کسان چې د اخلاقي فسادونو د درلودلو په وروستنۍ کچه کې وي او هېڅ ډول موازين ورته ارزښت نه لري، نورو ته د بدنامۍ اړول څه، چې په دغسې عمل په بدنامۍ افتخار کوي، بې ايمانه کسان وجدان او حيا نه لري.

۲. د مظلومو او ددغه تيريو لاندې راغلي کورنيو هر اړخيزه بې وسي، چې نه زور لري او نه زر او نه يې ملاتړ کوونکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳.دهېواد په ټولو دولتي او سیمه ییزو اروګانو کې، که اجرایوي، قضایي او عدلي وي د پورتنیو کته ګوریو د تیري کوونکو پریکوني اغېزمنې او هر اړخیزه وابستګي یعنې دا چې متل دی چې «... دې قاضي ... نو حق غوښتنه له چا غواړي» دا خبره د دوی په حق کې پوره صدق کوي.

۴.د اړوندو صلاحیت لرونکو ارګانو کمزورتیا : دا په دې مفهوم که څه هم ددغه ارګانون اړونده مسولیت د دوی پورې هېڅ دول تړاو نه لري او غواړي چې په سخته جزا محکوم شي، خو نه یوازې د دوی پریکړې عملي کېدای نه شي بلکې ملاتړ یې هم بې ګټې دی.

۵.د سیمې او سیدونکي هم د دوی له شر او زیان رسولو څخه ډاربږي او نه شي کولای ددغه ډول ډېر کرکجن جنایت مخه ونیسي او زیان رسیدونکی کورنۍ سره مرسته او کومک وکړي په دې تړاو د دوی بې تفاوتې هم ددغه ناوړې پدیدې د رامنځ ته کېدو لامل ګڼل کېږي.

۶.له مظلومې کورنۍ څخه نه ملاتړ او دوی د نه محکومېدلو او د عمل په سزا نه رسیدلو موضوع هم دوی په مطمینانه ډول خپلو جنایتونو ته په پوره بې اعتنایې، جرات او ډاډه زړه ادامه ورکوي.

**وړاندیزونه :**

ددې لپاره چې د ټولنې دغسې جنایتکاران، د ټولنیزو ضوابطو او هېوادنیو قوانینو له مندرجاتو څخه سرغړونکی پرې نه ښودل شي چې زموږ په افغاني او اسلامي ټولنه د دوی دغسې ناوړه عمل نور تور او رټه ونه ګرځي نو په کار دی.

۱ــ دولتي اړوندو اروګانونو ته په کار دی چې د زیانمنو کورنیو سره خواخوږي او ملاتړ په خاطر په لومړي سر کې، د جنایتکارانو د نفوذ تر سلطې لاندې اشخاص تثبیت او پر یې نه ږدي چې د دوی په پلویتوب قوانین

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر پښو لاندې کړي. که دولت د دغسې کسانو ډلې په ډېره سخته او عبرتناکه جزا ورسوي او د زيانمنو شوو کورنيو ملاتړ وکړي دا يې ډېره اغېزمنه لاره ګڼل کېږي.

۲.په ټولنه کې د ملايانو، روحانيونو او نفوذ لرونکو اشخاصو له خوا د دې جنايتکارو ډلو چې د هر چا سره اړيکې ولري که وغندل شي او زيانمنو شوو کورنيو ملاتړ وکړي دا يې هم ښه وسيله ده.

۳.د سيمې خلک بايد په ډله ايز ډول يو موټي شي او په لومړي سر کې د دغو لنډه غړانو د دغسې شوم عمل مخه ونيسي او ورسره جوخت د هغوی پر ضد او په جزا ورسولو په برخه کې متحدانه عمل وکړي، نو په دې صورت کې په يوې متحدې کتلې د زرو او زور د واکمنيو زور رسيدای نه شي.

۴.رسنۍ بايد د دغسې کسانو ناولې څېرې افشا کړي.(۱)

(۱) ارشاد النسوان ۹۰ ګڼه، د ۱۳۹۲ کال د اسد مياشت.

## د کورنۍ د سالمې فضا په تامين کې د ښځې ونډه :

د کورنۍ سالمه فضا يانې د مينې، پېرزوينې او صميميت ډکه په زړه پورې له ګرمۍ او خوشالۍ ډکه فضا يوازې اقتصادي مسايل تامينولای نه شي بلکې يو لړ داسې نور عوامل هم شته دي چې هغه کورنۍ له مينې، دوستۍ، ګرانښت، نېکمرغۍ او خوشحالۍ څخه سرشاره کوي چې يو له دې ډېرو زياتو مهمو عواملو څخه په کور کې د مهربانۍ، دلسوزۍ، همدردۍ، همرازۍ، هوښيارۍ ښځې شته والی دی.

د ښځې او مېړه ترمنځه نه شلېدونکې له مينې او صداقت ډکې عاطفي اړيکې ځانته يو لړ محملونه لري، چې په دې کې د مېړه او ښځې د متقابلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خصوصیتونو او خاصیتونو ژور درک او پېژندنه شامله ده، ځکه چې په دې ټکو جدي پوهېدنه د دوارو جوړو ترمنځه هر اړخیزه بېګانګي او خلا له منځه وړي. هوښیاره ښځه هغه ده چې د خپل مېړه سره هم فکره، هم احساسه، هم هدفه او همرازه واوسي.

البته په دې واقعیتونو پوهول د یو او بل لخوا د خولې او خبرو له لیارې دومره مناسب او اغېزمن نه دي، بلکې ښځې او مېړه ته په کار دي چې د خپل ګډ ژوند په اوږدو کې د یو او بل د پېژندنې او د ښو صفتونو د پوهېدنې په لړ کې په دغو ټکو هم ځان وپوهوي او دا خو دومره سخته خبره نه ده چې یوه ښځه په دې ځان وپوهوي چې مېړه یې د دې له خوا په کوم ډول چلند او کړنه د خوشالۍ احساس کوي او کوم کار یې د رضایت او حساسیت لامل ګرځي او یا برعکس یانې مېړه نه غواړي چې ښځه یې د طبیعي او میل خلاف کوم کار وکړي.

نو ښځه باید په دې نزاکت پوره پوهه وي چې دا موضوع نه یوازې د ښځې او مېړه صمیمي ژوند تر اغېزه لاندې راولي بلکې د مېړه په وړاندې د هغې شخصیت ته هم زیانمن تمامېږي.

د بېلګې په توګه:

مېړه نه غواړي چې د ښځې د هغو خپلوانو کره چې دده په نسبت ځینو کورنیو او مناسباتي نزاکتونو ته ارزښت نه ورکوي او یا دا چې د دوی سره لازمه راشه درشه نه کوي، ښځه یې ورکره لاړه شي او ځان نابللی مېلمه کړي.

هوښیاره ښځه باید د مېړه د دې احساس سره هم غږې واوسي او که فرضاً په ځینو حالتونو کې مجبوره شي چې د مېړه د احساس خلاف عمل وکړي، نو بیا په کار ده چې د مخه د ښځولۍ د ظریفانه سلیقې په مرسته د هغه رضایت جلب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوښیاره ښځه باید د مېړه د شخصیت درناوی وکړي او هغه ته په لوړ شخصیت او ارزښت قایله شي، په مناسبو موارد و کې یې ملاتړ وکړي او د خپلوانو د ناوړو چلندونو تر اغېزه لاندې رانشي.

څرنګه چې مېړه او ښځه په خپل ګډ ژوند کې د یو او بل د شخصیت متمم دي او هم ګډ سرنوشت لري نو دا به ډېره ناوړه خبره وي چې د یو او بل په وړاندې بې توپيره واوسي.

د مېړه او ښځې په منځ کې حوصله، برده باري، ښېنه او تېرېدنه ځانګړې ارزښت لري، ښايي د يو بل اشتباهات «ښو بېدنې» او نېمګړتياوې په خاصو او صميمانه موارد و کې يو او بل ته په ډاګه کړي. مېړه او ښځه بايد د عصبانيت ځواب په عصبانيت ورنه کړي.

تجربو ښودلې ده چې ښځه د کورني ژوند د نيمکرغۍ ډېر ستر عامل دی او د کورنۍ د سالمې فضا هغه ډېوه ده چې کور پرې روښانه او د کورنۍ غړي په خوښۍ او خوشالۍ کې پرې راغونډ وي(۱) .

(۱) ارشاد النسوان، ۸۹ ګڼه، د سرطان مياشت۱۳۹۲ کال.

## ښځې او سوالګري :

ګدايي او سوالګري د اسلامي شريعت له مخې يو ناروا عمل شمېرل کېږي يو لامل يې دا دی، چې د دې ننګين عمل په وجه د سوالګر انساني شخصيت ته پوره زيان رسېږي او په شکل د شکلونو د سپکاوي وړ ګرځي.

خو په پوره خواشينۍ سره ښايي وويل شي چې نن سبا زموږ د هېواد په سرکونو، کوڅو او بازارونو او همدا راز د خلکو په ګڼه ګوڼو ځايونو لکه د جوماتونو، نانواوانو، قصابيو مخې ته او حتی د نورو د کورونو د دروازو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټکولو سره، ګدايي ګران چې له ښېلا ښېلو ټولګيو څخه عبارت دي په هره موخه چې وي، خو زياتره د خيرات د ترلاسه کولو په موخه سوال کوي.

له دې ډلې نه ښځينه سوالګرې لوېيې رقم جوړوي او لکه چې ليدل کېږي دوی نه يوازې په ښېلا ښېلو ښاري سيمو کې بلکې په ښېلا ښېلو حالتونو چې د ليدونکو د ترحم وړ وګرځي، دغه ناروا عمل ته لاس اچوي، يو شمېر ښځې چې نجونې او ميندې په کې شاملې دي، پښې لوڅې او په زړه او شليدلو جامو او فلاکتباره حالت کې ګدايي کوي او حتی نارينه او ښځې له کاليو څخه رانيسي.

يو شمېر د لويو واټونو په غاړه په داسې حال کې چې کوچني بچيان او څو مياشتني شيده خواره ماشومان ورته پراته وي او ځينې يې په لويو واټونو کې په موټرونو پسې منډې وهي او يا يې مخه نيسي او په زوره ترې خيرات غواړي او د هېواد د لويو واټونو په ځينو برخو او د موټرونو په تم ځايونو کې هم دغسې حال دي.

په دغسې او نورو عاطفه لړزونکو او خواشينونکو حالتونو کې د ښځينه سوالګرو ليدل ښايي د پوره افسوس وړ موضوع وګڼل شي او دا په دې وجه چې د خپل ډېر لوړ انساني او ټولنيز مقام په درلودلو سره يې شخصيت بايد دومره راټيټ نشي.

ښځه د مور په توګه د ژوندانه د ملګري په توګه او حتی د يو انسان او اشراف المخلوقات په توګه، هغه چې د بشري نسلونو د تسلسل ساتلو طبيعي کړې ده، هغه چې د انسان برخه ليکونه ددې د فداکارۍ، زيار ايستنې او اتلولۍ په برکت ليکل کېږي او بالاخره هغه بشري لطيف مخلوق چې د ستايلو او درناوي وړ دی او لکه ګل تازه او ښکلي وسايل شي، نو د داسې ذليل توب او سپکاوي وړ دي؟ په هيڅ صورت نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا دوئ د یو انسان او بیا د یو هېواد وال په توګه د یو لړ طبیعي، اسلامي، میثاقي او قانوني حقونو لرونکې نه دي؟ او په دې صورت کې ترې ولې بې برخې شوې دي؟

له دې ځایه ټولنیز وجدان حکم کوي چې په دې برخه کې افغاني سرې میاشتې، د کار، ټولنیزو چارو، معیوبینو او معلولینو چارو وزارت، نور خیریه بنسټونه او د ښځو چارو وزارت چارواکي په ګډه توګه اړینې کړنې ترسره کړي تر څو دا ډول ښځې له دې بد او ناروا حالت څخه خلاصون ومومي.(۱)

(۱) ارشاد النسوان ۸۹ګڼه، د سرطان میاشت ۱۳۹۳کال.

## د افغانستان په اساسي قانون کې د ښځو حقونه :

لکه چې اسلامي ارزښتونه ښايي او په یو لړ حقوقي او مدني میثاقونو کې ځرګند ده ښځې په یوه ټولنه کې یا په مشخص ډول او یا د ټولنې د یو قشر په توګه د یو لړ حقونو څخه برخمنې دي او دولت د هغوی د پوره کولو، ملاتړ او په خوندي ساتلو مکلف دی. لکه: د تابعیت حق، د انساني کرامت د خوندي توب حق، د قانون په وړاندې د برابرۍ حق، د ژوند ازادۍ او روغتیا حق، د نه ځورولو حق، د انتخابولو او انتخابېدو حق، د بیان د ازادۍ حق، د سوله ایزو لاریونونو حق، د ملکیت حق، ښوونې او روزنې ته د لاس رسي حق، د کار حق، د کورني د تشکیل او خوندیتوب حق او داسې نور حقونه...

خو دلته به د افغانستان د اساسي قانون په یو لړ مندرجاتو کې د ټولنې د افرادو په کلیه کې د دوی یو لړ عمومي حقونه وښودل شي.

د افغانستان د اساسي قانون په (۲۲) ماده کې راغلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

( د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعيض او امتياز منع دی، د افغانستان اتباع د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري ).

د ښځو د ژوند په تړاو د قانون (۲۳) ماده داسې صراحت لري:

( ژوند د لوی خدای (ج) لورينه او د انسان طبيعي حق دی، هيڅوک له قانوني مجوز پرته له دې حقه بې برخې کېدای نه شي ).

او د ازادۍ او انساني کرامت د حقونو په باب د قانون په (۲۴) ماده کې داسې سپارښتنه شوې ده:

( آزادي د انسان طبيعي حق دي، دا حق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحو پرته، چې د قانون له لارې تنظيمېږي حدود نه لري ).

د انسان ازادي او کرامت له تيري خوندي دي.

دولت د انسان د ازادۍ او کرامت په درناوي او ساتنه مکلف دی.

دافغانستان په اساسي قانون کې د يو انسان په توګه د ښځې تعذيب او ځورول منع دی لکه چې د قانون نه ويشتمه ماده سپارښتنه کوي:

د انسان تعذيب منع دی، هيڅوک نشي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقايقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقيب، نيونې يا توقيف لاندې وي او يا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذيب لپاره اقدام وکړي يا يې د تعذيب امر وکړي.

د داسې جزا ټاکل چې د انساني کرامت مخالفه وي منع ده.

د رای ورکولو حق او يا د ځان او د بل د انتخابولو حق په ټولنه کې د ښځو د مسلمو حقونو څخه شمېرل کېږي لکه د قانون (۳۳) ماده چې ښايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان اتباع د انتخابولو او د انتخابېدو حق لري، له دې حق څخه د ګټې اخېستنې شرایط او لارې د قانون په واسطه تنظمېږي.

همدا رنګه د بیان د ازادۍ حق د افغانستان د اساسي قانون په ۳۴ ماده کې داسې ښودل شوي دی:

د بیان ازادي له تیري څخه خوندي ده، هر افغان حق لري چې خپل فکر او وینا ، لیکنې، انځور یا نورو وسیلو له لارې، په دې اساسي قانون کې د راغلیو حکمونو په رعایت ځرګند کړي.

د افغانستان د اساسي قانون په (۳۶) ماده کې د سوله ایزو لاریونونو د کولو د حق په اړوند ویل شوی دی:

( د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو روا او سوله ایزو غوښتنو د تامین لپاره له قانون سره سم، بې وسلې غونډې او لاریونونه وکړي.

همدا رنګه د ملکیت د حق د خوندیتوب او ملاتړ په باب د افغانستان اساسي قانون په څلوریشتمه ماده کې داسې ښودل شوي دي:

( ملکیت له تیري څخه خوندي دي. قانون په دې اړه داسې ځرګندونې لري. هیڅوک د ملکیت د ترلاسه کولو او په هغه کې د تصرف کولو څخه نه منع کېږي مګر د قانون په حدودو کې ).

( د هیچا ملکیت د قانون له حکم او د باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کېږي ).

( د شخص د ملکیت استملاک یوازې د عامه ګټو د تامین په مقصد د مخکیني او عادلانه بدل په ورکولو ، د قانون له مخې مجاز دي ).

( د شخص د شتمنۍ پلټنه او اعلان یوازې د قانون په حکم کېدای شي ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د اساسي قانون (۴۳) ماده په ټولنه کې د زده کړې د حق د تامين په باب په دې ډول سپارښتنه کوي:

(زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق ده چې تر ثانوي دورې وړيا د دولت له خوا تامينېږي).

(دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنيو اجبارې زده کړو د تامين لپاره اغېزمن پروګرام وضع او تطبيق کړي او د مورنيو ژبو د تدريس لپاره په هغو سيمو کې چې پرې خبرې کوي لاره هواره کړي).

د کار د حق د تامين په باب د افغانستان د اساسي قانون (۴۸) ماده په دې شرح حکم کوي:

(کار د هر افغان حق دی).

(د کار د ساعتونو ټاکل او با معاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق او له هغو سره نورې مربوطې چارې د قانون په وسيله تنظيمېږي).

(د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب ازادی).

کورنۍ چې د يوې ټولنې مهمه هسته او بنسټ ده د افغانستان په اساسي قانون کې ورته ځانګړې اهميت ورکړل شوی دی. د قانون په (۵۴) ماده کې راغلي دي:

(کورنۍ د ټولنې اساسي برخه جوړوي او د دولت تر ملاتړ لاندې ده. دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتيا د تامين او د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپېڅلي دين له حکمونو سره د مغايرو رسومو د له منځه وړلو لپاره لازم تدبيرونه نيسي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قانون د نورو يادو شوو سپارښتنو په پرتله په دې ماده کې د ښځو په جسمي او روحي روغتيا ځکه په صراحت سره تاکيد شوی دی چې د کورنۍ په جوړولو کې يې نقش مهم او خورا ټاکونکی دی.

ښايي وويل شي چې د قانون په (۵۵) ماده کې د وطن دفاع او ساتنه هم د افغانستان د اتباعو وجيبه ګڼل شوې ده.

(له هېواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو وجيبه ده).

د عسکرۍ د مکلفيت د دورې د تېرولو شرطونه د قانون له لارې تنظيمېږي. او بالاخره د افغانستان د اساسي قانون د ټولو حکمونو څخه پيروي د دې قانون په (۵۶) ماده کې په دې ډول تسجيل شوې ده:

(د اساسي قانون له حکمونو پيروی، د قوانينو اطاعت او د عامه نظم او امنيت ساتل د افغانستان د ټولو خلکو وجيبه ده او د قانون له حکونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کېږي.(۱)

(۱) ارشاد النسوان ۸۲ ګڼه، حمل ۱۳۹۲.

## د ښځينه پښتو لنډيو ځينې حماسي او رزمي بېلګې:

که د پښتو لنډيو په هکله يو څه کتنه او څېړنه وشي نو ښکاره ده چې د هغوی زياتره برخه له هغو پښتو لنډيو څخه عبارت دي چې د پښتنې ښځو له خوا ويل شوې دي يا په بل مفهوم د هغوئ ويونکي زموږ د لرغونې هېواد پښتنې ښځې دي له کومه وخته چې زموږ د ولسونو په ژوند کې دا لرغونې ولسي ادب منځته راغلی دی د خپل پيدا ښت له هماغه لومړني وخت راهيسې زموږ د خلکو د پراخو پرګنو د ژوندانه ډېره ستره او بډايه معنوي برخه ګرځېدلې ده او د هغوی د تاريخ د ډېرو اړخونو واقعيتونو يې په ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساده عامه فهمه او ویانده توګه انځور کړي دي او زمور د تولني د ژوندانه د زياتو برخو انعكاس په کې شتون لري، خو دلته یوازې د دې لنډیو په حماسي او رزمي برخو باندې لنډ بحث کېږي او تر ټولو د مخه به يې لزومه نه وي چې دا لیکنه د پښتني تلپاتې ویاړلې ملالۍ په دې تاریخي، حماسه هستوونکي او هڅوونکې لنډۍ پيل شي چې ویلي يې دي:

**که په میوند کې شهید نه شوې**

**خدايږو لاليه! بې ننګۍ ته دې ساتینه**

زمور د هېواد د تاریخي پېښو او سوابقو له مخې د میوند جګړه د غه د انګریزانو په خلاف د افغانانو عادلانه او ازادي غوښتونکي جګړه چې د ملي پت او ناموس څخه د دفاع په خاطر په ډېر زور روانه وه او د پوځي محاسبې له مخې د ځواکونو اندولتوب د دښمن په تفوق او د وسلو تناسب هم د افغاني ځواکونو سره بېخې د مقايسې وړ نه و يعنې که له یوې خوا افغانان په ډېره ساده او عادي او حتی جارحه وسله جنګېدل، خو په مقابل کې د دښمن د وخت په مډرنه وسله سنبال وو او دا موضوع په دې خبره بيخې مدله وه چې د دښمن بريالیتوب خامخا د افغانانو په ماتې تمامیده او نږدې وه چې د افغانانو د لښکر سرغندو یه توغ د غه زمور د باتورو نیکونو د برمونو، پتمنۍ او شرف سمبول پر مځکه را ولوېږي نو په دې حساسو او حسابي شېبو کې پښتنه ملاله د جګړې سور ډګر ته ور دانګي او پرته له دې چې د ژوندي پاتې کېدلو مسئله ورته مطرح وي په پوره پښتني مړانه د غه توغ په خپلو لاسونو کې کلک رانيسي راپورته کوي يې او په رپيدو يې را ولي او په ډېر لوړ آواز پر افغاني جنګیالیو دا چيغه کوي:

که په میوند کې شهید نه شوې

خدايږم لاليه! بې ننګۍ ته دې ساتینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملي غرور ددې هيجاني لنډۍ په اوريدلو سره د ميوند په خونړۍ او اورجن ډګر کې د هر زوړ او ځوان ننګيالي ويني له ډېر غيرته په جوش راځي د مېړانې او سربښندنې ولولې يې توپاني کېږي او پر غليم باندې د يرغل ور وړلو په سيالۍ کې يو له بله څخه مخکي کېږي او په ډېرو لنډو شېبو کې د جګړې سرنوشت ته په تاريخي او ښتون ورکوي، هغسې ټاکونکي او ښتون چې انګريزان ننګينه ماتي خوري او افغاني مجاهدينو ته وياړلي کاميابي او نيکنامي ور په برخه کېږي او له هغې نيتې را وروسته دا پښتو لنډۍ زموږ د ملي تاريخ يوه تلپاتې حماسه ګرځي چې نه يوازې په ليکلي توګه له يو کتاب څخه بل کتاب ته بلکې په شفاهي او له يو زړه څخه بل زړه ته او زموږ د تېرو نسلونو له يوې خولې نه بلې خولې ته د يوې وياړلې ميراثي په توګه ور انتقالېږي.

لنډه دا چې توريالیتوب او مېړانه، ننګ او غيرت، جنګياليتوب او زړور توب د پښتني ښځې له نظره د نارينتوب د کمال په زړه پوري منل شوي معيارونه دي.

او پښتنه ښځه په همدغو معيارونو سنبال ځوانان د خپلې مينې او ياراني لپاره وړ بولي او برعکس ددې معيارونو د نه درلودونکو ځوانانو سره يوه پښتنه پيغله خپله مينه په پښتو يوه لنډۍ کې داسې غندي او ځان ملامتوي.

عالمه ! راشئ مخ مې تور کړئ

ما د بې ننګه ياري کړه وشرميدمه

پښتنه پيغله دومره په اسانۍ سره خپل مين ته د سپينې خولې د ورکولو وعده نه ورکوي پاتې لا د خولګۍ ورکونه، مګر دوی د ياراني کوم مناسب زلمي چې د ننګ او غيرت په سنګر کې مېړانه ښودلي او بې ننګي يې کړې نه وي او د قرباني ورکولو په امتحان کې يې د دښمن د تورو ګزارونو ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرات او شهامت خپل تتر سپر کړي وي نو کله چې له جګړې وروسته را ستون شي بې له شکه چې د خپلې کورنۍ او قام د وياړنې وړ توريالي ګرځېدلي وي د غسې پښتون زلمي ته محبوبه په خطاب کې دا لنډۍ وايي:

تو کړې تو کړې په وينو راشي

چې پرهرونه دې ګنډم خوله درکومه

ځومره ښکلي او خوږه وعده چې خپل د توريالي مين دمېړانې په خاطر ورته عاشقانه وعده دانعام په توګه ورکوي.

يا پښتنه پيغله چې د خپل يار په مېړانه پوره ډاډمنه ده، نو يې د لا هڅولو او د مينې د پاللو په خاطر ور سره په ګډه روانېږي او د جګړې تر سنګره يې ملتيا کوي او پوره يقين يې راځي چې هغه به د جګړې په ډګر کې بې ساري اتلولي وښيي نو په دې باب په يوه پښتو لنډۍ کې خپل احساس دا سې انځوروي.

جانان به ولې توره نه کړي

تر نيمايي سنګره زه ورسره ځمه

ځرنګه چې د پښتني ددې غوره دود له مخې ښځو د نرانو سره په جګړه کې سمه برخه اخېستله اوبه او خوراکي توکي يې ورسول او ددې په خوا کې به يې هغوی تورو وهلو ته هڅول نو داوه چې په هيڅ يوه جګړه کې يې ماتې نه وه خوړلي.

د پښتني رسم او رواج له مخې هېڅ يوه پښتنه پيغله يا ښځه د نارينه سره نه غاړه غاړي کېږي، خو پښتنه پيغله وايي که يې مين د جګړې له ډګر څخه توريالي او بريالي راوګرځي نو دا به يې ددغې تور زنۍ او مېړانې په بدل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې په پيرزوينه وپالي او د هر کلي په مهال به ورسره پرته د چال ډاره غاړه وځي لکه چې په دې لنډۍ کې به دا انځور وګورو :

غاړه غړۍ به در قربان شم

که دې د جنګ په ډګر وکړل يرغلونه

دا هم د خپل مين سره د پښتنې د هغه د مېړانې او سربښندنې په صورت کې د هغې د مينې بې باکانه او خلوصانه وعده.

پښتنه د خپل ګران محبوب د بې ننګۍ او بې غيرتي هيڅ تحمل نه شي کولای او ورځني کرکه کوي او ډاربږي. دا ځکه چې په هيڅ ډول نه غواړي د خپلو همزولو په منځ کې د پيغور وړ وګرځي نو مخکې تردې چې يې مين له جګړې څخه راستون شي د هغه د نيکنامۍ په خاطر له خپلو ګاڼو څخه يو قيمتي شي نذر او خيرات نيسي او وايي:

د ننګۍ لال به پرې خيرات کړم

که مې اشنا د دښمن مات کړي سنګرونه

پښتنه په خپل کې کلي کې تر هر څه زياتره د خپل مين د بې ننګۍ او بې غيرتۍ له بدنامۍ څخه بدې وړې او د هغه هر ډول قرباني يې خوښېږي، خو دا اوازه يې تر تحمل د باندې ده چې لا د جګړې له سنګره څخه يې د بې ننګۍ احوال راشي لکه چې خپله انديښنه په دې لنډې کې انځوروي.

ټوټې ټوټې په تورو راشي

د بې ننګۍ آواز دې رامه شه مينه

يا يوه پښتنه پيغله چې د خپل مين د ډېرو ننواتو او زاريو، د ګوټ د نيولو او د ريبارانو په خوله د خپلې مينې در ور څرګندولو سره سره بيا هم د خپل مين يارانه نه مني او د هغه زياتو رنځيدنو او ځوربدنو په مقابل کې له پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

استغنا څخه کار اخلي، خو چې خبره شي چې هغه د جګړې ډګر ته تللي دی نو یې پښتنه مینه تیندک خوري او د هغه په نسبت یې عاشقانه ولولې را لړزیږي او په خپل زړه کې په دې شرط د هغه مینې ته په خپل زړه کې ځای ورکوي چې:

که په زلمو کې بریالی شوی

قسم مې کړي د یاري لاس درکومه

په مینتوب کې د هجران او بیلتون پښه د مینانو لپاره ډېره کړغېړنه او رنځوونکي پښه ګڼل کېږي او هغوی مړینې ته غاړه ږدي خو د بېلتانه زغم نه باندې د ننګې په خاطر حتی که خپل مین یې د شهادت په بنه قرباني هم ورکړي، بیا هم په پوره شهامت او سربښندنې سره د ننګ په وړاندې خپله بې ساري او قهرمانانه جذباتو ته په لاندني پښتو لنډۍ کې داسې انعکاس ورکوي.

که تور اوربل مې میراتېږي

پر وطن ننګ دې جانان نه منع کومه

چې دا هم د یوې پښتنې پیغلې د پښتونولۍ د لوړ پښتني احساس نهایي تصویر دي او بس.(۱)

(۱) د ایلبند مجله، د کوچیانو دیانت، ۷ ګڼه، ۱۱-۱۲ ، ۱۳۸۸ کال.

## زموږ د ټولنې د ښځو د حقونو د نقضولو په اړه د بېلګې په توګه څو پېښې :

که څه هم د اسلامي د سپېڅلو لارښوونو په رڼا کې د ښځې حقونو په تاکید ي توګه تسجیل شوي دي د افغانستان په اساسي قانون کې د ښځو ته یو لړ حقونه ورکړي شوي دي، او دولت یې په تامینولو او رعایتولو مکلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځېدل شوي دي. او د دې ترڅنګه په نړیوال کچه د بشري حقونو په نړیوالو سندونو کې په ډېر صراحت سره د ښځو په اړه هر اړخیز حقونه تثبیت شوي او د هغوی دا ړوندو دولتي ارګانو ته، د هغو د تامینولو په ګمارلو سربېره، په خپله په هغه هېواد کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون هم مکلف شوي دي.

خو د دغو اسلامي او اعتباري سندونو سره سره لکه چې لیدل کېږي په پراخه کچه او هر اړخیز ډول او په بېلا بېلو شیوو د دې حقونه په پوره بې باکي او بې رحمي تر پښو لاندې کېږي چې بیخې زیاتې بیلګې یې وړاندې کېدای شي چې په بیا ویلو یې د انسان وجدان رپېږي او ضمیر یې په یادولو ځورېږي.

چې له لاندنیو څو مواردو کې به یې په مستند ډول وړاندې کړو:

۱.له کوره د ښځو شړل:

بې له مبالغې به د میرو نه د بیځایه تهمت لګولو نه په غیر د یوې میرمنې په ژوندنه کې د یوې غمېزي کیسې ته مراجعه وکړو.

البته د دا سرګذشت له یوې دولتي ورځپاڼې څخه اخېستل شوي دي.

« د فرشتې له واده څو کاله تېرېږي، کله چې د دې له واده څخه د لاو لاړ شوي رنځ او کړاو په اړه خبري کوي نو په ریږېدلي حالت وایي: «خاوند مې هر وخت وهلم ماته یې هیڅکله د یو انسان په سترګه نه کتل په پای کې یې زه پرېښودم او طلاقه یې کړم» او د مېړه له کوره وشړل شوم، ټول شته مې هلته پاتې شول په تش میدان پاتې شوم او بالاخره یوازینې استوګنځای مې د پولیسو د ماموریت د یوې خونې یو کونج دي».

د فرشتې د پرېښودو تښتونې پر هغې د جنسي تیري او ناخوالیو کیسه د هغې د بې چاره توب ښه انځور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشتي د پوليسو د ماموريت په يوه خونه کې، اى دبليو پي ار، د خبريال سره زړه نا زړه خبرې پيل کړي، فرشته د ښکلي څېرې لرونکي ده. هڅه يې درلوده دخبرو په مهال د خپلو اوښکو د بهيدو مخه ونيسي او دخپل ژوند سرنوشت بيان کړي، فرشته چې دخاوند له کوره وشړل شوه نو په سوالګري يې پيل وکړ که څه هم په شروع کې دا عمل ناروا دي، يوه ورځ يې د لوګر دموټر په تم ځاى کې د عبدالهادي نومي سړي سره مخامخ شوه هغه ورته وويل چې له سوالګري دا ښه ده چې ورسره لاړه شي او د هغه د زوى سره واده وکړي داوه چې د هغه سره د کنګار ولسوالي ته ځي.

او پوهېږي چې غولول شوي ده، نوموړي سړي زوى نه درلود او يوازې اوسيده، فرشته ورسره دوه مياشتې پاتې شوه او په دې موده کې به يې وهله او ډبوله او البته د هغه نامشروع غوښتني ته يې غاړه نه ايښودله تر څو چې د کابل ښار داتمي حوزې د پوليسو د مشر عبدالروف تاج د وينا له مخې چې د نوموړي سړي له خوا پرې جنسي تيري هم شوي ؤ «بيا يې د زور ډالرو په بيه په بل سړي پير محمد پلوري او ورته وايي چې فرشته يې ښينه ده.

د لوګر د روغتون چپراسي پنځه اويا کلن محمد اکرم هغه ځانته په نکاح کړه هغه د واده اتلس مياشتې سره تيروي، فرشته وايي دهغې نوى خاوند هغې ته فزيکي سزا ورکوله او خپلو ګاونډيانو ښځو ته خبر و کولو ته پريښودله يوه ورځ يې ورته اجازه ورکړه چې کابل ته لاړه شي، کله چې ښار ته ورسېدله په بيړه د پوليسو ماموريت ته لاړه د پوليسو ماموريت ته يې خپله عريضه وړاندې کړه اکرم او هادي دواړه بنديان شول.

له دې سرګذشت څخه جوته دي چېرته د فرشتې واده ددې په رضا او رغبت شوي وايي نو هغه به ددغې دردېدلي او فاجعو سره نه واى مخامخ شواى.

**د ښځو سنګسار کېدل :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پېښه دويچه ويلي « د انترنت له پاڼي را اخېستل شوي او د ۱۳۸۴ کال د ثور د اومي نېټې په يوې جريدې کې له خپرېدو وروسته اقتباس شوي ده.

د پوليسو د يوې اعلاميې په ترڅ کې د اميني په نوم يوه ۲۹ کلنه ښځه سنګسار شوه او دا لومړی ځل دی د ښاغلي حامد کرزي په دوره کې دا پېښه رامنځته کېږي.

د بدخشان د «اوغو» په کلي کې د چارواکو دحکم نه پرته يې دا ښځه سنګسار کړه د پوليسو د يو لوړ رتبه افسر جنرال شاه جهان نوري په وينا د زنا په تهمت داوغو د ملا محمد يوسف په فتوا دا ښځه سنګسار شوي ده.

خو افغانستان د بشر د حقونو د مستقل کميسيون د راپوټ له مخې دا ښځه سنګسار شوي نه ده بلکې دمېړه د کورني له خوا په دې توګه وژل شوي ده.

د يو عيني شاهد په وينا دا ښځه ددې د مېړه او دولتي چارواکو د يو نماينده په واسطه له کوره اېستل شوي او سنګسار شوي ده. ويل کېږي هغه سړي چې ددې سړي نامشروعه رابطه درلوده د ۱۰۰ قمچينو وهلو سزا ليدلی ده د اميني سړي پنځو کلونو وروسته له ايران څخه راستون شوي و او دده دجنسي کمزوري په درجه يې ترې د طلاقو ورکول غوښتنه کړي ده، خو په نتيجه کې ددې د ناورې رابطې په وجه سنګسار کېږي.

اصلي خبره داده چې په شرع کې سنګسار هغه مهال د شرعي فتوا له مخې اجرا شوي چې د زنا په بالفعل مهال کې ونيول شي نه په نورو وختونو کې.

**د وهلو ټکولو په وجه وژل :**

زه باور لرم چې د زجر او شکنجي ورکولو له ډېرې پېښې شته دي خو دا فاجعه چې ډېر کم خلک به پرې خبر او خواشيني نه وي هغه د مېړه په واسطه د ناديا انجمن وژل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادیا انجمن په ۱۳۵۹ په هرات کې زیږېدلې یوه شاعره دانشمنده او فرهنګي شخصیت و د معاون سرمحقق عبدالصابر جنبش په وینا چې د دې د مړینې په مناسبت د نادیا انجمن قرباني خشونت ترسرلیک لاندې یوه لیکنه کړې ده دا یې غزل بوله او عارفه شاعره بللې ده.

نادیا انجمن چې د مېړه له خوا د زیاتو وهلو ټکولو په وجه په نازک بدن ټپونه خوړلي و د هرات په روغتون کې مړه شوه.

## ښځو باندې مکرر جنسي تېري :

په افغانستان کې پر ښځو په تېره بیا په نابالغو نجونو باندې د جنسي تېریو پېښې بیخې نوې، ناولې د اسلامي لارښوونو، زموږ د ملي دودونو او انساني ارزښتونو په خلاف پدیده ده هغه چې د جنګ سالارۍ، ټوپک واکۍ او زرداري تر نفوذ راهیسې را پیدا او عمومیت یې پیدا کړې دی د ځان سیزلو تر څنګه ددې ناوړه عمل بیخې زیاتې بېلګې د هېواد په ځینو سیمو کې ښودل کېدای شي چې د نمونې په توګه به لومړی د سرپل په ولایت کې پر یوې نجلۍ د دغه مشهود جنایت له پېښې یادونه وشي هغه چې تر ډېر وخته پورې حتی په لوړه دولتي کچه وغندل شوه او د جنایتکار د محاکمې سپارښتنې وشولې زما ښه په یاد دي چې د نجلۍ پلار په یوه تلویزیون کې په داسې حال کې چې یې ژړل د عامل د جدي محاکمې غوښتنه وکړه.

او لا ددې مقالې د لیکلو په شپو کې د طلوع تلویزیون د یو خبر له مخې په سرپل کې پر یوې نجلۍ شپږو تنو ډله ایز تېري کړي او جنایتکاران اوس په کابل کې او بیا هم په دغه ولسوالۍ پر یوې بلې نجلۍ هم جنسي تجاوز شوي دي.

پر ښځو باندې د جنسي تېرې ډېره دردونکي او کرکجنه پېښه چې تراوسه پورې یې په هېواد کې ساري نه دی لیدل شوي په تخار کې پر یوې ښځې ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایز جنسي تیري دي چې د هغه ولایت د ښځو چارو د رییسي محترمه رزم اراحواش د خپلې یوې مرکې په ترځ کې ترې یادونه شوې ده.

«م» نومې یوه مېرمن چې د ترور د زامنو او د ترور د لور د مېړه له خوا په ډله ییز ډول تر جنسي تېرې لاندې راغلې ده.

محترم رزم ارا حواش په ډله ایز ډول پر یوې ښځې د ډله ایزو دردونکو تیریو په اړه زما سره په مرکه داسې ویلي و.

« د یوه **۵۵** کلنه ښځه د یو بیخې زیاتې جاني ډلې پر واسطه له کوره ایستل شوې او (۱۳) تنو پرې جنسي تیري کړي دي دا ښځه دوې ورځې بې هوښه وه او تر اته ورځو پورې د خوځېدو نه وه تر هغې چې د تخار د ښځو چارو ریاست ته راوړل شوه او له معاینې او درملنې وروسته ببرته خپلې کورنۍ ته ورستنه شوه، یوه اوني لا تیره نه وه چې بیا د همدې جنایتکارانو ۱۲ کسیزې ډلې پرې جنسي تیري وکړو او د مرګ تر پولې ورسول شوه اته ورځې وروسته د تخار ولایت روغتون او بیا دې ریاست ته راوړل شوه که څه هم ددې کرکجنې پېښې په اړه قضیه د ولایت مربوطو ارګانونو ته محول شوې ده خو زما په عقیده هغو زورواکو جنایتکارانو ته سزا ورکول کېدای نه شي( د حقوق بشر د دربیم کال اتمه ګڼه له ۲۱مخ څخه).

## پر نجونو د تېزابو پاشل :

د خبرې رسنیو په حواله « څه موده مخکې په کندهار کې د ښوونځیو د نجونو پر مخ تیزاب شیندل شوي او د هغو زیاته ډله زیاته شوي او حتی د کابل روغتونو ته درملنې د پاره راوړل شوي دي« چې په دې اړه د یو لړ زیاتو تبلیغاتو اوریدونکي یاستو حتی ولسمشر حامد کرزي هم د خپلې خواشیني د څرګندلو په ترځ کې د قضیې پر څېړنې تاکید کړي او بیا د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځپاڼې د روان کال د جدي د ۲۳۲ ګڼې په حواله د غه ترهګر د پاکستاني محمد طاهر په امر کندهار د نازو انا د ليسې پر نجونو تيزاب شيندلی دي.

**له کوره د نجونو او ښځو د تېښتې پېښې :**

له ډېر پخوا نه زموږ په هيواد کې پر ښځو د کورنيو د تاوتريخوالي په وجه له کوره د ښځو تېښتيدل ترسره کېدل، خو په اوسني وخت چې د ښځو د حقونو د سلبولو لړۍ په بېلا بېلو شکلونو روانه ده، ښځې دې ته مجبورېږي چې د ځان د موقتي ژغورنې په خاطر له کوره وتېښتي چې بېلګه يې د اصلاح ورځپاڼې د ۱۳۸۲ کال د سرطان د ۲۲ نېټې په ګڼه په دې عبارتونو وړاندې شي.

« در سال جاری ۱۰ واقعه فرار دختران و زنان از منزل؛ در رياست امور زنان ولايت بلخ ثبت ګرديده است، که چهار مورد آن در اين رياست حل و فصل و برخانه های شان پس برګشته شده اند و متباقی در خانه امن اين رياست زنده ګی ميکنند».

د بلخ ولايت د ښځو د چارو رييسې محترمې فريبا مجيد له کوره د نجونو او ښځو د تېښتې لاملونه له اجباري ودونو، ډول فشارونو، د وهلو ټکولو، د کورني تعصباتو، اقتصادي کمزوري او د ښځو له حقونو له نا آګاهي څخه عبارت دي».

**پر سپيو د ښځو او ماشومانو خوړل :**

دا فاجعه کومه تبليغي خبره نه ده، د ښځو او ماشومانو د حقونو د تر پښو لاندې کولو په لړ کې او پر ښځو د تاوتريخوالي په تاريخ کې تقريباً دا يوه بيخې نوې خبره ده په تېره بيا د هغه چا له خوا نه چې د ښځو او ماشومانو د حقونو کلک ملاتړ کوونکي ځان بولي، دادی د دې پېښې جريان به د خوست په ولايت کې ماشومان او ښځې په سپيو خوړل شول په نامه يې يو رپوټ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د محترم حیات الله حلیم له خوا لیکل شوي او اصلاح ورځپاڼې د ۱۳۸۷ کال د جدي د نیټې په **۱۵۲۳** ګڼه چاپ شوي دي.

دا پېښه یو انکار نه کېدونکی واقعیت دي د څو شپو را په دې خوا یې داخلي او بهرني رسنۍ په پرله پسې توګه خبروي او د هېواد ولسمشر حامد کرزي یې هم غندنه کړې ده دا کرکجنه او د انساني کرامت ضد پېښه زړه بوګنوونکي پېښه تردې دمه نه ده لیدل شوي.

دافغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د بشري سرغړونې د څارنې او پلټنې امر شمس الدین احمدزي په دې اړه وویل:

«انسان وژنه که په هره بڼه او د هر چا له خوا وي جرم دي، چې د دې اصل له مخې نه ایتلافي قواوې او نه هم نور څوک د دې حق نه لري چې بې دفاع او مظلوم عام خلک ووژني...

دا د هر ډول انساني کرامت څخه لیري خبره ده په خوست کې ایتلافي ځواکونو د القاعدي د څو تنو د له منځه وړلو په پلمه د خوست یو شمېر ماشومانو او ښځې په خپلو سپیو وخوړل.

اوس نو باید د بشري سالم وجدان په حکم قضاوت وشي په داسې حال کې چې د دغو ایتلافي ځواکونو اړوندو هېوادونو د بشري د حقونو ټولو نړیوالو سندونه چې د ښځو او ماشومانو د حقونو د دفاع ملاتړ او تامینولو په اړه دي له دې جملې نه د ملګرو ملتونو د سازمان منشور د حقوق بشر اعلامیه، د ښځو د حقونو تړونونه، د حقوق بشر د نړیوال کنفرانس اعلامیې پر ښځو باندې د هر ډو تبعیض د لیرې کولو کنوانسیون د ماشومانو د حقونو کنوانسیون ته پوره ذمه واري لري ایا په کوم حق او صلاحیت زمونږ په بې ګناه او بې دفاع خلکو د دغو سندونو د ارزښتونو په خلاف تیري کوي، او حتی زمونږد هېواد بې ګناه مظلومې ښځې او معصوم ماشومان لا نورې وسیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه هوايي بمباريو ته او د درنو وسلو کارول خو لا پر ځای پرېږدي چې په ليونيو سپو يې خوري.

لنډه دا چې په هېوادني کچه د ښځو پراخ حقونه د يو موټي جابرانو او زورګيرانو له خوا تر پښو لاندې کيږي. او س يې په نړيوال کچه ګورو چې د دوی انساني کرامت ته د سپکاوي په نامه په ډېر رټلي او ننګينه توګه د دوی حقونه تر پښو لاندې کېږي لوی خدای دي زموږ د ټولنې د مظلومو محکومو او محرومو ښځو له دغو يادو شوو مظالمو فريادونه واوري.(۱)

(۱) واقعيت مجله، ۲۸ ګڼه، ميزان،عقرب، ۱۳۸۷ کال

## ښځې او رواني ناروغي:

زموږ هېواد چې له يوې خوا د نړۍ د ښځو زياتو شاته پاتې او د ټولنيزو ډېرو ناوړو شرايطو لرونکو هېوادونو له ډلې څخه دی او د ناوړو رسمونو او دودونو تر تباه کوونکو اغېزو لاندې دي نو د هيڅ شک او ترديد ځای نشته چې په سلو کې ۴۷ وګړي يې په بېلا بېلو ناروغيو اخته دي او حتی په سپکو شکلونو يې دا رقم په سلو کې (۹۸) ته رسېږي.

د اروا پوهنې پوهان «رواني روغتيا» داسې تعريف کړې ده:

«د عاطفي مثبتو احساساتو او رواني تعادل، د ژوند او د ټولنيزو مناسباتو او لوړ شخصيت درلودو ته رواني روغتيا وايي».

«خو په خپله روغتيا د نړۍ د روغتيايي سازمان، د يو لړ ځانګړتياوو او معيارونو له مخې، د انسان له جسمي، فزيکي، رواني او ټولنيز هوسا حالت څخه عبارت ده چې انسان د هغه په درلودلو سره د کټورو فعاليتونو د ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو وړتیا لرلای شي. طبعاً دا ددې مانا نه لري چې یو انسان دې په بشپړه توګه د روغتیا له نعمته برخمن وي.

د پورتنیو تعریفونو په رڼا کې بیخې جوته ده چې زموږ په هېواد کې حتی (۹۹) په سلو کې انسانان په شکل د شکلونو د رواني ناروغیو سره لاس او ګریوان دي، د بېلګې په توګه که چېرته د تشوشاتو او رواني ناورغیو یو شمېر اعراض او نښې نښانې وړاندې شي نو په باوري ډول ویل کېدای شي چې دې ناروغیو عمومیت تقریباً د مطلقیت بڼه لري په کوټلې توګه پوهان او روانشناسانو دغه اعراض او نښې نښانې د لاندنیو مواردو په دننه کې ځانګړې کړې دي:

۱ـ افسردګي Depressive چې د زړه تنګې او مړاوي توب څخه عبارت دی.

۲ـ خواشیني چې په لړزیدنه، ټوپیدنه، خواشیني توب، غوسه کېدنې بیتابۍ، ناکرارۍ او تلوسې باندې تعبیرېدای شي.

۳ـ رواني فشار (Stress) یا ستریس.

۴ـ او هغه رواني فشارونه چې د جګړې له زیان رسیدنې څخه انسان ته رسیدلي وي.

که د رواني ناروغیو پورتنۍ نښې نښانې او اعراض زموږ د هر هېواد که نارینه وي یا د ښځې په وجود، اخلاقو او سلوک کې وپلټل شي او ارزونه یې وشي نو هر یو په تېره بیا د لومړنۍ کتې ګورۍ اعراض یعنې افسردګي او اختلالات په کې ځانګړې عمومیت لري.

او زموږ د ټولنې بیخې زیات شمېر په خپل ژوند د هر اړخیزو محرومیتونو Frustrations، ناهیلیو Disappoints، افسردګۍ او عقدو Complexes او په داسې نورو اخته دي او له دې امله شپه او ورځ او د ژوند ارزښتناکه شېبې په تریخوالي او ناخوالیو کې تیروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځينو مدارکو کې له مخې چې زيات عموميت لري نارينه په سلو کې (۱۵) او ښځې په سلو کې (۲۵) په دې ناروغۍ اخته دي. او که په ټوليز ډول وويل شي په سلو کې (۲۰) د رواني ناورغۍ، افسردګي تشکيلوي او بيا د ښځو په تړاو دا فيصدي ځکه په لوړه کچه کې ده په ښځو کې د نارينه په پرتله د هورمونونو زيږونو، د نارينه له خوا د تاوتريخوالي لاملونه او داسې پوره نقش لري د يادونې وړ ده پر ښځو باندې د تاوتريخوالي اغېزې او لاملونه زموږ په هېواد کې د ټولنيزو ناوړو شرايطو او تباه کوونکو عنعنو له واکمنۍ څخه سرچينه اخلي، او يو عالم چې ( جورج ال بي Gorg Alby ) نومېږي په پورتنيو لاملونو کې ارثي لامل هم اغېزمن بولي.

د رواني ناروغۍ او تشوشاتو دوهم اعراض او علامې چې له اضطراب څخه عبارت دي او په لومړي سر کې يې نور حالتونه هم په ګوته شول په کلي توګه د انسان د هغه نامطلوب او ځورونکي احساس څخه عبارت دي چې انسان بې موجبه په خپل روان او سلوک کې په مخبره ( آګاهي ورکوونکي ) په توګه د ويرې او ډار احساس کوي او په اند ښنو کې ډوبېږي.

په اضطراب اخته ناروغان هميشه د يو خاص شي په اړه سوچ او فکر نه کوي او کله کله په دې خاطر يې انديښنې پر مخ اخلي چې د څنګه اينديې سره به مخامخ شي، د څه او د چا سره چې علاقمندي لري دهغوی راتلونکي مجهول برخليک يې په تلوسو کې غورځوي.

د پورتني اثر د يوې مقالې په حواله اضطراب هم په لاندنيو برخو کې ترکتنې او څېړنې لاندې نيول کېداى شي.

- تشنجي ناڅاپي حمله ( هول يا Ponic ) چې په يو انسان راځي چې د مړينې او يا ليونتوب له ډاره رامنځته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د هغه ګڼ جمعیت له فضا نه ډارېدنه چې وتل ترې ستونزمن وي او دې ډول ډار ته Agoraphobia ویل کېږي. لکه لکه ګڼې ګوڼې ډار، د عامه ټولنې له محلونو لکه سرویس، جومات، کتابتون میله ځایونه، له کوره لیرې ځایه له سفره او داسې نورو ډارېدل.

**- ټولنیزه ویره :**

لکه په کنفرانسونو، سیمینارونو، تالارونو، محفلونو او د خطابې پر میز دست و پاچه کېدل چې په دې مهال په کې د اضطراب اعراض او نښې نښانې را څرګندېږي.

**-عمومي اضطراب :**

په دې حالت کې انسان د یو خاص شي په باب سوچ نه کوي، کله دیوې موضوع په باب خواشیني کېږي او کله د بلې موضوع او داسې نور ...

او طبیعي ده چې د دې رواني ناروغۍ اعراض له رواني او جسمي اعراضو څخه مشتمل دي.

د رواني ناورغیو له دریمه اعراض څخه روحي فشار دی چې ستریس ورته وایي او د نورو رواني ناروغیو غوندې د دې ناروغۍ اغېزمنې هم زموږ په ټولنه کې خورا عمومیت لري.

دې ناروغۍ ته چې دماغي اعراض ورته هم وایي په عام ډول په دوو بڼو څرګندېږي.

الف: تخریشیت (Anxity) او یا ژر قارېدنه.

ب: جګر خوني، ژړا او یا د هغو احساساتو لاندې راتل چې کټور توب نه لري.

د دې ناروغي اعراض او نښې نښانې په لاندنینو پېښو کې څرګندېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړۍ سر کې د بدن ټول غړی خوږېږي، بیا ورپسې چې دا ناروغي پرمختللي پړاو ته ورسېږي نو ناروغ له ټولنې او د خلکو له ګڼې ګونې ګوښه توب غوره کوي او چې بیا حادې مرحلې ته ورسېږي نو ناروغ ټولنیزو ضد عملونو لکه جنسي تیري، خیانت، غلا وژنو عام وژنې او ځان وژنې او داسې سادستي عملونو ته لاس اچوي اوس به راشو هغو عواملو ته (چې په دریو واړو کته ګوریو کې وښوول شو) تر څنګه یې زمونږ د ټولنې ښځې په شکل د شکلونو په رواني ناروغیو اخته کړې دي په لنډ ډول په ګوته شي.

- په ټولنه کې واکمن ناوړه دودونه او رواجونه چې پر ښځو باندې د تاوتریخوالي د لاملونو سرچینه ده او جلا بحث غواړي.
- ټولنیزې ناخوالې
- ناسم قوانین
- جسمي مزمنې او حادې ناروغې لکه سرطان، سل، د زیږولو ناوړه او عیبجنې ښې
- جبري لېږدیدنې
- بیکاري
- بې کوري او خانه بدوشي
- اقتصادي ځورونکې ستونزې
- د ماشومتوب او کوچینیوالی په مرحله کې له سمې ښوونې او روزنې څخه بې برخې توب
- جنسي تیري
- د مېړه او ښځې ترمنځه کورنۍ ناخوالې او نه روحي توافق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مکرر ودونه
- وهنې، ټکونې شکنجې او بندیتوب
- د عقیدې نه درلودل او د اسې نور.

نو که په خپله ټولنه کې غور وکړو په څرګنده توګه لیدل کېږي چې زموږ په ټولنه کې په رواني ناروغیو د ښځو اخته کېدل سلنه په ګوته شوې ده، هغه په دې دلیل هم د منلو وړ ده چې زموږ د ټولنې ښځینه قشر د پورتنیو لاملونو له منځه د زیاتو سره مخامخ دي او له بلې خوا ډېره ځورونکي خبره داده چې له دې ټولو څخه د ژغورنې لپاره د اغېزمنو لارو چارو د کارولو لارې ورته برابرې نه دي.

که زموږد هېواد د ښځینه قشر چې زمونږ د ټولنیز جوړښت نیمه برخه جوړوي او په اوسمهال کې زموږ د هېواد یو محکوم، مظلوم او محروم قشر دی په پراخه توګه په رواني ناروغیو د اخته کېدو د لاملونو یوه بله ډېره غوره سرچینه هم له یوې خوا د ښځو، له اسلامي، مدني او قانوني حقونو څخه د دوئ هر اړخیز بې برخه والي همدا شان د هغوئ د تحقق په تړاو د چارواکو د یادونې ورته پاملرنه او نه دلسوزي ده او له بلې خوا دې حقونو څخه په خپله ددوی د نه آګاهي ډېره ټېټه او حتی په هیڅ حساب کچه ده.

لنډه دا لکه چې نورې فزیکي ناروغۍ دا ناروغي هم تر یوه حده د دوا درملنې لارې چارې لري چې د بحث د نه اوږدېدو په خاطر ترې صرف نظر کېږي.(۱)

(۱) اخځونه:

- د نړۍ روغتیایي سازمان (WHO) احصائیوی سند، فرهنګ عمید، ۱۳۶۲ کال، هییت صحی بین المللی (IMC) صحت روانی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مجموعه مقالات کنفرانس (آگاهی عامه در مورد سلامت روانی (IMC) به اهتمام نړیوال و غروب، صحت روانی جامعه (WHO) ۲۰۰۳م.
- مجموعه مقالات کنفرانس فوق.

## د نورستان د ښځو د ژوند ځوروونکي حالت د یو رپوټ په حاشیه کې:

نورستان کې ختیځ نورستان (بلور) او یا لویدیځ نورستان (کتور) دي که تر اسلام نه دمخه شرایطو کې یعني د امیر عبدالرحمن تر دورې نه پخوا د هېواد یوه لیرې ځنګلي سیمه ده او د نږدې ولایتونو له مرکزونو څخه ګوښه پرته او تجریدي شکل یې درلود.

په او سنیو شرایطو کې که څه هم ځینو برخو ته یې لارې غزول شوي او د ښارونو سره یې په نژدیتوب کې د یادونې بدلون راغلي دي بیا هم ښځینه قشر یې په هماغې لرمړنې دورې په شرایطو کې د یو محروم مظلوم او محکوم انسان په توګه ژوند لري، هلته چې نه دومره ښځینه ښوونځي شته او نه په کې د ښځو د حقوقو د پېژندنې او رعایتونو په اړه کوم ورکشاپونه تدویر شوي او له بلې خوا دوی په دغسې حالتونو کې پاتې کېدلو کې پرې ناوړه دودونه او ظالمانه عنعنې واکمنې لري.

ما د ۱۳۴۶کال په پسرلي کې تر کامدیشه پورې د ختیځ نورستان سرک ته نږدې سیمې لیدلې وې، تر اوسه پورې ۴۱ کلونو تېر شوي دي خو د نورستان ښځینه قشر د هماغه مهال د ترخو شرایطو نادودۍ او مظالم ګالي ما هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهال دا سې ښځې هم ولیدلې چې د غرونو په اړخې ځمکو کې یې، د غویانو سره یو ځای یوې را کښېدلې...

دا سې ښځې هم وې چې ماشومان یې، شاته تړلي او له غرونو یې، مرګي راوړل او د نورو تولنو برعکس یې د کورنۍ چارو له جملې څخه د پخلي یعنې د تنور او نغري سره دومره سرو کار نه درلود.

اوس به راشو دا صلاح په ورځپانه کې د روان کال د زمري د میاشتې د پنځمي نېټې د راپور سره د مقایسې موضوع ته چې د تکړه ژورنالیست ښاغلي نعمت الله کریاب له خوا برابر شوې ده، نوموړي لیکي: « سره له دې چې په افغانستان کې ښځو د ژوند ژواک د ښه والي په موخه یو شمېر دولتي او مرستندویه ټولنې په کار لګیا دي، خو بیا هم په نورستان کې د ښځو ژوند له زیاتو کړاوونو ډک دی».

چارواکي وايي څو کلونه وړاندې دود ، اوس هم حاکم دي چې ترمخه ښځې په سختو چارو کې ښکیلې پاتې دي ( البته دا هغه درندې چارې دي چې ښايي دود یې پر ځای کې نارینه سرته ورسوي چې له دې منځه کړکیله یادولي شو.

د نورستان ولایتي شورا مشر رحمت الله راشیدي له دې اړخه د ښځو چارو اداره ملامتوي او وايي چې د نورستان د ښځو د ژوند د ښه والي د پاره یې هیڅ کار نه دي کړي ( البته دا کار له یوې خوا له یو پلوه له خپلو اسلامي، مدني او میثاقي حقونو څخه د نورستان د ښځو او نارینه وو له پوهاوي او د بل پلوه د هغو په رعایتولو د نارینه وو له مکلف کولو څخه عبارت دي، په داسې حال کې چې، د نورستان ولایت د وګړو ژوند لویو ستونزو ډک دي، خو چارواکي او د نورستان د ولایتي شورا غړي وايي، دلته ښځې له ډېرو حقونو محرومې دي.(۱)

(۱) واقعیت مجله، شماره ۲۳-۲۴، حمل – سرطان، ۱۳۸۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولنیز ژوند کې د ښځینه قشر فعاله ونډه :

موږ په تاریخي دورو کې مادر سالارۍ یعنې مور واکۍ د یو عیني واقعیت په توګه منو ، همداسې د ژوندانه په ټولو برخو کې ښځینه قشر لکه نارینه، تر ځانه کارنامې پریښي او له نیکه مرغه تراوسه پورې دا لړۍ روانه ده.

له دې ځایه له کوم طبیعي، اسلامي او میثاقي او قانوني حقونو څخه چې نارینه برخمن دي تر هغو ښځې زیاتې برخمن دی چې ددې ادعا ډېر څرګند دلیل او مصداق په وراثت یا د میراث په حق کې د ښځو د برخې درلودل دی.

همداسې اوس د اسلام په مقدس دین کې د ښځو حقونه ښودل شوی دی، د هېوادونو په تدوین شوو قوانینو کې د ښځو حقونه تثبت دی په نړیواله کچه د بشري حقونو په اعلامیې، کنوانسیونو او داسې نورو کې د ښځو هر اړخیز حقونه تسجیل او په تامینولو او رعایتولو یې پوره تاکید شوی دی.

خو اصلي خبر داده چې ولې ښځې له خپلو دغه ټولو منل شوو حقونو څخه ګټه نه شي اخېستلای او په بشري ټولنو کې د یو مظلوم، محروم او محکوم انسان په توګه ژوند کوي؟ ځواب یې بیخې ساده او څرګند دی او هغه دا لکه د تاریخي تجربو او واقعیتونو په ډاګه کړې ده، حق سوغات او تحفه نه ده چې ورکړ شي حق لکه ازادۍ اخېستل کېږي او دا په دې مانا ښځینه قشر ته په کار دی چې د خپلو حقونو د اخېستلو او له هغو څخه د برخمن کېدو د پاره ځان جوګه کړی.

په لومړۍ سر کې ښایي د علم د لاس راوړلو په واسطه، د خپلو حقونو په ټولو اړخونو پراخه آګاهي پیدا کړی. ځکه هغه ښځه چې له خپله حقه خبره نه وي هېڅکله خپل حق ترلاسه کوای نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوهم ګام کې ښځې باید د خپلو حقونو د ترلاسه کولو په لارو چارو وپوهېږي او په علمي او منطقي توګه له هغوئ ګټه واخلي.

ښځې په دې لار کې ښايي هېڅکله بې تفاوته پاتې نه شي او د خپلو حقونو د حاصلولو په خاطر همیشنۍ عادلانه مبارزه وکړي او نارینه وو ته ثابته کړي چې ښځه د هغوئ بازیچه نه ده بلکې د هغوئ د ژوند ملګري ده هغه چې په فامیلي، ملي او نړیوالو فعالیتونو کې بوخته ده.(۱)

(۱) مېرمن مجله، ۱۳۸۷ کال.

## په کورنۍ کې د تند خويي د شته والي علتونه :

زياتره او په معمولي توګه په کورنيو کې د کورنۍ د غړيو په منځ کې تند خويي او پر خاشونه له يو لړ اساسي عواملو څخه را پيدا کېږي چې د دې ټولو په سر کې د مېړه او ښځې ترمنځ روحي، سليقوي او اخلاقي نه توافقونه دي.

دا ټولنيزه ناروغي زياتره په کليو او ښارونو کې په هغو کورنيو کې ليدل کېږي چې مور او پلار خپلو زامنو ته د هغوی د انتخاب او موافقې پر خلاف ودونه کړي دی. په تېره بيا چې دا ودونه د وصيتونو، لوزونو او پورونو د تاديه کولو د کوژودو له مخې د هلک او نجلۍ د ماشوم توب په پړاو کې ترسره شوي وي، طبيعي ده چې دا ډول ودونه چې اجباري بڼه لري د مور او پلار په خوښه صورت نيسي او د هلک او نجلۍ رضا ته په کې ځای نه ورکول کېږي نو تر واده وروسته چې د دوی په منځ کې هيڅ ډول مينه نه وي او لا ډېره موده دوئ يو له بله بيرازی لري او کرکه کوي، او د ګډو ژوند مفهوم يې په حقيقت کې پر دښمني تعبيريدای شي په داسې کورنيو کې زياتې تند خويي او غوسې ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم ټاکونکي عامل چې د دې تباه کوونکي ناروغۍ په منځ ته راتلو کې پوره اغېزمن دی هغه د ټولې کورنۍ اقتصادي نه حل کېدونکي ستونزې دي، په دې مانا چې اړتیاوې او لاس ته راوړنې؛ یعنې ګټې سره په هیڅ صورت د انډولتوب وړ نه وي.

نو کله چې مېړه او یا د کور سرپرست تش لاس او خالي جیب کور ته ننوزي او بې شمېره اړتیاوې ورته را مخې ته کېږي نو طبیعي ده چې یې اعصاب تر سخت فشار لاندې راځي او د مینې او محبت پر ځای د رواني ګډوډۍ له مخې له بد خویي څخه کار اخلي.

باید وویل شي داسې نور عوامل هم شته چې په کورنیو کې د تند خویي او شخړو د پیښېدو لامل ګرځي.

## د هلکانو زیږېدنه سخته ده:

یوې نوې څېړنې ښودلې ده چې د ښځو لپاره د نجونو د زېږېدنې په پرتله د هلکانو زیږېدنه ډېره زیاته ګرانه ده. د هلکانو د زیږېدنې سختوالي نکلونه همیشه د ښځو په منځ کې کېدل خو تر اوسه پورې هیچا دا هڅه نه ده کړې چې د دې واقعیت لاملونه وپیژني خو په دې وروستیو وختونو کې هغه څېړنې چې په روغتونونو کې د زیږېدنو پرمهال ترسره شوې دي؛ څرګنده شوې ده چې د هلک د زیږېدنې په پرتله د نجلۍ زیږېدنه د طبیبانو د خالت له دې جملې نه له هغه درملو او تدبیرونو څخه چې له جنین څخه د نوزاد د را ایستلو په خاطر د جراحۍ په عملیاتو کې ګټې اخېستلو کې زیاته اړتیا ده څېړونکو د زرو نجونو او زرو هلکانو زیږېدنې تر کتنې لاندې ونیولې او دا هغه میندې وې چې یې لومړنۍ زیږونه وه او د امیدوارۍ په وروستۍ مرحله کې یې زیات دردونه لرل دې څېړنې وښودله چې له نجونو څخه د هلکانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیږېدنې زیات وخت نیوه او د هلکانو د یو کم شمېر زیږېدنه په طبیعي ډول او بې درده سرته ورسېدله.

له دې منځه د سزارین له لارې د هلکانو د زیږېدنې د شمېر موارد ۲۴۹ او د نجونو لپاره ۱۷۰ موارد. همدا شان د هلکانو د زیږولو لپاره په ۹۲۵ مواردو کې له انبرک څخه کار اخېستل شوی ؤ په داسې حال کې چې د نجونو د زیږولو لپاره د مواردو اندازه ۷۷۱ وه له هغو بالقوه لاملونو څخه چې څېړونکي ترې په دې اړوند یادونه کوي هغه د هلکانو د سرغټوالی دی چې د مور له خیټې څخه یې راوتل ګران دي همدا ډول نور لاملونه لکه د مور د بدن اناتومي په بدن کې د ماشوم موقعیت او د زیږولو لپاره د ښځې دعضو طاقت هم مطرح دي چې کېدای شي د سر د حجم په اندازه د زیږولو په طریقه کې اغېزمن واقع شي باید زیاته شي چې د هلکانو زیږېدنه د توقع خلاف اسانه عملیه نه ده.

## دوه احساسه:

لوی خدای چې حضرت آدم علیه السلام یې له خاورو نه پیدا کړو د خپل یزداني خلقت له مخې چې د هغه نسلونه د دنیا پر مخ میشته شي بې بې هوا یې هم ورسره پیدا کړه.

همدا شان یې ژوندي مخلوقات د تنازع د بقا د پاره په نارینه او ښځو ووېشل، او له دې واقعیته دا حقیقت په پوره صراحت سره څرګند یږي چې ددې مخلوقاتو موجودیت همېشه په جوړه توب کې دی که ددې موضوع د فلسفي او تحقیق بحث څخه تېر شو او بشري ژوند ته ورتم شو نو ښایسته ده چې ښځه او نر د انساني مفهوم دوه تعبیري اړخونه دي، او یو یې پرته له بله افاده کېدای نه شي، نو په طبیعي او غریزوي خصوصیت هر کله چې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان د بلوغ مرحلې ته ګام ور پورته کوي د يو تخنونکې او لمسوونکې تلوسې سره د مخامخ کېدو احساس کوي يا په ساده مفهوم په اورجن احساس ددې ليوالتيا لري چې ځانته جوړه پيدا کړي يعنې د يوې نجلۍ سره واده وکړي.

واده د انساني ژوند په قاموس کې د طبيعي قانون يو اجباري پديده ده دا د خدای تعالی لورېدنه ده که يې د نورو مشخصاتو د يادونې څخه صرف نظر وشي نو بر علاوه له هغې چې د تېر نسل او راتلونکي نسل تر منځه د پيوستون نه شلېدونکي کړۍ ده د يو انسان د شخصيت بشپړونکي وسيله هم ده.

د بشري تاريخ د واقعيتونو په شهادت دا جوړه توب او دا تسلسل تر اخره ټينګ نه پايي، ناعلاجه يو يې مري يا مخکې او يا وروسته او زموږد اسلام مقدس دين او اسماني قانون پر حکم انسان ته ددې واک ورکړي که نر وي يا ښځه دوهم او يا ځووم واده وکړي او ځان بې جوړې پرې نږدې.

را به شو دې ته کومه موضوع چې مانه له چانه اورېدلې او نه مې په کوم کتاب کې لوستلې ده هغه د عمر په وروستيو مرحلو يعنې سپين ږيرتوب کې د بې جوړه توب له امله د يو کونډ شوي سړي احساس او رواني حالت دې.

په دې کې شک نشته چې دی و انسان د پاره د عمر په ټولو مرحلو کې د هغه د ښځې مړينه يوه ډېره دردونکې سانحه او نه هېرېدونکی ماتم دی خو په پاخه عمر کې يې درد او سوز او د رواني حالت ګډوډي د نورو مرحلو په تناسب بيخي بيې ساري ځورونکي اغېزې لري چې دا دی دلته ددې غميزې د اغېزمنې له منځه دوی بېلګې په ګوته کېږي.

۱ـ کله چې د کوم پاخه عمر سړی ميرمنه ومري که څه هم هغه کور او کورنۍ ولري، اولادونه او انګيندي ولري، خو د دوی با وجود کله چې د خپل کور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه را ننوزي د يو نااشنا او له تعجبه ډک احساس سره مخامخ کېږي او هغه دا چې خپل کور په منځ کې ورته ځان پردې ښکاري او د يو شي د کمبودی او ورکوالی خيال ورسره جوړه کېږي، نو خپل کور ته زړور نه ورننوځي او د پخوا غوندې د کورنۍ سره د دومره راز مني جرائت نه کوي، رښتيا چې ښځه د انسان رازمنه، خواخوږې هم عاطفه، هم احساسه اوهمکاره ده او د ژوند په ټولو برخو کې ورسره شريکه ده او بالخاصه د عمر په دې له حيرت او حسرت ډکه مرحله کې.

۲ـ د پورتني احساس نه بر علاوه د نومووړي ګونډ شوی سړه يو بل احساس هم ملګري کېږي او هغه دا کله چې د کوره د باندې وي ماحول ورته غير عاطفي او ځان د پخوا په نسبت يو څه بی تمکينه او سپک محسوسوي. لنډه دا چې الله تعالی دې هيڅکله د ژوند په وروستنۍ مرحلو کې د ژوند ملګري له چانه نه اخلي، ځکه چې د بل هر وخت په پرتله يې درد او نوميدی زياته ده.(۱)

(۱) ارمان ملي ورځپاڼه، ۱۱۲ګڼه، اسد ، ۱۳۸۱ کال.

## کورنۍ اقتصاد د کور د ښځې په چلند پورې اړه لري :

کورنۍ د انسان د ژوندانه د ګردو نيکمرغيو ، برياوو او هوساينې ډېر ښه ډاډمن کانون دی او کورني اقتصاد چې د انسان د لومړنيو اړتياوو د پوره کولو اغېزمن عامل دی هم په کورني کې د کورنيو د لويانو په تېره بيا د کورني د ميرمنې له خوا په مثمره توګه سمبالېږي. که د کورني د اړتياوو د پوره کولو سرچينې د کار او وظيفې درلودل او نور اقتصادي فعاليتونه تشکيلوي، خو که چېرته لاس ته راغلي عايدات تر کنترول او څارنې لاندې مصرف نه شي بې له شکه په راتلونکي کې د اقتصادي ستونزو په لېږې کولو کې د يادونې وړ مطلوبه برخه نه شي اخېستلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عمومي صورت دا موضوع په هغو کورنیو کې چې شتمني او پانګوالي نه دي، پوره اهمیت او تامل وړ بلل کېږي، په دې کورنیو کې اقتصادي مسئلې باید په دقت او مسؤولیت سره په پام کې ونیول شي هو کې په هغو کورنیو کې چې سرپرست غړي یې دماموریت په تنخوا د ژوند چارې چلوي. پوره مطرح کېد ای شي نو په دې کورنیو کې د کورنۍ مېرمن په خاصه توګه باید د کورني دخل او اړتیاوې سره محاسبه کړي، اوعایدات اړتیاوو او خرڅ سره په متوزان شکل مصرف کړی شي ښه داده چې اړتیاوې او خرڅ د عایداتو د اندازې له مخې محاسبه شي. ددې توازن ساتل د ښځې په چلند پورې اړه لري، ښځه باید له خپلو عایداتو څخه یو څه اندازه د راتلونکي پیش بیني شوو ضروري او احتمالي پېښو په مقابل کې د تدبیرونو د نیولو په مقصد پس انداز کړي. دا حتمي نه دي چې له سوګل توب او له ډېر سختوالی څخه کار واخېستل شي او یا دا چې هسې ګزاف مصرف وکړي چې یې د عایداتو سره هیڅ انډول موجود نه وي، یعنې د سر د پاسه لوکول په کار نه دي، په دې مفهوم چې د یوې میاشتې په اوږدو کې دومره خرڅ وکړي چې راتلونکي میاشت ته پوره وړي پاتې شي چې د پورونو دا سر پر سر کېدل د هغې اقتصادي ستونزو د ایجادېدلو عامل وګرځي چې د کورني اقتصادي ملا ور ماته کړي.

ما له پخوا نه ډېرې داسې کورنۍ لیدلی دی چې مېرمنې د خپل مېړه د یو موټې معاش څخه یې هم کورني چلولي لازمي اړتیاوې یې ورته پوره کړي دي اوهم یې دکور ضروري سامان برابر کړي او حتی د خدمت په موده کې یې دهمدې معاش له درکه کور هم پیدا کړي دي اما د داسې ښځو اضافه خرڅې مې هم لیدلی دی چې د خپل هوس له مخې یې هر څه په سیند لاهو کړي دي. یعنې ټول عایدات څخه چې د سامان او شتمني د خرڅلاو له درکه هر څه یې په خېټه خوړلی پر سر یې باد کړ او یا یې په زیاتې فیشني شیونو لګولي او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د سيال او سيالداري په مسابقو کې له لاسه ورکړي دي نو تر هر څه د مخه يوې ميرمنې ته په کار دي چې د يو کورني اقتصاد ټول اړوندې چارې په يوې عياري شوې محاسبې سره تنظيم کړي خپلې پښې له بړستني سره وغزوي.

سيال او سيالداري هم د خپلې اقتصادي وسې سره سنبال کړي دا د شرم او خجالت خبره نه ده چې په حلال عايد تر وسې پورته د چا سره سيالي ونه کړي او په سيالداري کې د هغه چا سره د برابرولو هڅه ونه کړي چې د زياتې شتمنۍ درلودونکي وي او يا له نامشروعو سياليو سره لوبې کوي آبرومند ژوند تر هر څه قيمتداره متاع او ارزښمنده سيالداري ده.

## مېرمنو ته نه ښايي چې په بې فرصته توګه کورني يا د کورني نه د باندې مسئلې خپلو مېړونو ته وړاندې مطرح کړي :

که يوه مېرمنه د خپل مېړه د رښتيانی نيکمرغي او روحي ارامي اسباب برابر کړي په حقيقت کې يې د خپلې کورني نيکمرغي تامينه کړي ده.

او کله چې په يوه کورنۍ کې د مينې سپېڅلتيا ، پيرزوينې صميميت فضا منځته راشي د کورنۍ هر غړي د هغې د ښکليو بلوشو د لاندې په واقعي توګه ژوند کولای شي او چاته چې بيا ددې نيکمرغي؛ تودې فضا او واقعي ژوند د ايجادولو مسؤوليت په لومړی سر کې ور په غاړه دي هغه يوازې او يوازې د کور ميرمن ده ځکه همدا ذهنيت دی چې پښتانه ميرمنې ته د کورني د خوندي کولو د نورو ډېرو نومونو تر څنګه « کور ودانۍ» هم وايي.

هو کې ! په ټولنو کې د کورنيو نيکمرغي په رښتيا سره د مېرمنو د معقوليت او غير معقوليت پورې مستقيماً اړه لري.

د يوې ميرمنې څخه باکل پوره ده چې په يوه شېبه کې د کورني د محبت او صفايي فضا خړه پړه کړي او يا دا هميشه د پاره د خپلې کورني ګرد ، غړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعي نيکمرغي د بختورۍ بريښتي په پسته غبرګه کې د تل د پاره نيکمرغه وساتي او دې مقصد ته د رسېدلو په خاطر په لومړۍ مرحله کې يوې مېرمنې ته په کار دی چې د خپل مېړه د نيکمرغي عوامل برابر او هغه وساتي هېڅکله داسې زمينه مساعده نه کړي حتی په بحراني مرحلو کې هم چې مېړه يې د هر اړخيزو ناخواليو له امله د کور د نيکمرغي په پاکي فضا کې د کمبختي وريځي را خپرې کړي.

ميرمنو ته ښايي چې د خپلې کورنۍ په ګرد و چارو کې او ځينې تصادفي او ناوړه مسئلو په ټولو مواردو کې؛ د معقوليت حوصلي او هوښيارتيا څخه کار واخلي. همدارنګه د خپل مېړه سره د يوې ميرمنې ګوزاره او تماسونه ښايي يو ثابت شکل ونه لري بلکې په الستيکي اړخونو بنا وي؛ يعنې ميرمن ته ضرور ده چې د خپل مېړه شخصيت په خورا غور مطالعه کړي او بيا د هغه روحياتو ته قيمت ورکړي او ددې قيمت ايښودلو له مخې د هغه په مقابل کې خپل تول وجايب تنظيم کړي.

د مثال په توګه يوه مېرمنه ښايي د خپل مېړه سره د مېړه د خوشحالي او خپګان په وخت کې د يو رنګه ثابتي او ټاکلي رويې څخه کار واخلي د هغه روحيه وګوري همغاسې رفتار ورسره وکړي کنه په دې کې هېڅ شک نشته چې ډېره د روحي ناراميو د زياتولو زمينه به يې برابره کړي دي.

د موضوع د ښې څرګندونې په غرض لازمه ګڼم چې د يوې سړي د خولې کيسه دلته رانقل کړم.

ده نوی کميس په تن کړي و کله چې يې ملګرو وليدو په تعجب سره يې د هغه را نيولو علت ترې وپوښته دا ځکه دده پخواني کميس د بدلولو وړ نه و دې په خندا سره هغوی ته وايي:

ملګرو ! زما کميس يوه اوږده کېسه لري او هغه داسې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمنې د غلفت له کبله دده ماشومانو هغه کمېس له کاره ایستلی ؤ کله چې هوښیاره میرمن ګوري چې کمېس خو د اغوستلو نه دی نو د واده خپل مېړه دپاره نوی کمېس له بازاره رانیسي سبا یې په مېړه دریشي اغوندې ګوري چې کمېس یې بدل دی له خپلې مېرمنې د هغه علت پوښتي مېرمن یې په پوره متانت وایي دا کمېس درته زما مور را نیولی دي او اوس چې ستا زوړ کمېس خیرن دي نو ښه به داوی چې وايي غوندي مېړه کمېس اغوندې او ډېر وخت وروسته یوه ورځ چې د کورني ټول غړي په پوره خوشالي اوصمیمیت سره ناست دی؛ میرمن مېړه ته د کمېس کېسه را اخلي.

ستا کمېس خو ستا زامنو له اغوستلو ایستلی و نو مادې لپاره چې ستا د نارامه او د اعصابو د ګډوډې عوامل برابر کړي نه وي دا مې لازمه وګڼله چې د بازار نه درته نوی کمېس واخلم او د مور د هدیې په نامه یې در واغوندم او اوس چې ډاډه یم بې له دې چې تا وخندوم خپه کېږي نه داده ستا د زوړ کمېس کیسه:

د پورتني کېسې څخه موږ ته د هوښیارۍ او معقولي میرمنې د پیش آمد ښه نمونه په لاس راځي هغه چې د خپل مېړه په وړاندې له ځومره احتیاط څخه کار اخلي.

له دې ځایه دا نتیجه اخلو چې یوه میرمنه په ښه ډول کولای شي په کور کې او یا د کورني د باندې مسئلې خپلو مېړونو ته څه وخت مطرح کړي که فرضاً نو موړي مېرمنې په هغه لومړۍ مرحله کې خپل مېړه د کمېس د منځه وتلو کېسه کړي وای ایا هغه وخت به یې په نتیجه ورکړي وای که په داسې حال کې چې د مېړه د خندا او خوشالی سبب شو...

مېرمنو ته نه ښایي هر وخت چې وغواړی مېړه ته یوه پېښه بیان کړي کله ددې کار نتیجه نه یوازې په خپله دا متاثره کوي بلکې د ټولې کورنۍ ارامه فضا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـر اغـېـزي لانـدې راولـي او نـاکراره کـوي يـې ميرمنـې ښـايي دخپـل مـېـړه د شخصيت د تحليل له مخې دا کار وکړي او مساعد فرصت هم ورته وګوري.

کله چې په کور او يا کلي کې يو خبره پېښـېږي ددې دپاره چې مېـړه پـرې خبـر کړي په کار دي چې د خبرېدو زمينه ورته مساعده شي.

که مېړه له وظيفې څخه او يا د بل ځای څخه سترې راشي مخکې تردې چې دريشي بدلـه کـړي ايا پـه دې وخت کـې د يـوې پېښـې او مسـئلې مطـرح کـول معقول کار دی.

همدارنګـه څـه وخت چې مېـړه د وظيفـې خواتـه روانـېږي دهغـه نـه د اورېدو پوښتنو ځوابونه غوښتل څه معنی لري؟

پـه دې کـې هـيڅ شـک نشـته چې د کـورني د نيکمرغـي تـامينول د مـېـړه او مېرمنې کړي سلا او همکاري ښکاره ښه ده خو د ( سلا ) او مشـورې د ځينـو مسئلو د مطرح کولو خپل وخت غواړي.

يوه مېرمن بايد هڅه وکړي چې د خپل مېړه روحي ارامي او خوشالي دهميشه دپاره تامينه کړي ځکه په دې صورت کې دی نه يوازې د مېړه رضـايت حاصـل کړي او د هغه د نيکمرغي اسباب يې برابـر کـړي دي بلکـه د ګـردي کـورني پـه خوشاله او ارامه ساتلو کې فعاله نقش لوبولی دی.

کله چې مېړه له وظيفې او يا له کاره کور ته راستنېږي خامخا به يـا يـې روحـي ستړيا محسوسوي او يا په جسما ستړي او ستومانه وي څه کـه دا نـارامي او ستړيا ورته يـاد کـار پـه وجـه او يـا د مختلفـو خلکـو د تمـاس پـه واسـطه پيـدا شوی دی.

دا وخت د يوې ميرمنې لومړنی وظيفه ده چې هغه د ډير همت او سپېڅلتيا لـه مخې استقبال کـړی د کـورني پـه ارامـه فضـا کـې د هغـه څخـه ټـولې سـتړيا او نارامي ښې ښانې له منځه يوسي که هر څومره پېښـې شـوی هـم دی پـه کـار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې هغه ته داسې وښودل شي چې دده په غیابت کې په کور کې خیر او خیریت دی.

همدارنګه کله چې مېړه عصباني او قارجن کور ته راځي بې مورده ده چې له واره دهغه څخه دهغه عصبانیت او خپګان علت وپوښتل شی ځکه کله چې ده دمه جوړه شي په دې کې هیڅ شک نشته بې له دې چې پوښتنه وشي خامخا په هغه څه چې تیر شوي دي د کورني غړي خبروي.

په دې خو پوهېږو چې په یوه کورنۍ کې د مېړه او ښځې رابطه ډېره نږدې او کلکه ده خو ددې خبرې هېرول هم په کار نه دي چې کېدای شي د بې احتیاطي او نامعقولي په واسطه چې د هرې خوا څخه وي ددې ترمنځه ددغه رابطه په دغه ډول پاتې نه شي.

په کومه اندزه چې بې مورده د ځینو مسئلو مطرح کول خطرناک دی په هم هغه اندازه د ځینو نورو مسئلو نه مطرح کول او په زړه کې پټ ساتل هم د کورني د فضا په نور تحولو کې ښکاره برخه لري.

د یوې موضوع مطرح کول د عباراتو او د افاوی پورې اړه هم لري که یوه بده پېښه په مناسبو عبارتونو او ښې افادې سره مېړه ته څرګند شي ممکن دهغه د اعصابو د توفاني کېدو سبب نه شي او کېدای شي چې هغه ته د هغې د بدو عواقبو د منځه وړلو امکانات په لاس کې ورکړي.

لنډه دا چې د کورني او د کورنۍ د باندې دټولو مسئلو په مطرح کولو کې میرمنو ته په کار دی چې د معقولیت حوصلې او هوښیارتیا څخه کارواخلي او په پوره زیرکي مېړه پوه او د هغه قناعت حاصل کړي.

نیکمرغه څه دی هغه کورنۍ چې د واقعي میرمنو د عمل څراغو ټولې فضا سپېڅلې صمیمي او له بې ډکه کړې دی.(۱)

(۱) بیدار ورځپاڼه، مزارشریف، رازقي نړیوال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښځو پر خلاف غوسه او تند خويي :

د ښځو پر ضد تند خويي په لاندې توګه ویشل کېږي:

غوسه کېدای شي د اعمالو د څرنګوالی له مخې پر جنسي، رواني، فزيکي، اقتصادي او يا احساسي ډولونه باندې وويشتل شي.

تند خويي د قرباني د ځانګړتياوو پر بنسټ ويشل کېدای شي چې البته د دې موضوع تفصيل د يو لړ اخلاقي نزاکتونو له مخې لازم نه ليدل کېږي.

د تند خويي علت څه شی دی؟

د هغو څېړنو له مخې چې ترسره شوي هغه نارينه چې د ښځو په نسبت له خشونت څخه کار اخلي او په وهلو او ټکولو يې پيل کوی زياتره دا پر هغو کورنيو کې ليدل کېږي چې هلته د تند خويي له چلند ه کار اخېستل کېږي، معمولاً د دې کورنۍ غړي جنګ او جدل خوښوونکی شخصيتونه لري او ځينې يې پر رواني ناروغي اخته وي چې دا خپګان يو ډول ناروغي بلل کېږي د ښځو ځورول او ټکول زياتره په هغو کورنيو کې ليدل کېږي چې غړي يې په الکولو او الکولي مشروباتو روږدي وي همدا شان ناوړه دودونه، رواني پېښې او شخصتي فکتورونه دا له هغو موادو څخه شمېرل کېږي چې پر تند خويي باند سمه اغېزه لري.

په کورنۍ کې تند خويي او د هغو اغېزې:

د تند خويي په باب څېړنې ښيي چې په کورنۍ کې د تند خويي شته والي د کوچنيانو پر رواني ودې او کړو وړو باندې ډېره خطرناکه اغېزه لري او ممکنه ده چې د کورنيو شخړو د رامنځته کېدلو او په راتلونکي کې د هغوی د خپګان، ټولنيزوضد کړو وړو د الکولو او مخدره موادو د روږدي کېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر عامل وګرځي، ددې تر څنګ هغه ميندې چې ددې تند خويي قرباني دی بې له شکه يې پر خپل ځان باور ته پوره زيان رسېږي او انساني وقار يې د يادونې وړ ضرر وينې نو له دا سې مېندو بايد هيله وشي چې د خپلو اولادونو په سالمه روزنه کې ګټوره او اغېزمنه برخه واخلي. دا چې په کورنيو کې دا تباه کوونکي ټولنيزه ناروغی څنګه منځ ته راځي يو جلا بحث غواړي.

## د مور او پلار غير منطقي دخالت :

دا ډول ستونزه په تنکيو ځوانانو او ټولنې ته د ورګډېدلو په درشل کې او د راتلونکي ژوند د لارې د ټاکلو په حساسه او ستونزمنه مرحله کې رامنځته کېږي په دې مهال کې يازوی د مور او پلار له منطقه لري او سخت دخالتونه نه دي چې د اولادونو پر فکر او روح ناوړه اغېزه کوي بلکې دهغوی خير غوښتونکي نصيحتونه او پندونه هم د زلموټو د سالمو فکرونو په ګمراه کولو کې هم پوره اغېزه لري ځکه چې تنکيو ځوانانو ته هر ډول تلقين او ياتر اغېزه لاندې د هغوی را ورستنه په دې دوره کې د شخصيت د متعادلي ودې او فکري بشپړ بلوغ ته د لاس بري په لار کې خنډ ګرځي په تېره بيا هغوی چې په مور او پلار پورې تړلي وي او يا هغوی چې سر کښېنه او فرمان نه منونکي دي او هميشه له فکري خپلواکي څخه خبرې کوي لومړنی ډله چې هميشه د خپلواکه مسؤوليت او له تصميم نيونې څخه د تېښتې لپاره تياره زمينه لري د شغل يا تحصيلي څانګې د غوره کولو په مرحله کې چې د ځانګړې نظر څرګندونې دعقيدې د ښکاره کولو لپاره ښه قابو دی د مور او پلار د تلقين او بې ځايه دخالت له امله يې دا وروستني دريځ له لاسه ورکړي دي او د عمر تر پايه پورې د سړي په دوهم صورت او علي البدل غړي په توګه ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه ډله هم چې له مور او پلار سره يې دښمني او لالچ خپل هميشني عادت ګرځولي دي او دا مقاومت د خپل شخصيت د اثبات لامل بولي او کله چې ټولنې ته د ورننوتلو او د راتلونکي لارې د انتخاباتو په مرحله کې د مور و پلار له خير غوښتونکيو نصيحتونو او توصيو سره مخامخ کېږي بې له دې چې ځان ته د فکر کولو زحمت ورکړي يوازې له مور و پلار سره د مخالفت لپاره هغه لاره غوره کوي چې د هغوی د تمايلاتو او غوښتنو پر خلاف وي او يوازې په همدې سبب چې ځان او نورو ته ثابت کړي غواړي او کولای شي چې په خپله راتلونکي لار د ژوند کړنلاره غوره کړي په دې توګه د مور و پلار زړه سيزنې اوغير منطقي مداخلي او خير غوښتونکي مهرباني ډېر ژر په يو ډول مزاحت او زړه سوړوالی اوړي.

## له کورنۍ سره په ګډه خواړه خوړل :

خواړه د لوی خدای تعالی په پيرزوينو کې ډېر اغېزمن نعمت دی او د انسان د ژوندانه له عواملو څخه هم يو مهم عامل دی، او بيا د دې خوندور نعمت خوند هغه مهال لا زيات شي چې په روغ صورت او خوشحالۍ سره وخوړل شي او بل لامل چې د دې نعمت خوند لا زياتوي هغه د کورنۍ له غړيو سره په يوه دسترخوان يو ځای په خوښۍ او خوشالۍ دهغو خوړل دی. د کورنۍ په ګډه د غذا د خوړلو يو مهم اغېزه پرته له دې چې لوږه له منځه وړي او په اشتها خوړل کېږي.

يو بل درمليزه اغېزه هم لري په تېره بيا د تنکيو ځوانانو په رواني حالت سمه او سالمه اغېزه کوي. دا خبره د پوهانو څېړنو او مطالعو جوته کړې ده هغوئ وايي هغه تنکي ځوانانو چې په رواني ناروغي اخته دي که دوئ د کورنۍ له غړيو سره په ګډه خواره وخوري نو يې د رواني سلامتيا په برخه کې پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرستندوي تمامېږي د تجربو په نتيجه کې دا موضوع ثابته شوې ده هغه ځوانان چې تر رواني درملنې لاندې وي هغوئ په منځني ډول په اونۍ کې له پنځه وخته کم له خپلې کورنۍ سره په ګډه خواړه خوړلي دی حال دا چې دده روغو همزولو بیا په اونۍ کې له ۷ وختو زیات په ګډه د کورنۍ له غړیو سره ډوډۍ خوړلې ده.

دا څېړنه چې په ۲۵۹ تنکیو ځلمیانو ترسره شوی د خپل مور او پلار سره یې ګډ ژوند کاوه او ددوئ له منځه ۸۲ تنه په رواني ناروغي اخته او تر درملنې لاندې و او د دوی د ناروغۍ یو بل لامل روحي ګډوډی او اضطراب و.

په یوه دسترخوان د کورنۍ د ټولو غړیو د ډوډۍ خوړل چې زموږ په ټولنه کې د یو ګټور دود او د معاشرتي ښو ادابو څخه دی، د کورنۍ غړي چې یو بل ته سره خوا په خوا کښیني دې ته رابولي چې په خپلو منځونو کې د مینې او محبت ډک چلند کوي، او د دوی د ا مهربانه چلند ونه حتی د ټولو د رواني حالت د سلامتي سره پوره مرسته کوي. په دې برخه کې ددې ټکي یادول هم په کار دی چې ښایي د کورنۍ هر یو لوی غړی هڅه وکړي چې دلته داسې خبرې مطرح نه کړي چې خواشینوونکی وي او یا لکه زهر د خوړو خوند او کیفیت له منځه یوسي او اشتها ووژني.

نو ښه ده د هغو موضوعګانو سره تماس ونیول شي چې له خوښۍ ډکې او خندا راوړونکي وي ددې تر څنګه یو پر بل په یو ډول پیرزوینه ښکاره کړي ځکه خوښي او غوسه یا خپګان د اشتهایي غدو څخه د ترشحاتو په زیاتوالي او کمښت څرګند اغېزه کوي.(۱)

(۱) هېواد ، ۱۲۸ګڼه، ۱۳۸۱کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښځه په پښتو متلونو کې :

ښځه د بشري کورنۍ پخه خښته او د نسلونو د تسلسل ډېره کلکه کړۍ ده ښځه د بشري ټولنو، ډېرین تهداب او د مادي او معنوي میراثونو له یو نسل څخه بل نسل ته سپارونکي مخلوق دی.

ښځه د انساني ټولنې د ډېر مهم قشر او لطیف جنس په صفت بللي شوي ده، او د انساني ژوند په ټولو اړخونو کې یې نقش پوره ټاکونکي دي.

همدارنګه د انساني ټولنې د نورو ایجادي او ټولنیزو ډګرونو تر څنګه ښځه په علمي او فرهنګي اړخونو کې هم د یادونې وړ مقام لري، په تېره بیا په عامیانه او ولسي ادب کې له یو خوا ددې فرهنګ ډېرې برخې د ښځو له خوا هستي شوي دي نو له بلې خوا زیاتره یې په خپله د همدې ښځو په اړوند ویلي شوي دي په کومو کې چې د ښځو د مقام لوړوالی، دریځ، ارزښتمندي، درنښت او ګرانښت په ډاګه کوي.

د سړي د شخصیت په خوا کې د ښځې د شخصیت جوړه توب یو لازم او ملزوم حکم دی او د سړي د مفهوم سره د شخصي مفهوم نشلیدونکي موضوع ده او د یوې سکې دوه مخونه ګڼل کېږي، لکه په دې پښتو متل کې « ښځه د تن جامه ده».

ددې متل مانا داده چې د سړي لپاره بربنډتوب او لوڅوالي د شرم او سپکوالي خبره ده سړي هغه وخت له شرمه په پرده کې خوندي پاتې کېدای شي چې جامې یې په تن کې وي ددې په خوا کې هیڅ یو سړي په ټولنه کې یې لباسه او سیدلای نه شي او د جامو اغوستل له لومړنی ضرورت څخه شمېرل کېږي نو داده چې ښځه د سړي لپاره د جامې حیثیت لري پښتو متل دی چې وایي: « سړي غرونه دي، ښځې اړمونه دي».

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې متل کې که هم د سړي شخصیت لکه غر ډېر لوړ، ډېر درووند او له ډېر برمه ډک دي خو د دې تر څنګه د سړي پر شخصیت باندې د ښځې پریکونې اغېزمنې هم تر هغه کمه نه ده ځکه په پورتني متل کې دا حقیقت پوره په ډاګه شوي دي چې دغه غرونه د نړۍ بل هېڅ قدرت نه شي خوځولي او اړولای، مګر د یوې پیاوړي قوي او خارق العاده اړم په توګه یوازې د ښځې اغېزناکي ده چې دغه غرونه خوځوي او یا یې اړوي او په خپل ذات کې دا معجزې ته یوه ورته پېښه ده خو دا معجزه بس د همدې ښځې پورې مختصه ده او دهغې د دراندہ شخصیت څرګندویه ګڼل کېږي.

دا یوه منطقي خبره ده چې ښځه د خپلو ظریفانه خصوصیتونو او ملکوتي خصلتونه په برکت د سړي د شخصیت په معنویت کې نفوذ کوي، د هغه روح او روان د خپل تسلط لاندې راولي.

دا نفوذ او تسلط یا د سړي شخصیت ته وده او روانق ورکوي او یا یې شخصیت د چا خبره پر مځکه منډې او سپکوي یې نو دا یو واقعیت دي چې دغو رو انساني مشخصاتو درلودونکي ښځه فرښته ده او برعکس د ناوړو خویونو او کرکجنو عادتونو لرونکي ښځه بلا ده هغه چې په افغاني ټولنه کې همیشني ملګري او تر مړینې پورې تر خلاصون نه لري لکه چې په دې متل کې د ښځې ناوړتیا او شومتوب داسې تعبیر شوي دي.

«بد ه ماینه تنګه مو چنه ده».

نو له دې ځایه د ښځې په واده کولو کې ښایي له ډېر غور او سنجش څخه کار واخېستل شي ځکه ښځه مړۍ نه ده چې لري وغورځول شي او یا د جنس غوندې خرڅه شي په افغاني کورنۍ او ټولنه کې د ښځې لپاره د پت درنښت منښت او ګرانښت معیارونه په دې موضوع کې پراته دي چې د خپلې کورنۍ په تېره د خپل مېړه د ننګ او عزت او نیکنامې شمله جګه وساتي او دهغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکمرغۍ او هوسا ژوند تامینونکي، د مینې او ګرانښت وړتیا ولرلای شي چې دا د افغاني مېرمنو سوچه افغاني او اسلامي ممیزه ده، برعکس کېدلای شي چې زموږ د ټولنې د دې اخلاقي غورو موازینو او ټولنیزو غوښتنو څخه یوه ښځه سرغړونه وکړي د مېړه د کورنۍ د بدنامۍ او په ټولنه کې د هغو د رسوایي لامل وګرځي د داسې ښځې څېره په لاندې پښتو متل کې په ډېر ویانده شکل داسې کښل شوي دي.

«سرخیلي ښه ده نه مېړه شړلي».

پورتني متل په دې دلالت کوي چې د ښځې د سر وېښتان د هغې د پت عزت ننګ او ښځینه شرافت سمبول دي او د ټولنې په حاکمو مقرراتو او مسلطو دودونو کې د هغې د سر د وېښتانو خریول د نه بخښونکي جرم جزا ګڼل کېږي، تر دې لا پورته د یو ښځې د شخصیت د سپکاوي او رسوايي لپاره د مېړه له کوره شړل لا د بې ساري شرم او عار خبره ده نو داده چې پښتني مېرمنې هر ډول کورنۍ ستونزې، فامیلي ناخوالي او نادودې او د تاوتریخوالي شکلونه پر ځان مني حتا ګویا د اور په منځ کې د اوسیدنې شرایط ګالي خو د مېړه له کوره شړل ورته تر هرې سپکاوي او جزا ډېره لوړه سزا تلقي کېږي.(۱)

(۱) اصلاح، ۱۰ حوت، ۱۳۸۱.

## پر ښځو باندې تاوتریخوالی :

پر ښځو باندې د تاوتریخوالی پدیده لکه نن سبا په افغانستان کې د نشه ایزو توکو د تولید، تورید او قاچاق کولو، ترهګرۍ او تروریزم، اداري فساد او یو لړ نورو فسادونو غوندې عمومیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاوتريخوالي او خشونت مفهوم چې پر ښځو باندې د زور زياتې، د قار او غوسې د هغوئ د حقه اسلامي، بشري، مدني او ټولنيزو حقونو يا په بل عبارت د هغوئ د طبيعي، ميثاقي او قانوني حقونو تر پښو لاندې کولو په عملونو او چلندونو کې افاده کېداى شي يوه خورا کرکجنه ټولنيزه پديده شميرل کېږي، چې د خورا پراخو بُعدونو او اړخونو لرونکي او د فرد د کورنۍ څخه نيولي تر ټولنو پورې د خورا زياتو زيانمنيو او بدبختيو لامل ګرځي. تاوتريخوالی او پر ښځو تاوتريخوالی يعنی څه؟

که په يو څه وضاحت او د هغه د مفاهيمو په پاملرنې سره تعريف شی نو ويل کېداى شي، پر ښځو باندې تاوتريخوالي چې فزيکي، جنسي، رواني او اقتصادي تاوتريخوالي په کې شامل دی د معمول له مخې د جنسي تاوتريخوالي په نامه يادېږي چې په خاصه توګه څه د فرد او کورنۍ له خوا د څه د ټولنې له خوا پر ښځينه جنس تطبيقېږي او دا ځکه چې دا ډول تاوتريخوالي هغه عملونه دي که چېرته د ښځو پر ځاى پر يو مامور، ګاونډي او يا په بل چا په ټولنه کې ترسره شي نو په دې صورت کې د مجازات وړ دی خو د معمول له مخې جنسي تاوتريخوالي پر ښځو باندې په کورني چاپېريال کې د کورنۍ د غړيو له خوا عملي کېږي.

نن سبا په نړۍ کې نړدې له هر يوې ښځې څخه درې ښځې تر وهلو ټکولو، جنسي تيريو، او د تاوتريخوالی د داسې نورو ډولونو لاندې راځي او په زياترو وختونو کې هغه کسان چې د تاوتريخوالي د ناوړه عمل عاملين ګرځي په دې جمله کې د ښځو د کورنيو غړي او يا نږدې خپلوان شامل دی.

د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي په زياتېدونکی کچه پراختيا مومي او د عامې روغتيا او له بشري حقونو د سرغړونو په برخه کې د لويو انديښنو څخه شميرل کېږي پر ښځو باندې د هر ډول تبعيض د محوه کولو نړيواله اعلاميه د بشري حقونو لومړنی سند دی چې پر ښځو د تاوتريخوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع يې په پوره صراحت او مشخص توب سره مطرح کړي ده، دا اعلاميه په دې تاکيد کوي چې پر ښځو تاوتريخوالي د ښځو د بشري حقونه ته پوره زيان رسوي او د هغوئ په اساسي ازاديو په لاسرسي کې خنډونه رامنځته کوي او په هر مهال کې يې يو داسې عمل ګڼي چې ښځو ته جنسي او رواني زيانونه رسوي او په دې برخه کې يو جدي ګواښ تلقي کېږي د يو داسې ګواښ اوناوړه عمل په توګه چې د خصوصي او يا ټولنيز ژوند په ساحه کې له ازادۍ څخه بې برخې توب په کې شامل دی. دې تعريف ددې اعلاميې په دوهمه ماده کې بيا له سره پوخوالی مونډلی دی په دې ماده کې هغه برخې چې پر ښځو تاوتريخوالي په کې په عمومي توګه رامنځته کېږي په دريو برخو ويشل شوی دی.

۱ـ فزيکي تاوتريخوالي

۲ـ جنسي تاوتريخوالي

۳ـ رواني تاوتريخوالي

چې دا درې ډوله تاوتريخوالي پر ښځو باندې د کورنۍ په چاپېريال کې تطبيقېږي. په دې ټولو کې وهل ټکول، جنسي تيريو پر ماشومانو نجونو د ودونو په تړاو او د جهزيې او لګښتونو په اړه د تاوتريخوالي په شمول د مېړونو او د هغو دودونو په واسطه چې پر ښځو د تاوتريخوالي لامل ګرځي او له ښځو څخه د ناوړه ګټو اخېستنو په اړه تاوتريخوالي.

په ټولنه کې فزيکي جنسي او رواني تاوتريخوالي، د جنسي تېريو، د جنسي ګټې اخېستنې، د ښځو د ازاديو او ځورولو او سپکولو، د کار په محل، تحصيلي موسسو او د نورو ټولو محلونو، د ښځو د قاچاق او د هغو بدکاريو ته د مخې کولو په ګډون تاوتريخوالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغه فزیکي جنسي او رواني تاوتریخوالي چې د دولت د اقدام او یا د سترګو پټولو یعنې اغماض په نتیجه کې هر چېرته رامنځته شوي وي ( په افغانستان کې پر ښځو باندې تاوتریخوالی.

## د تاوتریخوالي مظاهر :

که په عمومي توګه په ټولنه کې د تاوتریخوالي لاملونه وڅېړل شي ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي په لاندنیو مواردو کې روان دي:

۱.د ماشومو نجونو د قانوني عمر څخه دمخه، د مور و پلار او یا د وروڼو په خوښه اجباري ودونه.

۲.تر زیږنې دمخه په نوم کول.

۳.په بدو کې ودونه

۴.په بدل کې ودونه، د ښځو تبادله د ښاروېو سره

۵.په پور او جوارۍ کې ودونه

۶.نذرۍ او خیراتي ودونه

۷.د ملاتړ په خاطر ودونه

۸.د ځوانانو له خوا غولوونکي ودونه

۹.په ودونو کې د زیات ولور اخیستنه

۱۰.د پیسو په مقابل کې بوډاګانو ته ودول

۱۱.په ودونو کې له حده وتلي لګښتونه او داسې نور

۱۲.د مېړه تر مړینې وروسته د مېړه خپلوانو ته په نکاح کول

۱۳.د زده کړې له حقه بې برخې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴. د کار او ټولنیز فعالیت په لار کې خنډ کېدل

۱۵. له میراثه محرومول

۱۶. په روغتیایي خدمتونو له لاسرسي بې برخې توب

۱۷. د فزیکي تاوتریخوالي له مظاهرو څخه وهل، ټکول، پزه غوڅول، د وجود غړي عیبجن کول، داغل، په اور سوځول په شاقه چارو ګومارل.

۱۹. جنسي تیري، د هغو په بېلا بېلو ډولونو، حتی په ډله ایز ډول د مرګ تر پلې د هغو ترسره کول او لابدکاریو ته ګومارل.

۲۰. د رواني تاوتریخوالي له جملې څخه لکه سپکې سپورې ویل، ښکنځلې کول د بدو کلمو کارول تهدیدول، سپکول، ځورول او ازارول او ددې ډول ورته چلندونو له لیارې لیونتوب ته رسول.

۱. د مور و پلار له کوره منع کول

۲. له تحصیله او یا له وظیفې ایستل

۳. د تحصیل په موده کې د ښوونځي او کور ترمنځه په لار کې بې امنی

۴. طلاق ورکول

۵. یا دا چې کورني تاوتریخوالی یعنې د ډېر زیات زرو زیاتې په وجه، ځان سیزنې، زندی کول، زهر خوړلو، ځان سیند ته غورځول او د ځان وژنې داسې نورو عملونو ته لاس اچوي.

۶. له کوره تیښته هم د دغه ډول تاوتریخوالی له مظاهرو څخه شمېرل کېږي.

۷. له کوره شړل یا په کور کې د کورني حقونو څخه محرومول او د کور په چارو کې بې صلاحیته کول.

۸. د ښځو تښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په لسګونو داسې نورې پدیدې چې پر ښځو باندې د تاوتریخوالی مظاهر او ډولونه ګڼل کېږي.

که په پایله کې وویل شي دغه ټولې د تاوتریخوالي هغه پېښې او چلندونه دي چې زموږ د هېواد په هره ګوښه کې پر ښځې عملي کېږي او د ښځو دامظلوم، محکوم او محروم جنس ترې ځوربږي او قرباني کېږي او که په تاکید سره ښايي وويل شي چې د تاوتریخوالي د سترو لاملونو څخه په ټولنه کې د ناوړو دودونو واکمني، بې سوادي او بې علمي د ښځو له حقونو ناخبري، اقتصادي کمزوري او داسې نورو لاملونو څخه عبارت دي چې پر ښځو د تاوتریخوالي په اعمالو کې ټاکونکي نقش لري. (۱)

(۱) میرمن مجله، **۳۵** ګڼه، میزان- عقرب، **۱۳۸۹** کال.

## د کورنۍ ژوند رمزونه :

په طبیعي ډول کور او کورنۍ د یو ټولنیز نعمت په توګه د انسان لپاره د هر اړخیزو نیکمرغیو هوساینو، خوښیو او راحت په یو کلي مفهوم سره د ډېرو نیکبختیو په زړه پورې او ډاډمن کانون ګڼل کېږي.

دا یو بیخې تجربه شوې او منطقي واقعیت دی کله چې څوک د ورځینو رسمي او شخصي چارو او یا نورو مصروفیتونو د درلودلو له مخې له کوره بهر یو څه وخت تیروي، په دې موده کې ناګریز یا به د وظیفوي ستونزو او جنجالونو په وجه او یا د عصبي تشویش یا کېدای شي چې د ټولنیز خصوصیت له مخې د ځینو کسانو د ناوړو برخوردونو او چلندونو او یا د یو لړ خواشینوونکو پېښو او داسې نورو ناوړو پدېدو سره د مخامخ کېدو وروسته په عصباني، کسالت او یا د روحي ګډوډ حالت تر فشار لاندې په غیر روماله وضعه کور ته راستون شي دلته امکان لري چې د دوو متفاوتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالتونو سره مخامخ شي يا دا چې ددغه ځورونکي فشار لپاره د کورنۍ په زړه پورې فضا ، د ميرمنۍ او د کورنۍ د نورو غړو له صميمانه او مينې ډک هر کلي او په خلص مفهوم د کورنۍ د مسکيز او سندريز چاپيريال سره د مخامخ کېدو په صورت کې له اوږو غورځي او په بشپړه توګه د راحت، هوساينې او رضايت احساس يې د ورځې، د تېر شوي له ناخواليو څخه د را پيدا شوي د ستومانه حالت په معکوس ډول تعريفوي او يا دا چې کور ته د راننوتلو سره سم د کور فضا سړه غير عاطفانه او جنجالي وکتل شي د سړي په اوږو د ورځې د ناخواليو کې دغه دواړه متقابل مخالف او متضاد حالات بايد عادي خبره ونه ګڼل شي او په دې ټولو کې د ښځې د خالت او اغېزمنې ټاکوونکي برخه لري او دا له دې امله چې د ښځې او مېړه ترمنځه اړيکې په زښته زيات عاطفي تار تړل شوي وي او په دې مواقعو کې ډېره کمه بې پروا يي، بې تفاوتي غير مسؤولانه او غير عاطفانه برخورد دغه رابطه تر سختې اغيزې لاندې راولي او حتی د کورنۍ په ماحول کې د کرکې، نفرت، بدبينۍ او نوميدۍ فضا رامنځته کوي او ددې لپاره چې د مېړه او ښځې تر منځه د همسرۍ مناسبات د مينې، عاطفي صميمت خلوص او ګذشت له ښېګڼو ډک هميشني ټېنګ او نورمال پاتې شوي وي، نو په دې برخه کې د يو لړ اخلاقي موازينو ، کورنيو نزاکتونو ، د متقابل احترام او حقوقونو جدي رعايت کول ته پورته ضرورت دي.

ددې مناسباتو د ټېنګو او خوږو د برقرارۍ اساس د ښځې او مېړه په هر اړخيزه دقيقه او ژوره ماهوي پېژندنه ولاړ دي او حتی د واده په لومړنيو شپو او ورځو کې بايد دواړه يعنې مېړه او ښځه خپله پاملرنه همدې موضوع ته ځېرمه کړي چې يو او بل په تمام مانا وپېژني او خپل سايکولوژيکي مشخصات په بشپړ ډول درک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که د هرې ورځې په تېرېدلو سره په دې برخه کې خپل معلومات مخ په تکميل او د تجربو په غناتمندۍ کې هڅه وکړي، د پند او عبرت او د راتلونکي ژوند د زده کړو د پاره ترې کار واخلي که موضوع يو څه برښنده شي نو ښايي د يو او بل په طبيعي عادتونو، فطري خاصيتونو، روحي ځانګړتياوو په لازمه توه وپوهېږي د يو او بل د کمزورو نقطو او يا په هغه څه ښه پوهېدنه حاصله کړي چې د حساسيتونو او نزاکتونو د رامنځته کېدو عامل ګرځي.

دا ډېره ساده او معمولي خبره ده، چې مېړه او ښځه که وغواړي د خپل ګډ ژوند په بهير او اوږدو کې د ډېرو نږدې او خوږو مناسباتو په درلودلو سره د خپلې کورنۍ فضا له مينې او پيرزوينې ډکه وساتي او دهغو عادتونو له تکرار څخه په کلکه ډډه وکړي چې حساسيتونه او حسادتونه رامنځته کوي، د يو او بل تر منځه له ګرانښت او مينې ډک مناسبات د زهرجني اغېزې لاندې راولي.

دا به د يوه مېړه او ښځې لپاره ډېره نامناسبه خبره وي چې د ګډ ژوند په جريان کې د ګډ سرنوشت باوجود يو او بل ونه پېژندلای شي، سره بيګانه د اخلاقي مميزاتو او فطري طبعو او سليقي سره معرفت ونه لري.

بايد پورتنۍ موضوع ته کم ارزښت ورنه کړ شي ځکه په دې مورد کې ډېر لږه بې پروای بې احتياطي او سهل انګاري او د نه مسؤليت نه احساس د کورنۍ فضا مغشوشوي، د مېړه او ښځې ترمنځه د مينې رښتينولي پيرزوينې او عاطفي رابطې ته زيان رسوي او حتی تکرار او د تکرار تداوم يې د دوئ ترمنځه فاميلي او د همسرۍ پيوندونه شلوي او ورپسې د طلاق موضوع رامنځته کوي او يا دا چې کورنۍ د دې په ځای چې د انسان دهوسا، خوشاله بختور ژوند کانون او په زړه پورې دمه ځای وي، برعکس له جنجالونو او ناخواليو ډک ماحول باندې اړوي او حتی له نفرت او انزجار نه په ډک محيط

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې بدلوي، نو داسې ځوک به له کوره چيرته و تښتي او ځومره ګرانه ده چې ځوک له بهره ستړي ستومانه، خپه او په عصباني حالت کور ته راشي، د کور له عاطفي ښېګڼو، تودې فضا له ټولو ستړياوو او ځوروونکو تصوراتو څخه فارغوي.

د مېړه او ښځې رابطه ډېره حساسه بڼه لري که يو له بله ګيله من شي نو د نوميد يو په صورت کې به د چا سره د زړه خواله وکړي و کېدای شي د يو زهرجني عقدې په شکل ور سره پاتې شي او د دې غوټې چاودنه ټول کورنۍ مناسبات په زهرو ککړوي.

دمېړه او ښځې ترمنځه اړيکې د ډېر کلکوالي باوجود ډېر نازکې هم دي خو کلکه ساتنه يې دومره ګرانه خبره هم نه ده په دې مفهوم کې مېړه او ښځه يو او بل ښه وپېژني او يو پر بل باندې پوره ډاډه او باوري وي نو که چېرته هر يو يې د کومې موضوع او يا عمل سره حساسيت ولري نو په کار دي چې په جدي توګه له هغوی څخه ډډه وکړي او د عکس العملونه له تبارز څخه د مخنيوي په خاطر ډېره ښه مشوره او تدبير د دواړوو خواوو حوصله مندي، چوپتيا، چشم پوشي صبر، او ګذشت دي، کېدای شي دا ناوړه وضع ډېر دوام ونه کړي او کله چې بېرته نورمال حالت رامنځته شي نو په صميمانه لهجه د يوا او بل ملامتول ناوړه عکس العلمونه نه ايجادوي.

زموږ په هېواد کې ډېرې کورنۍ شته دی چې د جګړه ايزو ناوړو او تباه کوونکو شرايطو د اغېزمنې په وجه د هغوی غړي په شکل د اشکالو سره په روحي ناروغيو او عصبي تشوشاتو اخته دي او همېشه دا ناروغي لکه ګوګړو چې اور اچوي لګېږي.

په کورنۍ کې د دې حالتونو په پاملرنې سره بيا هم د مېړه د روحي حالت درک ډېر مهم او ارزښتناک دي مېرمنې بايد دا ټکي همېشه له يادو ونه باسي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېره یې پهتر یو تندې، قهرجني وضعي، په اولادونو قاربدل، وهل او بد رد ورته ویل او داسې نور برخوردونو او د رویو خپه کېږي او د محترق کېدلو عامل یې ګرځي ښیي په کلکه تري ډډه وشي کنه که چېرته مېره د خپلې مېرمنې د پورتنیو ملحوظاتو په پام کې دنه نیولو له کبله عصباني شي او یا د عصبي شوکت سره مخامخ شي او ماندینه یې بیا هم خپلو نانددریو او د پورتنیو لاملونو تکرارولو ته دوام ورکړي او د مېره حساسیت ته لا اور واچوي، نو څه فکر کوي چې مېړه به د څومره ځورونکي حالت او مایوسۍ سره مخامخ شي، صرف نظر له دې چې دا وضعه د دوئ د اولادونو په رزونه او راتلونکي حیاتي سرنوشت بده اغېزه کوي، بې له شکه د مېره او ښځې ترمنځه د مناقشو، بیزارۍ، کرکې او نفرت عوامل برابروي او ډېر ناوړه عواقب رامنځته کوي، خو دا ډېره اسانه خبره ده چې ښځه له پوره دلسوزانه او عاطفي چلند او له پورتنیو یادو شوو مشورو څخه کار واخلي ډېر داسې ممکن کېدای شي چې مېرمن او مېړه د ډوډۍ خوړلو په مهال او یا د مېلمنو په موجودیت او یا داسې نورو مواقعو کې د خپلو اولادونو سره هغسې ناوړه برخورد کوي چې د مخه تري یادونه وشوه آیا څه فکر کېدای شي دا بې تفاوتي او له کم اهمیتي نه ډک عمل به په دسترخوان په ناستو کسانو باندې خواړه زهرجن نه کړي؟ او یا مېلمانه په داسې استنباط نه کړي چې ګوندې دوئ کره په راتګ یې خپه دي، لنډه دا چې مېړه او ښځه د یو بل لپاره د ژوندانه ډېر ښه خواخوږي، مخلص او وفادار ملګري دي او د ژوندانه شپې او ورځې د کورنۍ او ژوند د رمزونو په ژورو پوهېدونو سره په ډېره خوشالۍ، نیکمرغۍ تېرولای شي او بالاخره وطن او خلکو ته په پوره وړتیا او پیاوړتیا سره د بریالیو او ګټورو خدمتونو مصدر ګرځېدلي شي.(۱)

(۱) هموطن مجله، قبایلو وزارت، ۸۲ ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په کونړ ولایت کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی پدیدې په ډېره ټېټه کچه کې دي:

د کونړ ولایت د ښځو چارو ریاست چې د هغه ولایت د اداري تشکیل په چوکاټ کې د ۱۳۸۲ کال د چنګابښ په میاشت کې په نهو څانګو تاسیس شوي دي، عبارت د لاندنې څانګو څخه دي:

اداري، جنسي، اقتصادي، زده کړې، خپرونې، ښوونې او روزنې، روغتیا او حرفي.

چې د دې څانګو کار کوونکو ګټور او اغېزمن فعالیتونو په هغه ولایت کې د ښځو د حقونو د تامینولو لپاره او په کلیو او بانډو کې د خلکو د عامه پوهاوی او د ښځو په وړاندې د تاوتریخواې د کچې د مینه وړلو کې د یادونې وړ ونډه لوبولي دي، څرنګه چې په دغه ولایت کې ټولنیزو پېښو ښودلې ده چې هلته د ناوړه رواجونو او رسمونو د واکمنۍ له امله په یو شمېر کورنیو کې نجونې په کوچنیوالي کې کوژده او واده کېدلي حتی کوچنې نجونې سپین ګریو ته واده کېدی او یو خاوند له دوو تنه زیاتې ښځې درلودلې په پور او بدو او په بدل ورکول کېدلې، ښځه په خاروو او جنسونو مبادله کېدلې، په نذر کې ورکول کېدلي او په شکل د شکلونو د دوئ د راتلونکي برخلیک سره ناوړي لوبې کېدلې او قرباني کېدلې.

د دې کرکجن برخلیک ځېنې قرباني شوي نجونې او ښځې د خپل ژوند د دغو ترخو او زهرجنو پدېدو څخه د ځان ژغورولو په خاطر له کورنیو څخه تښتېدلي او یا به یې د کونړ او پیچ سیندونو ته ځان وراچوو، ځانونه به یې زندۍ کول، ځانونه ته به یې اور اچاوه یا به یې زهر خوړل او د کورنیو د نارینه له خوا به په دې ډول تېري کېدل تحمیلیدلي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دا ډول پېښې د کونړ په ولایت کې بېخې زیاتې وي. دا هغه څرګندونې وي چې د کونړولایت د ښځو چارو د ریاست مشري محترمې الحاج مرحبا کریمي وړاندې کړي دي. نوموړې یوازې د تاوتریخوالي له مظاهرو څخه د ګوتو په شمېر یو څو پېښو ته په اشارې سره وویل: تر اوسه پورې د اسعداباد د شین کوړک په کلي کې د یوې ښځې مېړه د مور او پلار په لمسونې سره هغې ته اور واچوو خو ډېر ژر هغه له دغه تیري وژغورول شوه.

په ځینو کلیو کې بیخې کمې داسې کوژدې شوي دي چې ماشومه نجلۍ بوډا سړي ته واده شوي ده او یوازې هغه پېښه بیخې ځورونکې او زړه بوږنوکې وه چې د نرنګ ولسوالۍ د غونډو په کلي کې د ټوپکوالو له خوا په یوې کورنۍ برید وشو او د یوې ښوونکې ښځې په شمول یې د کورنۍ یو شمېر ښځې په شهادت ورسولې. کله چې د کونړ د ښځو چارو د مشرې څخه په کونړ کې د تاوتریخوالي د مظاهرو د کچې د بیخې را ټیټېدو په اړه پوښتنه وشوه هغې وویل: ددې ریاست ټول مدیریتوونه په تېره بیا د زده کړې، تعلیم و تربیې او خپرونو څانګو په دې تړاو خپلې دندې په اغېزمن ډول اجرا کوي او د خپلو کړنو د لا اغېزمنتوب په خاطر د ښځو چارو ریاست له خوا په کلیو او بانډو کې سیمه ییزې شوراګانې جوړې شوي دي او هلته د ملا امامانو او عالمانو او د کلیو د مشرانو له خوا د تاوتریخوالي د ټولو مظاهرو د منځه وړلو لپاره د خلکو سره غونډې جوړېږي او د ښځو چارو ریاست د اړوندو څانګو د مسوولینو په ګډون پراخ تبلیغاتي کړنو تر سره کېږي، چې ددې عامه پوهاوې په نتیجه کې خلک د ناوړو دودونو او د تاوتریخوالي په زیانونو پوه شوي دي او په عنعنوي ډول اوس د هغو ټولو مخنیوي کوي او په خپلو متقابلو حقوقو هم پوهېدلي دي.

که څه هم نجونې په دود یز ډول د مېړه په انتخابولو کې هیڅ صلاحیت نه لري. خو پوهېږي چې مور او پلار یې ددې د نیکبختۍ لپاره هغه چاته ورکوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکي ژوند يې تباه نه شي نو واده چې د هغوئ له پريکړې سرغړونه عار ګڼي او رضايت ښيي.

محترم مرحبا کريمي زياته کړه:

خو دوئ دغو محلي شوراګانو له خوا د نارينه او ښځو په حقوقو د پوهېدلو په اړه د روغتيا د څانګې په مرسته دعامه پوهاونې چارې پر مخ رسولي او حتی د اميدوارو ښځو سره د هغو د نازيږېدنې ماشوم او د دوی د ميندو د روغتيا په اړه لازمې لارښوونې کوي. د لازم خوراک، څښاک، او د نورو تدبيرونو سپارښتنه ورته کوي طبيعي ده چې د بشپړ ډول د تاوتريخوالي عوامل چې د ناوړو عنعنو څخه سرچينه اخلي او هغه هم په کليو کې له منځه وړل ډېر سخت کار دي او خامخا ځينې کورنۍ ترې زيانمنې کېږي.

الحاج مرحبا ويل: کېدای شي چې په ځينو کورنيو کې پر ښځو تاوتريخوالي تحميل او د هغوئ حقونه نقض شي مور د غسې پېښې د ولايت حقوقې، څارنوالۍ او جنايي څانګو ته وړاندې کوو او تر زور زياتې لاندې راغليو ښځو له حقوقو څخه هم د دوديزو جرګو له لارې او يا د حقوقي له لارې دفاع کوو.

بايد وويل شي چې په سلو کې ٪۷۰ ښځې له خوابښو او همدا فيصدې د نندريانو له ناوړو چلندونو څخه شکايت لري چې د کونړ په ښځينه ليسه کې د څوښوونکو په منځ کې دغه څېړنه ترسره شوه.(۱)

(۱) واقعيت مجله، ۲۰۱ ګڼه، ميزان – عقرب، ۱۳۸۲کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تپل شوې مینې :

د څارنې او تپل شوې مینې طریقه یا په بله وینا نازولتوب او په مینه کې بندیدل په اصل کې د شخصیت ناروغۍ ته ورته دوه علتونه دي چې په ستونزمنه توګه سره ګډ شوي دي په داسې حال کې چې یوه له بله جلا کېدای نه شي او که هر څومره جلا جلا تر کتنې لاندې ونیول شي. بیا هم دا دواړه لاملونه چې د اولادونو په نسبت د مور او پلار له نرمو عواطفو او سختو احساساتو څخه را پیدا شوي دي د کوچنیانو او زلموټو د شخصیت په بنسټ کې په هغسې په کراره او زیان رسوونکي توګه سورې او وده کوي چې انسان تر ډېرې مودې پورې د هغې د خطر احساس کوي او حتی کله چې د شخصیت په وده کې د وروسته پاتې والي او په ټپه دربدنې نښې نښانې را څرګندېږي د مور او پلار یو زیات شمېر بیا هم نه شي کولای چې د دې فاجعې پر ژورتیا باندې ځانونه وپوهوي او ځینې وخت چې دا پېښې په روښانه توګه را څرګندېږي او د مور او پلار ورته پام کېږي چې څومره نازولی او بې ارادې ماشومان یې راوړي دي هغه چې د ژوندانه له زغملو څخه کمزوري دي نو څرنګه چې د هغو د را څرګندېدنې د رښتیني سبب یعنې له خپل غلط چلند څخه خبر نه دي هغسې چارو ته لاس اچوي چې نه یوازې په دردنه خوري بلکې هغه لا زیانمنوي لکه رټنه، اخطار، نصیحت، ګواښ او سپکاوی او حتی وعدې او وعید چې دا ټول هېڅ ګټوره پایله نه لري او دا چې مور او پلار د کمزورتیا احساس کوي او د روزنې له سلاکارانو څخه دې مرسته وغواړي.

### ملا خوږی:

دامیدواري په مهال امیدوارو ښځو ته ملا خوږي ډېره ځورونکي ستونزه ده امیدواري ښځې له امیدواري کېدو سره دواره په ملا خوږي اخته کېږي. لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه چې په دې مرحله کې جنین وده کوي ورسره جوخت رحم له خپل لومړی حالت څخه غټېږي.

ددوی دا اندازه چې په یوه برخه کې راټولېږي د امیدواري ښځې د بدن پر انډول توب اغېزه کوي او د ستونزو د رامنځ ته کېدو لامل ګرځي.

**د امیدواري په وخت کې د ملا خوږې لاملونو :**

د امیدواري په مهال ملا خوږې زیات لاملونه لري؛ او په معمولي توګه د ملا د عضلو له کشش څخه را پیدا کېږي د ګېډې د عضلو کمزورتیا هم د ملا خوږې لامل ګرځېدلای شي، د ګېډې عضلې په طبیعي، ډول د مهر و ستنه پیاوړي کوي او د ملا په سلامتي کې د یادونې وړ برخه لري.

دامیدواري هورمونو ته عضلي شلوي او دا هم پر ملا خوږې اغېزه کوي ملا خوږې معمولاً د امیدواري له دوهمې دورې میاشتنې څخه پیل کېږي او امکان لري تر زیږېدو وروسته هم ملا خوږې پر خپل حال پاتې شي.

## سلیقه:

سلیقه د انسان د ننني او باطني شخصیت، د ښکلیتوب داړخ ویانده تصویر او دهغه د تمکین تعبیر دي هغه چې د انسان په کړو وړو، خوراک، پوښاک، ناستي، ولاړې او د ژوندانه په داسي نورو چارو کې ځان ښکاره کوي، له همدې ځایه د یوې کورنۍ د غړو سلیقه دهغوی په دسترخوان کالیو او کړو وړوکی په ډېره ښه توګه تجسم مومي.

سلیقه د یوه شی د کیفیت او ارزښت پورې دومره تعلق نه لري بلکې د هغې ډېر ویانده معیار له هغې شی څخه په پوره ذوق سره د غورې ګټې اخېستنې په برخو کې جوتېږي د مثال په ډول، که څوک یوه قیمتي ټوټه په لوړه بیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راونيسي اما په نالايقه خياط يې وګنډي چې د قدو قوارى او اندام له مخې ورسره هېڅ تناسب ونه لري، خو دا ډول کالي د هغو کاليو سره چې له ساده او ارزان بيې ټوټې څخه په پوره سليقه او تناسب جوړ شوي وى ښکاره توپير لري، په دې مانا چې د شخص په ځان کې مناسب ښکاري او د نورو په نزد يې با وقاره ښيي او يا که ښه او مکفي خواړه په بې سليقه توب سره پاخه شي، په ناولو لوښو او خيرن دسترخوان کې د چا په مخکې کېښودل شي نو طبيعي ده چې د هغو عادي خوړو سره د مقايسې وړ نه دي چې په ښه سليقه پاخه، په پاکو لوښو کې اچول شوي او په پاک دسترخوان کې په ښه سليقه د چا و مخکې کېښودل شي، بې له شکه دا خواړه چې د ښه رنګ، ښه بوى او ښه خوند درلودونکى دى، د انسان اشتباه تحريکوي او په شوق ترې استفاده کېداى شي دا چې وايي د يوې ښځې ښکلا او قابليت د هغې له دسترخوانه او کاليو څخه جوتېږي پر ځاى او منطقي خبره ده.

وايي يو وخت يو څوک د يوه نوى اشنا کره مېلمه شو کله چې يې ډوډۍ وخوړله نو کوربه ته يې وويل: اشنا ستاسې په کور کې دا پخلې درو ښځو کړى دي؟

يعنې وچه ډوډۍ يوې ښځې؛ نګولى بلې ښځې او چاى يوې بلې ښځې تيار کړي دي کوربه په پوره تعجب ورته ځواب ورکړ، هو کى همدغسې ده خو له څه وپوهېدلى؟

مېلمه ورته وويل: ستا له دسترخوانه وپوهېدلم.

رښتيا ده چې سليقه د ژوند په ټولو برخو کې خاص اهميت لري، سليقه ده چې د انسان شخصيت ته قيمت ورکوي او معنوي ارزښت يې تعينوي او د نورو په نزد يې درونه او با تمکينه ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلیقه ده چې د انسان موقف اهلیت او لیاقت په ډاګه کوي، یعنې کله چې د چا په ځان کې ناموزونه او یا خیرن کالي وګورو دی خبرې ته هېڅ حاجت نه پاتې کېږي چې د هغه کورنۍ وضعه له نژدې څخه وکتل شي.

د پورتنیو لنډو څرګندونو په بنا هر چاته په کار دی چې د کورنۍ په ګردو چارو کې سلیقه کلکه په پام کې ونیسي، په تېره بیا ګرانو مېرمنو او ماشومانو ته ښایي چې د خپل ژوند په ټولو برخو کې سلیقه په پام کې ونیسي، او خپل ورځنې عادت یې وګرځوي.

ددې موضوع یوه مهمه برخه ده چې د سلیقې یوه مهمه برخه نظاظت او پاکي ده له تهذیب او متانت سره برابر کړه وړه او د شیانو او استعمال کې له ظریفانه ذوق څخه کار اخېستل دي.(۱)

(۱) هېواد ورځپاڼه، ۲۹ګڼه، ۲۳ قوس، ۱۳۸۱ کال.

## ښځه یا د طبیعت یو نازولی او غښتلی مخلوق :

ما چې کله د لومړي ځل لپاره نړۍ ته سترګې وغړولې او وزیږېدلم لومړی مخلوق چې مې وپېژانده غه مور (ښځه) ده.

ما د هغې تو دی او خوږې شیدی کوم چې د هغې له وینو او غوښو څخه راوتلې رودلی...

څومره چې ما ساه او غوښه اخېسته څومره چې زما هډونو او هډوکو وده کوله هغومره د هغې په وینو او غوښو کې کموالی راته. هو کی، زه د هغې له وینو پیدا شوی وم د هغه په وینو روزل کېدلم په دغه وړو کوالی کې چې زه د هغې د زړه ټوټه وم ما یوازې د هغې غوښن تیونه او سترګې موندلی او د هغې د یوې سره آشنا کېدلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه وخت دا زما د وجود عکس العمل وو چې په غیر شعوري توګه مې د نورو مینډو تیوننه رودل زه چې څومره لویدلم هڅه وکړی او غوښه مې اخیستله هغومره راته خپل مور ګرانیدله زه د هغې د سینې ګل وم چې هر وخت د خپل تټر پورې کلک نیولم او مینه به یې را باندې ماتوله، ماته هم د هغې پسته او توده غېږه د ټول جهان له هر هوسا ځایه غوره ښکاریدله...

هر چېرته چې په پروت وم خو چې خپله مور په مې ولیدله ځان به مې ورته ورګوزاروه ګوندې ما په غېږه کې واخلي او تیونه راکړي...

کله چې په زه مور وم نو به مې د هغې تیونه په خوله او دوو لاسونو کې لوبول هو کې هغې ته هم زه ډېر ګران وم حتی تر خپله ځانه هم.

ما به لا چغې کړي نه وي چې دی به راته په ځار او قربان ځان را رسولی و او له څه وخت چې به زه ناروغه وم نو دې به حتی خپله ساه له مانه نذرانه کوله...

د طبعیت دی نازولی مخلوق به زما د لویدلو خاطر له هیڅ ډول ناخوالیو او تنګسو څخه ځان ته ژغوره، ټوله شپه به ویښه وه ګوندې زه یې د تټرد لاندې نه شم...

د کورنیو چارو د سرته رسولو په غرض دا مجبوره وه چې ما یو څه له ځانه بېل وساتي نو یې راته زانګو واچوله دې زانګو که زه ویده کولم او یوه څه کراري یې راته را کوله هغومره یې د هغې تکلیف نه کماوه، ټوله شپه ویښه ناسته وه زما زانګو به یې زنګوله او لولو، لولو به یې راته ویل:

که زما د زیږېدنې سره سم یې زما سرته توره ایښودلی او په ورونې کې یې کلک تړلم په زانګو کې هم توره زما د بالښت لاندې وه، دې عقیده درلودله چې زه به مېړه او توریالی شم د کلکي عقیدې او کلک عزم څښتن شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ په ورځ، اونۍ په اونۍ میاشت په میاشت او حتی کال په کال زه غتېدلم، فکري او جسمي وده مې کوله ددې ودې تر څنګه زما د چاپېریال د دایرې شعاع هم اوږدېدله...

زه د کورنۍ د نورو غړو سره آشنا کېدلم د محیطي شرایطو له مخې بیا هم د پلاره سره ناآشنا پاتې وم... لکه چې به مې هغه ولیده لاس او پښې به مې ورپسې غورځولې ګوندې په غېږ کې مې واخلي ... او راته ګران وو څومره چې د نورو سره بلدېدلم هغومره د موره جلا کېدلم...

ماته مې مور د نړۍ او ژوند د مینې او راز لوست را کړی وو. دغه وخت ماته هر څوک ګران وو دا ځکه زما د ژوند له لومړیو پېښو همدغه وه چې زما او د مور ترمنځه بې ساري او سپېڅلې مینه وه ... او هر څومره چې زه نور حلقو ته ورننوتلم مینه هم راسره سمه ورتله...

زما د هغه هوښیار خبره په یاده ده چې وایي:

( زه د موره کمبخت، بندي ګنهګار نه یم زیږېدلی بلکه دا شیان محیط زما په برخه کړل ).

ما دهر چا سره مینه درلوده او راته ګران وو دا زما زړه و چې مینې ته یې پسخولم...

ورو ورو مې د شعوري وده تر څنګه له چاپیریاله دا زده کړل چې څوک راته قار کوي او برندو سترګو مې ډاروي ښایي د هغه غېږې ته ور نه شم، دا وخت مې همدا کولای شو او په همدې پوهېدلم په خړپو څوکې ما دویمه غېږه هغه چې زما د مور د غېږې غوندې پسته وه ومې منیدله او دا زما د لوبو خاوره وه...

بیا هم راته مور ګرانه وه ... بیا هم راته د کورنۍ نور خپلوان ګران وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته مور ناز را کاوه ... د مینې او ژوند په رمز یې پوهولم.

زه وګرځېدلم خو ددې پر مرسته راتګ راته هم دی را زده کړو ...

ما پښې وکړې او له کوره ووتلم ... همزولان مې پیدا کړل ... په لوبو مې پیل وکړ ... د هغوی سره مې هم مینه درلوده خو بیا هم راته مور ګرانه وه ... او ما ښام چې به له لوبو ستړی ستومانه راغلم ددې په ورونونو به بیدېدلم ...

زما د خوړو، کالیو ټاټوبې دوا درمل ... هر څه غم ددې په سر وو خیر که د ځینو میندو غوندې چې د باندنیو کارونو لکه شپونتوب، بزګري منزل وهل او داسې نورو چارو سرته رسولو په غرض به یې زه د شا پورې تړلي ګرځولم ... زه یې د چا سره نه یم ګرزولي خو بیا هم را باندې ګرانه دي.

ما په لوست پیل وکړ ... ددې لپاره چې د هغې د مینې او ژوند راکړ شوی زده کړې پوره کړم ... بیا هم زما د کتاب قلم او نورو درسي سامانونو غم زما د مور او پلار په سر و ما یو ټولګي د بل پسې پای ته رساوه له یوه محیط بل محیط ته چې د هغه سره په هر څه کې توپیر درلود آشنا کېدلم بیا هم ګردې اړتیا وې مې همدغې مور پوره کولی ځکه دا لکه د نورو میندو په شان د چا مزدوره نه وه. د چا ښکنځلې ستوغې سپورې او نادووی یې نه دی زغملی ...

ځکه دا ډول نورې ناخوالی میندو ته عیب نه دی بلکه قهرماني یې ده. زه چې څومره د مور د غېږې او له کوره جلا کېدلم هومره د هغه په سبب زما مینه کمېدله ...

دا نو زما ګناه وه ځکه دهغې چې به هر څومره اولادونه زیاتېدل بیا هم پر ما مهربانه او ورته ګران پاتې وم...

د ځوانۍ په وخت کې د طبیعي عزیزې او انساني خاصې له مخې زه مجبور وم چې د خپل مخالف جنس سره مینه ولرم او ژوند ورسره یو کړم ... نو دلته به

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې مور کله کله هيروله.. او د هغې قدرداني تـه مې شا کولـه ... نـه، نـه بيـا هـم راتـه د دې ليوني ځوانۍ، په وخت کې مور ګرانه وه ...

زه چې له کوره ... کلي او وطنـه جلا کېږم خپـه کېږم دا ځکـه چې لـه مـوره جلا کېږم.

په ځواني هم را باندې د نورو ګرانښتونو تر څنګه مور ګرانه ده...

اوس که يې تيونه لوبولای په سينه لوبيدلای په ويښتو کې يې لاسونه وهلي او درسي د ماشومتوب کارونه کولای نه شم...

بيا هم راته ګرانه ده ... که په ورونونو يې ګېږدم ... د ټټره پورې يې ځان ونيسم، لاسونه يې مچ کړم او په غېږ شم ورکړه ... نه يـوازې عيب نـه دي بلکـه د هغې د شهکار زيار ايستني قدرداني ده ځيني اولادونه شته چې د مېرمنې اولادونو او شـتو خاونـدان شـي نـو مـور او پـلار هيـروي خـو دا مـور ... هـوکي دا سـتر مخلوق بيا هم د هغه سره مينه لري او حتی خپـل نـوه سيان او کړو سـيان ورتـه ګرانه وي.(۱)

(۱) هېواد ورځپاڼه.

## په افغانستان کې د ښځو رواني ستونزې:

د يو عيني واقعيت او طبيعي پديدې په توګه زموږ په جګړه وهلي هېواد کـې له ځوورو ستيو کلونو را په دې خوا بيخې ثرګنده ده چې زموږ هېوادوال کـه نر دی او کـه ښځې په شـکل د شـکلونو پـه روانـي نـاروغيو او لـه دي نـه پـه را پيدا شوو ستونزو اخته کېږي، چې يو شمېر پـه خپلـو دغـو نـاروغيو اعتـراف کوي خو يـو زيـات شمېر نـور يې ځانونـه پـه تجاهـل او هيڅکله نـه ښيي چې ګوندې دوئ په رواني ناروغيو اخته او د روانـي سـتونزو سـره نـه يـوازې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ګریوان دي بلکې کورنۍ او ټولنه او حتی په خورا لوړه کچه ددې ناروغي نه را پیدا شوو رواني ځورونکو ستونزو په بیخې زیاتو ګواښونو کې ژوند کوي، دلته ښایي دا پوښتنه رامنځ ته شي، چې ددې شومي پدېدې بنسټیز لامل څه دي؟

چې ددې پوښتنې مدلل او محقق ځواب یوه څېړنیزه کتنه غواړي چې په کوټلي توګه په دې ډول تصریح کېدای شي:

د روان پوهانو او ټولنپوهانو په عقیده لکه څنګه چې د ښځو رواني ستونزې له رواني ناروغیو څخه سرچینه اخلي په همدې ډول د یو ډېر ترخه او خطرناک واقعیت په توګه رواني ناروغي پر ښځو باندې له تاوتریخوالي په تېره بیا فزیکي تاوتریخوالي بنسټیزه سرچینه د هېواد په ګوټ ګوټ کې د واکمنو او ناوړه دودونو او رواجونو یعنې په کورنیو کې د اسلامي ارزښتونو سره په نه مطابقت د ښځو او نارینه وو تر منځه له ودونو او له هغو څخه د رامنځته شوو له ودونو او له هغو څخه د رامنځته شوو ناوړه پایلو او عاقبت نا اندیشانه پېښو څخه سرچینه اخلي چې له دې منځه په ماشومتوب او حتی تر زیږېدلو دمخه ودونو، په زور ودونو، په بدو کې ودونو. د پور او جوارۍ په مقابل کې د ودونو، د پیسو په مقابل کې د ودونو د ملا ماتوونکي ولور په مقابل کې ودونو، د مورو پلار او یانورو خپلوانو په خوښه ودونو، د میراث په خاطر له ودونو او داسې نورو څخه یادونه کېدای شي او ورسره جوخت اقتصادي بې وسي توب، بې سوادي، بیکاري، د مېړه او ښځې ترمنځه د عمر توپیر، په نشه ایزو توکو روږدیتوب، دمېړه په نزد د ملکیت په عنوان ګڼل، د خپلو شرعي او میثاقي حقونو څخه د ښځو آګاهي نه درلودل، دمېړه هر اړخیز قدرت اونفوذ، او اړوندو حقوقي مرجعګانو ته له شکایت اوحق غوښتنې ډډه کولو او د داسې نورو مواردو دوه پریکوني نقش لري چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول پورتني ودونه او ياد شوي موارد ځانته جلا جلا څېړنيز او هر اړخيز بحث غواړي.

زموږ اصلي خبره پر ښځو د تاوتريخوالي او بيا فزيکي تاوتريخوالي ده چې دا هم ډولونه لري، باندې ولاړه ده نو کله چې کورنۍ تاوتريخوالي ښځو په ډول ډول شيوو ويلو ، تر خپلو اغيزو لاندې راولي، د مېړه او کورنۍ د غړيو د ناوړو چلندونو ، بد او شيني، وهلو ټکولو ، سپکو سپورو ويلو ، يې ارزښتي او په خلص مفهوم د عنودانه بدر رفتار يو سره او هغه هم په دوامداره او تکراربدونکي ډول تر اغېزمنو لاندې راشي، نو طبيعي ده چې له تاوتريخوالي رامنځته شوو بدو چلندونو ، د کچې په اندول په رواني ناروغيو اخته کېږي، چې دا ټولې د نه جبرانيدونکي اغېزو او پايلو په توګه د مزمني افسردګي، سخت اضطراب، شخصيتي ناخواليو ، رواني ګډوډيو په تصميم نيونه کې د ښځو فلج کېدنې، عاطفي او رواني تعادل له لاسه ورکول، ګوښه توب خوښونه، د ځان او ژوند په وړاندې بې توپيري، د کورني په چارو کې نه ګډون او بالاخره د ليونتوب په ورته حالت تمام شي او د جسمي ناروغي له بابته په بې خوبي، سرخوږي، د ملا او شمزيو په درد ، بي تحرکي، رواني، ناکراري اخته شي، نو ددې لپاره چې له دغو رواني ستونزو د او هميشني تاوتريخوالي له مظاهرو څخه يې ځان ژغورلي وي، له چارې او د خپلو ستونزو د حل د لیارې د نه موندنې په صورت کې د کورنۍ د غړيو ، د ټولنې او اړوندو حقوقي او قضايي مرجع ګانو د نه ملاتړ په وجه ډېرو خطرناکو لارو چارو ته اقدام کوي يعنې په دې مفهوم او تعبير چې ځان وژني او دهغې ډولونو لکه ځان ته اور اچونې د ځان زندي کولو ، ځان سيند ته غورځولو ، د زهري توکو خوړلو ، ځان له بامه غورځونې او د اسې نورو ډېرو خطرناکو کړنو ته لاس اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعیتونو ښودلې ده چې په دې رواني ناروغیو او رواني ستونزو اخته ښځو دوا درمل یوه پېچلې موضوع ده او حتی ناشونې کار دي او دا ځکه چې د هري ناروغې درملنه هغه مهال کېدای شي چې طبیبان د هغې په هغه رېښې او انګیزې په پوهېدنې لاسرسي پیدا کړي چې د غه ناروغي ترې رامنځته شوي ده، او بیا چې د هغې درملنه وکړي نو لکه چې یوه ونه او یا بوټې د رېښې په کیندلو او غوڅولو وچېږي او له منځه ځي په دې ډول رواني ناروغي او رواني ستونزې هم له هغو نه د را پیدا شوو لاملونو په وجه له منځه ځي او بې له شکه د یو ناشونې کار دي ځکه چې د کورني او ټولنې د اصلاح کولو موضوع، په تېره بیا په ټولنه کې د ښځو په نسبت ناوړه واکمن رواجونه او عنعنې چې په یوه کلیه کې د ناوړو ډولونو کې پېژندل کېدای شي بیخې ناشونې موضوع ده، او لکه چې ټولنیزو حالتونو ښودلې ده په هیڅ ډول او لارو چارو له منځه وړل کېدای نه شي.

خو دا چې په نړۍ کې هیڅ کار ناشونې ګڼل کېدای نه شي، نو په مذهبي او عقیدوي طریقه په دې برخه کې د دیني عالمانو او روشنفکرانو، د ټولنیز رسوخ او قدرت له بابته د کلیو د مشرانو، روحانیونو، په دولتي کچه د اداري، قضایي، محاکماتي قوي (البته د قانون د تطبیق له لارې (د نهادونو د تبلیغ او ترویج (د بشري حقونو او کنوانسیونونو د مندرجاتو په باب د آګاهي ورکولو) له لیارې او بالاخره د ښځو د شرعي، قانوني او میثاقي حقونو څخه په خپله د نجونو او ښځو او د مور و پلار د پوره آګاهي حاصلولو او د ښځو د حقونو او ژوند په اړوند د هغوئ د ملاتړ او خواخوږۍ له لیارې د افغاني ټولنې رواني ستونزې له منځه تلای شي او بس.(۱)

(۱) اصلاح ورځپاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور په کليو کې :

مور په کليو کې لکه د ښاري ميندو غوندې له لازمو مدني حقونو څخه برخمنه نه ده، دا ځکه کومې اسانتياوې چې د ژوندانه په ډګرونو کې ترې بايد ګټه واخلي دوی پرې لاسرسي نه لري.

په لومړي سر کې کليوالې مور په عمومي ډول د علم له زده کړې څخه چې په نارينه او ښځې يو شان فرض ده محرومه او بې سواده پاتې کېږي او که په سيمه کې د ښځينه ښوونځيو د شتون په صورت کې تر دوولسم ټولګي زده کړه پای ته رسولې وي بيا هم له کور او کلي بهر په دولتي او غير دولتي ارګانونو کې د چارو سرته رسول لا څه چې په خپل کلي کې په ښځينه ښوونځي کې د ناوړو دودونو د واکمنۍ له مخې د ښوونکو په توګه هم دنده اجرا کولای نشي، او د دوئ د کورنۍ په نزد ورته عار ښکاري، نو اجازه ورته نه ورکوي، تر څو چې د وخت په تېريدلو سره دا هم د بې سوادو ميندو غوندې حالت نيسي.

مور په کليو کې له روغتيايي حقونو څخه هم پوره بې برخې ده او دا ځکه چې له ښارونو څخه په ليرې پرتو کليو کې روغتيايي مرکزونه شتون نه لري او که فرض کوم يو هم تاسيس شوي وي نو لکه د ښاري روغتيايي مرکزونو په شان څه د ماهرو مسلکي طبي پرسونل له پلوه او څه د طبي سامان الاتو د نه درلودلو په وجه، د لازمو روغتيايي خدمتونو د سرته رسولو جوګه کېدای نه شي نو خامخا دا چې په کليو کې د ناسالم چاپيريال او روغتيايي چارو ته په نه پاملرنې سره کليوالې مور د ډول ډول ناروغيو د ګواښونو سره مخامخ کېږي، او هغه مهال ښاري روغتون ته وړل کېږي چې ور څېرمه ناروغي يې حاد او وخيمې درجې ته رسېدلې وي او زياتره ددې پر ځای چې ببرته خپله روغتيا ومومي د مړينې سره مخامخ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کليوالي مور لپاره څه د اميدوارۍ په پړاو کې او څه د زېږېدلو په حساسو شېبو کې او څه د ماشوم تر زېږونې وروسته يې بيخې زياتې ستونزې په وړاندې پرتې وي، او دا ځکه چې د اميدوارۍ په پړاو کې کوم روغتيايي تدبيرونه او طبي سپارښتنې چې له يوې خوا د دې د سالم روغيتايي حالت په اړه وي او له بلې خوا د ماشوم په تړاو وي د مور او ماشوم د ملاتړ د مرکزونو د نشتوالي په وجه، دا د ناوړو پېښو سره مخامخ کېږي چې په طبيعي ډول د زېږونې په پېښه کې، مور خپل ژوند له لاسه ورکوي او يا يې نوي زېږېدلی ماشوم تلف کېږي.

بله موضوع چې د پوره پاملرنې وړ ده هغه دا ده چې د طبي لارښوونو په نه لاسرسي سره يې زېږونې پرله پسې او بې وقفې وي، نو په دې شرايطو کې کليواله مور له سالمې روغتيا څخه بې برخې او ماشوم يې د ډاډمنې روغتيا درلودونکې نه وي. د دې تر څنګه ماشومان يې د وقايوي واکسينونو د نه تطبيقېدو له کبله حتی د يو عيبجن انسان غوندې رامنځته کېږي چې د کورنۍ لپاره دا هم يوه پوره ځورونکې موضوع ګڼل کېږي.

په کليو کې د مور لپاره د ماشوم روزنه او پالنه هم له پوره سرخوږي څخه ډکه ده يعنې کله چې ماشوم ناروغه وي نو طبيعي ده چې ډېر ژاړي او ناآرامي کوي مور يې د کارولو لپاره بايد ټوله شپه دده زانګو وزنګوي او يا يې په غېږ کې په للو للو ويلو او خوځولو ارام کړي، او حتی ټوله شپه کې څه هم تحمل يې ونه لرلای شي شوګېره تېره کړي.

تر هغې چې د ماشوم توب دوره يې تيرېږي مور بايد دغه ټولې ستونزې وګالي، کليواله مور د ښاري ميندو برعکس مجبوره ده چې کليوالي فزيکي چارې ترسره کړي يعنې که د بزګرې وي د کورنۍ د کار وړ غړو سره په کرکيله او د حاصل اخېستلو په مهال، په لو لور، راچلولو، غوبل، ټکولو، درمند پاکولو او کور ته د وړلو په ټولو چارو کې ګډون وکړي، ښکاره ده چې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارو په خوا کې مور نوري کورنۍ چارې لکه پخلی، پرېمینځل، د کورپاکوالی او داسې نور هم ترسره کوي، په کلیو کې که څه هم میندې امیدواره وي دنارینه او یا ښځینه مشرانو له خوا تر روانې، لفظي او فزیکي تاوتریخوالي لاندې هم نیول کېږي.

بله موضوع چې د پوره غور وړ ده د کلیو په زیاترو کورنیو کې د مور حقونو او درانه مقام ته پاملرنه نه کېږي، هلته د مور د ورځې به مفهوم څوک نه پوهېږي. لنډه دا چې د پورتنیو واقعیتونو له مخې به د یوې کلیوالي مور تولنیزه څېره تر یوه حده انځور شوې وي او هغه څه چې په کل کې د پوره اند ښننې او غور وړ ګڼل کېږي له طبیعي، اسلامي، قانوني، مدني او نورو اړونده حقونه څخه د کلیوالې مور بشپړ بې برخې توب دي، نو ویل کېدای شي چې دا ډول یوه کلیواله مور یو محروم، مظلوم او محکوم انسان بلل کېدای شي.

دا خبره هم د یادونې وړ ده چې له کلیو څخه پرته په غرونو او بانډو کې د مور تولنیز وضعیت هم د پوره اندیښنې وړ دي داځکه چې هلته د ژوندانه په هیڅ ډول لازمو امکاناتو لاسرسي نشته دي.

دا هم یو ثرګند واقعیت دي چې دولت د خپلو اقتصادي کمزورو محدودیتونو له مخې لکه چې لازم دي حتی په ښارونو کې د ځینو میندو له حقونو څخه ملاتړ کولای او تامینولای نه شي.

نو د پوره ویاړ او شاباسي خبره ده چې یو شمېر میندې چې په دغسې ډېرو ناوړو شرایطو کې خپل اولادونه د وطن، خلکو، سولې، ترقي او د عمومي سرکالي سره د مینې په روحیه روزي او د یو نافع او صالح غړي په توګه یې تولنې ته وړاندې کوي، ددې مور له فداکاري، اتلولۍ او وتلي توب څخه استازي توب کوي چې زیاتې ببلګې یې وړاندې کیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په عقیده که د ښځو چارو وزارت، دمور د ورځې په ویاړ د ممتازو میندو په ډله کې له کلیو ځخه هم یو شمېر میندې انتخاب او د هغوی د وتلې توب نمانځنه او درناوی وکړي دا به په خپل ذات کې پوره نوښت وي.(۱)

(۱) ارشادالنسوان جریده.

## د ماندینې نقش د مېړه د شخصیت په تکوین کې :

د تاریخي واقعیتونو په شهادت که چېرته یوه مېرمن د یو واقعي انسان په توګه د ټولو ښځینه غوره اخلاقو، عاطفانه او لطیفانه ممېزاتو او چلندونو ځخه برخمنه وي د خپلې کورنۍ او بالخاصه د خپل مېړه په وړاندې د خپلو ور ځېرمه مکلفیتونو ترسره کول خپله فریضه وبولي او لکه چې ښايي هغه په ډېره مخلصانه او صادقانه توګه ادا کړي، نو بې له شکه نوموړې ښځه د خپل مېړه د انساني لوړ شخصیت په غوره وده او مطلوب تکامل کې د یادونې وړ ونډه اخېستلای شي، چې په بشري تاریخ کې د داسې وتلیو ښځو زیات شمېر بېلګې وړاندې کیدای شي.

لیرې به نه ځو زموږ په اسلامي تاریخ کې که څه هم حضرت محمد ص له وړوکتوب ځخه د غوره نبوي صفتونو او وتلیو اخلاقو لرونکی انسان او لوی خدای یې د مینې ځخه نړۍ پیدا کړې، او په حقیقت کې د دده د شخصیت په لا تکامل او تبارز کې د هیڅ مرستې ته اړتیا نه لیدل کېدله، خو بیا هم تر یوه حده کله چې یې د حضرت خدیجه الکبری سره د لوی خدای ( ج ) د حکم له مخې واده وکړ، نو د هغې مبارکې بي بي په معنوي او حتی اقتصادي مرسته یې د اسلام د مبارک دین د تبلیغ او ترویج په چارو کې زیاتې برباوې ترلاسه کړې او حتی د نبوت د وحې د نزول په حساسو شېبو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې آنحضرت محمد صلی الله علیه وسلم سختو هیجانونو تر خپلې اغېزې لاندې راوستي و، همدا بي بي يې ملګرې او مددګاره وه.

په همدې ترتیب که د غیر اسلامي نړۍ د ښځو تاریخ ته ور وګرځو، نو جان کینېډي د امریکا د فقید جمهور رییس له خاطراتو څخه یوه مهمه خاطره داوه، چې ویلي یې دي:

«که چېرته ژاکلېن دده مېرمن او دده پر شخصیت اغېزمنه نه وای نو دې په هیڅ کله د امریکا د جمهور رییس دغه لوړ مقام ته رسېدلای نه وای».

دا چې د ژاکلېن شخصیت دده تر مړینې وروسته څنګه پر ځمکه را ولوېده دا بله موضوع ده.

ما د یوې لیکوالې مېرمنې له خولې اورېدلې ؤ چې ما ته یې وویل:

زه مې مور او پلار یو چاته کوژده کړم چې په علمي سویه کې زما څخه ښکته و، په دې مفهوم چې زه لیسانسه او هغه بلکوریا پاس و. دا چې زما شخصیت پر هغه نفوذ درلود، نو تر واده وروسته یې را سره ومنله چې زما په خوښه به دی هم لوړ تحصیلات سرته رسوې دا وه چې دری کاله وروسته یې د کابل پوهنتون په یو پوهنځي کې تر لوړو زده کړو وروسته لیسانس واخیست او په تحصیلي کچه کې زما سره همسیال شو.

که دې میرمنې خپل مېړه د خپل نفوذ په وجه د لوړ زده کړو سرته رسولو ته نه واي اړ ایستلای نو هغه به په هیڅ صورت لوړو زده کړو ته ملا تړلی نه وای.

او که چیرته ځینو عادي او کورنیو موضوع ګانو ته مراجعه وشي نو په کورنیو کې په تېره بیا په پخلي او په نورو چارو کې، د ښځې ښه سلیقه، مهارت او چلند د نورو په نسبت ددې د مېړه په شخصیت سمه اغېزه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې وايي: يوه ورځ د مېړه او ښځې تر منځ مشاجره شوه او ماندينې يې ادعا وکړه، چې زه د نورو په نسبت ستا د شخصيت په مقام اغېزمنه يم، کنه په ډېره لږه خبره دې، زه د نورو په نسبت شخصيت پوره راتېټولای شم، خو مېړه د خپلې ماندينې دغه ادعا نه منله، او هغې ورته وويل: چې زه به يې عملاً دروښيم.

وايي يوه ورځ يې مېړه په حجره «دېره» کې د مېلمنو سره ناست و، مېرمن يې خپل يو ماشوم ورولېږه او ورته يې وويل: چې د خلکو په مخکې به دې پلار ته وايي: چې کور ته رانئوزي او اوږه واغږي (يا بل داسې ښځينه کار وکړي) ماشوم په حجره کې د ټولو په مخکې خپل پلار ته د مور خبره وکړه، او په سړي په دې شېبه کې له ډېر شرمه سړې خولې را ماتې شوې او په قار کور ته ننووت، ښځې ورته وويل: اوس خو دې وليدل، د نورو په نزد د درندولو او يا کم راوستلو کيلي زما په لاس کې ده.

داسې زياتې پېښې د بېلګې په توګه وړاندې کېداى شي چې يوه بله وړه بېلګه يې داده: که ښځه دننه په کور کې له غوره سليقې او نظافت څخه کار وانخلي او په خوراکي لوښو کې چې د مېلمه په مخکې اېښودل کېږي وينښته، مچ او يا يې د ديګ د تورو شوو ګوتو نښانه وليدل شي نو په دې شېبه کې د سړي ټولنيز شخصيت تر کومه حده تر جدي پوښتنې لاندې راتلاى شي؟

لنډه دا چې د مېړه د شخصيت په تکوين کې د هغه د ماندينې نقش هغه موضوع ده چې په زياتو مواردو کې يې اهميت جوتېداى شي.(۱)

(۱) ارشادالنسوان جريده، ۸۸ ګڼه، د ۱۳۹۲ کال د جوزا مياشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښځو د نړیوالې ورځې د را رسېدو په ویاړ :

مور د مینې او ګرانښت په زړه پورې پدیده ده په نړۍ کې د بل هېڅ موجود نوم دومره خوږ او په زړه پورې نه دی لکه چې د مور مفهوم خوږ او په زړه پورې دی او دا ځکه چې د مور په نوم کې عاطفه مینه او محبت پروت دی او مور د یوې ډېرې خوږې مینې خورا ویانده ننښه ده.

هو کی انسان د خپل پیدا ینښت له هماغې لومړنۍ شېبې څخه چې له چا سره پېژند نه پیدا کوي هغه مور ده د مور د سپېڅلې نوم خوږوالي او له انسان سره د عاطفي نه شلېدونکې پیوند له دې موضوع څخه ډېر ښه جوتیدای شي چې کله انسان په کوم مصیبت اخته کېږي او یا ورته درد رسېږي نو یې بې اختیاره مور ته د خطاب کلمې په خوله کې پریوزي او دا ددې مانا هم ورکوي چې په رښتیا سره مور تر هر چا زیاته د خپل اولاد غمخواره او خواخوږې ده.

دا د بشري منطق حکم دی چې که مور نه وای نو بشري نسل به هم په جهان کې نه وای، که مور نه وای د لوی خدای د ارشاداتو له مخې به انسان هم د ځمکې د خلافت وارثت او وړتیا نه وای پیدا کړې. د مور مقام په دې د پوره درناوی او ستایلو وړ دی چې ښځه نه یوازې د هر انسان مور ده بلکې د پیغمبرانو، نوابغوو، متبحرینو، فیلسوفانو، اتلانو او د ډېرو لوړو تاریخي او فرهنګي او پوځي شخصیتونو مور هم ده، هو کې د مور په پسته او توده غیږ کې هغه انسانان هم روزل شوي دي چې په اسماني کایناتو کې د لوی خدای د محیرالعقولو خلقتونه اسرارو نه لټوي، رښتیا چې مور که په یوه لاس زانګو زنګوي نو بیا په دا بل لاس جهان خوځوي او زموږ تاریخ د دا ډول خوزونو او خوزېدنو بې شمېره او بې ساري بېلګې لري او د بېخې زیاتو نومیالیو او وتلیو شخصیتونو نومونه په کې ثبت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې ځایه ده چې لوی خدای (ج) مور د یوې طبیعي بې ساري او ارزښتمنې عطیې په توګه پر انسان لورولې ده.

هوکې ! په قران مجید کې د مور د درناوي او قدردانۍ او زړه ساتلو په باب پوره تاکیدی لارښوونه شوې ده چې فرمایي:

« د مور زړه به ساتي هغه به نه خپه کوي او د رضا مندي به یې کلک خیال ساتي، ددې په مقابل کې دنورو نامناسبو او قهرجنو لفظونو استعمالول خو لا څه چې اوف قدری به هم ورته نه کوي».

لنډه دا چې که په دنیا کې څوک غواړي چې قدر او منزلت ته ورسېږي او یا اخروي فلاح او صلاح یې په برخه شي نو دا نعمتونه او جنتونه د مور تر پښو لاندې دي.(۱)

(۱) هېواد ورځپاڼه، ۲۸۲ ګڼه، ۱۵/ کب/ ۱۳۸۴.

## خشونت که وحشت :

یوه شپه چې پا غونډي پاغونډي واوره ورېدله او چاپېریال یو ډاروونکي ماحول ګرځېدلي وو، یوازې د سړښت په وجه د سپو غپا او دولۍ اورېدل کېدلي د یوې بېوزلي میرمنې کور ته نژدې یوه زړه بوږونکي فاجعه د پېښېدو په حال کې وه، هوکې د بختوري ترور کور ته نږدې د ماشومانو ژړا او فریادو دا خوب ته نه پرېښودله او لږه شېبه وروسته ورسره ددې د ماشوم ژړا هم ورغبرګه شوه، خو ژر یې خپل ماشوم ته تي ورکړه، په زانګو کې واچوو او تر څو ټالیو ورکولو وروسته یې ماشوم ویده شو، خو د ګاونډي د ماشوم ژړا همداسې روانه وه، کله به غلې او کله به یې زیاته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور يې زړه طاقت ونه کړ تيلي څراغ يې ولګاوه، ځان يې زړه کمپله کې راتاوه او خپل سوري بوټان يې پښنو کړل او له کوټې راووتله...

خو د ګاونډې په کور کې د ماشوم ژړا په کښېنا ستلې آواز اوريدل کېدله، داوه چې د هغوی د احوال د اخېستلو لپاره د خپل کور دروازه يې ببرته کړه او کوڅې ته ووتله، دهغوی د کور ور بيرته و ... کېسه داسې وه، د بختوري ګاونډی ښځې د اميدواري وروستي شپې وي يوه ورځ يې دمخه د زيږولو له درده په ځانکنده کې تېره کړې وه، په داسې حال کې چې يې مېړه ته ژړل، زاري او ننواتي يې ورته کولې چې مرسته ورسره وکړي او ډېر ژر يې زيږنتون ته ورسوي تر څو چې يې ماشوم په زيږنتون کې پيدا شي، خو کاشکې چې مېړه يې صله رحمي درلودلې زړه سوي يې درلودلې او د مېړه توب او ښځې توب په حق پوهېدلی...

دده زړه نه يوازې له سختې ډېره وه بلکې غوږونه يې هم کاڼه وو، ددې زاري او ننواتې يې نه اورېدل چې له ډېره درده لکه مار تاوېږي او تا وېږي...

هغې درې اولاده درلودل چې مشر يې يوه اته نهه کلنه نجلۍ وه.

مېړه ته يې زاري کولې چې دخپلو دريو ماشومانو په خاطر يې روغتون ته يوسي خو مېړه يې لکه وچه ونه بې حرکته او بې تفاوته ولاړ و او داسې حال کې چې له قهره ډک يې مظلومې ښځې ته کتل همدا يې ورته ويل:

مړه شه مړه شه، په دې کې زما پت دې نه دا چې زيږنتون ته دې نامحرومو ډاکترانو ته بوځم، زه خو غيرت لرم، ننګ او ناموس لرم هيڅوک خپله ښځه ډاکترانو ته نه بيايي زه هيڅ دا کار کولای نشم.

او که مرې همدا اوس مړه شه نو اوس هغه شيبې را رسيدلی دي چې ښځه بې حرکته شوي او د دريدونه وه او ماشومانو نظر د پلار سترګو ته کتل چې د مور سره يې مرسته وکړي خو د هغه وحشي انسان زړه هم نه په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومانو نه سوځېده په دې وخت کې د يوې بوډۍ ښځې په مرسته يې نوی ماشوم پيدا شو او دده په زيربېدلو سره يې مظلومه مور له دنيا نه سترګې پټې کړې او د مېره د تاوتريخوالي له ټولو مظالمو څخه يې نجات وموند. او ماشوم يې مشرې لور ته پرېښوده په داسې حال کې چې د مور جسد يې د زاړه دوشک د پاسه پروت و ماشومانو يې کوکارې وهلې که يې پلار د عاطفې ډک زړه درلودلې نو ده به هم د هغوی سره سمې کوکارې وهلای خو هغه د يو بې احساسه مخلوق غوندې په عادي حالت کې ولاړ و دا وه چې ګاونډيانو د هغې مړې ښخ کړه او وروستي ښځه چې دده له کور ووتله هماغه بختوره ترور وه.

د سړي په کور کې د هغه اته کلنه لور دوه کوچنې زامن او يوه ورځنې زوی پاتې شو. ماشوم ټوله شپه ژړل او مشرې خور يې داسې چاره نه درلودله چې هغه پرې ارام شي بې رحمه سړي چې يې حوصله له لاسه ورکړې وه ماشومان يې مشرې لور ته پرېښودل او نژدې جومات ته لاړ او هلته ويده شو نجلې خپل ورور په زانګون اچولې او ټوله شپه يې خوزاوه خو دوه نور ماشومان چې دور خې ناکرارې يې تيره کړې وه ويده وو.

که څه هم نجلې د مور وظيفه اجرا کوله خو هغه څه چې مور يې کولای شو دا ترې عاجزه وه او يوازې يې د هغه پرله پسې ژړا سره د خپلو اوښکو تويول ملګرې کول نجلې به کله کله خوږ چای د هغه په خوله کې اچاوه ګوندې څه چاره يې وشي په دوهمه ورځ بختوره ترور د هغوی کره ورغلله، خو سړی په کور کې نه و دا وه چې ماشوم يې په چادرې راونغښت او د نجلې او د هغې د دوو کوچنيو وروڼو سره يې خپل کور ته راوستل.

او کله چې يتيم ماشوم ته خپل تي ورکړ، هغه تي واخيست او د تږې غوندې يې ورروده. په دې وخت کې بې رحمه سړي چې ماشومان يې په کور کې نه وو د بختورې ترور دروازه يې په لغته ووهل او په زيات قهر و غضب هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورننووت او په تنده لهجه یې ورته وویل: ته نه پوهېږې چې پرته زما له اجازې څخه ماشوم ته د شریعت له مخې شیده ورکولي نه شي، ته ګنهګاره یې که هر څو بختوري او د هغه مېړه کوښښ وکړه چې دا وحشي سړي ته قناعت ورکړي هغه په ډېر وحشت سره خپل ماشومان کور ته یوووړل.

څرنګه چې د ماشوم مشري خور هیڅ خوب او استراحت کړي نه و داوه چې سختې تبې ونیوله، ژړل یې او اسمان زړه هم سوځېده او ورسره سم یې ژړل، اوزیاتې خپل وروړ کرارولي نه شو.

دا هغه شپې وې چې پلار او ورونه یې ویده وو د ماشوم ژړا او ددې ژوند هم په دې شپبو کې پای ته رسیدلی وو.

وروړ یې په زنګونو کې پروت او دواړه په همشینې خوب ویده پراته وو.(۱)

(۱) واقعیت مجله، ۲۸ ګڼه، حمل و ثور، ۱۳۸۸ کال.

## د بنولی حساسیت :

دا یوه طبیعي او عاطفي موضوع ده چې هېڅ یوه ښځه بنه نه خوښوي، کینه او حسد ورسره لري که څه هم تر بن توب د مخه یې یا نژدې خپلوانه او یاد خورولي د اړیکو له مخې ورته تر خوره هم ګرانه او زړه ته نژدې وي.

ډېر داسې لیدل شوي چې ځینو ښځو د نارینه اولاد د نه راوړلو له کبله په دې خاطر چې مېړه بې میراث نه شي نو په خپله خوښه او انتخاب یې ورته دوهمه ښځه واده کړې ده نو د واده سره سم یې بیا هغه د مخکنې دوستۍ او خورولۍ مینه او ګرانښت په پخواني حال نه دي پاتې شوي او پر عوض یې د هغې په نسبت د کرکې کینې او رخې احساس په زړه کې ځای نیولی دی او ددې سره یې مېړه ډېره کمه پیرزوینه او لوریدینه یا تمایل ددې لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځېدلي چې شعور يې تر اورجني اغېزې لاندې راغلي او حتی په کورني چاپيريال کې يې د تاوتريخوالي شرايط رامنځته شوي دي او د کورنۍ هغه له صميمته، پيرزوينې او ګرانښته ډکه پخوانۍ فضا يې په جهنمي او ډېره ځورونکي فضا اړولې ده.

زموږ په فرهنګي اثارو، فلکوريکو کيسو او عنعنوي روايتونو او ورځينو، ټولنيزو بحثونو کې په دې تړاو زيات مثالونه کېسي او پېښې راوړل کېږي زه باور لرم چې زيات کسان به د ښځې د بنولۍ له دې حساسيته دومره آګاهي ونه لري چې ايا يوه مېرمن که څه هم د مېړه د لومړنۍ ميرمنې چې مړه شوي او هېڅ ډول پېژندنه او اړيکې يې ورسره نه درلودلې بيا هم ورسره د بنتوب حساسيت ښيي، د هغې له نامه، يادونې او يادګاري پدېدو څخه کرکه کوي ترې ځورېږي پر روحياتو يې فشار راوړي، متشنج کوي يې او حتی کله کله يې په ناوړو لفظونو يادوی...

زه په خيالي ډول او په ګومان سره دا ادعانه کوم بلکې په واقعې توګه راته جوته ده چې يوه مېرمنه د مېړه د مخکينې مړې ښځې په نسبت هم ځورونکي حساسيت لري يوه سړی چې مېرمن يې مړه شوې وه.

دوهم واده وکړه دا چې له دې موضوع څخه يې نقلي او کتابي هيڅ آګاهي نه درلوده چې يوه مېرمن په هر حالت د بنی په نسبت حساسيت ښيي او د هغې له هر څه يې بدې راځي نو يې د پخواني ميرمن عکس د هغې د ياد د درناوی په خاطر د ميز لپاسه ايښودلې و خو کله چې به يې وليدل عکس به چپه شوی و، او حتی داسې مهال هم راورسېد چې د هغې مرحومې عکس له ځايه لرې شوي او چېرته پټ ايښودل شوي دي چې سترګې يې پرې ونه لګېږي.

مېړه يې ډېر ناوخته د هغې په نسبت د خپلې نوې ميرمن په دې حساسيت وپوهېده، او بيا يې دا هڅه نه کوله د مرحومې ښځې عکس د کتلو وړ ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې کېږدي. ځکه دا يې درک کړې وه چې د مړي مېرمنې د عکس سره دا ډول چلند يوازې دده دوهمه ښځه کوي. نو د دا ډول نزاکتونو په پاملرنه سره يې د مړې ښځې په اړه له نوې ښځې سره په چال چلند کې له پوره احتياط کار اخېست، خو بيا يې هم ځينې وخت دا خبره هېريدله چې ميرمنه يې د پخوانۍ ښځې د هر څه سره حسياست لري د هغې ستاينه او پر ښه نوم يادونه خو دده لپاره د زغم وړ نه ده.

او بالاخره يې په دې نزاکت هم هغه مهال سرخلاص شو چې مېرمن يې بنزيو ته د قاربدو په وخت کې د هغو د مور په ادرس سپکې کلمې وکارولې خو مېړه ته يې د هغې دغه ناوړه چلند د تحمل وړ ښکاره نه شو ځکه چې هغه مرحومه خو لا د مخه مړه وه او اوس ددې د ماندنيې په ژوند کې هيڅ ګډون او اغېزه نه لري، دا خو ډېره له انصافه لرې خبره ده چې په ډېره کوچنۍ خبره ګويا هغه له ګوره راوايستل شي او په کورنۍ کې د کدورت فضا رامنځته کوي او د دوئ ګډو او صميمي اړيکو ته زيان ورسوي.

ميړه يې د ځان سره وايي هغه بيچارګۍ خو په خپل ژوندانه کې دده د ځوانۍ نازونه منلي، پاللي او زيات خدمتونه يې ورته کړي. د کورنۍ سرشتيې او ناخوالې يې ورته ګاللی دي، اولادونه يې ورته زيږولي او لوی کړي او روزلې يې دي او لا ډېره مهمه داد چې په هر ډول شرايطو کې يې د کورنۍ نوم او د پت خوندي ساتلی دي او ددې تر څنګه اوس چې مړه ده نو ددې ميرمنې ته يې څه زيان رسېږي.

که د احساساتي او سرسري موضوع څخه پرته، په منطقي او غريزوي شکل ددې مسلې ماهيت ته په ځېر شو سوچ په کې وکړو دا مهمه ده چې په دې اړه نه په کوم کتاب کې څه ليکل شوي او نه چا دا موضوع درک کړې ده، مګر واقعيت دا دې چې د يوې ښځې لپاره بڼ بيا هم بڼ ده، د هغې ژوندينه او مړينه ورته نسبي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې میرمنې لپاره په هیڅ شان د زغم وړ نه وي چې مېړه یې لا څه بل څوک ددې په مخکې ددې د مړې بنې ستاینه وکړي او یا یې د یاد او یادګاري شیونو درناوی وکړي.

که هغه مړه ده خو ددې د مېړه لپاره مړه ده ددې په نسبت خود حساسیت، رخې او کینې له پلوه مړه نه ده، که هغه مړه ده خو بیا هم په شکل د اشکالو د هغې په کورنۍ ژوند کې یې ګډون او اغیز لا پر ځای پاتې دي.

اولادونه، د کورني نور او د هغې په نسبت یې د مېړه ښې خاطرې او داسې نورې رېښې چې د هیرولو او ایسته غورځولو وړ نه دي موجودې دي.

ددې لیکنې څخه چې تقریباً نوی موضوع رامنځته کولو څخه زما مطلب دادی چې د مېړه او ښځې دواړو لپاره په دې پوهېدنه او ګټه اخیستنه ترې پوره اهمیت لري.

۱ـ مېړه ښایي پوه شي چې دده مرحومه میرمن دده په کورنۍ ژوند کې په غیر مستقیم ډول بیا هم شریکه، اغېزینه او یو څه نقش لري او د هغې په اړوند یادونه دده د نوي ښځې لپاره لپاره داسې مثال لري چې ګویا ژوندۍ ده، نو په کار دي چې د هغې په نسبت د خپلې میرمنې دغه حساسیت په ژوره توګه درک شي او ددې سره په ټولو چلندونو کې هغه په پام کې ونیسي، که څه هم هغه حتماً مړه ده خو ددې په حضور کې دی هغه په معنوي ژوندۍ وشمیري او د هیڅ ډول مواردو کې ترې هسې یادونه نه کوي چې ددې حساسیت را پاروي.

۲ـ میرمنې ته هم په کار دي ددې لپاره چې د کورنۍ صمیمي فضا یې تامینه کړې وي او د مېړه د مینې او ګرانښت او درناوي وړ ګرځېدلې وي نو دهغه خوشحالي لپاره دې که څه هم د مړې بنې په باب یادونه ورته د زغم وړ نه ده بیا دی هم دومره زیات حساسیت نه ښیي او دهغې د نوم او یادونو څخه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

درناوي وکړي او له دې يې مور ده او بې ګټې او له تعصب نه ډک حساسيت څخه دې ډډه وکړي.(۱)

(۱) ارشاد النسوان ۱۴ ګڼه، ۵ قوس، ۱۳۸۳ کال.

## د کوچيانو د ژوند يو کوچنی انځور :

کله چې د کوچيانو نوم اخيستل کېږي بې له شکه زموږ د سترګو په وړاندې چا چې د کوچيانو سرګردانه او لالهنده ژوند ليدلی وي نو دواړه دهغوی هميشني سفرونه او ږدي او بې منزله لار وهني، سترې کوونکي مزلونه، موقتي دمې، کېږدې وهني، زياتره حيواني غذا خوړني، رمې دښتې دامانونه او داسې نور لکه د فلمونو پردې يو د بل پسې مجسم کېږي، هغه چې موسمي مرغانو غوندې نه دميوه خورو مرغانو په څېر ( دا دواړه زما د دو شعرونو عنوانه دي چې زموږ د ټولنې د طبقاتي ژوند يو څه مشخصاتو په کې انعکاس موندلی دي).

له سړو او تودوښې څخه د يو څه مساعدو او خوندې سيمو په لټون او هلته د موقتي استوګنې لپاره کال و سر تګ راتګ او په لوڅو پښو سفرونه او له کړاونو ډک واټونه وهي.

هوکې، دکوچيانو د ژوندانه صحنې چې د بشريت د ژوندانه د لومړينو دورو سره دومره توپير نه لري، هميشه يې کډې په اوښانو او خرو بار او رمې يې په مخکې وي له يوې سيمې بلې سيمې ته کوچونه کوي.

کوچيان که څه هم د ټولنې يو مهم قشر دي بيا هم په خپل وطن کې بې وطنه ګرځي. نه ځانګړې ديره او نه خپله هديره لري، هماغه سيمې، کڅې، دښتونه او دامانونه او ورغالې د دوی استوګنې دي چې د خپلو سفرونو په ترڅ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ اسمان لاندې د دوئ د ژوندانه يو څه شرايط په کې موجود او د مه يې په کې جوړېداى شي کوچيان د خپلو استوګنو په سيمو کې نه د ځېناک صحې او به پېژني، نه د برېښنا د انرژې او په ګټه پوهېږي نه سوتره کالي، محکم او پاسته پايزارونه او نه داسې نورو شيانو سره اشنايي لري.

دوې هميشه د بارانونو د شپېو لاندې په لنډه بلو ځمکو، لمدو کيږديو لوګڼو خيمو کې اوسېږي او لامده کالي کاروي، هغه چې د ناروغيو لامل ګرځېدلاى شي او اوړې مهال پرې ځمکه د تنور غوندې توده ګرځي د دوى د خوړو په جمله کې نه له تازه ميوو او نه له وچو ميوو او نه د نور خوراکي موادو څخه ګټه اخېستلاى شي، پر د سترخوان يې يوازې لبنيات يعنې د دوى د څارويو محصولات لکه شنده، ماسته، شړومبي، چکه، قروت او پوڅه او داسې نور په ځانله ځانله وختونه کې پراته وي، خو ډېر کم له پيروي او کوچو څخه او ډېره کمه له غوړيو څخه ګټه اخېستلاى شي، او دا ځکه هغه خوراکي شيان چې په غوړيو کې پخېږي د دوى په واک کې نه دي.

غنمينه ډوډۍ او سوکړک يعنې جواري د څپياکو ( د څارويو فضله مواد ) او ډېر کم د سارا يي بوټو په واسطه پخوي او انګولی ( کتغ ) هم په دې توګه پخوي کوچياني ښځې خپل څاروي په غير صحي حالت کې لوشي، مستې يې شاړېي کوچ او شړومبي ترې اخلي، لوګجنو او بوى ناکو نغريو ته ناستې او نه د هغوې په پخلي کې د روغتيايي شرايط په پام کې نيولو امکانات موجود يداى شي د تشناب او بيت الخلا د شتون لپاره هيڅ ډول امکانات د دوې په واک کې نه وي کوچيان له دوا درملو او درملنې څخه ګټه اخېستلاى نه شي که څه هم د دوى استوګن په تېره بيا ښاري شتمن وطنوال د ژوند په ډېرو پر مختللو سوکاله او عصري شرايطو کې ژوند کوي د دوى ناروغان په طبيعي توګه رغېږي او يا دا چې بې وخته مري او دا ځکه چې دوى کلنيکي درملنې او يا داخلي بستر د معالجوي امکاناتو څخه بېخې محروم، ډاکټر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

درمل او درملنه د دوی په ژوند کې بیخې ځای نه لري، د دوی ماشومان لکه بیدیاني ګلونه بې روزنیزې سالمې پالنې رالوییږي او له منځه ځي یعنې د زده کړې، روغتیا او نه روزنې له حقه محروم او یوازې د اسلام بناوې لکه کلمه او د لمانځه قرایتونه د خپلو مشرانو څخه په ناسم ډول زده کوي دوی حتی نه ملا پېژني، نه جومات نه ښوونځي او ښوونکې او قلم او کتاب او داسې نور...

د ډېر افسوس او خواشینې خبره ده چې دوی دمور او ماشوم د حمایې له ملي او نړیوالو حقونو، او قوانینو بیخې برخمن شوې نه دي میندې د امیدواري په موده کې اوږده سفرونه کوې او دهغې د ماشوم په درلودلو سره سره درانده بارونه جګوي او هغه چارې ترسره کوي چې دمور د پاره په دې موده کې پوره زیانمنې تمامیږي.

د ماشوم د زیږولو پروسه دمور لپاره چې نوی ماشوم زیږوي یو ډېره دردونکې او رنځورونکې پېښه ده او څرګنده ده چې په دې پېښه کې زیان کوي زیږیدلي ماشوم تلف کیږي او یا هم مور خپل ژوند له لاسه ورکوي که په لنډ ډول وویل شي کوچیان د افغانستان د تبعه وو په حیث له ټولو بشري حقونو څخه چې د اسلام مقدس دین او دولتي قوانینو کې تثبیت او یا په نړیوالو کچه د بشر د حقوقو په اعلامیه کې راغلي محروم دي.(۱)

(۱) ایلبند مجله، ۴ ګڼه، حمل – جوزا ، ۱۳۸۸ کال.

## پر ښځو د تاوتریخوالي د کرکجنې پدیدې له منځه وړل یو مهم ضرورت دی:

ټولنیزو واقعیتون ښودلې ده چې زموږ په وروسته پاتې ټولنه کې پر ښځو باندې تاوتریخوالي کومه نوې پېښه نه ده او له ډېر پخوا نه په شکل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکلونو زموږ د خلکو په کورني ژوند او حتی په ټولنیز ژوند کې دغه ډول تاوتریخوالي نه یوازې د کورنیو دغړیو ترمنځ د پیوندونو د شلولو لامل ګرځیدلی او په کورنۍ کې یې له مینې او محبت څخه ډکه فضا د جلا والي، کرکې او دښمنۍ په دوړو خړه کړې ده بلکې د یو تباه کوونکي لامل په توګه یې د ټولنې په منځ کې د خپلولیو او دوستیو اړیکې هم له منځه وړي دي او بې له شکه په دې بربادوونکو پېښو او تراژیدیو کې قرباني ښځې ورکوي.

یا د ښځو د حقونو په وړاندې زور زیاتې او تاوتریخوالي په کورنیو او ټولنو کې په خپل سر را پیدا شوي او ناڅاپي پېښې نه دي بلکې د ښځو په وړاندې تجربو او د تاوتریخوالي په اړه په څېړنیزو سندونو او اثارو کې یو شمېر لاملونه او سرچینې په ګوته شوي دي چې د ښځو په وړاندې یې او دهغوی دحقونو په مقابل کې د زور زیاتې دعملي کېدلو زمینې برابرې کړې دي چې په لاندې توګه یې په کوټلی شکل یو څو بیلګو ته اشاره کېږي:

پر ښځو باندې د تاوتریخوالي او له هغوی سره د زور زیاتې د رامنځته کېدو ډېر مهم لاملونه دادي:

- په ټولنه کې د ناوړو عنعنو او دودونو واکمني او د دودیزو اصولو او قاعدو په توګه له هغوی څخه پریکونی متابعت.
- د نجونو د ودیدو له قانوني عمر نه دمخه د هغوئ کوژدی.
- په زور او جبر، د نجونو له رضا او رغبت نه پرته دهغوی اجباري کوژدی او ودونه.
- په بدو کې د نجونو ورکول او ودول.
- د یوې متاع او قیمتي شي په توګه د زیاتو پېسو د ترلاسه کولو په خاطر شتمنو بوډاګانو او غیبجنو ته د کوچنیو نجونو ودونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د نجونو پر سر د زیات ولور اخیستل او په ودونو کې یې د زوم پر کورنۍ باندې د واده د ګاڼو ، سامانونو او زیات لګښت تحمیلول.
- د عمر له زیات توپیر سره سره د کوچنیو نجونو ودونه.
- د پور د تادیه کولو په خاطر د نجونو ودول.
- د میراث په خاطر ودونه
- د ځینو عاطفي اړیکو پر بنسټ تر زیږېدو دمخه کوژدې.
- د خسرګنۍ په خوښه او رضا ، د دوی د کورنۍ غړیو ته په زور د کونډې په نکاح کول.
- په بدو کې د نجونو ورکول او نور. هیڅوک له دې واقعیت څخه انکار کولای نه شي چې د دې ناوړو عنعنو د واکمنۍ په نتیجه کې یو زیات شمېر نجونو او ښځو په ډول ډول شکلونو لکه ځانته په زندۍ اچونې، سیند ته د ځان غورځولو ، د زهرو پر خوړلو ، ځان ته اور اچولو ، له کوره تښتېدلو او داسې نورو لارو چارو ته پناه وړې او کورنې یې له غمیزو ، پیغورونو او رنځونو سره مخامخ کړې دي. باید یادونه وشي په پورتنیو لاملونو بحث کول او پر دې مطالعه او څېړنه غواړي چې د مقالې د لنډیزب په خاطر ترې صرف نظر کېږي.
- د تاوتریخوالي بل ډېر مهم او اغېزمن لامل بې له شکه د نارینه او ښځې له خپلو شرعي، قانوني او مدني حقوقو څخه هر اړخیز بې خبرې ده په تېره بیا له خپلو حقونو څخه د ښځو د خبرتیا نه درلودل د دې سبب کېږي چې دوئ له خپل حق څخه؛ لکه چې ښایي دفاع کولای نه شي.
- د سواد او علم له نعمته د ښځو بې برخې توب بل مهم لامل دي چې ښځې له تاوتریخوالي او د کورنۍ د بدبختیو له غمیزو سره مخامخ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ښځو د اقتصادي خپلواکي نه درلودل هم د دوی په مقابل کې د زور زياتې او تاوتريخوالي د عملي کولو په باب پر کورنيو ناوړې اغېزې اچوي.
- د کورنيو اقتصادي کمزورتيا هم ددې ناوړې او ناوليې پدېدې د رامنځته کېدو يو ستر عامل ګڼل کېږي.
- دنارينه له خوا د هغه له مقام او دريځ څخه بشپړه او يا نسبي بې خبرې ده چې اسلامي، قوانينو او مدني ميثاقونو ورکړي دي. له دې جملې نه زموږ په دوديزه ټولنه کې د ښځينه اولاد يعنې لور په پرتله نارينه اولاد يعنې زوی ته امتياز او برتری ورکړ شوی ده او د زامنو په هر اړخيزه پالنه، روزنه او ښوونه او دکورنۍ او ژوندانه د نورو حقونو په تامينولو کې ورته تر لور زياته پيرزوينه او پاملرنه راګرځول کېږي چې دا ټول له اسلامي حکمونو او نبوي لارښوونو سره مطابقت نه لري. وړانديز مو دادی چې پر ښځو باندې بايد د تاوتريخوالي له مصيبته او د هغو د لاملونو له اغيزو څخه د ځان ژغورنې په خاطر او له خپلو حقونو څخه دګټې اخېستنې په باب له افراطی، تقليدي نامشروعو او داسې نورو ناوړو چلندونو او تاوتريخوالي څخه کار وانه خېستل شي افغاني اړوندی اداري او اړوند نړيوال سازمانونه دي د افغاني ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی د له منځه وړلو لپاره پر کوټلو، اړينو او بيړنيو اقداماتو لاس پوري کړي.(۱)

(۱) هېواد ورځپاڼه، ۲۵۸ګڼه، ۱۲/ ۱۱/ ۱۳۸۵ کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورد ستایل کېدو او نمانځل کېدو وړ انسان :

هر انسان کله چې د خپل ژوند دوهم جهان ته سترګې وغړوي لومړی څوک چې يې د پېژندنې وړګرځي هغه يوازې دده مور او يا هغه څوک ده چې د مور ولې مسؤوليت يې په غاړه اخلي، شيده ورکوي او روزنيزه پالنه يې کوي.

دلته د مور طبيعي مقام په دې ډېر لوړ، د پالنې ستاينې او نمانځنې وړ ګڼل کېږي چې دده تر زېږېدنې دمخه يې تقريباً د نهو مياشتو په اوږده موده کې ددې نازېږېدلی ماشوم په تړاو ټول طبي سپارښتنې او حقونه په پوره زړه سوی او عاطفی مينه رعايت کړي دي او بيا تر زېږېدلو وروسته يې دده په سالمه وده، روزنه او پالنه کې نه ستړي کېدونکی هلې ځلې کړي او حتی تر وسي پورته ربړونه يې ګاللی دي، د بېلګې په توګه په شپو شپو ماشوم ته د شېدو ورکولو، ارامولو او د دردونو د ګډېدلو په خاطر څورونکي شوګيرونه پر ځان مني او په شپو يې ورته زانګو زنګولی ده په خبرو راوستاو او تګ په ور زده کونو کې يې فعالانه برخه اخېستلې ده او حتی په هغه دوره کې دغه ماشوم د خپل عمر د ودې لوړو او وروستيو پړاوونو ته هم رسيدلی همدا مور يې همکاره په درد، دردمنده او واقعي غمخوراه پاتې شوي ده د يو اولاد په متعلق پورتني او نورې فدا کارۍ او له وسي بهر زيار ګاللې دي چې لوی خدای ورته ملکوتي مقام او ناپايه حقونه ورکړي دي.

چې څرګنده بېلګه يې د لوی خدای په دې مبارک ايتونو کې پوره جوته ده چې فرمايي: د مور او پلار په مقابل د اوف قدري هم مه کوي هېڅکله پرې قاربېږي مه او په مهربانه قولونو يې يادوی او خطاب ورته کوي. بې له شکه خدای په دې تناسب بل هيچا ته دومره لوړ مقام او سپېڅلې تاکيدې حقونه نه دي ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا خو ځکه چې مور نه يوازې د نړۍ د سترو او له سترو شخصيتونو لکه پيغمبرانو اولياوو، پوهانو، نوابغو، مبتکرينو يا په خلص مفهوم د ژوندانه په هر ډګر کې د وتليو تاريخي شهکارونه او اتلانو زيږونکي، روزونکي او شخصيت ورکوونکي ده. بلکې ځای لري چې وويل شي مور په يو لاس زانګو زنګوي او بل جهان يا په مفهوم مور هغه د درناوی او ستايلو وړ انسان دي چې د نړۍ او د بشر د ټولنيز ژوند د برخه ليکونو په ټاکلو کې اغيزمنه او فعاله برخه اخلي.

په يوه حديث شريف کې فرمايلي شوي دي «جنت د مور تر پښو لاندې دی» طبعاً د دې حديث محتوا په زياتو اړخونو کې تر څېړنې لاندې د غور وړ ده، که يې مفهوم ته يو څه صراحت ورکړ شي، نو دا چې يو مسلمان هغه د جنت مقام مستحق ګرځېدلي شي چې پر خپلو افعالو، کردارو، ويناوو او پندارکي لوی خدای رضايت حاصل کړي او چې وايي لوی خدای هغه مهال له خپل بنده څخه راضي کېږي چې مور او پلار ترې راضي وي.

د مور د حقونو د رعايت په اړه که وويل شي د مور حقونه له پيدا ايښته تر مړينې د احترام او رعايت وړ دی خو په خواشينی سره ويل کېدای شي چې ځينې اولادونه د مور په اړه پورته لارښوونې او سپارښتنې تر پښو لاندې کوي او کله چې کورني جوړوي نو د خپلې کورنې د غړيو يعنې ماندينې او اولادونو په نسبت د مينې او ګرانښت تر ناپايه اغېزې لاندې دومره راځي چې انسان فکر کوي ګويا له هيڅ نه دې پيدا شوي هيڅ روزنه او پالنه نه ده ورکړې او د بلوغ د غه مرحلې ته په ور رسولو کې يې هيڅ ونډه نه ده اخيستې.

همدارنګه ښايي په دې موضوع تاکيد وشي چې د مور د لوړ مقام نمانځل به يوازې کافي نه وي چارواکو ته په کار دي چې د هغوی حقونو ته د صادقانه درناوی په خاطر، د هغوی د ژوند د وړ څېرمه ستونزه و بالالخاصه د دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتیا او سلامتیا په تړاو اغېزمنو عملي لارو چارو ځخه کار واخلي او د مور ځخه حمایت په واقعي او مسؤلانه مفهوم وکړي.(۱)

(۱) وطن جریده، قبایلو وزارت، اول سرطان، ۱۳۸۸ کال.

## زموږ ټولنه او بشري حقوق :

نن سبا په ملي او نړیواله کچه د بشري حقوقو د رعایتولو، تامینولو، اعادې او دفاع په اړوند زیات بحثونه او تبلیغات کېږي او ددې حیاتي موضوع د موخو د سرته رسېدلو په منظور بهرني او کورني سازمانونه جوړ شوي او خپل بشر پاله فعالیتونه کوي، خو کومه موضوع چې په دې تړاو د زیات اهمیت وړ بلل کېږي، تر هغو زیات یې عملي اړخونه خورا ګټور او مهم دي او دا ځکه هغه مهال د بشر د حقوقو ارزښتونه او ګټور توب رښتیني مصداق پیدا کولای شي چې په عملي ډول په ټولنو کې تطبیق شي، کنه د کاغذونو پر مخ به د کرښو ښه ولري. بله موضوع چې د خاص اهمیت وړ بلل کېږي هغه په دې ټکي پوهېدنه ده چې زموږ په ټولنه کې د بشر د حقوقو ارزښتونو ته تر کومې اندازې پورې قیمت ورکړ شوی دی؟ او بیا د بشر د حقوقو د ارزښتونو سرغړونکی او د هغو له حدودو ځخه تېرې کوونکي په کومو برخو کې معرفي کېدای شي؟

بې له شکه پورتنیو پوښتنو ته په پوره ځرګنده زموږ د ټولنې یو شمېر ترخه عیني واقعیتونه ځواب ویلای شي.

دا خبره هم د یادونې وړ ده چې د بشر د حقوقو په سرغړاوي کې کوم عوامل نقش لوبوي؟ که د بېلګې په توګه په هېواد کې د وروستنیو دوو لسیزو ناوړو پېښو ته وروګرځو، نو په ځرګنده توګه دا نتیجه ترې اخیستلای شو چې ددغې مودې په اوږدو کې د تباه کوونکو جګړو، ناتارونه او ناورینونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر بل هر یو عامل زیات د بشر د حقوقو پر خلاف اعمالو کې برخه لري او ویل کېدای شي چې بالذات په خپله جګړه او دهغې بربادوونکې شرایط په بشري تولنو کې هغه شومې پدېدې دي چې د بشر حقوق په کې په یو ډول نه یو ډول تر پښو لاندې کېږي او د هغو په بهیر کې د بشر د حقوقو د رعایتولو په برخه کې بې شمېره خنډونه رامنځته کېږي.

که دې موضوع ته یو څه وضاحت ورکړ شي نو ویل کېدای شي چې په جګړه ایزو شرایطو کې د ژوندانه طبیعي حق، په سوله او امنیت کې د ژوند کولو حق، د شخصي ملکیت د درلودلو او خوندي پاتې کېدنې حق، د ازادۍ حق، د ناموس او شرف د خوندیتوب حق، د انسانانو ترمنځه د متقابلو حقونو د رعایت حق او داسې نور هغه برجسته اصلونه دي چې د بشر د حقوقو تول مفاهیم په کې تعبیریدلای شي، نو بیخې ښکاره ده چې په جګړه کې په هیڅ صورت نه یوازې دغه حقوق نه رعایت کېږي بلکې دفاع ترې هم کېدای نه شي او دا ځکه چې د جنګ او جګړې مسلکي هدف او غایه هغه مهال تر لاسه کېدای شي چې په پریکونې او بې رحمانه ډول د بشر د حقوقو ارزښتونه تر پښو لاندې شي، د جګړې په جریان کې دا حتمي ده چې د انسانانو، که څه هم په جګړه کې ګډون ونه لري وینې یې تویې شي، ووژل شي او د خپل طبیعي یعنې د ژوندانه له حقه بې برخې کړای شیو په جګړه کې په مقابل ډول له دواړو خواوو څخه انسانان اسیران کېږي، او د زنداني کېدو په وجه د ازادۍ له حقه محرومېږي، په جګړه کې ټپي کېدل او معیوب کېدل یوه حتمي پېښه ده، چې انسان په کې د وجود او غړو د روغتیا او سلامتیا له حقه محرومېږي، په جګړه کې د انساني حیثیت د حق سپکاوي بېخې عادي خبره ده او دا چې څنګه د جګړې د قربانیانو سره چلند کېږي دا هم ښکاره خبره ده چې د متقابل کسات اخېستلو روحیې د شتون په وجه په هیڅ صورت لکه چې د مخه وویل شول انساني کرامت ته په درانه سترګه کتل کېدای نه شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که د جګړې له غمیزو او مظالمو څخه تېر شو نو دا هم یو انکار نه منونکی واقعیت دي چې جګړه لا د نورو زیاتو بدمرغیو د منځ ته راتګ اغېزمن عامل دی، چې په تولنه کې د هغوی شتون د بشري حقوقو د نه رعایتولو لپاره پوره زمینې برابر وي.

پرته د جګړه ایزو پېښو ، زموږ ټولنه د دې شاهده ده چې زموږ په هېواد کې ټوپکسالارۍ او زورواکۍ هم هغه لاملونه دي چې په بیخې زیاته کچه زموږ په ټولنه کې د بشري حقوقو پر ضد عمل کوي، را به شو د دوی له خوا څرګندو بېلګو ته.

څو کاله د مخه چې کومې پېغلې په مکروریان کې له ډېر لوړ پوړ څخه د خپلې ابرو د ساتنې په خاطر ځان راګوزار کړ او پتمنې مړینې ته یې ترجیح ورکړه ایا د بشر د حقوقو پر ضد د مفهوم څرګند تعبیر نه شي وړاندی کولای؟

نن سبا د رسمي او غیر رسمي ډله ایزو رسنیو له لیارې پوره خبرتیا ترلاسه کوو چې زموږ په تولنه کې د سرې تښتوونکو له خوا د کورنیو نازولي غړي تښتول کېږي او د کورنیو غړي ترې خالي کېږي، ایا تکراري جنایتونه دا حقیقت نه په ډاګه کوي چې دوی په څومره وحشیانه بڼه د ژوندانه له حقونو بې برخې کېږي، آیا د یوې مال التجارې په توګه پر دوی ډېره کرکجنه او زهرجنه سوداګري نه کېږي؟آیا د دوی څه د نشه یې توکو په قاچاق کې استفاده نه کېږي؟ دا او داسې نور هغه ناروا عملونه دي چې په پوره صراحت د بشري حقونو له حدودو څخه د تېریو بېلګې په ډاګه کوي.

همدا شان زموږ په کورنیو او بهرنیو زندانونو کې له داسې پېښو سره مخامخ کېږو چې په هغوی کې نه یوازې د انسانانو د ازادۍ حق سلبېږي بلکې د هغوی په اړوند د یو لړ انساني ضد اعمالو په واسطه له بشري حقونو څخه تیري کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کورنیو کې د تاوتریخوالي (خشونت) ناولې پدیدې ایا د بشر د حقوقو دارزښتونو پر ضد مشخصات نه افاده کوي؟ په ځینو کورنیو کې د ښځو او ماشومانو وهنې، ټکونې، ګواښونې، سپکاوی او داسې نورو ناسالمه چلندونه آیا د بشري حقونو تر پښو لاندې کېدل نه دي؟

لنډه دا چې دغه پورتنۍ بېلګې ټولې له بشري حقونو څخه د سرغړونو ښې ښکارندې دي. اصلي او منطقي خبره داده چې باید د بشري حقوقو رعایت عملي بڼې پیدا کړي او په واقعیت کې ترې پلویتوب او دفاع وشي، ښه به دا وی چې زموږ د ټولنې پورتنۍ شومې پدېدې لا بربنډې شي او د خبرتیا سیمې ته یې پراختیا ورکړ شي، تر ممکنه حده پورې د اخلاقي او وظیفوي جرئت له مخې یې عاملین رسوا او پر ضد یې پریکونی عمل وشي، دهغو له تورو، خونړیو او فسادي ښېرو څخه نقابونه وغورځول شي او محکمو ته وسپار شي.

زموږ نوی اسلامي جمهوري نظام چې زموږ په هېواد کې د لومړۍ ځل لپاره، د تاریخ په دې حساس او برخلیک جوړونکی پړاو کې، د دموکراسي په لور ګامونه پورته کړي دي تر هر څه لومړی باید زموږ په ټولنه کې د بشر د حقوقو د تامینیدلو په برخه کې جدي دفاع او د سرغړونکو سره یې قانوني چلند وشي، په دې اړه له دولتي ځواک څخه په ګټه اخېستلو، د بشري حقونو دخوندې ساتلو په اړوند اغېزمنې لارې چارې باید وکارول شي او هیچا ته ددې اجازه ورنه کړ شي چې د بشر د حقوقو ارزښتونه تر پښو لاندې کړي او لا نور هم د جګړو د ناخوالو او مظالمو څخه را پاتې شوی اثرات اغېزمن پر بېږدي.

همدا ډول د بشر د حقوقو په اړوند د بشر دحقوقو د خپلواک کمیسیون څخه نیولې بل هر سازمان او ټولنه چې نن سبا په ملي او نړیواله کچه فعالیت کوي هغوی ته په کار دي چې د خپلو کړنلارو او موخو سره سم له تبلیغاتي اړخونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره، سره عملي اقداماتو ته لومړيتوب ورکړي او په خپل ټول توان او قدرت سره په بشري ټولنه کې په تېره بيا زموږ په جګړه ځپلې ټولنه کې دغه زرين او بشر پاله اصل (بشري حقوق) ته اړين ارزښت ورکړي، د خوندي ساتنې او دفاع په چارو کې يې هر اړخيزې هلې ځلې لاګټورې او اغېزمنې کړي او سرغړونکي يې بې له سزا وو پرې نږدي، په پوره باور دا قدمونه به زموږ په هېواد کې د بشري حقوقو د ساتنې، څارنې او خونديتوب لپاره اړين وي او په راتلونکي کې به د بشري حقوقو په اړه د زړه بوږونکو پېښو مخه ونيول شي. (۱)

(۱) مجله حقوق بشر دوهم کال، نهمه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لیکوال چاپي اثار :

- په مذهبي ادبي- علمي تحقیقي، لرغون پېژندنه، بیوگرافی، پوځي طنزي او داستانی برخو کې تر چاپ لاندې په شمول ۳۲ عنوانه اثار.

- په اهتمام چاپ شوی اثار: د قاضي عطاالله خان د پښتو تاریخ د لومړی ټوک په شمول ۳ عنوانه.

- ژاړل شوی اثار، د رسالو په شمول تر ۲۲ عنوانو زیات

- تر چاپ لاندې ددې اثر په شمول یو عنوان

- په ټولو زمینو کې تر (۱۵۰) عنوانو زیات

- په بېلا بېلو برخو کې مقالې په سلگونو عنوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانې

د افغانستان ملي تحريک د هېواد پال او فرهنګپال شخصيت ښاغلي (غفور خان) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحريک وياړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پيل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هيله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

يو ځل بيا د دې اثر له ليکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ليکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مينه

د افغانستان ملي تحريک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند رازقي نړیوال

د خپرونو لړ: ۳۵

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**